تبیان نصیر

شرح پښتو

نحو میر

مصنف

شیخ الصرف والنحو

ابو حماد نصیر الحق سلمہ اللہ



مکتبۃ الاشاعت کونړ افغانستان

اسم الكتاب: **تبیان نصیر**

شرح پښتو

نحومیر

مؤلف: شیخ الصرف والنحو

أبو حماد **نصیر الحق** سلمه الله

شالپین سوات خیبر پختون خواه پاکستان

زیر اهتمام: نقیب الله حنیف

تعداد: ۱۱۰۰

الناشر: دار الاشاعت

کونړ افغانستان

۰۷۸۷٤٦٤۰۳۰ / ۰۷۷۹٦۱۳۲۸۸

فهرس الكتاب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سبب تالیف

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى اما بعد!

د بنده ناچیز دکم علمئ په وجه عظیم مسند تالیف ته راوړاندې کېدل ډیره ګرانه خبره ده او ګران کار دی ولې به داسې نه وي ځکه تالیف او تصنیف د هغه علماؤ او مشایخو کار دی چې د هغوئ سره ډیره عظیمه او لویه ذخیره د علم او عمل وی

بنده ناچیز په دې باب کې خالي لاسونو والا دی او مشهوره مقوله هم ده: مَنْ صَنَّفَ فَقَدِ اسْتُهْدِفَ لیکن د دې باوجود دې امتحان ته ملګرو او شاګردانو رامخکې کړو چې هغوئ کې مولانا نقیب الله "حنیف" صاحب، او طالب العلم رشید اقبال صاحب باندئ والا متعلم اشاعت العلوم منه خصوصاً قابل ذکر دي، الله تعالی دې دوئ ته اجر عظیم ورکړي او زما لپاره دې الله تبارک وتعالی دا بضاعه ذریعه د نجات او د فلاح في الدارین وګرځوي: آمین

دویم سبب: دا وو چې علم نحو کې "نحو میر" کتاب لوی مضمون او مقام لري، په دعوه سره دا ویلې شم چې دا کتاب یو طالب العلم سره د قواعدو او ضوابطو یاد کړی او د دې اجراء د خپلو اُستاذانو او مُعلمینو نه وکړي نو ډیرو کمو مسائلو کې به ده ته د نورو کتابونو ضرورت راپیدا شي، ورنه دا کافي شافي دی په علم نحو کې، د دې کتاب ډیر شروح وو لیکن هغه په درجه د اختصار کې وو او په نهایت تفصیل سره ما دا د خپلو اُستاذانو د تقاریرو او د مختلفو شروحو د کتابونو د علم نحو او د شروحو د نحو میر نه اخذ کړی دي، لپاره د آسان والي د مبتدي طالب العلم، که چیرې څه غلطي پکې وي نو نسبت دې ماته وشي، نه زما استاذانو او مُعلمینو ته او په نیت د اصلاح دې تصحیح اُوشي.

(العبد نصیر الحق)

د مؤلف مختصر تعارف

احقر بنده نصیرالحق بن غلام احمد مرحوم أو سیدونکي د شالپین کلي چې ضلع سوات کې یو عظیم درسګاه د علم ده، او تقریباً د (۳۰۰) درې سوه کالو راهیسې په علم آباد او یاد دی، دې کلي ته د علم تږي راغلي سیراب شوي دي او بیا طالبان او عالمان د دین سره د علم او عمل نه د ملک د اصلاح او د درس او تدریس د علم لپاره خواره شوي دي، په قریبه زمانه کې د دغې درسګاه درې لوی عالمان چې درې واړه ورونه وو او بنده ناچیز د هغوی په اولاد کې دی کوم چې ستاسو سره متکلم بالقلم دی، یو عالم د دغه علماو نه چې سابق مدرّس د اکوړه خټک وو چې یادیږي په مولوي سید محمّد مرحوم سره، ډیر عمر دده په درس او تدریس کې تیر شوی دی، په خپل کلي شالپین او اکوړه خټک حقانیه کې په مسند تدریس سره فائز وو، اخیر د حج بیت الله په اراده باندې تلی وو او هم هلته وفات او مدفون دی.

دویم والد صاحب د بنده مولانا غلام احمد مرحوم چې مشهور وو په شالپین مولوي صاحب باندې، هم فاضل سهارنپور او خصوصي شاګرد، د مولانا زکریا صاحب وو چې په خپل کلي کې په درس او تدریس فائز وو چې د لرې لرې طلباء به د دوئ درس ته راتلل او زده کړې ئې حاصلولې او دوه کاله په مظهرالعلوم مینګوره کې په مسند تدریس مشغول او فائز وو، دې هم وفات دی، دده اولاد الحمد لله اکثر د دین په کار کې مشغول دي چې د هغوی لپاره صدقه جاریه ده.

دریم د هغه علماو نه زما أستاذ محترم او تره چې یادیږي په شیخ النحو شالپین بابا باندې هغوی د دین ډیر خدمت کړي دی او په مختلفو مدارسو کې ئې تدریس کړی دی، مظهرالعلوم مینګوره، مدرسه اشرفیه پشاور، مدرسه رحیمیه کانجو، وغیره غیره. او آخر عمر کې په خپل کلي شالپین کې په تدریس مشغول وو. دوی هم وفات دي، د هغوی اولاد هم د دین په اشاعت مشغول دي

بنده هم د دغه کورنئ په افرادو کې دی، بنده اکثر علوم د خپلو مشرانو او د سوات د جیدو جیدو علماؤ نه حاصل کړي دي، دوره تفسیر د خپلو مشائخو نه خصوصاً د شیخ العرب والعجم شیخ القرآن مولانه محمّد طاهر د پنج پیر نه د هغوی په حیات کې دوه ځلې دوره تفسیر ما لوستلې ده.

او دوره حدیث او موقوف علیه په (۱۹۹۰) کی په دارالعلوم مظهرالعلوم مینګوره کې د شیخ

الحدیث وأستاذ مشفق مولانا فضل محمد مرحوم صاحب نه کړي ده بیا په درس وتدریس کي وخت صرف شو تر دې وخت پورې په حیثیت د یو مدرّس په جامعه منار التوحید والسنة منه ضلع سوات کې د دین خدمت ته دیارلس کاله ورانديږ یو . اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ
دعا کوم چې الله د علم دا لوئي منصب زمونږ د کور او زمونږ د اولاد نه وانخلي او مونږ تري محروم نه کړي (آمین:

العبد ابو حماد نصیر الحق بقلم خود
مدرس الجامعة منار التوحید والسنة منه ضلع سوات .
بتاریخ: ۴/ ۹/ ۲۰۰۴ء)

مختصر تاریخ د مصنف نحومیر

نوم او نسب: علي بن محمد بن علي کنیت: ابو الحسن
نسبي تعلق: سادات از صوبه جرجان (لقب) سید شریف او سید السند باندې مشهور دي
تاریخ پیدائش: (۱۲) شعبان المعظم سنه (۷۴۵ه) جرجان علاقه طاغوکلي کې پیدا شوی دی
تاریخ وفات: (۲) ربیع الاول سنه (۸۱۲ه) بروز چار شنبه شیراز کې وفات دي، هلته مدفون دي
اساتذه: علامه قطب الدین رازي، اکمل الدین محمد بن محمود البا برتي وغیره وغیره
علمي مقام: سید شریف چې کله د خپل استاذ محترم علامه قطب الدین محمد رازي درس ته ورغي او اجازت ئې واخیستو نو درخواست ئې وکړو چې ستاسو تصنیف شرح مطالع براه راست ویل غواړم لیکن هغوی د عمر د کمزورئ په وجه انکار وکړو دغه وخت عمر د هغوی (۱۲۰) کاله وو او ده ته استاذ محترم وویل که دا کتاب زما ویل غواړې نو زما یو شاګرد خاص په مصر کې مبارک شاه یادیږي هلته ورشه. هغوی ېې داسې وائي لکه زه. دې روان شو، سفارشي رقعه ورته هم ورکړې شوه، مبارک شاه هم منظوره نه کړه لیکن بیا ئې هم ده ته وویل چې شرکاءُ سره روان سبق کې شریک شه، په دې شرط چې په مقام د درس کې به د عبارت او کلام کولو نه احترازکوې.
سید شریف په دې راضي شو یوه ورځ استاذ صاحب د شپې مدرسه کې ګشت کولو. یوې کمرې نه آواز راځي سید شریف وائي: قال الشارح وقال الاستاذ وانا اقول
استاذ په دې نهایت خوشحاله شو. ده ته ېې اجازت د تکلم او عبارت ویلو ورکړو تردې چې سید شریف په شرح مطالع باندې حاشیه ولیکله

تصانیف جلیله

١: قرآن ترجمه بزبان فارسي
٢: حاشیه بیضاوي
٣: حاشیه مشکوة
٤: حاشیه مطول
٥: حاشیه هدایه (حاشیه شرح مطالع)
٦: شرح مواقف
٧: صغری وکبری
٨: شرح سراجي
٩: میرقطبي
١٠: نحومیر وغیره

(٥٠) نه زیات تصانیف ئې دي مشغله تدریس مدرسه دارالشفاء کی لس کاله نور دیني خدمات شیرازکي

(تذکرة المصنفین، الفوائد البهیة في تراجم الحنفیة)

[العبد نصیر الحق]

١ رجب المرجب (١٤٢٥ه) یوم الاربعاء

بسم الله الرحمن الرحیم

خطبة الکتاب

حَامِدًا وَمُصَلِّیًا

مصنف ابتداء کړې ده په بسم الله او الحمد لله سره د دې لپاره چې موافقت راشي د کتاب الله سره او حدیث مشهور سره او د کتب د سلف الصالحین سره او بیا مصنف صرف په تلفظ د بسم الله او الحمد لله سره اکتفاء نه ده کړې بلکې دا ئې د خپل کتاب جزء ګرځولی دی چې قولاً کتابةً پرې عمل راشي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه: حمد لغةً ستودن ته وائي

او اصطلاحاً: کُلُّ حمدٍ من الازل الی الابد من اَیِّ حامدٍ. من الخالق او من مخلوقه مختص لله تعالی په دې کې درې تعمیمه دي او یو تخصیص دی.

۱: تعمیم الحمد: دا معلومیږي د الف لام نه چې یا د جنس لپاره دي یا د استغراق لپاره.

۲: تعمیم الزمان: اي من الازل الی الابد دا معلومیږي د جملې اسمیې نه چې دا معدوله ده د جملې فعلیې نه.

۳: تعمیم الحامد معلومیږي د عدم ذکر د حامد نه.

۴: او تخصیص معلومیږي د لام جاره نه چې په لله کې دی، لام جاره اختصاصیه دی او لام جاره اختصاصیه دیته وائي چې ګرځوی یو شي مختص په خپل مدخول پورې دلته ئې حمد په الله پورې مختص کړی دی کما قال عبد القاهر جرجاني: واللام للاختصاص نحو اَلْجُلُّ لِلْفَرَسِ اي مُخْتَصٌّ لِلْفَرَسِ.

رب العلمین: لفظ د ربّ مرفوع، منصوب، مجرور درې واړه لوستل جائز دي، که مرفوع شي نو خبر د مبتدا محذوفې به شي اَي هُوَ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ او که منصوب شي یا به

۱: بنا بر حال وی ۲: یا به منصوب علی المدح وی ۳: یا به منادی بحذف حرف نداء وی.

او که مجرور شي نو یا به ۱: بنا بر صفت وی ۲: یا به بدل الکل وی ۳: یا به عطف بیان وی.

رب: مدبر، مالک، متصرف، مربي ته وایی الفاظ مترادف دي

العلمین: عالمین جمع د عالم ده او عالم صیغه د اسم آله ده بمعنی مَا یُعْلَمُ بِهٖ لکه خاتم مَا یُخْتَمُ بِهٖ ته ویلی شي. اطلاق د عالم کیږي په جمیع ما سوی الله باندې

سوال: هر کله چې اطلاق په کل ماسوی الله باندې د عالم صیغې د مفرد کیدی شي نو جمع ئې ولې ذکر کړه سره د دینه چې جمع فرع د مفرد ده ذکر د اصل متعذر نه دی نو فرع ولې ذکر کولی شي؟

جواب: جمع ئې ذکر کړې ده په اعتبار د کثرت د انواعو د عالم سره چې عالم انس، عالم جن، او عالم ملائکه دي او بیا ئې صیغه د ذوي العقولو ذکر کړه د وجې د شرافت د دوی نه په غیر ذوي العقولو باندې

والْعاقبة لِلْمُتقين

دا عبارت په حذف د مضاف سره دی اصل کې حسن العاقبة وخیرُ العاقبة د مضاف اعراب مضاف الیه ته ورکړې شو. او دا قانون کثیر او شائع دی. بطور مثال وَاسْئَلِ الْقَرْيَة اَي اَهلَ الْقَرْيَة. عاقبة مصدر دی دا په وزن د فاعلة دی لکه کاذبة چې مصدر دی

الْمُتقين: دا جمع د متقي ده. معنی د دې . ١ : الَّذِي يَتَّقِي الشِّرْكَ وكَسْبَ الْكَبَائِرِ. ٢ : إِذَا قَالَ قَالَ لِلّٰه وَإِذَا سَكَتَ سَكَتَ لِلّٰه. ٣ : الَّذِي لايرى نَفْسَه خَيْرًا مِنْ اَحَدٍ.

په دې جمله سره مصنف طلباؤ ته ترغیب او تنبیه د صحیح عمل ورکوي لکه چې فرمائي:

لَوْكَانَ لِلْعِلْمِ شَرَفٌ بِدُوْنِ التَّقْوٰى لَكَانَ الشَّيطٰنُ اَعْلٰى مَنْزِلَة

وَالصَّلٰوة وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ:

صلوة: په اصل کې صَلَوَة وو. واو متحرک ماقبل مفتوح آن را به الف بدل کردند صلوة شد.

صلوة، زکوة، مشکوة، ربوا. په دوئ کې د رسم الخط په قاعدې سره اخیره کې واو لیکلی شي او په هغې باندې د پاسه الف لکل کیږي.

صلوة په لغت کې په خلورو معانیو راځي: ١: رحمت ٢: دعاء. ٣: استغفار. ٤: تسبیح

صلوة اصطلاحاً: عبارت دی د ارکان مخصوصه وو نه په اوقات مخصوصه وو کې، قیام رکوع، قرآءة، سجدة وغیره. اوقات مخصوصه: فجر، ظهر، عصر، مغرب، عشاء. دلته معنی:

افاضة الخير من الرب المعبود نازلة علي نبيه المحمود صلى الله عليه وسلم.

محمد: صیغه د اسم مفعول برائې مبالغه، من باب تفعیل حَمَّدَ. يُحَمِّدُ. تَحْمِيدً. فذاک مُحَمَّد.

وآله اجمعین: د آل نه مراد تمام متبعین د رسول الله صلی الله علیه وسلم دي.

په دې کې تمام صحابه او صحابیات او اهل بیت داخل دي. لکه دیته اشاره مصنف په خپل قول سره هم کړیده چې اجمعین دی. دارنګه په دې سره مصنف اظهار د خپلې عقیدې وکړو چې هغه

محبت او مینه د عامو صحابه وو، او اهل بیت سره ده.

أَمَّا بَعۡدُ: بدان أَرۡشَدَكَ اللهُ تَعَالٰى:

ترجمه: پس د دې (تسمیه، حمد و صلوة) نه، پوهه شه، الله تعالی دې تا ته لاره وښائي)

بدان: صیغه د امر ده، په فارسي ژبان کې دا راوړی شي د فارسي کتابونو په اول کې غالباً لکه د عربي کتابونو په اول کې اعلم راوړي شي لپاره د متوجې کولو د طلباؤ او دا د مصنفینو عادت دی.

سوال: دعاء یې په عربي کې ولې ذکر کړه؟

جواب: الدعاء بلسانِ العربیة اسرعُ للاجابة.

سوال: صیغه د حال استقبال پکار وه؟

جواب: ماضي په محل د دعاء کې په معنی د حال استقبال سره وي لکه متعدد مواضعو کې ماضي په معنی د مستقبل او حال سره وي شعر:

آمده ماضي بمعنی مضارع چند جا عطف ماضي بر مضارع در مقام ابتداء

بعد موصول وندا ولفظ حیث کلما در جزاء شرط وعطف هر دو باشد در دُعاء

که این مختصریست مضبوط در علم نحو که مبتدي را بعد حفظ مفردات لغت ومعرفت اشتقاق وضبط مهمّات تصریف بآساني بکیفیت ترکیب عربي راه نماید وبزودي در معرفتِ اعراب وبنا، وسوادِ خواندن توانائي دهد.

بِتَوۡفِيقِ اللهِ تَعَالٰى وَعَوۡنِهٖ:

ترجمه: چې دا یو مختصر کتاب دی، رابند شویدی په علم نحو کې چې نوی شروع کونکی طالب ته پس د یادولو د مفرداتو د لغت (عربي) او پس د پیژندلو د علم اشتقاق او یادولو د مهمو مسائلو د علم صرف نه په آسانئ سره طریقې د عربي جوړولو ته لاره ښائي، او په تیزئ سره په پیژندلو د اعراب او بناء او عبارت ویلو کې طاقت ورکوی د الله تعالی په توفیق او مدد سره).

تشریح: مختصر صیغه د اسم مفعول ده د باب افتعال نه، معنی د دې اداء المطالب الکثیرة بألفاظ قلیلة. اقسام د کتاب څلور دي. ۱: رساله. ۲: فتاوی. ۳: مختصر. ٤: مطول.

۱: الرسالة: قلیل الالفاظ کثیر المعاني. ۲: فتاوی: کثیر الالفاظ قلیل المعاني. ۳: مختصر: قلیل الالفاظ کثیر المعاني. ٤: مطول: کثیر الالفاظ قلیل المعاني.

مبتدي: مقابل د منتهي دی.

تعريف د مبتدي: ماشرع في اول جزء مع قصد تحصيل الباقي.

تعريف د منتهي: مايصل الى اخر جزء من الاشياء.

تصريف: په لغت کی تغيير ته وائي او اصطلاح کی: تَحْوِيلُ اللَّفْظِ الْوَاحِدِ إِلَى الْأَلْفَاظِ الْمُتَعَدِّدَةِ بِحَسَبِ الزَّمَانِ وَالْمَكَانِ.

او د زنجاني مصنف داسې تعريف کړی دی چې: تحويل الاصل الواحد الى امثلة مختلفة لمعان مقصودة لاتحصل الابها.

مصنف د خپل کتاب د لوستلو طرف ته د رغبت پيدا کيدو درې اهمې فائدې بيان کړې.

۱: د عربي کلماتو ترکيب په آساني سره معلومول.

۲: د کلماتو معرب او مبني پيژندل، اعراب او وجه د اعراب، مرفوع، منصوب مجرور پيژندل.

۳: د عربي کتابونو د صحيح عبارت لوستلو استعداد پيدا کوي.

بتوفيق الله تعالى وعونه

په دې عبارت سره ئې دفع د علو او تکبر وکړه چې د الله امداد به د زده کونکي د دې کتاب سره شامل حال شي نو هله به مبتدي ته فائده ورکړي ورنه هيڅ فائده نه ورکوی.

قوله بِتَوفِيقِ الله تَعَالى: توفيق صيغه د مصدر ده د باب تفعيل نه، په لغت کې: دست دادن کسې را بکارې او په اصطلاح کې جعل د اسبابو د عبد دې موافق د مطلوب خير.

فصل اول


د لفظ تقسیم

بدانکه لفظ مستعمل در سخن عرب بر دو قسم است مفرد ومرکب مفرد لفظي باشد تنها که دلالت کند بر یک معنی وآن را کلمه گویند.

ترجمه: پوه شه چې لفظ مستعمل په ژبه د عربو کې په دوه قسمه دي: مفرد او مرکب.
مفرد هغه یو لفظ دی چې دلالت کوی په یوه معنی باندې او دیته کلمه وائي.
تشریح: د دې فصل نه تر دویم فصل پورې مصنف یو څو مقاصد ذکر کوي
۱: تقسیم د لفظ مستعمل دوه قسمونو ته مفرد او مرکب
۲: د مفرد او مرکب معنی.
۳: مثالونه د مفرد.
٤: تقسیم د مفرد اسم، فعل او حرف ته
۵: او تقسیم د مرکب مرکب مفید او غیر مفید ته

بدانکه: بدان صیغه د امر ده فارسي ژبان کې دا ذکر کوی لپاره د ایقاظ او تنبیه د مخاطب لفظ ئې د فارسي راوړی دی لپاره د دې چې کتاب د فارسي دی لکه د عربي کتابونو کې اِعلم ذکر کیږي.

لفظ: لفظ په لغت کې رمي (ویشتلو) ته وائي او په اصطلاح کې: مایتلفظ به الانسان ته وائي حقیقةوي لکه زیدٌ، مِنْ، زیدٌ ضَرَبَ. او که حکماً وي لکه ضمیر د انت شو په اِضْرِبْ. لاتَضْرِبْ کې موضوع وی لکه زیدٌ. او که مُهمل وی لکه دَیز، جِسق، هر کله چې د لفظ په معنی اصطلاحي کې مهمل داخل وو نو مصنف په لفظ د مستعمل سره خارج کړو ځکه مصنفین د مهملاتو نه بحث نه کوي او علومو کې ددینه بحث نه کیږي بلکې د مستعملا تو نه بحث کیږي حاصل دا شو چې لفظ په دوه قسمه دی.



بالفاظ دیگر :

١: بامعنی. ٢: بې معنی.

٢: موضوع للمعنی. ٣: غیر موضوع للمعنی.

٤: غیر مهمل. ٤: غیر مستعمل.

قوله : بردوقسم است. ١ : مفرد. ٢ : مرکب

مفرد مخکې شو په مرکب باندې ځکه دا جزء د مرکب دی او مرکب کل دی، جزء مقدم وی په کل باندې.

وآن راکلمه گویند: مفرد ته کلمه هم وائي. مفرد او کلمه دیته وائي چې په یوه معنی دلالت کوی لکه ابن حاجب کافیه کې: اَلْكَلِمَةُ لَفْظٌ وُضِعَ لِمَعنىً مُفْرَدٍ [بالحركات الثلاثة] تعریف کړی دی.

تقسیم د کلیمې

وکلمه برسه قسم است: اسم چون رَجُلٌ وفعل چون ضَرَبَ وحرف چون هل، چنانکې در تصریف معلوم شده است.

ترجمه: کلمه په درې قسمه ده، اسم، فعل، حرف، لکه څنګه چې په علم صرف کې معلوم شوي دي.

تشریح: (وجه الضبط والحصر) : دا کلمه به خالي نه وی یا به په خپله معنی دلالت کوی یابه نه کوي قسم ثاني حرف دی، قسم اول به خالي نه وي یا به معنی د دې د یو د ازمنه ثلاثه وو سره مقترنه وي یا به نه وی قسم اول فعل دی او قسم ثاني اسم دې (کافیه)

دویمه وجه: کلمه به خالي نه وی یا به دلالت په ذات کوی نو اسم شو، یا به دلالت په وصف کوی نو فعل شو. یا به دلالت په ربط کوی نو حرف شو. (شذورالذهب)

تعریف الاسم: الاسم مادل علی معنیً في نفسه غیر مقترن بأحد الازمنة الثلاثة.

اسم بیا په درې قسمه دی ١ : جامد . ٢: مشتق. ٣: مصدر.

مثال د اسم جامد لکه زید ، اسم مشتقي لکه: ضارب، مضروب مثال د مصدر لکه ضرباً، علماً.

تعریف الفعل: الفعل مادل علی معنیً في نفسه مقترن بأحد الازمنة الثلاثة.

فعل په درې قسمه دی مثال (ماضي) ضرب (مضارع) يضربُ (امر) اضرِبْ.

تعريف الحرف: الحرف مالا تدل على معنیٰ في نفسها بل تدل على معنیٰ في غيرها. مثال. هل. من. والی.

وجه تقديم الاسم على الفعل والحرف اسم محتاج اليه د فعل دی په افاده کې او فعل محتاج دی او ظاهره ده چې محتاج اليه اصل وی افضل وی او محتاج فرع وی. غير افضل وی او اصل مقدم وی په فرع باندې او حرف په لغت کې طرف ته وائي دا هم په طرف کې واقع کيږي ځکه وروستو د اسم او فعل نه واقع دی.

فائده: مفرد مقابل د پنځه شيانو واقع کيږي:

۱: مقابل د تثنيه او جمع لکه دا ذکر دي په اصنافو د اعراب کې فالمفرد المنصرف الخ

۲: مقابل د مضاف لکه په بحث د منادی کې منادی مفرد معرفه مبني بر ضمه باشد.

۳: مقابل د کلام او مرکب لکه الکلمة لفظ وضع لمعنی مفرد.

الکلام ماتضمن کلمتين بالاسناد.

٤: مقابل د جمله کې، دا ذکر دی په تميز کې.

٥: مقابل شبيه بالمضاف: دلته مفرد مقابل د مرکب دی.

امثلة الاسم	امثلة الفعل	امثلة الحرف
سَاجِدٌ. الْمَدِيْنَة	دَخَلَ. عَلِمَ. دَحْرَجَ	مِنْ. هَلْ
محمدٌ ﷺ. سَلْمٰی	يَكُوْنُ. زَلْزَلَ. مَدَّ	يَا. قَدْ
المدرسة. رَجُلٌ. اِمْرَأَةٌ	قَالَ. بَاعَ	اَنَّ. لَعَلَّ
اَلْكِتَابُ. قَلَمٌ	خَتَمَ. اَعْلَمُ	لَنْ. مَا. وَلاَ

قوله: چنانکي در تصريف معلوم شده است:

مصنف په دې عبارت کې دوه خبرو ته اشاره کړې ده ۱: دلته اکتفاء کوم په اختصار سره ځکه علم الصرف کې تا ته اقسام د کلمې علی وجه التفصيل معلوم شوي دي ۲: اشارت ده دې خبرې ته چې علم الصرف زدکول مقدم دی په علم النحو باندې. دا سې اشاره خطبه کې هم شوې ده په دې قول سره وبعد ضبط مهمات التصريف

د مرکب تعریف

امّا مرکب لفظي باشد کې از دو کلمه یا بیشتر حاصل شده باشد.

ترجمه: هر چې مرکب دی نو دا یو لفظ دی چې د دوه کلمو یا زیاتو نه حاصل شوی وي.

تشریح: دا دویم قسم د لفظ مستعمل ذکرکوي چې هغه مرکب دی. مرکب صیغه د اسم مفعول ده د باب تفعیل نه رَکَّبَ یرَکِّبُ تَرْکِیباً فهو مُرَکَّبٌ.

مرکب په لغت کې ضم ته وائي او په اصطلاح کې لفظي باشد الخ. مرکب یا به د دوه کلمو نه جوړوي یا د زیاتو نه او د زیاتو لپاره حد نشته. مثال د دوه کلمو لکه: زَیْدٌ عَالِمٌ . خَتَمَ اللهُ عَلٰی قُلُوْبِھِمْ . اَلدُّنْیَامَزْرَعَةُ الْاٰخِرَةِ.

مثال د زیاتو د دوه کلمو نه لکه: ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا. (نَضَّرَ اللهُ امْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِيْ).(الحدیث)

ومرکب بردو گونه است، مفید و غیر مفید، مفید آن است کې چون قائل بران سکوت کند سامع را خبري یا طلبي معلوم شود وآن را جمله گویند وکلام نیز پس جمله بردو قسم است خبریه وانشائیه

ترجمه: مرکب په دوه قسمه دي، مرکب مفید او مرکب غیر مفید، مرکب مفید هغه ته وائي چې قائل په هغه باندې سکوت وکړي او سامع لره خبر معلوم شي په جمله خبریه کې یا طلب معلوم شي په جمله انشائیه کې، او دې مرکب مفید ته جمله او کلام هم وائي، پس جمله په دوه قسمه ده یوه خبریه ده او بله انشائیه ده.

تشریح: ومرکب بردو گونه است مفید وغیر مفید. الخ.


غرض د مصنف د دې عبارت نه تقسیم د مرکب دی پس د تعریف د مرکب نه قسمینو ته ۱: مرکب مفید. ۲: مرکب غیر مفید.

مرکب مفید: مرکب مفید دیته وائي چې متکلم یوه پوره خبره اوکړي په هغې چپ شي اومخاطب پرې پوه شي اومتکلم خپل مخاطب اوسامع تلفظ ته په بله کلمه محتاج نه کړي مثلاً متکلم اُووائي: زَیْدٌ عَالِمٌ، پوره جمله اوکلام دې، مشتمل دې په مسند الیه اومسند باندې مخاطب پرې پوه شو یا مثلاً: اِضْرِبْ زَیْدًا شو، دا مرکب مفید دې او که متکلم اُوائي: (زَیْدٌ) نومخاطب پرې نه پوهیږي ځکه که دا مسند الیه شي نو مسند به غواړي او که مسند متکلم ذکر کړي نو مسند الیه به غواړي یا مثلاً: غُلَامُ زَیْدٍ، اَحَدَعَشَرَ وغیره وغیره. دا مرکب غیرمفید دي

فائده: مرکب مفید ته نحات څلور نومونه نور هم اخلي ۱: جمله ۲: کلام هم ۳: مرکب اسنادي.

٤: مرکب تام
دجملې او کلام تر مینځ بعض نحاة فرق کوي او بعض نحاة فرق نه کوي، لکه صاحب مفصل اوصاحب لباب دوي په ترادف قائل دي (محرم افندي:)
دمصنف په نزد باندې فرق نشته ځکه ئې جمله او کلام یو ځائي ذکر کړو او یا فرق مصنف کوي لیکن دلته ئې یو ځائي ذکر کړو لپاره د رعایت دمبتدیانو.
(فلیطلب التفصیل في المطولات فلا یلیق بهذا المختصر)

خلاصه د فصل اول



سوالات تمرین فصل اول

مذکوره الفاظو کې مفرد او اقسام د مفرد او مرکب معلوم کړئ!

مَلَكٌ	مَلَكُ الْمَوْتِ	سَاعَةٌ
سَاعَتِي	رَسُوْلٌ	رَسُوْلُ اللهِ
قَدْ اَفْلَحَ	الْمُؤْمِنُوْنَ	

(هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُنْ شَيْئًا مَّذْكُوْرًا)

لَحْمٌ (اسم) يَدٌ	رَأْسٌ (اسم) رَجُلٌ
شَرِبَ (فعل) دَخَلَ	اَمَرَ (فعل) قَرَءَ
اَنَّ (حرف) لَنْ	لَمَّا (حرف) قَدْ

فصل دوم

تعریف د جملې خبرې او اقسام

بدانکه جمله خبریه آنست کې قائلش رابصدق وکذب صفت توان کرد وآن بردو نوع است اول آنکی جزاولش اسم باشد وآن راجمله اسمیه گویند چون زیدعالم یعني زید دانا است .جزاولش مسند الیه است وآن رامبتدا گویند، وجزدوم مسند است وان راخبر گویند.

ترجمه : پوهه شه چې جمله خبریه هغه ده چې ویونکي لره په صدق او کذب باندي صفت کوي اودا په دوه قسمه ده اول هغه ده چې جزء اول ئي اسم وي نودیته جمله اسمیه وائي لکه زید عالم یعني زید پوهه دي، جزء اول مسند الیه دي او دیته ترکیب کی مبتداء وائي او جزء دویم مسند دي او دیته خبروائي

تشریح: ددي فصل نه تر دریم فصل پوري مصنف دیو څوخبرو ذکر کوي.

۱: تعریف د جملی خبریی.

۲: تقسیم د جملي خبري قسمینو ته

۳: امثله د جملی خبریی.
٤: تعریف د جملي انشائي.
٥: تقسیم د جملي انشائي لس اقسامو ته.
امثله د جملي انشائي د فصل نه مخکي ذکر شو. جمله دوه قسمه ده.
۱: خبریه. ۲: انشائیه اجمالاً، اوس تفصیلاً ذکر کوي
تعریف د جملی خبریی: جمله خبریه دیته وائي چې قائل ددې په صدق او کذب موصوف گنلې شي مثلاً عمر و أووائي: زَيدٌ عَالِمٌ کې زید عالم وو. نو عمرو صادق او که زید جاهل وو. نو عمرو، کاذب دې دارنگه زَيدٌ كَاذِبٌ .اَلإِمَامُ يصَلِّي. اَلْعَالِمُ يدَرِّسُ. مَاتَ القَاضِي. وغیره وغیره.

وآن بر دو نوع است اول آنکه جز اولش اسم باشد.

غرض ددې عبارت نه تقسیم د جملې خبریې دی قسمینو ته ۱: جمله اسمیه ۲: جمله فعلیه.
جمله خبریه که اول جزء د دې اسم وو. ثاني به یا اسم وي یا به فعل وي نو دا جمله اسمیه ده.
مثال د اول چې ثاني جزء اسم وي لکه زَيدٌ عَالِمٌ، عالم اسم دي، جمله خبریه اسمیه
مثال د ثاني چې ثاني جزء فعل وي زَيدٌ عَلِمَ، علم فعل دي نو جمله اسمیه خبریه
په جمله اسمیه کې اول جزء مسند الیه دي مبتداء ورته هم وائي دویم جزء مسند دې او خبرورته هم وائي.
ضابطه: د جملی اسمیی اول جزء ته لکه څرنگه چې


۱: مسند الیه وائي او جزء ثاني ته.	۱: مسند وائي، هم دارنگه اول جزء ته
۲: مبتداء وائي، جزء ثاني	۲: ته خبر وائي. هم دارنگه اول جزء ته لکه.
۳: محکوم علیه وائي جزء ثاني ته	۳: محکوم به وائي، هم دارنگه اول جزء ته لکه.
٤: مخبر عنه وائي.	٤: جزء ثاني ته مخبر به وائي. هم دارنگه
٥: اول جزء ته لکه موضوع وائي.	٥: جزء ثاني ته محمول وائي.

یادونه: لیکن ترکیبي نوم د جملي اسمیي د اول جزء مبتداء او د دویم جزء نوم خبر دی.

دوم آنکه جزاولش فعل باشد وآن راجمله فعلیه گویند چون. ضَرَبَ زَيدٌ بزد زید. جزء اولش مسنداست وآن رافعل گویند وجزء دوم مسندالیه وآن رافاعل گویند.

ترجمه: دویم هغه دي چې جزء اول فعل وي نو دیته جمله فعلیه وائي لکه ضرب زید وهل کړي دي زید، جزء اول مسند دي او دیته فعل وائي او دویم جزء مسند الیه دي او دیته فاعل وائي.
تشریح: مصنف په دي عبارت سره دویم قسم د جملی خبریی بیانوي، د جملی خبریی دویم قسم

ته جمله فعليه وائي او د دې په اول جزء فعل اوثاني به اسم وي لازماً ديته جمله فعليه وائي من قبيل تسمية الكل باسم الجزء، ورنه دويم جزء د جملي فعليي اسم وي.
دارنګه جمله اسميه کې هم چې دويم جزء د هغې فعل وي(زَيدٌ ضَرَبَ) تسميه دکل جمله ده په اسميه سره دوجي د اول جزء نه مثال د جملي فعليي: ضَرَبَ زَيدٌ اول جزء مسند دې، فعل ورته هم وائي.دويم جزء مسند اليه دې، فاعل ورته هم وائي او نائب فاعل هم واقع کيږي.مثال د فاعل: ضَرَبَ زَيدٌ. ضَرَبَ فعل ماضي معلوم مسند، زيدٌ فاعل مسند اليه، فعل سره د فاعل نه جمله خبريه مثال د نائب فاعل: ضُرِبَ زَيدٌ، ضُرِبَ فعل ماضي مجهول مسند، زيدٌ: نائب فاعل، فعل سره د نائب فاعل نه جمله فعليه خبريه
سوال: که د جملې په اول کې حرف راشي نو هغې ته جمله حرفيه ويلې شي ځکه بنا د جملې په جزء اول ده.
جواب: مراد د اول جزء نه مسند اليه دي اوحرف نه مسند واقع کيږي اونه مسند اليه بنا په دي: إِنَّ زَيدًا قَائِمٌ. جمله اسميه ده، نه حرفيه لَنْ يضرِبَ زَيدٌ جمله فعليه ده، نه حرفيه
فائده: په نزد د بعض نحاتو باندي د جملي خبريې څلور اقسام دي.




١: د جملي اسميي او جملي فعليي تفصيل مخکې ذکر شو.
د جملهي ظرفيي تعريف، اود جملي شرطيي تعريف:
٢: جمليه ظرفيه ديته وائي چې د هغې جزء اول ظرف وي يا جارمجرور مسند وي او جزء ثاني مسند اليه فاعل وي مثال: في الدار رَجُلٌ.
تركيب:. في الدار متعلق دي په ثَبَتَ پوري هغه حذف شو چې فعل د رَجُلٌ وو. او دا فِي الدَّارِ قائم مقام د هغه فعل شو نود هغه عمل به کوي رَجُلٌ فاعل د هغه فعل وو.اوس فاعل د شبه فعل شو چې في الدار دي، شبه فعل سره دفاعل نه جمله ظرفيه خبريه.دا ترکيب په نزد د کوفيانو دي.
٢: جمله شرطيه: ديته وائي چې مرکب وي من الشرط والجزاء، مثال: إِنْ أَكْرَمْتَنِي أَكْرَمْتُكَ

ترکیب: ان: شرطیه، اکرمت: فعل فاعل (ن) وقایه (ي) ضمیر د متکلم مفعول به فعل سره د فاعل او سره د مفعول به نه جمله فعلیه شرط لپاره د اکرمتک: فعل او فاعل (ک) مفعول. فعل یا فاعل او مفعول به جمله فعلیه جزاء کیږي د شرط شرط باجزاء جمله شرطیه
مصنف خلور قسمونو کي جمله فعلیه او اسمیه ذکر کړیدي ځکه دا اتفاقي دي او دا دوه قسمه اختلافي دي ځکه د دې رجوع اسمیه یا فعلیه جملې ته کیږي ددې وجې نه جمله خبریه عند جمهور النحاة دوه قسمه ده: جمله اسمیه او جمله فعلیه.

وبدانکه مسند حکم است ومسندالیه آنچه بروحکم کنند واسم مسند ومسندالیه تواند بود. وفعل مسند باشد ومسندالیه نتواند بود. وحرف نه مسند باشد ونه مسندالیه.

ترجمه: او پوهه شه چې مسند حکم ته وائي او مسندالیه چې په هغه باندي حکم کیږي، او اسم مسند او مسندالیه واقع کیږي، او فعل مسند واقع کیږي او مسندالیه نه واقع کیږي، او حرف نه مسند واقع کیږي او نه مسند الیه
تشریح دا عبارت واقع شویدي په جواب د سوال د سائل کي.
سوال داسي وارديږي چې مخکې جمله اسمیه او فعلیه کې مسند الیه او مسند ذکر شو نو دا خو حکم بالمجهول وشو ځکه مسند الیه او مسند مخکې ذکر شوي هم نه دي او زه یې پیژنم نه نو مصنف بدان سره جواب ورکړو او معنی د مسند او مسند الیه ئې بیان کړه.
دویم غرض. ددې عبارت نه دا دي چې امثله سابقه کې جمله اسمیه کې اسم مسند او مسندالیه دواړه واقع شو او فعل مسند واقع شو او مسند الیه نه نو واهم دا وهم وکړو چې فعل به مسند الیه هم واقع کیږي. لیکن مصنف به دلته اختصار کړي وي او فعل مسندالیه به ئي نه وي ذکر کړي اوفي الواقع به وي نو په دې عبارت سره جواب اوازاله ددې وهم وشوه واسم مسندالیه ومسند تواند بود. الخ.
اوذکر د حرف طرداً للباب دي
وجه الفرق بين الاقسام الثلاثه. ۱: اسم ۲: فعل. ۳: حرف
اسم مسند او مسند الیه دواړه واقع کیږي ځکه مسندالیه ذات وي او مسند وصف وي او اسم ذات هم وي او وصف هم وي
مثال د ذات لکه زید قائم چې زید ذات مسند الیه دی او قائم مسند وصف دی
فعل مسند واقع کیږي ځکه مسند وصف وي او وصف فعل وي
مثال د وصف لکه: زید ضرب چې زید ذات مسند الیه دي او ضرب فعل مسند دي او وصف دي
او حرف نه مسند واقع کیږي او نه مسندالیه ځکه حرف نه ذات وي او نه وصف نقشه ئي داسي ده:



سوال: فعل مسند اليه واقع دي په دي قول د الله تعالى کې ﴿وَأَنْ تَصُومُوا خَيْرٌ لَكُمْ﴾

جواب: دا اسم تاويلي دي (أي صِيَامُكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ) ان ناصبه مضارع لره مؤول کوي په تاويل د مصدر سره او مصدر اسم وي تاويلاً.

۲: بوجه ديگر: اسم مسند او مسند اليه واقع کيږي ځکه دوي کې لابدي وي د استقلال نه او اسم مستقل دی او فعل مستقل دی مسند واقع کيږي نه مسند اليه په اعتبار د معنى تضمني سره نه مطابقي سره او حرف غير مستقل دی لاتكون مسنداً ولا مسنداً اليه

مسند اليه واقع کيږي	مسند واقع کيږي
۱: فاعل	۱: فعل
۲: نائب فاعل	۲: اسم فعل
۳: مبتداء	۳: خبر مبتداء
٤: اسم حروف مشبه بالفعل	٤: خبر افعال ناقصه
٥: اسم ماولا مشبهتين بليس	٥: خبر حروف مشبه بالفعل
٦: اسم افعال ناقصه	٦: خبر لا لنفي الجنس
۷: اسم لا لنفي الجنس	

سوالات تمرین فصل ثاني

بینوا في الجمل الاتیة المذکورة الجملة الخبریة مع قسمیها واقسامها.

۱: اَلدِّیْنُ النَّصِیحة	۲: اَلْمُسْلِمُ یَعْبُدُ رَبَّه	۳: اَقَامُوا الصَّلٰوۃَ
٤: اَلْخَمْرُ حَرَامٌ	۵: سَمِعَ اللهُ	٦: لِي صَدِیْقٌ مُخْلِصٌ
۷: فِي الْبَلَدِ سُوْقٌ کَبِیْرَۃٌ	۸: اِنْ تَنْصُرُوا اللهَ یَنْصُرْکُمْ	۹: خَالِدٌ نَائِمٌ
۱۰: فَاطِمَة مَرِیضَة.		

تعریف د جملې انشائي

بدانکه جمله انشائیه آنست که قائلش رابصدق وکذب صفت نتوان کرد وآن برچند قسم است امرچون اِضْرِبْ ونهي چون لَاتَضْرِبْ واستفهام چون هَلْ ضَرَبَ زَیْدٌ وتمني چون لَیْتَ زَیْدًا حَاضِرٌ وترجي چون لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ وعقود چون بِعْتُ وَاشْتَرَیْتُ وندا چون یَااللهُ وعرض چون اَلَاتَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا وقسم چون وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَیْدًا وتعجب چون مَآاَحْسَنَه وَاَحْسِنْ بِه

ترجمه: پوهه شه چې جمله انشائیه هغه ده چې قائل لره په صدق او کذب باندې صفت کوي او دا په لس قسمه ده:

تشریح: په دې عبارت سره دویم قسم دجملې بیانوي چې هغه جمله انشائیه ده، تعریف هم کوي په دې قول سره آنست الخ او تقسیم هم کوي په دې قول سره: وآن بر ده قسم است جمله انشائیه په لس قسمه ده: شعر

۱: تمني ۲: ترجي ۳: عقود اي اخي. ۹: استفهام. ۱۰: تعجب بخوان اي جوان	٤: نداء ۵: قسم ٦: عرض ۷: امر ۸: نهي. این ده اقسام انشاء است بخوبي بدان

۱: امر: په لغت کې په معنی دحکم کولو سره.

او په اصطلاح کې: هو صیغة یطلب بها الفعل من الفاعل المخاطب. مثال: اِضْرِبْ. اِعْلَمْ. ﴿اُتْلُ﴾. ﴿اَقِمِ الصَّلٰوۃَ﴾ ﴿وَأْمُرْ اَهْلَکَ بِالصَّلٰوۃِ﴾.

۲: نهي: په لغت کې په معنی د منع سره.

او په اصطلاح کې: صیغة یطلب بها ترک الفعل عن الفاعل المخاطب،

﴿وَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ﴾ ﴿لَا تُشْرِكْ بِاللهِ﴾ ﴿لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ﴾ مثال:

۳. استفهام: د باب استفعال نه د مصدر صیغه ده، اِسْتَفْهَمَ يَسْتَفْهِمُ اِسْتِفْهَامًا، طلب د فهم ته وائي لغتاً، او اصطلاحاً: طلب د فهم د متکلم نا واقف دي د مخاطب واقف نه کله چې د بندګانو په کلام کې راشي .او په کلام د الله تعالی کې په معنی د اخبار دي لکه دا قول د الله تعالی: ﴿هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾.

مثال: هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ. أَزَيْدٌ فِي الدَّارِ أَمْ عَمْرٌو. ﴿هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ حِيْنٌ﴾ (الآية)

٤. تمني: په لغت کې اُمید ته وائي.او په اصطلاح کې: هو طلب امر محبوب ممکن اومتعسر.

٥. ترجي: لغت کی اُمید ته وائي. اصطلاحاً: هو طلب امر ممکن محبوب.

والفرق بين التمني والترجي

اول: د تمني استعمال په محبوب اشیاؤ کې کیږي لکه ليت زَيْدًا حاضر. او ترجي عامه ده، محبوب وی او که مبغوض وی.

مثال د محبوب: ﴿لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾.

مثال د مبغوض: ﴿لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ﴾.

دویم: فرق: د تمني استعمال په ممکناتو کې کیږي لکه: "لَيْتَ لِي مَالاً فَأُنْفِقَه" او په غیر ممکناتو کې هم لکه: لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ ويلی شی. ترجي فقط په ممکناتو کې استعمالیږي لکه: ." نشي ویلي. کتاب صفحه ۱۵.

قاعده: لعل په نورو معانیو سره هم استعمالیدی شي مثلاً

اول: برایي اشفاق: وهو الحذر من وقوع المكروه مثال: لَعَلَّ الْمَرِيْضَ هَالِكٌ وكذا في قَوْلِهٖ تَعَالٰى: ﴿فَلَعَلَّكَ تَارِكٌ بَعْضَ مَا يُوْحىٰ إِلَيْكَ وَضَائِقٌ بِهٖ صَدْرُكَ﴾ (الآية)

دویم: برایي استفهام کقوله تعالي: ﴿وَمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰى﴾.

دریم: برایي تعلیل: کقوله تعالي ﴿لَعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشٰى﴾

٦: عقود: بل قسم دجملی انشائیی عقود دي .عقود جمع دعَقد ده، اوعقد لغت کې معاملي ته وائي.

او اصطلاحاً: هغه الفاظو د عقود ته وائي چې تُجار د هغې استعمال کوي (په وخت د معاملي

د بیع شراء او اجاره اونکاح کې) مثال: بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ. په دې الفاظو کې دوه اعتباره دي، که بیع شراء مخکې شوي وي او دا وروستو وائي چې بِعْتُ وَاشْتَرَيْتُ نو اخبار دي، جمله خبریه ده اوکه حین العقد کې ویلې شي نو انشاء ده، د جملې انشائیې قسم دی.

۷: نداء: چون یااَللّٰهُ. نداء په لغت کې آواز ته وائي.

پس زده کړه دا خبره چې دلته لابدي ده د معرفت د امور خمسه وو نه ۱: ندا. ۲: منادي (په کسره د دال). ۳: منادی. ٤: حرف نداء ٥: جواب نداء، یا مقصود بالنداء.

(نداء آواز ته وایي، منادي: آواز کونکی ته وائي).

منادی: هغه ذات دې چې مطلوب وي مخامخ کیدل د هغه، برابره خبره ده که قلباً وي لکه من وراء الجدار شو. (په دې زمانه کې ټیلفون کې هم دغه معنی متصوره ده) اوکه وجهاً وي اوکه علماً وي. یا ئې ته نازل کړي په منزله د هغه چا باندې چې هغه لره قلب او وجه وی لکه: ﴿يَا جِبَالُ أَوِّبِي مَعَهُ﴾: یا لکه ﴿يَا سَمَاءُ أَقْلِعِي﴾ ﴿يَا أَرْضُ ابْلَعِي﴾ دلته مثال کې مصنف یاالله ویلي دي، دلته مراد علماً دی او د علم نه مراد د الله تعالی نزول د رحمت دی حرف نداء دلته (یا) ده.

حروف نداء پنځه دي ۱: یا. ۲: أیا. ۳: هیا. ٤: أي ٥: همزه مفتوحه.

یاعامه ده د بعید، قریب، متوسط لپاره راځي، ایا هیا د بعید لپاره دي أي او همزه مفتوحه د متوسط یا قریب لپاره دي جواب نداء مقصود دمنادی اومتکلم دې د ذکر دمنادی نه لکه دلته حذف دي چې (اِغْفِرْلِي) دې. یا اِرْحَمْنِي وغیره وغیره شو. تقدیر دارنګه شو یا الله اِغْفِرْلِي. یا الله اِرْحَمْنِي. ﴿يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ﴾ ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ﴾

فائده: منادی جمله انشائیه وي اومقصود بالنداء (جواب نداء) ضروري نه ده چې جمله انشائیه د وي. کله به خبریه وي اوکله انشائیه

۸: **عرض:** چون اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيبَ خَيْرًا. عرض په لغت کې پیش کولو ته وائي او اصطلاحاً: عرض هغه جمله ده چې د دې په سبب سره طلب د حصول د شي کیدیشي په نرمئي سره

سوال: فتصيب خيرا جمله خبریه ده ددي عطف په ماقبل چې (الاتنزل بنا) دي چې جمله انشائیه ده، نه صحیح کیږي ځکه معطوف او معطوف علیه کې اتحاد في الجمله وي

جواب: دا مؤول دی په تاویل د [اَلَايَكُوْنُ نُزُوْلٌ مِنْكَ فَاِصَابَةُ خَيْرٍ مِنِّي] سره. وسيأتي تفصيله في بحث تقدير آن ان شاء الله.

۹: **قسم**: چون وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيدًا بل د جملی انشائیی نه قسم دي دا جمله د تاکید لپاره راوړي شي چي د مخاطب د ذهن نه شک اوتردد ختم شي اوپه حرف قسم سره په یو شئ باندي قسم اُوخوړي شي پس جمله قسمیه کي لابدي وي د معرفت د امور اربعه ؤنه

۱: فعل قسم. ۲: حرف قسم ۳: مقسم به. ٤: جواب قسم

مثال مذکوره کي فعل قسم اُقسِمُ مقدر دي، حرف قسم واو دي، مقسم به لفظ د الله تعالي دي جواب قسم: لَاَضْرِبَنَّ زَيدًا بل مثال: ﴿وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ﴾ واو قسميه. العصر مقسم به، ان الانسان لفي خُسرِ جواب قسم دي

فائده: جواب قسم جمله خبریه وي د دي تفصیل دي شرح ماءة عامل کي اُوکتلي شي په بحث د حروف جاره کي.

۱۰: **تعجب**: چون مَا اَحْسَنَه وَاَحْسِنْ بِه بل دجملی انشائیی نه تعجب دي، ماده د دي عجب دي په لغت کي تحیر ته وائي اواصطلاحاً قبلول د نفس دي یو امر عجیبه لره په وخت د ادراک کي.


د فعل تعجب لپاره دوه صیغي دي ۱: مَا اَفْعَلَه. ۲: وَاَفْعِلْ بِه (وزن) مَا اَحْسَنَهٗ. وَاَحْسِنْ بِه.

ترکیب: **اول**: **عند السیبویه** ما موصوفه بمعنی اي شَيء. شیئ کي تنوین برائي تعظیم برایی صحت ابتداء است اي شَيءٌ عَظِيمٌ. شیئ: موصوف، عظیم صفت، مبتداء، اَحْسَنَ. صیغه فعل ماضي معلوم ضمیر فاعل درو مستتر.(ه) ضمیر مفعول به، فعل بافاعل ومفعول به جمله فعلیه خبر مبتداء. مبتداء باخبر جمله اسمیه انشائیه تعجبیه.

دویم: **مذهب فراء**: ما استفهامیه بمعنی اي شَيئ اي مضاف شیئ مضاف الیه، مضاف بامضاف الیه مبتداء احسنه ورله خبر، مبتداء باخبر جمله اسمیه انشائیه جواب استفهام محذوف دي، اي شَيئٌ عَظِيمٌ.

دریم: **مذهب خلیل**: ماموصوله بمعنی الذي موصول، احسنه، صله موصول باصله مبتداء محذوف الخبر شَيئٌ عَظِيمٌ اي الذي اَحْسَنَ زَيدًا شَيئ عَظِيمٌ. وَاَحسِن به. احسِن بمعنی حَسُنَ فعل ماضی با زائده جاره (ه) فاعل معناً فعل بافاعل جمله فعلیه انشائیه تعجبیه.

خلاصه فصل ثاني



سوالات تمرين فصل ثاني

امثله مذكوره كي كومه جمله خبريه؟ انشائيه؟ اسميه او فعليه ده؟

اَلدِّينُ اَلنَّصِيحَةُ	اُنْظُرْ اِلَي الْجَبَلِ	رَاَيْتُ كَوْكَباً
اَلْمَاءُ طَهُورٌ	تَاللهِ لَاَكِيدَنَّ اَصْنَامَكُمْ	اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ
لَاتَتْرُكِ الصَّلٰوةَ	يَا نَارُ كُونِي بَرْداً وَّسَلَاماً	هَلْ قَرَأْتَ الدَّرْسَ
قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ	هَلْ اَتٰي عَلَي الْاِنْسَانِ	

د فصل اول اوثاني سبق اجراء په مابين د استاذ اوشاګرد کې

د اول فصل اوثاني ددې کتاب.

استاذ: سبق به تا یادکړي وي د اول فصل اوثاني ددې کتاب.

شاګرد: آو استاذ صاحب ان شاء الله تعالی.

استاذ: تپوس کولي شم؟

شاګرد: تپوس ستاسو حق دی.

استاذ: زَیدٌ عَالِمٌ لفظ مستعمل دي او که مهمل؟

شاګرد: لفظ مستعمل دي.

استاذ: لفظ دوه قسمه دي مفرد او مرکب اُووایه دوي کې کوم یو دی؟.

شاګرد: زید مفرد دې اودواړه چې یوځائې شي نومرکب به شي.

استاذ: د مفرد بل نوم شته اوکنه اودا مفرد مقابل د چا دي؟.

شاګرد: آو، کلمه ورته وائي او دا مفرد مقابل د مرکب دي.

استاذ: کلمه په څو قسمه ده؟.

شاګرد: درې قسمه ده. ۱: اسم. ۲: فعل ۳: حرف.

استاذ: زیدٌ کوم قسم د کلمې دي په دي اقسام ثلاثو کې؟.

شاګرد: اسم دي.

استاذ: چې زیدٌ او عالمٌ یوځای شي نو څه به ورته وائي؟

شاګرد: مرکب به ورته وائي.

استاذ: مرکب په څو قسمه دې؟

شاګرد: په دوه قسمه دي ۱: مفید. ۲: غیر مفید.

استاذ: داکوم قسم دې؟

شاګرد: مرکب مفید دي.

استاذ: غیرمفید څه شئي دي؟

شاګرد: اُستاذ صاحب غیرمفید څه نه پیژنم ځکه د هغې بحث په دزہم فصل کې راځي اوهغه مونږه نه دي ویلي اوپه دي دمرکب مفید تعریف صادق دي.

استاذ: مرکب مفید بل په کوم نوم دلته یاد شوي دي؟

شاګرد: کلام اوجمله ورته هم وائي. او مرکب تام اسنادي ورته هم وایي.

اُستاذ: جمله په څو قسمه ده؟. **شاګرد:** دوه قسمه ده. ۱: خبریه ۲: انشائیه

استاذ: دا کومه جمله ده؟ **شاګرد:** دا جمله خبریه ده.

استاذ: خبریه په څو قسمه ده؟ **شاګرد:** دوه قسمه ۱: اسمیه ۲: فعلیه

استاذ: دا کوم قسم ده؟ شاګرد: جمله اسمیه ده.

استاذ: تاته د څه نه معلومه شوه؟ **شاګرد:** اول جزء د دې اسم دې

استاذ: ترکیب د دې کولي شې؟

شاګرد: او، زیدٌ مبتدأ عالمٌ خبر، مبتدأ سره د خبر نه جمله اسمیه خبریه

استاذ: مَاشَاءَ اللهُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اللهمَّ بَارِکْ فِيْ عِلْمِ تِلْمِيْذِيْ وَعَلِّمْهُ عِلْمًا نَافِعًا.

شاګرد: آمین. اللهمَّ بَارِكْ فِيْ عُمْرِ أُسْتَاذِيْ وَاجْعَلْنِيْ فِيْ صُحْبَتِهٖ مَا دُمْتُ حَيًا.

په دې طریقې سره د جملې انشائیې یو مثال: د استاذ د طرفنه شاګرد ته ورانديشي او اجراءِ د پکې اوشي دا رنګه هر فصل نه بعد په دې طریقه اجراء پکا رده.

فصل

تعریف د مرکب غیر مفید

بدانکه مرکب غیر مفید آنست که چون قائل بران سکوت کند سامع راخبري یاطلبي حاصل نشود.

ترجمه: پوهه شه چې مرکب غیرمفید هغه دې چې قائل په هغه باندې سکوت وکړي او سامع له خبر یا طلب معلوم نشي.

تشریح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د مرکب مفید نه نو شروع ئې وکړه په بیان د مرکب غیرمفید کې. مفید ئې مخکې کړو په مرکب غیر مفید باندې (وَوَجْهه ظاهرٌ) ځکه مفید کې فائده تامه ده مخاطب ته او غیر مفید کې د غه فائد ه تامه نشته دی، فائدې والا شي مخکې وي په غیر فائدې والا باندې.

دا د کتاب دریم فصل دی د څلورم فصل پورې بیان د یو څو خبروکوي.

اول: تعریف د مرکب غیرمفید. دویم: اقسام د مرکب غیر مفید. دریم: امثله دده. او څلورم: فرق په مابین د مرکب تام او ناقص کې.

تقسیم د مرکب او اقسام د مرکب

اصل کې مرکب په شپږ قسمه دی، طریقه د معرفت د هغې دا سې ده.

مرکب دوه قسمه دی: ۱: مفید. ۲: غیرمفید. د مفید بیان مخکې ذکر شوی دی. او غیر مفید به

که اول قسم وو، نو مرکب تقییدي. او
خالي نه وي یا به جزء ثاني د اول لپاره قید وي یا به نه وي
که جزء ثاني د اول لپاره قید نه وو، نو غیر تقییدي ورته وائي.

مرکب تقییدي دوه قسمه دي:

۱: مرکب اضافي ۲: مرکب توصیفي

غیر تقییدي درې قسمه دي:

۱: مرکب بنائي ۲: مرکب صوتي ۳: مرکب منع صرف شپږ اقسام شو.

۱: مرکب مفید . ۲: مرکب اضافي ۳: مرکب توصیفي ، ٤: مرکب بنائي ، ٥: مرکب صوتي . ٦:

مرکب منع صرف او دیته مرکب مزجي هم وائي.

په دې شعر کې هم ذکر شوي دي شعر:

بود ترکیب نزد نحویان شش بیادش گیر گر خائف زفوتي

اضافي دآن و توصیفي و مزجي هم اسنادي و تعدادي و بنائي و صوتي

مصنف خپل کتاب نحومیر کې د دوی نه دوه قسمه نه دي ذکر کړي.

مرکب توصیفي او مرکب صوتي.

مرکبِ توصیفي: دیته وائي چې جزء اول د هغې موصوف او ثاني صفت وي مثال رَجُلٌ عَالِمٌ

رَجُلٌ موصوف عَالِمٌ صفت دي. تفصیل توابع کې ان شاء الله تعالی راخي په بحث د صفت کې.

مرکب صوتي: دیته وائي چې مرکب شوي وي د اسمین نه چې دویم جزء پکې صوت وي مثال

لکه: سیبویه، دا د (سیب) او (ویه) نه جوړ دې (وَیه) پکې صوت دې اول جزء د دې مبني برفتح

او دویم مبني برکسره.

وآن برسه قسم است اول مرکب اضافي چون غلام زید جزء اول رامضاف گویند وجز دوم را مضاف الیه ومضاف الیه همیشه مجرور باشد

ترجمه: او هغه مرکب غیر مفید په درې قسمه دي اول مرکب اضافي لکه غلام زید جزء اول ته

مضاف وایي او دویم ته مضاف الیه وایي او مضاف به همیشه مجرور وي.

تشریح: د مرکب غیر مفید درې قسمونه دي، اول د هغې نه مرکب اضافي دی چې په کې جزء

ثاني قید د اول لپاره وی او مرکب اضافي هغه دی چې جوړ شوی وی د مضاف او مضاف الیه

نه دا قسم د مرکب تقییدي دی

مضاف صیغه د اسم مفعول ده په معنی د نسبت کړې شوې اسم آخر ته په واسطه د حرف جر

مقدره مراده سره. او مضاف الیه دیته وائي چې دیته نسبت شوې وي د اسم آخر نه په واسطه د

حرف جر مقدر مراده سره مثال غُلَامُ زَيدٍ
قاعده: مضاف چې عامل پرې نه وي داخل نو مبني بر سکون به وي، معرب لوستل ئې صحيح نه دي اګر که مشهوره بالعکس ده. (تنوير).
قاعده: مضاف اليه به هميشه مجرور وي يا په حرف جر مقدره سره.يا په اضافت سره بنا بر اختلاف المذهبين. د دې بيان تفصيلاً په بيان د اسماء عامله و کې راځي.
قاعده: مضاف اليه مجروراً عام دې چې لفظاً وي لکه رَسُولُ اللهِ مضاف الله مضاف اليه يا به مجرور تقديراً وي لکه غُلَامُ مُوسٰی مضاف اليه مجرور تقديراً يا به محلاً وي لکه غُلَامُ هذا مضاف اليه
اضافت دوه قسمه دی ۱: لفظي ۲: معنوي د دې تفصيلاً بحث به په عوامل قياسيه کې راشي ان شاء الله تعالی په باب دريم د اسماء عامله ؤکې.

دوم مرکب بنائي و او آنست که دو اسم رايکي کرده باشند واسم دوم متضمن حرفي باشد چون اَحَدَ عَشَرَ تاتِسعَةَ عَشَرَ که دراصل اَحَدٌ وَعَشَرٌ وَتِسعَةَ وَعَشَرٌ بوده است، واو را حذف کرد هر دو اسم رايکي کردند وهردو جز مبني باشد برفتحه الا اِثنَا عَشَرَ که جز اول معرب است.

ترجمه: دويم قسم دمرکب غير مفيد نه مرکب بنائي دي دا هغه دي چې د دوه اسمونونه يواسم جوړ کړي او اسم دويم متضمن حرف لره وي لکه اَحَدَ عَشَرَ دتِسعَةَ عَشَرَ پورې چې دا په اصل کې اَحَدٌ وَعَشَرٌ د تِسعَةَ وَعَشَرٌ پورې وو، واوموحذف کړو او هردواړو اسمونولره مو يوکړو، اودواړه جزونه مبني دي په فتحې سره مګر په اثنا عشر کې اول جزء معرب دي
تشريح: بل قسم دمرکب غير مفيد نه مرکب بنائي دی.
وجه: ديته مرکب بنائي ځکه وائي چې دواړه جزئين ئې مبني دي، مرکب تعدادي ورته هم وائي ځکه چې مرکب من العدد دي علت د بناء دا دي چې متضمن دې حرف لره او حرف مبني وو، نو دا هم مبني شو. او متضمن مبني لره مبني وي ديته مشابهت معنوی او تضمنی وائ او مبني بر فتحه به وي ځکه هر کله چې جزئين يو ځائ شو نوثقل پکې راغې اوثقل تقاضا د تخفيف کوي او فتحه اخف الحرکات ده مثال: اَحَدَ عَشَرَ تا تِسعَةَ عَشَرَ که در اصل الخ.
دا قسم د مرکب غير تقييدي دي دا جوړ وي د اسمينو نه پدې شان سره چې دوه اسمين به يو ځاي کړي شي او ثاني به متضمن وي حرف لره دواړه جزئين به مبني وي، اول به ځکه مبني وي چې آخر د دې په وسط د کلمه کې واقع دي او وسط ځائې د اعراب نه دي او ثاني به ځکه مبنی

وی چې دامتضمن دی حرف لره.

الاثناعشرَ: داجواب د سوال اَحَدَعَشَرَ دی تا اوويل تر تسعة عَشَرَ پورې جزئين به مبني وي نو

اِثْنَاعَشَرَ باندې قاعده ستا منقوضه شوه ځکه اول جزء د دې معرب دې.

جواب: اِثْنَاعَشَرَ د مخکې عدد نه په بناء د جزء اول کې مستثنی دی اول جزء د دې معرب دی ځکه دا اِثْنَاعَشَرَ مشابه دی د تثنيه سره په سقوط د نون کې اصل کې اثنان عشر وو. د وجې د ثقل ترکيبي نه نون حذف شو او اضافت سره تثنيه کې نون ساقطيږي او اضافت د خواص معظمه مکبره وو د اسم معرب نه دی تثنيه معرب وه او دا خو د هغې سره مشابهت لري نو دا هم معرب شو دويم جزء مبني دې لمامر.

تعريف د مرکب منع صرف

سوم مرکب منع صرف و او آنست که دو اسم رايکي کرده باشد واسم دوم متضمن حرفي نباشد چون بعلبک وحضرموت که جز اول مبني باشدبرفتحه برمذهب اکثر علماء وجز دوم معرب.

ترجمه: دریم قسم د مرکب غیرمفید نه مرکب منع صرف دي اوهغه دیته وائي چې د دوواسمونو نه يو اسم جوړکړي شوي وي اواسم دويم متضمن حرف لره نه وي لکه بعلبک او حضرموت چې جزء اول مبني دې په فتحه سره په مذهب د اکثرو علماؤ او دويم جزء معرب دې

تشریح: دریم قسم دمرکب غیر مفید نه چې دا قسم د مرکب غیرتقییدي دې.دیته مرکب امتزاجي هم وائي مرکب منع صرف کې ثاني جزء به متضمن حرف لره نه وي دغه وجه د اعراب هم ده، اول جزء به مبني وي علي قول من قال انه مبني ځکه اخيرد دې وسط کې واقع دې وسط ځائې داعراب نه دې.

مثال لکه بَعْلَبَک، بعل د بت نوم وو او بک د ښار د باني بادشاه نوم وؤ.هرکله چې مرکب شو نو د ښار نوم شو په ترکيب د بَعْلَبَکَ کې درې مذاهب دي.

۱: بعض نحاة وائي: جزئين معرب دي اول مضاف اوثاني مضاف اليه، منصرف لکه: جَاءَ نِي بَعْلُبَکٍ، رَأَيتُ بَعْلَبَکٍ مَرَرْتُ بِبَعْلِبَکٍ، حالت جري پکې تابع دنصبي دې.


۲: مذهب: دواړه جزئين معرب، اول معرب مضاف، ثاني مضاف اليه غير منصرف لکه جَاءَ نِي بَعْلُبَکَ رَأَيتُ بَعْلَبَکَ، مَرَرْتُ بِبَعْلِبَکَ، حالت جري پکې تابع د نصبي دې ځکه غير منصرف دی.

۲. مذهب: اوداد اكثر علماؤ دي لكه كتاب كې پرې تصريح ده. اول جزء مبني بر فتحه او ثاني معرب غير منصرف جَاءَ بَعْلَبَكُّ، رَأَيْتُ بَعْلَبَكَّ، مَرَرْتُ بِبَعْلَبَكَّ.

بدانكه مركب غير مفيد هميشه جز جمله باشد چون غلامُ زيدٍ قائمٌ وَعِنْدِي اَحَدَ عَشَرَ دِرهمًا. وَجَاءَ بَعْلَبَكُّ

ترجمه: پوهه شه چې مركب غير مفيد هميشه جزء د جملي وي لكه غلام زيد قائم، كې دا غلام زيد الخ.

تشريح: مطلب دا چې مركب مفيد به هميشه لپاره د جملې يو جزء وي يا به مسند اليه واقع وي او كله به مسند واقع وي مثال د مسند اليه لكه غلام زيد قائم چې پدې كې غلام زيد مضاف مضاف اليه مبتداء ده او قائم ئې خبر دې او مثال د مسند لكه زَيدٌ غُلَامِي. زيد مبتداء ده او غلامي مضاف مضاف اليه خبر دې بل مثال: زَيدٌ رَجُلٌ صَالِحٌ. زيد مبتداء او رجل صالح موصوف صفت خبر او مسند شو. يا لكه: اَلْمُؤمِنُ عِزٌّ كَرِيمٌ. او پدې باندې نور مثالونه قياس كړه! [1]



۱- عندي مضاف مضاف اليه ظرف خبر مقدم احد عشر عدد مبهم مميز او درهما ترينه تميز، مميز با تميز مبتداء مؤخره خبر مقدم سره د مبتداء مؤخره نه جمله اسميه ظرفيه خبريه.

وجاء بعلبک جاء فعل بعل مبنی برفتحه مضاف بک مضاف اليه يا كل فاعل.

سوالات تمرين فصل ثالث

		كِتَابُ اللهِ
	سِتَّةَ عَشَرَ	
رَسُوْلُ اللهِ		اِمْرَأَةٌ سَوْدَاء
غُلَامُه	بَكْرُوَيْه	اَدَاءُ الزَّكٰوةِ بَرَكَةُ الْمَالِ
بَغْلَبَكَّ	عَذَابُ الْقَبْرِ	

فصل

بدانكه هيچ جمله كمتر ازدوكلمه نباشدلفظاً چون ضَرَبَ زَيْدٌ وَزَيْدٌ قَائِمٌ ياتقديراًچون اِضْرِبْ كه اَنْتَ درومستترست وازين بيشترباشد وبيشترراحدي نيست.

ترجمه: پوهه شه چې هيڅ يوه جمله به كمه ددوه كلمونه نه وي نه لفظاً، نه تقديراً دلفظاً مثال: ضَرَبَ زَيْدٌ يازَيْدٌ قَائِمٌ اود تقديراً مثال: اِضْرِبْ چې په ديكې ضميرد انت پټ دى او زيات د دوه كلمونه هم وى او زيات لره حد نشته

تشريح: هره جمله كې به ضرور دوه كلمې وي او دا ئې ادنى درجه ده، دا دواړه كلمې به كله لفظاً وي پداسي شان سره چې په دواړو به تلفظ كيږي لكه: ضَرَبَ زَيْدٌ چې پدې كې ضَرَبَ يوه كلمه ده او زيد بله كلمه ده او په دواړو باندې تلفظ كيږي.

يا به يوه كلمه لفظاً وي او بله به تقديراً (پټه) وي لكه اِضْرِبْ چې په دې كې يوه كلمه چې اضرب دې لفظاً ده او بله كلمه چې ضمير انت دى هغه پټ دى. او د دوه كلمو نه چې زياته جمله وي د هغې لپاره حد نشته، لكه داسې اوږده جمله هم راځي: ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْراً قَائِماً فِيْ دَارِهِ اَمَامَ الْاَمِيْرِ ضَرْباً شَدِيْداً يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْخَشَبَةِ.

بدانكه چون كلمات جمله بسيار باشد اسم وفعل وحرف رابه يک ديگر تمييزبايدكردن ونظركردن كه معربست يا مبني وعامل است يامعمول وبايد دانستن كه تعلق كلمات بايكديگرچگونه است تا مسند ومسنداليه پيداگردد ومعنى جمله بتحقيق معلوم شود.

ترجمه: پوهه شه چې كلمات د عربو ډيردي اسم، فعل، حرف، چې د يو بل سره ئې جدا والي پكار دي او نظر كول پكار دي چې دا معرب دي او كه مبني، عامل دي يا معمول او دا پيژندل هم پكار دي چې تعلق دكلماتو د يو بل سره كوم قسم دي، دي لپاره چې مسند اومسند اليه پيدا شي او معنى د جملي په تحقيق سره معلومه شي.

تشريح: د دي عبارت نه غرض د مصنف طالب العلم ته د مطالعې طريقه ښائي، چې كله د علم

نحو طالب مطالعه کوي نو د هغه لپاره معرفت د یو څو اموزو ضروری دی.

۱: اسم او فعل او حرف د یو بل نه په علاماتو باندې امتیاز ضروری دی او د هغه علامات په وروستو فصل کې ذکر کوی

۲: معرفه او نکره پیژندل ضروري دي او د معرفې اقسام

۳: مذکر او مؤنث.

٤: کلمات کې معرب او مبني د دې لپاره ضروري ده چې معرب او مبني اقسام یادوي

۵: اعراب پیژندل ضروري دي.

٦: وجه د اعراب.

۷: عامل او معمول

۸: مفردات او مرکبات.

استاذ لره پکار ده چې شاګردانو ته یوه جمله پیش کړي او بیا ترینه تپوس وکړي په دې طریقې سره مثلاً اَلْحَمْدُ لِلّٰه.

۱: الحمد معرفه ده او که نکره او معرفه کې کوم قسم ده؟

۲: مذکر دی که مؤنث؟ که چرته مؤنث وی نو علامه د تانیث پکې کومه ده؟

۳: منصرف ده یا غیر منصرف؟ د اسبابو د منع صرف نه کوم سبب پکې دی؟

٤: معرب او مبني، د معرب په شپاړس اقسامو کې کوم یو دی؟

۵: اعراب کې کوم قسم دی؟

٦: مبني کې اسم غیر متمکن اته ۸: اقسامو کې کوم یو دی؟

۷: عامل او معمول تپوس وکړي، دارنګه د فعل اجراء او د حرف اجراء دی ورسره اُوشي

مثلاً (اِنَّ اللهَ عَلٰی کُلِّ شَیْئٍ قَدِیْرٌ) لفظ د الله کې دې اجراء وشي.(۲)

۲- یادونه او که استاذ داسی اجراء اوکړی چې د ځائ سره مناسب د نحو میر لوستل شوی وی مثلاً الله لفظ ۲ موضوع ۲ مفرد ته کلمه هم وائ کلمه ۲ اسم ۲ اسم جامد بیا مثلاً رجل صالح لفظ ۲ موضوع ۲ مرکب ۲ غیر مفید ۲ تقیدی ۲ توصیفی بیا مثلاً د مفرداتو ځانله په دغه طریقی سره د هر سبق سره مناسب اجرا کول

اجراء د اِنَّ اللّٰہَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ

د نفي نښه (علامه) به (--) وی د اثبات نښه به (+) وی۔

	اسم	فعل	حرف	معرفه	نکره	مذکر	مؤنث	معرب	مبني	عامل	معمول
الله	دی			دی		دی		دی			دی
انّ	–	–	+	–	–	باعتبار اللفظ	باعتبار الکلمة	–	+	+	–
کلّ	+	–	–	–	+	باعتبار مضاف اليه		+	–		+
قدیر	+	–	–	–	+	+	–	+	–	–	
ضرب	–	+	–	–	–	+	–	–	+	+	–
زید	+	–	–	+	–	+	–	+	–	–	+
علی	–	–	+	–	–			–	+	+	–

	منصرف	غیر منصرف	مرفوع	منصوب	مجرور	مفرد	تثنیه	جمع	متمکن	غیر متمکن
الله	+	–	–	+	–	+	–	–	+	–
کل	+	–	–	–	+	+	–	–	+	–
قدیر	+	–	+	–	–	+	–	–	+	–
هو	–	–	+	–	–	+	–	–	–	+
احمد	–	+	+	–	–	+	–	–	+	–
یزید	+	–	–	–	+	+	–	–	+	–
ذا	–	–	–	–	–	+	–	–	–	اسم اشاره.
مدرسه	+	–	+	–	–	+	–	–	+	–
رجال	+	–	+	–	–	–	–	+	+	–
رجلان	+	–	+	–	–	–	–	–	+	–

فصل

د اسم علامات

بدانکه علامات اسم آنست که الف ولام یا حرف جر دراولش باشد چون اَلحَمدُ وَبِزَيدٍ.

ترجمه: پوهه شه چې علامات د اسم هغه دي چې الف لام یا حرف جرئي په اول کې وي لکه الحمد او بزيد.

خلاصه د فصل په دې فصل کې غرض د مصنف رحمه الله علامات د اسم، فعل، او حرف ذکر کوي. امام سيوطي په الاشباه والنظائر کې [۳۵] علامات ذکر کړي دي. دلته مصنف دیارلس علامات ذکر کړي دي د وجې د شهرت نه

تشريح: مخکې بحث کې طريقه د مطالعې وه طالب العلم د نحو نه، هغې که یې دا ویلي وؤ چې اسم او فعل او حرف پيژندل پکار دي او امتياز د يو بل نه پکار دى، اوس د معرفت او امتياز لپاره علامت ذکر کوي، دلته علامات د اسم ذکر کوي، د اسم علامات مخکې شو په فعل او حرف باندې د وجې د دینه چې اسم اشرف دې، مسند او مسند اليه دواړه واقع کیږي وغیره وغيره. علامة وائي ما یوجد فيه ولا يوجد في غيره او دا معنى د خاصې هم ده.

لیکن علامات د اسم دوه قسمه دي

۱: لفظي ۲: معنوي

لفظي ۱ : الف لام. ۲: حرف جر. ۳: تنوين ٤: مصغر. ٥: منسوب. ٦: مثنى. ۷: مجموع ۸: تائي متحرکه

معنوي خاصې ۱ : مسند اليه. ۲: مضاف ۳: موصوف

قاعده: دا خاصې غير شاملې دي په هر فرد د افرادو د اسم کې لازمه نه ده چې دا علامت وي، په بعضو کې به موجود يږي. الف لام علامه د اسم ده. ځکه دوي واضع وضع کړيدي لپاره د معنى مستقلې مطابقي. او دا معنى اسم کې راځي ځکه اسم مستقل دې او فعل مستقل دې باعتبار معنى تضمني نه مطابقي. او حرف غير مستقل دې

اقسام د الف لام په اخير د دې کتاب کې په طريقې د نقشې سره ذکر دى.

حرف تعريف:

۱: د سيبويه په نزد باندې (لام) دى نه همزه.

۲: د فراء په نزد باندې (أ) همزه ده.

۲: امام خلیل وائي: همزه اولام دواړه دي دلته مذهب دخلیل غوره شوې دې مثال لکه (الحمد شو)

حرف جر: حرف جر خاصه د اسم ده ځکه جر راښکلو ته وائي اوحرف جر هم راکاړي معنی د فعل او شبه فعل مدخول خپل ته اومدخول نه دی مگر اسم دې کې فعل شي نو راښکل د حدث به شي حدث ته اوکه مدخول حرف شي نو راښکل د مستقل به شي غیر مستقل ته اودا دواړه باطل دي د فعل مثال: مَرَرْتُ بِزَیدٍ. مثال د شبه فعل: أنه مَارٌّ بِزَیدٍ.

حروف جاره (۱۷) اولس دي، تفصیل به ئې په بیان د حروف عامله ووکړې راشي. ان شاء الله تعالی.

۳: یا تنوین درآخرش باشد چون زیدٌ:

ترجمه: یا به تنوین په آخر د دې پورې پیوست شوی وی لکه زیدٌ.

تشریح: تنوین په لغت کې مُنَون کرده شده ته وائي. او په اصطلاح کې نون ساکنة تتبع حرکة آخر الکلمة لالتاکید الفعل ته وائي.

تنوین علامه د اسم ده ځکه داچې پیوست شي په چا پورې هغه ځائي اعراباتو ثلاثه وو لره ورکوی او دا معنی نه راځي بغیر د اسم نه تنوین په پنځه قسمه دی شعر:

تنوین پنج قسم شد ای یار من بگیر اول تمکن است عوض ثالث تنکیر
دیگر مقابله است وترنم برادرم این پانج یاد کن کې شوې شاه بې نظیر

۱: **تنوین تمکن**: دیته وائي چې ځائې اعرابات ثلاثو لره ورکوي لکه (زید) جَاءَ نِي زَیدٌ. رَأَیتُ زَیدًا. مَرَرْتُ بِزَیدٍ. الخ.

۲: **تنوین عوضي**: دیته وائي چې اخیر د مضاف کې راغلې وی عوض د مضاف الیه نه لکه یومَئِذٍ.

۳: **تنوین تنکیر**: فرق د معرفې اونکرې راولي. لکه صَهٍ مَهٍ. معنی با تنوین أُسْکُتْ سُکُوتًا مَّا فِي وَقْتٍ مَّا. اوبدون التنوین معرفه ده. أُسْکُتْ سکوتَ الآنَ.

٤: **تنوین مقابله**: دیتہ وائي چې اخیر د جمع مؤنث سالم کې راغلې وي په مقابله د نون د جمع مذکر سالم کې. مُسْلِمَاتٌ بمقابله نون مسلمون دا څلور قسمه تنوین خاصه د اسم ده ځکه د دوی معاني په اسم کې راځي نو تنوین به هم اسم کې راځي.

۵: **تنوین ترنم**: دیته وائي چې اخیر د اشعارو کې لپاره د تحسین د صوت راځي، په اسم فعل حرف درې واړو کې راځي. اخیر د اسم مثال: عِتَابَنْ. د فعل لکه اَصَابَنْ. د حرف مثال لکه: قَدِ. دا

تنوین ترنم خاصه د اسم نه ده ځکه اخیر د اشعار و یواځې اسم نه وي

فائده:

۱: امام فراء وائي: تنوین د اسماء او افعال د فرق لپاره دی.

۲: امام سیبویه وائي: د منصرف او غیر منصرف د فرق لپاره وضع دی.

۳: کوفیین وائي: د مفرد او مضاف د فرق لپاره دی.

۴: یا مسند الیه باشد چون زَیدٌ قَائمٌ.

ترجمه: یا به مسند الیه وی لکه زید قائم.

تشریح: فعل واضع وضع کړیدی مسند ابداً. نوکه مسند الیه شي خلاف به راشي د وضع د واضع نه او حرف غیر مستقل دي مسند او مسند الیه نه واقع کیږي (قد مضیٰ تفصیله) مثال زیدٌ عَالمٌ. زید مسند الیه، عالم مسند.

۵: یا مضاف باشد چون غُلَامُ زَیدٍ.

یا به مضاف وی لکه غلام زید.

فوائد: د اضافت فوائد چې تعریف، تخصیص او تخفیف دي د علاماتو د اسم نه وو نو دا اضافت هم د علامات د اسم نه شو دلته مضاف په علاماتو د اسم کې شمار شو اشاره ده اختلاف ته بعض مضاف فقط د علاماتو د اسم نه وائي او بعض ورسره مضاف الیه هم وائي او ﴿يَوْمَ يَنفَعُ الصَّادِقِينَ﴾ کې فعل مضاف الیه واقع شوي دي نو دا مؤول دی په تاویل د اسم سره چې نَفع دی دلته اَن مقدر دی.

سوال: اَن شپږو مواضعو کې مقدر کیږي دلته خرنګه مقدر شو؟

جواب: هغه شپږ مواضع مشهور دي او دا غیر مشهور دی.

تفصیل سیأتي ان شاء الله تعالی.

۶: یا مصغر باشد چون قریشي.

یا به تصغیروي لکه قریشي.

تشریح: مصغر مقابل د مکبر دې او هغه علامه د اسم ده نو مصغر هم علامه د اسم شوه.

۱: تصغیر برائې قلت ضُوَیرِبٌ

۲: تصغیر برائې حقارت رُجَیلٌ

۳: تصغیر برائې محبت یا بُنَيَّ

٤: تصغير برائې عظمت قُرَيشٌ.
(د تصغير علامه داده چې حرف اول مضموم، ثاني مفتوح او ثالث به یاء ساکنه) وی

۷: يامنسوب باشد چون بَغدَادِيٌ.

یا به منسوب وی لکه بغدادي

تشریح: منسوب صيغه د اسم مفعول ده نسبت کړی شوی ته وائي او دا علامه د اسم ده ځکه منسوب دلالت کوی په منسوب الی شيء باندې او دا معنی اسم کې راځي لکه زَيدٌ بَغدَادِيٌ أي زَيدٌ مَنسُوبٌ إِلى بَغدَاد.

۸: يامثنى باشدچون رَجُلَانِ يا مجموع باشد چون رِجَالٌ.

ترجمه: یا به مثني وي لکه رجلان یا به جمع وي لکه رِجَالٌ

تشریح: تثنیه او جمع د علاماتو د اسم نه ده ځکه دوي دلالت کوي په تعدد او تکثر باندې او دا معنی اسم کې راځي.

سوال: ضربا ضَرَبُوا فعل تثنیه او جمع راځي ؟

جواب: تثنيت او جمعيت د فعل په اعتبار د فاعل سره دي فعل مفرد دې ابداً.

۹: يا موصوف باشد چون رَجُلٌ عَالِمٌ.

یا به موصوف وي لکه رَجُلٌ عَالِمٌ.

تشریح: موصوف دلالت کوي په قلت باندې او دا معنی په اسم کې راځي، صفت فعل هم واقع کیږي او اسم هم هغه خاصه او علامه د اسم نه ده لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَرَبَ. ضَرَبَ فعل دې صفت د رَجُلٌ دی

۱۰: یاتائې متحرکه بدو پیوندد چون ضاربة.

ترجمه: یا به تاء متحرکه په آخر د دې پورې پیوسته شوی وی لکه ضاربة.

تشریح: تاء متحرکه د علاماتو د اسم نه ده ځکه دا په مقابله د تائې ساکنه کې ده او هغه علامه د فعل ده نو دا علامه د اسم شوه ځکه اسم خفیف دی او تاء متحرکه ثقیله ده او فعل ثقیل دی او تاء ساکنه خفیفه ده، ثقیل ئې خفیف ته او خفیف ئې ثقیل ته ورکړو لپاره د تعادل یا چې ثقل در ثقل لازم نشي.

مثال: اسم ضَارِبَةٌ نَاصِرَةٌ مثال فعل ضَرَبَتْ تا پکې ساکنه ده.


تقسيم تاء: تاء په دوه قسمه ده.

۱: مطوله (ت) چې په حالت د وقف کې په (ه) نه بدليږي دا فعل کې هم راځي لکه ضَرَبَتْ اسم کې هم لکه مسلمات.

۲: بله تائي مدوره (غونډه) (ة) چې په حالت د وقف کې په هاء بدليږي دا قسم تاء په لس قسمه ده.

مصدر	تأنيث	وحدت	مرة	مبالغه	نقل	عوض	مذکر	حالت	تازائده
فاعلية ومفعولية	اِمْرَاة	تَمِرَة	دَفْعَة	عَلَّامَة	كَافِية	عِدَة	ثَلَاثَة رِجَالٍ	جَلْسَة	زَنَادِقَة در زِنْدِيقٌ

نقشه علامات الاسم



علامات الاسم في الشعر:

لام وتنوين حرف جر مسنداليه دان پس مصغر تثنيه مجموع ومضاف دان

پس تائ متحرکه موصوف اين علامات اسم دان نظم کردم آنچه ديدم در کتب نحويان

سوالات تمرین (علامات الاسم)

كِتَابُ الله	مَدَنِي	مُسْلِمَانِ
اَلْجَنَّة	يَا بُنَيِ هَلْ صَلَّيْت	اَلشَّهرُ الحَرَامُ
اَلْمَالُ ظِلٌّ زَائِلٌ	قَارِيَة	بَاكِسْتَانِي
سَوَاتِي	اَلعِلْمُ عِلْمَان	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
إِنَّ الْمُسْلِمِينَ	وَالْمُسْلِمَاتِ	وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ

علامات الفعل

۱ : وعلامات فعل آنست کې قد دراولش باشد چون قَدْ ضَرَبَ

ترجمه: او علامات د فعل هغه دی چې په اول کې ئي قد راغلي وی لکه قَدْ ضَرَبَ.

تشریح: هر کله چې مصنف فارغ شو د علاماتو د اسم نه نو شروع ئې وکړه په علامات د فعل کې. د علاماتو د فعل نه قد دی. خکه قد چې په ماضي داخل شي نو تحقیق مع التقریب پیداکوي او کله چې په مضارع باندې داخل شي د تحقیق مع التقلیل معنی پیداکوي او دا معاني نه راخي مګر په فعل کې نو قد به هم علامه د فعل وی. او کله کله قد د تاکید لپاره هم راخي. مثال: قَدْ ضَرَبَ فِي جَوَابِ مَنْ قَالَ هَلْ قَامَ زَيْدٌ اود تقلیل مثال: إِنَّ الْكَذُوبَ قَدْ يَصْدُقُ اود تحقیق مثال: ﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ﴾.

۲ : یاسین باشد چون سَيَضْرِبُ یاسوف باشد چون سَوْفَ يَضْرِبُ.

ترجمه: یا به سین دده په اول کې راغلي وي لکه سَيَضْرِبُ اویا سَوْفَ لکه سَوْفَ يَضْرِبُ.

تشریح: دا هم د علاماتو د فعل نه دی خکه سین د استقبال قریب لپاره دی او سوف د استقبال بعیده لپاره دی او استقبال قریبه او بعیده بغیر د فعل نه نه راخي. بیا فرق د سین او سوف دا دی ، چې سوف نکره لپاره ده نو دا یوقسم ده او سین شپږ قسمه دی په دې کې سین کسکسه په اخیر د ضمیر د مؤنث مخاطب پورې پیوسته کیږي لپاره د دې چې التباس د مذکر مخاطب د ضمیر چې کَ دی د مؤنث مخاطب د ضمیر سره چې كِ دی په

حالت د وقف کې رانه شي مثلاً مررتُ بِکَ دی چې مخاطب د ضمیر ستا مذکر وی هر کله چې وقف پرې او کړې شي نو مررتُ بِک اوس التباس راغې بین المذکر والمؤنث نو سین که اخیر کې پیوسته شوې وؤ نو مؤنث مخاطب به وي والا فلا لکه مررتُ بِکِس او مررتُ بِکَ باقي پنځه قسمه سین خاصه د فعل ده نقشه کې مذکور دي فیمابعد.

۲ : یا حرف جزم بود لَم یضرِب.

یا به حرف جزم وي لکه لَمْ یضرِبْ.

تشریح : حرف جزم هم علامه د فعل ده څکه حروف جازمه بعضي د تعلیق لپاره وي لکه اِن بعضي د انتقال لپاره وی چې مضارع ماضي ته نقل کوي لکه لم، لمّا بعضي د طلب او ترک لپاره وی لکه لام امر لائي ناهیه دا ټولې معاني په فعل کې راځي نو حرف جزم به هم په فعل باندی داخلیږی.

حروف جازمه پنځه دي : اِنْ، لَمْ، لَمّا، لام امر، لائي نهي، والتفصیل في موضعه ومبحثه.

٤ : یا ضمیر مرفوع متصل بدو پیوند چون ضَرَبتَ ضَرَبتِ ضَرَبتُ.

ترجمه : یا به ضمیر مرفوع پدې پورې پیوسته وی لکه ضربتَ، ضربتِ، ضربتُ.

تشریح : څکه ضمیر مرفوع متصل نه وی مگر فاعل وی او فاعل د فعل لپاره وی نو دا به هم خاصه او علامه د فعل وی پاتې شو ضمیر منصوب او مجرور نو د دوی اتصال د حرف سره هم کیږي اِنَّنِي لِي او اسم سره هم اتصال د ضمیر مجرور کیږي لکه غُلَامِي.

د ضمائرو تفصیل په بحث د ضمیر کې تفصیلاً راځي ان شاء الله تعالی [1]

۵ : یا تاء ساکنه چون ضَرَبَت.

یا به تاء ساکنه وي لکه ضَرَبَتْ.

تشریح : دا خاصه د فعل ده څکه چې تائې ساکنه دلالت کوې په تانیث د فاعل باندې او فاعل نه وي مگر فعل لره وي او تائې ساکنه څنگه دلالت په تانیث د فاعل کوي مثلاً تا وویل ضَرَبَتْ نو د دې نه به وروستو فاعل مؤنث وی لازماً چې حقیقي مؤنث وی او بلا فصل وی. لکه ضَرَبَتْ هِنْدٌ ، ضَرَبت فَاطِمَة، او که مؤنث غیر حقیقي وو. لکه شمس شو نو هلته بیا تانیث د فعل لازم نه دی بلکې جائز دی لکه طَلَعَتِ الشَّمْسُ او طَلَعَ الشَّمْسُ دواړه ویلی شی بالتذکیر والتانیث. او که فاعل مؤنث حقیقي وو لکن سره د فصل نه وو. نو هلته هم دواړه جائز دي تذکیر الفعل وتانیثه.

لکه ضَرَبَتِ الْيَوْمَ هندٌ او ضَرَبَ الْيَوْمَ هندٌ د دي تفصيل به په بحث د تانيث کې راځي ان شاء الله

۶: یاامر باشد چون اضرب. ۷: یانهي باشد چون لاتضرب.

ترجمه: یا به امروي لکه اِضْرِبْ او یا به نهي وي لکه لَاتَضْرِبْ

تشریح: امر خاصه د فعل ده مطلقاً، که معلوم وی او که مجهول، حاضر وی او که غائب دارنګه نهي مطلقاً خاصه د فعل ده.

دلیل: امر ځکه خاصه دفعل ده چې امر طلب د فعل ته وائي اونهي طلب د ترک د فعل ته وائي او دا معاني نه راځي مګر په فعل کې نو دوي به هم په فعل کې راځي.

ماتن په امر حاضر اکتفاء کړیده اونهي کې په معلوم باندې د وجې د اختصار نه او د آسان والي دطالب العلم نه ځکه داکتاب د مبتدیانو لپاره دی. دا مذکوره علامات اوخواص د فعل شو او په دې شعر کې هم شاعر ذکر کړیدي


سین، سوف، جازمه قدتائې، ساکن، امر دان اتصال تائ، فعلت نهي، این علامت فعل دان

قاعده: علامات دفعل ماضي دوه دي. ۱: تائې ساکنه ۲: قد.

علامات د فعل مضارع درې دي ۱: قد. ۲: لم جازمه ۳: یامخاطبه.

علامات د فعل امر دوه دي ۱: په طلب دلالت کوي ۲: یا مخاطبه

(شرح شذور الذهب، او ضح المسالک)



سوالات علامات الفعل (التمرين)

اِشْرَبُوْا	لَسَوْفَ يُعْطِيكَ	هَلْ صَلَّيْتَ
قَدْ اَفْلَحَ	لَمْ تَفْعَلُوْا	لَنْ تَرْضٰي
قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ	اِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقاً	سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ

اجراء على سبيل الاختصار

قُلْ: امر حاضر مبني علي السكون والفاعل ضمير مستتر فيه (انت)

جَاءَ: فعل ماضي مبني على الفتح

اَلْحَقُّ: فاعل الفعل مرفوع بالضمة الظاهرة

وَزَهَقَ: الواو حرف عطف (زهق) فعل ماضي مبني علي الفتح

اَلْبَاطِلُ: فاعل الفعل مرفوع بالضمة

اِنَّ: حرف مشبه بالفعل. اَلْبَاطِلَ: اسم اِنَّ منصوب بالفتحة الظاهرة

كَانَ: فعل ماضي ناقص مبني علي الفتح واسمه ضمير مستتر (هو)

زَهُوْقاً: خبر كان منصوب بالفتحة الظاهرة

وجملة: (كان زهوقا) خبر اِنَّ

علامات الحرف

وعلامات حرف آنست كې هيچ علامتي ازعلامات اسم وفعل درونبود.

ترجمه: او علامات د حرف هغه دي چې هيڅ يوه علامه دعلاماتو د اسم او فعل نه په ده كې نه وي.

تشريح: د حرف علامه هغه ده چې نه پكې يوه علامه دعلاماتو د اسم نه وي او نه پكې يوه علامه د علاماتو د فعل نه وي لكه هَلْ شو. قَدْ شو، اِنَّ شو، باء د بسم الله شوه، عن شو وغيره وغيره.

سوال: حرف نه معنى مستقله لري او نه دلالت كوي په خپله معنى باندې او نه قبلوي علامه د اسم او نه د فعل نو دا خو مهمل شو او د مهملاتو نه مصنفين بحث نه كوي؟

جواب: وللحرف في كلام العرب فوائد كالربط بين الاسمين والاسم والفعل وغيره وغيره

(هداية النحو) زيدٌ في الدار (اسمين) ضربت بالخشبة (اسم وفعل)

شعر: از علامات اسم وفعل هیچ چیز
درحرف هر گزنباشد اي عزيز

فصل

تعريف د معرب او مبني

په دي فصل کې غرض د مصنف رحمه الله دري خبري دي. ۱: تعريف د معرب او مبني. ۲: حکم د معرب او مبني. ۳: تعين د عامل او د معمول او د اعراب او د محل د اعراب.

بدانکه جمله کلمات عرب بر دوقسم است معرب ومبني، معرب آنست کې آخرش باختلاف عوامل مختلف شود چون زيدٌ درجَاءَ نِي زَيدٌ وَرَايتُ زَيداً وَمَرَرتُ بِزَيدٍ جَاءَ عامل ست وزيد معرب ست وضمه اعراب ست ودال محل اعراب.

ترجمه: پوهه شه چې جمله کلمات د عربو په دوه قسمه دي، معرب او مبني، معرب هغه دی چې آخر د ده مختلف کيږي په سبب د اختلاف د عواملو سره الخ

تشريح: د دې پنځم فصل نه تر شپږم فصل پورې بيان د تقسيم دکلمې کوي ۱: معرب ۲: مبني ته او تعريف د هر واحد ذکر کوي او مثال د هر واحد ذکر کوي.

سوال: تقسيم دکلمې مخکې ابتداء دکتاب کې اقسام ثلاثه ووته شوي دي چې اسم وفعل وحرف دي نو بيا تقسيم مستدرک دی؟.

جواب: تقسيمات متعدده هغه وخت کې منع وي چې په جهت واحد سره وي او چې جهات مختلفو سره وي نو هغه منع نه دي مخکې تقسيم په يو جهت سره وو دلته په بل جهت سره دي چې هغه اعراب او بناء ده

پس زده کړه د اخيره ! چې کلمات په اعتبار د اعراب او بناء سره په دوه قسمه دي. ۱: معرب. ۲: مبني

وجه دحصر: په دې دوه قسمه کې دا ده چې داکلمه به خالي نه وي يا به اخير د دې مختلف کيږي په اختلاف دجنس عوامل سره يا به نه مختلف کيږي اخير ددې. که اول وو نو معرب او کې ثاني وؤ نو مبني دی

۱: معرب ئې مقدم کړو په مبني باندې څکه معرب کې اظهار دما في الضمير علي وجه الاکمل دی څکه د هر حالت لپاره جداجدا اعراب وضع دی او مبني کې اظهار دما في الضمير علي

وجه الانقص دی څکه مبني درې حالات کې اعراب يوشان راځي جَاءَ نِي هٰؤُلَاءِ رَأَيتُ هٰؤُلَاءِ مَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ. او اکمل مقدم وي په انقص باندې

۲: یا معرب په منزله د مفرد دی څکه چې معرب دیته وائي: چې مرکب وي سره د غیرنه اومشابه د مبني اصل سره نه وي او یا په ترکیب کې واقع وي نوشو مبني په منزله د مرکب. اومفرد مخکې وي په مرکب باندې. نو معرب څکه مخکې شو په مبني باندې

وجه تسمية المعرب بالمعرب

معرب: صیغه د اسم ظرف ده د باب افعال ثلاثي مزید فیه نه اَعْرَبَ يُعْرِبُ إِعْرَاباً فهو مُعْرِبٌ الخ صیغه د اسم مفعول اوظرف کې اشتراک لفظي دی معنی جدا جدا ده.اوکه معرب صیغه د ظرف شي معنی ځائ د ایضاح او ځائ د وضاحت. اومعرب هم ځائ د وضاحت د معانیو ثلاثه رو دی چې فاعلیت مفعولیت اضافت دي

یا معنی د معرب: ځائي دفساد چې مأخوذ شي د عَرِبَتْ مِعْدَتُه نه لکن همزه د باب افعال یکې دسلب ازالې د مأخذ ده.معنی دا شوه: ځائي د ازالې د فساد.اودامعرب هم ځائ د ازالې فساد دی چې هغه التباس دی. یعني التباس یکې نه راځي څکه په دی کې علامه د فاعل رفع راځي اوعلامه دمفعول نصب راځي اوعلامه د مضاف الیه جر راځي اوهره یوه معنی معلومیږي په خپلې علامې سره ، فاعلیت معلومیږي د رفع نه ، مفعولیت معلومیږي د نصب نه او اضافت معلومیږي د جر نه. نو د فساد (التباس) ازاله وشوه.

او اصطلاح کې تعریف د معرب: فالمعرب المرکب الذي لم یشبه مبني الاصل. (کافیه)

سوال: تاسو تعریف بل شانته وکړو او کتاب کې وائي چې اخیر د معرب مختلف کیږي په عوامل سره ؟

جواب: اصل کې تعریف هم دغه دی کوم چې ما اوکړواومصنف د آسانئ د طلباؤ لپاره تعریف حقیقي نه دی کړی بلکې تعریف بالاثر ئې کړې دې.

ومبني آنست کې آخرش باختلاف عوامل مختلف نشود چون هٰؤُلَاءِ کې در حالت رفع ونصب وجر یکسان ست.

ترجمه: مبني هغه ده چې آخر دده نه مختلف کیږي په سبب د اختلاف د عواملو سره لکه هٰؤُلَاءِ.

تشریح: مبني: صیغه د اسم مفعول ده، اصل کې مَبْنُوْيٌ وو په شان د مَرْمُوْيٌ نو د مرموي اعلال په کې اوکړې شونو مَبْنِيٌ شو د باب بَنٰى يَبْنِيْ نه په معنی د برقرار پاتي کیدلو او اصطلاح کې

مبني دوه قسمه ده، اول مطلق مبني، دويم اسم مبني.

تعريف د مطلق مبني: مالايكون حركة آخره وسكون آخره لاجل العامل.

او اسم مبني د يته وائي.

۱: هو الاسم المركب الذي شابه مبني الاصل.

۲: او ماناسب مبني الاصل.

۳: او وقع غير مركب.

دلته مراد د مصنف په مبني سره مطلق مبني ده، دلته ئې هم تعريف حقيقي نه دی کړی بلکه تعريف بالاثر شوی دی والتفصيل في المطولات فلايليق بهذا المختصر.

فصل

اقسام د مبني

په دې فصل کې غرض د مصنف يوه خبره بيانوي چې بيان د اقسامو د مبني

بدانکه جمله حروف مبني است وازافعال فعل ماضي وامرحاضرمعروف وفعل مضارع بانونهائي جمع مؤنث وبانونهاي تاکيدنيز مبني ست.

ترجمه: پوهه شه چې ټول حروف مبني دي او د افعالونه فعل ماضي او امرحاضرمعلوم او فعل مضارع سره د نون د جمع مؤنث او سره د نون د تاکيد نه هم مبني دی.

تشريح غرض د دې فصل نه تربدان پورې اقسام د مبني الاصل او اقسام د معرب ذکر کوي.

حروف: ټول مبني دي، عامله وي او که غير عامله وي دوجې د فوات دعلت د اعراب نه په دې کې چې فاعليت مفعوليت او اضافت دی او دغه علت د بناء د ماضي او امر حاضر هم دی.

افعالو کې امر حاضرمبني دی او ماضي مبني ده .اومضارع بانون ثقيله وخفيفه اونون جمع المؤنث مبني دي.

بدانکه اسم غيرمتمکن مبني است واما اسم متمکن معربست بشرط آنکې درترکيب واقع شود وفعل مضارع معربست بشرط آنکې ازنونهاي جمع مؤنث ونون تاکيد خالي باشد پس درکلام عرب بيش ازين دوقسم معرب نيست باقي همه مبني است واسم متمکن اسميست کې بامبني اصل مشابهت دارد.

ترجمه: اسم غيرمتمکن مبني دی او اسم متمکن معرب دی، پدې شرط سره چې په ترکيب کې واقع شوي وي او فعل مضارع معربه ده پدې شرط سره چې خالي وی د نون د جمع مؤنث او د

نون د تاکید نه پس په کلام د عربو کې علاوه دد ې دوو قسمونو نه معرب نشته باقي ټول مبني دي او اسم متمکن هغه اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت لري.

تشریح: اسماؤ کې اسم متمکن معرب دی بعد الترکیب اتفاقاً او قبل الترکیب بمذهبٍ او اسم غیر متمکن مبني دی اتفاقاً.

حاصل: اقسام د معرب دوه دي.

۱: اسم متمکن چې ترکیب کې واقع شي.مثال: جَاءَ نِي زَيْدٌ رَأَيتُ زَيداً مَرَرْتُ بِزَيدٍ.

۲: فعل مضارع چې خالي وي د نون تاکید ثقیله اوخفیفه او نون جمع مؤنث نه غائب وي اوکه مخاطبه مثال: یضْرِبُ الخ.

اقسام د مبني شپږ دي

۱: تمام حروف.

۲: فعل ماضي معلوماً ومجهولاً.

۳: امر حاضر دی دري واړوته مبني الاصل وائي.

٤: فعل مضارع بانون تاکید ثقیله وخفیفه ونون جمع المؤنث

۵: اسم غیر متمکن

٦: اسم متمکن قبل الترکیب عند البعض

تعریف مبني الاصل: مالیس فیه علة الاعراب وموجب الاعراب.

اقسام مبني الاصل

۱: حروف. ۲: فعل ماضي مطلقاً. ۳: امرحاضر


حکم مبني الاصل: مالایقبل الاعرابَ اصلًا لا لفظاً ولاتقدیراً ولامحلاً.

مبني اصل دیته وائي چې بناء د ده اصل وضعي لازمي وي په یووقت د اوقاتو کې نه معرب کیږي

مبني غیر اصل دیته وائي چې د مبني اصل سره مشابهت لري لکه هٰؤُلآءِ مبني دی. د حرف سره مشابهت په احتیاج کې لري حرف محتاج دې ضم د ضمیمې ته.اواسم اشاره محتاج دی مشارالیه ته حرف مبني وو.نو هٰؤُلآءِ هم مبني شو.یامبني غیر اصل دیته وائي چې ترکیب کې نه وي واقع شوي لکه زید .عمرو بکر اصوات.حروف مقطعات

مبني غیر اصل بیا په دوه قسمه دی. ۱: مبني غیر اصل لازمي. ۲: مبني غیر اصل عارضي.
مبني غیر اصل لازمي لس قسم دی او دیته اسم غیر متمکن هم وائي:
۱: مضمرات. ۲: اشارات. ۳: موصولات. ۴: اسماء افعال. ۵: بعضي ظروف. ۶: اسماء اصوات. ۷: اسماء کنایات. ۸: اسماء شرط. ۹: مرکب بنائ. ۱۰: اسماء استفهام.
مبني غیر اصل عارضي دیته وائي چې مرکب واقع نه وي یا مرکب واقع وي لیکن د عامل سره به مرکب نه وي.
د مبني غیر اصل عارضي اقسام پنځه دي:
۱: اسماء معدوده مفرده.
۲: اسماء مضافه.
۳: اسم لالنفي الجنس کله چې نکره غیر مضاف وي.
۴: منادی معرفه (یا زیدُ).
۵: منادی نکره مقصوده یا رَجُلُ یا فعل مضارع سره د نون تاکید او نون مؤنث نه.
سوال: مخکې اوویلي شو چې اسماء معدوده قبل الترکیب مبني دی بنا براختلاف او بعد الترکیب اتفاقاً معرب دي په دې مسئله کې لږ وضاحت پکار دی لپاره د فهم د مبتدیانو مختصراً ؟ **جواب**: اسماء معدوده لکه زید، عمرو، بکر وغیره په دې کې د نحاتو اختلاف دی چې کله دوي مرکب شوې نه وي د عامل سره. ۱: علامه زمخشري وائي دا اسماء معدوده قبل الترکیب معرب دي ځکه دوي کې صلاحیت د اعراب بالقوه شته دی، اودا د ده اصل اوقاعده ده چې کوم اسماء کې قبل الترکیب صلاحیت د اعراب بالقوه وي نو هغه به معرب وي والا فلا.
۲: علامه ابن حاجب ورته مبني وائي قبل الترکیب مع العامل ځکه هغه صلاحیت د اعراب بالفعل وائي اوهغه دوي کې قبل الترکیب مع العامل نشته دی. لهذا مبني دي او بعد الترکیب مع العامل صلاحیت د اعراب بالفعل شته دی نو معرب دي
امام سیبویه او امام خلیل د دې لپاره یو قاعده وضع کړیده هغوي وائي.
کُل اسم رأیته معرباً بعد الترکیب فهو علي اصله وکلُ اسم رأیته مبنیاً فهو علي خلاف اصله وکُل فعل رأیته مبنیاً فهو علي اصله وکل فعل رأیته معرباً فهو علي خلاف اصله
وجمیع الحروف مبني قائمٌ علي اصله (علل النحو)
سوال: د مضارع جهتینو باندې پوهه نه شومه، کله معرب وي او کله مبني یعني کله معرب کې ذکر شي او کله مبني کې.

جواب: هر كله چې د مضارع اخير کې نون تاكيد ثقيله او خفيفه او يا نون جمع مؤنث مخاطبه يا نون جمع مؤنث غائبه (تضرِبْنَ يضرِبْنَ) پيوسته شو نو مضارع به مبني وي ځكه اخير د مضارع يضربَنّ او تضربُنّ. او يضربنّ کې چې لام كلمه د مضارع ده نون چې كله ورپورې متصل شو.لام كلمه وسط کې راغله او اجراء د اعراب د روسط كلمه جائز نيست نو مبني شو مضارع، او كه ذ نون نه مجرده وي نو بيا مضارع معرب ده.ځكه اخير باندې اجراء د اعراب كيدى شي او مختلف كيږي په اختلاف د عواملو سره او دا حكم د معرب دى فعل وي او كه اسم وى (فتامل)



د اسماء معدوده نه تر آخره پورې ۵: اقسام د مبني عارضي دي

سوالات فصل خامس تمرین

مذکوره جملو کې معرب او مبني او اقسام معرب او اقسام مبني اوښايئ ؟

لَمْ يَلِدْ	لَاتَرْفَعُوْا اَصْوَاتَكُمْ	خَتَمَ اللهُ
يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ	أُولٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُوْنَ	وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ
اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ	فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِنْهَا وَطَرًا	قُلْ اٰمَنْتُ بِاللهِ ثُمَّ اسْتَقِمْ
اِنْ يَسْرِقْ فَقَدْ سَرَقَ اَخٌ لَهُ مِنْ قَبْلُ		

اجراء د فصل خامس في الآية

د اثبات نښه (+) د نفي نښه (-)

	معرب	مبني الاسم	معرب الاسم	معرب الفعل	اسم مبني	مبني الاصل	لازمي مبني	عارضي
إن	-	+	-	-	+	حرف دى	+	-
سَرق	+	-	-	+	-	-	-	-
فقد	-	+	-	-	-	حرف دى	+	-
سرق	-	+	-	-	-	ماضي	+	-
اَخٌ	+	-	-	-	-	-	-	-
له	-	+	-	-	-	-	-	-
(لام)			-	-	-	لام حرف	+	-
(ه)	-	+	-	-	ضمير	-	+	-
مِنْ	-	+	-	-	-	حرف	+	-
قبل	-	+	-	-	ظرف	-	-	-

اجراء ماتقدم من الدروس السابقة من اول الكتاب الى فصل خامس

خَتَمَ اللهُ: خَتَمَ لفظ مستعمل دى مفرد دى .فعل دى. مسند دى جمله فعليه ده علامه د فعل پکې دا ده چې مسند دى او کونه ماضيا .مبني دى عامل دى

په مبني کې: فعل مبني دى ، مبني اصل دى ، ماضي معلوم دى

لفظ د لله : لفظ مستعمل دى ، مفرد دى ، اسم دى ، جزء د جملې فعليه دى ، مسند اليه دى

علامه د اسم پکې مسنداليه .فاعل دی معرب دی .معمول دی د خَتَمَ لپاره ځکه فاعل دی معرب کې: اسم متمکن دی ، مرکب مع العامل دی اتفاقي معرب شو.

خَتَمَ عامل، لفظ د الله معمول .خَتَمَ فعل ماضي معلوم لفظ د الله فاعل اسم ظاهر، فعل بافاعل جمله فعليه خبريه.

داسم متمکن تعريف

واسم غير متمکن اسميست کې بامبني اصل مشابهت دارد. ومبني اصل سه چيزاست فعل ماضي وامر حاضر معروف وجمله حروف واسم متمکن اسميست کې بامبني اصل مشابه نباشد.

ترجمه: اسم غير متمکن هغه اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت لري. مبني اصل درې شيان دي فعل ماضي، امر حاضر معروف، جمله حروف او اسم متمکن هغه اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت نه لري

تشريح: اسم غير متمکن يو اسم دی چې د مبني اصل سره مشابهت لری ،چې ماضي، حروف، او امر حاضر دي .اصل په اسماؤ کې اعراب دی. او اصل په افعالو کې بناء ده.لکن اسم چې مبني کيږي نو هغه به د مبني اصل سره مشابهت لری .مثلاً هٰؤُلآءِ اسم مبني دی دده مشابهت دی د حرف سره په احتياج کې يا لکه ضمائر شو. دغه شان هيهاتَ مبني دی مشابه دی د ماضي سره چې بَعُدَ دی . نَزَالِ اسم مبني دی ځکه مشابه دي اِنْزِلْ سره چې امر دي يعني د اِنْزِلْ په معنی دی.

او فعل چې معرب کيږي او د خپل اصالت نه اُوځي. نو دده مشابهت به د اسم معرب سره وی لکه مضارع معرب ده ځکه د دې کامل مشابهت د اسم فاعل سره دی لفظاً او معنا جميعاً. اسم فاعل معرب وو ، نو مضارع هم معرب شوه د وجې د مشابهت د اسم فاعِل سره. تفصيل به خپل ځائ کې راځي. ان شاء الله تعالی.

اودا مشابهت د اسم متمکن د مبني اصل سره په يو څو وجوهو دی.

۱: **شبه وضعي**: اسم د حرف سره په وزن کې مشابه وي چې هغه دا دی چې اسم يو حرفيز يا دوه حرفيز وي په شان د حرف. لکه (ت) د ضربت اسم دی ، مشابه دی په وزن کې د (ب) سره چې حرف دی دواړه يک حرفيز دي. دارنګه (نه) د ضربْنه مشابه دی دقد او هل سره په وزن کې چې دواړه دوه حرفيز دي نو ضمائرو کې دا شبه وضعي ده ځکه ضمائر اکثر يک حرفيز يا دوه حرفيز دي، باقي ضمائر په دوی حمل دي طرداً للباب. يا ضمائر مشابه دي د حرف سره په

احتياج کې ښکه مبني دي. حرف محتاج دی ضم د ضميمی ته او ضمير محتاج دی مرجع ته
اوضمير متکلم او مخاطب په ضمير غائب حمل دی.(درايه)

۲: **شبه معنوي** : يو اسم په معنی کې متضمن وي حرف لره لکه اسماء شرطيه، اسماء استفهام،
حرف شرط او حرف استفهام لره متضمن دی نو دوی کې شبه معنوي ده.

۳: شبه استعمالي : شبه استعمالي ديته وائي چې اسم په عمل او استعمال کې د حرف سره
مشابه وي يعني عامل جوړ شوی وي او معمول نه وی لکه اسماء افعال عامل دي معمول نه
واقع کيږي په شان د حرف.

٤: **شبه افتقاري**: شبه افتقاري ديته وائي چې اسم د حرف په شان محتاج وي لکه اسماء موصوله
محتاج دي صلې ته، دارنګه (اذ) او(حيث) مضاف اليه ته محتاج دی لکه حرف چې ضم د
ضميمې ته محتاج دی.

٥: **شبه اهمالي**: شبه اهمالي ديته وائي چې اسم د حرف په شان مهمل وي يعني نه عامل وي او نه
معمول لکه بعض حروف دغه شان دي مثال لکه اصوات.

٦: **شبه جمودي**: شبه جمودي ديته وائي چې اسم د حرف په شان وي په جامد والي کې يعني تثنيه
او جمع نه وي په شان د حرف. مثال لکه قط. او عوض. دوي کې شبه جمودي ده.


۷: **شبه نيابتي**: شبه نيابتي ديته وائي چې يو اسم د مبني نائب وي مثلاً زيدٌ. زيد د اُدْعُوْكَ (كَ)
په ځائې واقع دی او دغه (كَ) مبني دی دوجې د مشابهت دده نه د(ک) د کذالک سره چې حرفي
دی هغه مبني وو. نو دې هم مبني شو.

۸: **شبه وقوعي**: شبه وقوعي ديته وائي چې يو اسم دمبني الاصل په ځائ واقع وي لکه نَزَالِ په
ځائ د اِنْزِلْ.

۹: **شبه اضافتي**: شبه اضافتي ديته وائي چې يو اسم مضاف وي مبني ته او هغه ورلره مضاف اليه
واقع شوې وي لکه (يوم) شو په يَوْمَئِذٍ کې اصل د دې يَوْمَ اِذْكَانَ كَذَا وو. جمله خو مبني وه نو يوم
د وجې د اضافت نه دغه جملې ته هم مبني شو.

اسم غير متمکن: مثلاً هٰؤلآء. هو. ذاكم. الخ.

بامبني اصل مشابهت دارد: ماضي، امر حاضر، حروف.



اصطلاحات مختلفه

١: معرب	١: مبني
٢: اسم متمكن	٢: اسم غير متمكن
٣: امكن	٣: غير امكن د غير امكن دويم نوم غير منصرف دی
٤: غير متقي. غيرمتقي ديته وائي چې د تنوين اوكسرې نه ځان نه ساتي ښكه ورته غير متقي وائي. جاء ني زيد رأيتُ زيداً مررت بزيد	٤: متقي. متقي ديته وائي چې دتنوين اوكسرې نه ځان ساتي ښكه ورته متقي وائي. جاء ني احمدُ، رأيتُ احمدَ، مررتُ باحمدَ
٥: منصرف	٥: غير منصرف

فصل

د اسم غير متمكن اقسام

بدانكه اسم غير متمكن برهشت قسم است.

ترجمه: پوهه شه چې اسم غير متمكن په اته قسمه دي.

تشريح: ١: مضمرات ٢: اسماء اشارات ٣: موصولات ٤: اسماء افعال ٥: اصوات ٦: ظروف ٧: كنايات ٨: مركب بنائي. دوي ته اشاره كړيده مصنف په دې قول خپل سره فصل بدانكه الخ.

اول مضمرات چون انا من مرد وزن.

انا دا مثال دضمیر مرفوع منفصل دی.
وضربتُ زدم من: دامثال دمرفوع متصل.
وایاي ،خاص مرا: دامثال دمنصوب منفصل دي
وَضَرَبَنِي : دا مثال د منصوب متصل دی . وَلِي مرا: دا مثال د ضمیر مجرور متصل دی او د مجرور منفصل مثال ئې ندی ذکر کړی ځکه چې ضمیر مجرور منفصل لره وجود نشته په کلام د عربو کې.
مصنف پدې خپل کلام سره تقسیم د ضمیر وکړه اقسام خمسه وو ته:

۱: مرفوع متصل: ضَرَبْتُ.

۲: مرفوع منفصل: أنَا.

۳: منصوب متصل: ضَرَبَنِي.

٤: منصوب منفصل: إياي.

٥: مجرور متصل: غُلَامِي.

واین هفتاد ضمیر است .

او دا اویا ضمائر دي

تشریح: پس زده کړه داخبره چې ضمائر (٦٠) شپیته دي او دال دي په (٩٠) معانیو باندې ځکه ضمیر پنځه قسمه دی. ۱: مرفوع متصل. ۲: مرفوع منفصل الخ.
اوهر واحد لره اتلس معاني دي په دی کې درې احتمالات دی (عقلی، صفوی ، صوری)
اتلس مرفوع متصل: شپږ د متکلم، شپږ د مخاطب او شپږ دغائب.
دارنګه مرفوع منفصل علي هذا القیاس. نو اتلس چې پنځو کې ضرب کړې نو حاصل الضرب لس اتیا (٩٠) راځي او هر چې دا قول چې (٦٠) ستون دي وضع د ضمائرو په اختصار ده نو لپاره دحصول داختصار اشتراک اوکړې شو په واحد متکلم مذکر اومؤنث کې، نو یو لفظ دال شو په واحد متکلم مذکر اومؤنث. او بل لفظ دال شو په تثنیه متکلم اوجمع متکلم مذکر اومؤنث نو څلور الفاظ متکلم کې کم شو.
دارنګه اشتراک کړې شویدی په تثنیه مذکر اومؤنث مخاطب کې نو دوه الفاظ په تثنیه کې کم شو نود اتلس نه چې شپږ لرې شي نو دولس پاتې شو پنځه وو لره چې دولس کې ضرب شي نو حاصل الضرب (٦٠) باقي (٩٠) لس اتیا ونه

او صاحب د نحو مير او يا (۷۰) ويلي دي څکه اشتراک د تثنيه ته چې مذکر او مؤنث لپاره دي، ندي کتلي نو او يا الفاظ ئي شمير کړيدي څکه وائي واين هفتاد ضمائر است:

تحقيق في لفظ الضمير و مرجعه

مضمرات مقدم شو په نورو باندې څکه دوی اصل دي په نسبت سره باقي قسمونو ته څکه اعرف دي د معارفو نه. دويم د دې وجې نه چې ضمائر ټول مبني دي او باقی کی اختلاف دی

مضمرات جمع د مُضْمَرَة ده، د إِضْمَار نه دی او إِضْمَار په لغت کې پټ ته وائي او ضمير هم اکثر پټ راځي نو څکه ورته ضمير وائي.

او اصطلاح کې ضمير هغه اسم دی چې وضعه شوي دی لپاره د ذات د متکلم يا ذات د مخاطب يا ذات د غائب داسې غائب چې مرجع به مخکې ذکر وي لفظاً يا معناً يا حکماً فرضاً.

(د مذکور تعريف نه معلوم شوه چه ضمير د غائب صرف مرجع غواړی او هغه درې قسمه دی لفظی معنوی حکمی)

مرجع لفظي: دوه قسمه ده: حقيقة لکه ضَرَبَ زَيْدٌ غُلَامَه. يا حکماً لکه ضَرَبَ غُلَامُه زَيْدًا ومعناً يا به د خاص کلام نه معلوميږي. يا به د سياق سباق د کلام نه معلوميږي.

خاص کلام نه: لکه اِعْدِلُوْا هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ضمير هو راجع دی عدل ته هغه خاص د اِعْدِلُوْا نه معلوميږي يا سياق د کلام نه: لکه "وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ" د (لابويه) ضمير راجع دی ميت ته او هغه د سياق د کلام نه معلوميږي چې ميت دی څکه په قرينه د بحث سره چې ميراث دی او ميراث د مړي مال ته وائي

حکما فرضا: مخکې مرجع نه لفظاً وي او نه معناً وي. بلکې مونږ به د خان نه فرض کړی وی، ددينه بعد به د دې تفسير شوې وي او مرجع د دې به فرضي وي

دا بيا دوه قسمه دي يعني تفسير د دې يا به په مفرد سره شوې وي لکه نِعْمَ رَجُلًا يا رُبَّهٗ رَجُلًا. دې قسم ته ضمير مبهم وائي او يا به تفسير په جملې سره شوې وي په مابعد کې. دا به خالي نه وي يا به په مذکر سره تفسير شوي وي يا به په مؤنث سره که مذکر سره تفسير شوې وؤ نو ضمير شان. لکه قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. او کې په مؤنث سره تفسير شوې وؤ نو ضمير قصه لکه: اِنَّهَا زَيْنَبُ قَائِمَةٌ او که دواړه مذکر او مؤنث په تفسير کې ذکر وؤ نو بيا به پکې عمده ګوري که عمده پکې مذکر وؤ لکه هُوَ ضَرَبَ زَيْدٌ هِنْدًا" نو ضمير شان او که عمده پکې مؤنث وؤ نو ضمير قصه: اِنَّهَا ضَرَبَتْ

هندٌ زيداً" دا تقسيم د ضمير وؤ په اعتبار د ذات او مرجع سره.

دويم تقسيم د ضمير په اعتبار د اتصال او انفصال سره

ضمير په دوه قسم دي ۱: متصل ۲: منفصل. متصل ديته وائي چې مستقل تلفظ پرې نه کيږي بلکې په تلفظ کې ماقبل ته محتاج وي او منفصل بعکسه دي.

مثال د اول: ضَرَبْتُ. مثال د ثاني: انا.

ضمير متصل په درې قسمه دي

۱: ضمير مرفوع متصل. ضَرَبْتُ ضَرَبْنا نه تر ضَرَبْنَ پورې

۲: ضمير منصوب متصل. ضَرَبَنِي ضَرَبَنا نه تر ضَرَبَهُنَّ.

۳: مجرور متصل لِي متصل با حرف. غُلَامِي: متصل با اسم.

تقسيم منفصل:

۱: مرفوع منفصل: اَنا نَحْنُ، هنّ ۲: منصوب منفصل: اِيايَ تا اِياهنّ

مجرور يک قسم است متصل.

مجرور يو قسم دی متصل.

ضمير مجرور متصل: لِي، غُلَامِي


ضمير باعتبار اعراب درې قسمه دی.

۱: مرفوع ۲: منصوب ۳: مجرور.

ضمير باعتبار ظهور وعدم ظهور: ۱: بارز. ۲: مستتر

ضمير بارز: ما له صورة ظاهرة في التركيب نطقاً وكتابة لکه ضَرَبْتُ.

ضمير مستتر: ما يکون خفيا غير ظاهر في النطق والکتابة لکه: اَنْتَ في اِضْرِبْ.


ضمیر باعتبار مدلول
۱: متکلم (انه:
۲: مخاطب (انت).
۳: غائب
(هومرجع)
۱: لفظي.
۲: معنوي
۳: حکمي
حقیقي.
ضرب زید غلامه
حکمي
ضرب غلامه زیدا.
د خاص کلام نه
د سیاق کلام نه
تفسیره بالجملة
بالمفرد
اِعۡدِلُوۡا ۚ هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰى.
وَلِاَبَوَيۡهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنۡهُمَا السُّدُسُ.
ضمیر ربه رجل
بالمذکر: ضمیر شان قل هو الله احد.
بالمؤنث ضمیر قصه: انها زینب قائمة

ضمیر باعتبار ظهور وعدم سره

بارز

ماضي: ضربا. ضربوا. (۱۲) صیغې

مضارع: يضربان يضربون ۷: صیغې

مستتر

فعل: ماضي، مضارع

اسم: اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، اسم تفضیل

جائز الاستتار

ماضي

واحد مذکر غائب ضَرَبَ (هوَ)

واحد مؤنث غائب ضَرَبَت (هي)

مضارع

واحد مذکر غائب يضرِبُ (هوَ)

واحده مؤنث غائبه تَضرِبُ (هي)

او تولې صیغې د صفت


واجب الاستتار

واحد مذکر مخاطب: تَضرِبُ (اَنْتَ)

واحد متکلم اَضرِبُ (اَنا)

متکلم مع الغیر نَضرِبُ (نَحْنُ)

ضمیر باعتبار اتصال وانفصال



أوګوره تفصيل د امثله ؤ د هر واحد د مرفوع، منصوب، مجرور متصل او منفصل نه

چهارده مرفوع متصل: ضَرَبْتُ . ضَرَبْنَا . ضَرَبْتَ . ضَرَبْتُمَا . ضَرَبْتُمْ . الخ

مرفوع به وي: مبتدا ياخبر يا فاعل به واقع کيږي. متصل به وي: غير مستقل بنفسه فالمتصل غير مستقل بنفسه (کافيه)

فائده ۱: صرفيان شروع د غائب صيغې نه کوي ځکه اصل په صيغو کې صيغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي ده ځکه دا خالي ده د زوائد نه دا په منزله د مجرد ده.

أو نورو صيغو کې زوائد دي لکه الف واو وغيره هغه په منزله د مزيد دي او مجرد مقدم وي په مزيد باندې

۲. اونحاة شروع کوي د صيغې د متکلم واحد نه، ځکه دوي بحث د معرفې اونکرې نه کوي اومتکلم په نسبت سره مخاطب او غائب ته اعرف دې او اعرف مقدم وي په غير اعرف باندې

۳: بعضي نحاة د مخاطب مذکر نه شروع کوي ځکه خير الامور اوسطها. متکلم اعرف دي اوغائب دربمه درجه کې دي اومخاطب متوسط دي. لکه ديته ابن حاجب کافيه کې أشاره کړيده په (لو لا انت لولاانتما) سره.

چهار ده مرفوع منفصل: أَنَا . نَحْنُ . أَنْتَ . أَنْتُمَا . أَنْتُمْ . الخ.

دا به مرفوع وي مبتدا يا خبر يا فاعل به واقع کيږي، منفصل به وي يعني مستقل بنفسه فالمنفصل مستقل بنفسه (کافيه)

چهارده منصوب متصل: ضَرَبَنِي . ضَرَبَنَا الخ

دا په دوه قسمه دي يو متصل په فعل پورې او بل متصل په حرف پورې

متصل بالفعل	متصل بالحرف
ضَرَبَنِي، ضَرَبَنَا،	إِنَّنِي ، إِنَّنَا متصل به وي مَرّ تفصيله

منصوب به وي معمول د عامل ناصبه به واقع وي

چهار ده منصوب منفصل: إِيَّايَ . إِيَّانَا الخ

منصوب به وي معمول د عامل ناصبه به واقع وي.

چهار ده مجرور متصل: چون لِي . لَه . لَکَ . غُلَامِي . غُلَامُه الخ.

معمول د عامل جاره به واقع شوى وى يا به د مضاف معمول وي

مثال متصل بالحرف لكه لِي

مثال متصل بالاسم لكه غُلامِي غُلامُه الخ

سوالات وتمرين (ضمائر)

﴿اللهم إياكَ نَعْبُدُ﴾ (نَحْنُ مستتر) ضمير منصوب منفصل	﴿اقْرَأْ كِتَابَكَ﴾ (انت درو مستتر است مرفوع) ضمير مجرور متصل با اسم
﴿لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ ضمير مجرور متصل باحرف جر	﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾ (ضمير شان)
﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ (ضمير منصوب متصل	﴿وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ﴾ ضمير مرفوع متصل درو مستتر است هي ضمير مجرور متصل بالاسم

﴿وَقَالَتِ اخْرُجْ عَلَيْهِنَّ﴾

هي: ضمير مرفوع متصل درومستتر است.

اخرج: انت ضمير درومستتر است.

عليهن: ضمير مجرور متصل باحرف جر

اجراء آيت : ﴿اقْرَأْ كِتَابَكَ﴾

اقرأ: فعل امر حاضر.ضمير درومستتر معبربه اَنْتَ فاعل اقرأ.

كتاب منصوب بالفتح لفظاً (ك) ضمير مجرورمحلاً مجرور متصل بالاسم بالكسره مضاف اليه. مضاف بامضاف اليه مفعول به د فعل اقرأ. فعل بافاعل ومفعول به جمله فعليه انشائيه

دوم اسماء اشارات: ذا. وذان. وذين وتا. وتي. وتِه. وَذِه. وَذِهي وَتِهي. وتانِ. وتَينِ. واُولاءِ يمد واُولىٰ بقصر:

تشريح: دويم قسم د اسم غير متمكن نه چي مشابه وي دمبني اصل سره اسماء اشارات دي دوي ته اسماء اشارات وائي ځکه په دوي سره اشارات کولې شي مشاراليه ته او په اصطلاح کې اسماء اشارات هغه اسماء دي چې وضع شوې وي لپاره دمشاراليه دتعيين په اشارة حسي سره. په دې قيد سره د اسماء اشاراتو نه الف لام ذهني اوضمير خارج شو ځکه دوي سره اشارت ذهني کيدې شي

اشاره حسي عامه ده حقيقي وي لکه هٰذا زيدٌ .اوکه حکمي وي لکه ذَالِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ .الله

مشارالیه دي حکمي، ځکه الله تعالی په یوه عضو د اعضاؤ د انسان نښي معلومیدي او اشاره ورته نښي کولې لکه دا معنی د اشارة حقيقي ده.

پس د اسماء اشاراتو الفاظ پنځه دي: ذا . ذان. تا. تان. أولاءِ بالمد والقصر دال دي په شپږو معانيو باندې ځکه جمع مشترکه ده بين المذکر والمؤنث، طريقه به دا وي چې مشاراليه به خالي نه وی یا به مذکر وي یا به مؤنث بیا هرواحد به خالي نه وي يا به مفرد يا به تثنيه يا به جمع وي، درې مذکر شو اودرې مؤنث مجموعه شپږ شو. لکن جمع مشترک بين المذکر والمؤنث ده نو پنځه الفاظ دال شو په شپږو معانيو.

مفرد مذکر: ذا	مفرد مؤنث: تا
تثنيه مذکر: ذان رفعاً	تثنيه مؤنث: تان رفعاً
مذکر: ذين، نصباً وجراً	تثنيه: تين، نصباً وجراً
(برائ مذکر ومؤنث)ء	اولاء مداً ، اولي قصراً (مشترک بين الجمع المذکر وبين الجمع المؤنث

سوال: اسماء اشارات مبني دي او تان تين، ذان ذين نصباً وجراً کې اختلاف راغلي دي او مبني خو هغه دي چې آخر ئې نه مختلف کیږي؟

جواب: مبني کې اختلاف د عامل د وجې نه راځي بلکې د وجې د وضع د واضع نه راځي چې په صورت د معرب کې ئې وضع کړي لکه دلته.

سوال: دا په اسماء اشارات کې معرب دي دلته ئې ولې ذکر کړه ځکه دا خو بيان د اسم مبني دي

جواب: دلته ئې ذکر کړيدي چې ټول اسماء اشارات معلوم شي جملة د آساني د مبتديانو لپاره معرب ئې ورسره هم ذکر کړو.

مراتب مشاراليه: درې مرتبې دي:

۱: مشاراليه قريب ذا مجرد عن اللام والکاف هذا عند الجمهور من النحاة.

۲: مشار اليه بعيد. ذلک (باللام والکاف)

۳: مشاراليه متوسط. ذاک. باللام والکاف فقط

وقال ابن حاجب: لا فرق بينهما.

قاعده: کله په اول د اسماء اشاراتو کې ها د تنبيه هم داخليږي. لکه هٰذا. برائې تنبيه مخاطب او کله اخير کې (ک) حرف خطاب هم پيوست کيږي لپاره د احوالو د مخاطب مفرداً وتثنية وجمعاً مذکراً ومؤنثاً او هغه شپږ الفاظ دا دي


۱: کَ ۲: کُمَا ۳: کُم ٤: کِ ٥: کُمَا ٦: کُنَّ
مثلاً مشار اليه مفرد مذکر وي نو (ذا) به وائي او که مخاطب هم ستا مفرد مذکر وي (کَ) به وائي نو ذاک ترینه جوړ شو علیٰ هذا القیاس (فتامل) فانتظر ایها المبتدي الی المطولات په اسماء اشاراتو کې شبه افتقاري ده.

وقد مر تفضیله کاملاً و مکملاً

اِجْهَدْ وَلَا تَکْسَلْ وَلَا تَکُنْ غَافِلاً فَنَدَامَةُ الْعُقْبٰي لِمَنْ یَتَکَاسَلُ


(خمسة الفاظ لستة معانٍ)

اسماء اشارات





مشار اليه



سوالات وتمرین اسماء اشارات

ذٰلِكَ الْكِتَابُ	تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ
أُولٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ	لَاتَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ

اجراء اسماء اشارات في الآية

(لا) ناهيه.

(تَقْرَبَا): فعل مضارع مجزوم باحذف نون الف ضمير بارز مرفوع فاعل فعل،

(هذه) اسم اشارة منصوب، موصوف.

(الشجرة) منصوب صفت، موصوف باصفت مفعول به د فعل، فعل مع الفاعل والمفعول به (جملة فعليه خبريه).

اسماء موصولات

سوم اسماء موصولات: الذي الذان الذين، الخ.

دریم قسم د اسم غیر متمکن نه اسماء موصوله دي.

تشریح: اسماء موصوله هغه اسماء دي چې جزء کامل د جملې بغیر د صلې نه، نه واقع کیږي نفس جزء واقع کیږي لکن جزء کامل نه واقع کیږي خکه یې قید ورسره د کامل ولګوؤ. صله

اصطلاحي (۳) جملة مذكورة بعد الموصول لايتم الابها.
قاعده: صله د موصول به جمله خبریه وي څکه په صلي سره بیان دموصول کیږي اودا نه حاصلیږي بغیر دجملي نه او خبر یه به وي څکه صله دخپل موصول سره ربط لري او ربط جمله خبریه قبلوي ،نه انشائیه جمله انشائیه قابله د ربط نه ده څکه جمله انشائیه په خپله موجوده نه ده نود ربط قابله به څرنگه شي؟او د ربط لپاره عائد دی څکه جمله من حیث الجمله مستقله بنفسها ده حاجت ئي چا ته نشته دی نو عائد به راوړي دې لپاره چې حاجت پیدا شي ماقبل ته چې موصول دي
اسماء موصوله دوه قسمه دي ۱: اسماء موصوله خاصه ۲: اسماء موصوله عامه مشترکه.
اسماء موصوله خاصه دېته وايي چې د خاصو معاني وو لپاره راځي لکه الذي د واحد مذکر لپاره راځي نه د تثنیه لپاره او نه د جمعې لپاره تفصیل د هغې دا دی:
۱: اَلَّذِينَ: برائې جمع مذکر.
۲: اَلَّذَانِ: برائې تثنیه مذکر حالت رفعي وضعاً.
۳: اَلَّذَيْنِ: برائې تثنیه مذکر حالت نصبي وجري (وضعا لا اعرابا)
٤: اَلَّتِي: برائې مفرد مؤنث.
٥: اَللَّتَانِ: برائې تثنیه مؤنث حالت رفعي.
٦: اَللَّتَيْنِ: برائې تثنیه مؤنث حالت نصبي وجري.
۷: دارنگه الذين برائې جمع مذکر.
۸: اَللَّاتِي، اَللَّوَاتِي برائې جمع مؤنث
دویم: اسماء موصوله مشترکې: مَنْ. مَا. اَيّ. ذُوْ. الف لام بمعنی الَّذِي. ذَا.
مَن او ما کې فرق: من مستعملیږي غالباً ذوي العقولو کې. ﴿مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ.﴾
او قلیلاً غیر ذوي العقول کې هم استعمالیږي ﴿فَمِنْهُمْ مَنْ يَمْشِي عَلَى بَطْنِهِ﴾ الخ
ما: ضد د من دې مثال دغیر ذوي العقول. ﴿وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾.
اوذوي العقول.مثال ﴿فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَثَ وَرُبَاعَ﴾.

---


۳. قاعده: اکثر خلک چې تلفظ په صله باندې کوي نو په تشدید سره یې کوي لکن دا غلطه ده څکه چې دا مصدر دی اصل کې وِصلٌ دی بیا پکې قاعده د عدةٌ والا لوېږي نو واو په تا سره بدلیږي او په وقف کې تا په ها سره بدلیږي.

اشتراک بينهما اي بين من وما: من برائې مذکر ومؤنث ومفرد وتثنيه وجمع.
دغه شان ما برائې مذکر ومؤنث ومفرد وتثنيه وجمع.
اي برائې مذکر.وآية برائ مؤنث لکهماتن ذکر کړی دي في قوله اي واية معرب است.
سوال: دا بحث د اسم مبني دې اوتا پکې معرب ذکرکړو خروج عن البحث راغې؟.
جواب: اي او اية لپاره څلور حالات دي يو حالت کې مبني دی د هغې لوجې نه دلته ذکر شويدي لکن حکم پرې د معرب شويدې د وجې د کثرت د حالاتو د اعراب نه.
فائده: دلته ذکر شو دا اشاره شوه چې مبني هم دي في صورة اوحکم پرې د معرب هم وشو چې معرب است اشاره د بته چې معرب في صُوَرِ دي.
حالات اربعه: مضاف اليه صدر صله حکم

١: اي وآية	مذكور	مذكور محذوف(نسياً	ايهم هو قائمٌ	معرب
٢: اي وآية	محذوف	منسياً)	اي قائمٌ	معرب
٣: اي وآية	محذوف	مذكور	اي هو قائم	معرب
٤: اي وآية	مذكور	محذوف	أيهمْ قائمٌ	مبني

علة البناء فيه الاحتياج الى صدر الصلة فشابه الحرف في الاحتياج فصار مبنياً (فاحفظ هذا ليكُنَ لک نافعاً)
ذُو: ذو دوه قسمه دي ١: ذوموصولي ٢: ذو صاحبي.
اول فرق: ذو موصولي بمعنى الذي (در لغت بني طي). ذوصاحبي بمعنى صاحب
دويم فرق: د ذو موصولي مدخول به جمله وي د ذوصاحبي مدخول به مفرد وی.
دريم فرق: ذو موصولي مبني دی لکه جاء ني ذو ضربک اي الذي ضربک
ذوصاحبي معرب دی لکه جاء ني ذومال اي صاحب مال رأيتُ ذا مال مررتُ بذي مال
الف لام: بل د اسماء موصوله مشترکه نه الف لام دي بمعنى الذي في المذكر والتي في المؤنث، صله د دې به اسم فاعل او اسم مفعول وي اتفاقاً اوصفت مشبه اختلافاً. **(التفصل في المطولات)**
مثال: جاء ني الضارب اي جاء الذي ضَرَبَ يا يضْرِبُ.
جاء ني المضروب اي الذي ضُرِبَ يا يضْرَبُ.
وذَا: بل د اسماء موصوله مشترکه نه ذا دی، د دې استعمال لپاره درې شرطونه دي
١: بعد ما الاستفهامية اومن الاستفهامية.
٢: معنى د اسم اشاره به پکې مراد نه وي

۲: ذا و ما او من سره یوه کلمه به ترکیب کې جوړیږي



سوالات موصولات تمرين

فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ	أَيهمْ أَشَدُّ عَلَي الرَّحْمٰنِ عِتِيًا
اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ.	

اجراء حدیث: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ.

المسلم: مبتدأ. (من) موصوله سَلِمَ: فعل ماضي معلوم. المسلمون: فاعل د فعل.

من: حرف جار. لسان: مضاف. (ه) ضمیر مجرور، مضاف الیه مضاف بامضاف الیه معطوف علیه واو حرف عاطفه ید مجرور مضاف (ه) ضمیر مجرور مضاف الیه، مضاف بامضاف الیه معطوف.معطوف علیه مع معطوف مجرور جار، جارمع المجرور ظرف لغو متعلق په سلم پورې، فعل مع فاعله ومفعوله جمله فعلیه خبریه صله من موصوله، صله باموصول خبر. مبتدأ باخبر جمله اسمیه خبریه شوه.

فائده: کله چې د یو آیت ترکیب کیږي نو چې په ترکیب کې ظرف لغو راشي نو د دې په ځائې دې ظرف نظم وویلی شي ځکه چې دا د قرآن کریم بې ادبي ده، فافهم (حنیف)

اسماء افعال

چهارم اسماي افعال وآن بردوقسم ست اول بمعنی امرحاضر چون رُوَيدَ وبَلهٖ وَحَيهلَ وَهلُمّ دوم بمعنی فعل ماضي چون هيهاتَ وشَتّانَ.

ترجمه: د اسم غیر متمکن نه څلورم قسم اسماء افعال دي او دا په دوه قسمه دي یو په معنی د امر حاضر لکه روید او بله الخ دویم په معنی د فعل ماضي لکه هیهات، شتان.

تشریح: تعریف اسم الفعل: هو مانهب عن الفعل معنا واستعمالاً، مطلب دا دې چې عامل واقع کیږي او معمول نه واقع کیږي قد مرّ تفصیله

او چا داسې تعریف کړی دی: اسم فعل: هي كلمة تدل على معنى الفعل ولاتقبل علامته.

یعنی اسم فعل هغې ته وایي چې په معنی د فعل به دلالت کوي خو د فعل علامات به نه قبلوي.

اسماء افعال په اعتبار د معنی سره درې قسمه دي:

اول: بمعنی ماضي.

مثال: هیهات بمعنی بَعُدَ ماضي.

مثال: شتان بمعنی اِفتَرَقَ ماضي

مثال: سَرعَانَ بمعنی سَرُعَ ماضي

دوي فاعل لره رفع ورکوي فقط مثال: شَتَّانَ زَيدٌ. اي اِفتَرَقَ زَيدٌ.

دویم: قسم بمعنی امر حاضر.

روید: بمعنی اَمهِل. ها: بمعنی خُذ

صه: بمعنی اُسكُت مَكَانَكَ: اِثبُت

حَيّ: بمعنی اَقبِل. اَمَامَكَ: تَقَدَّم

تَرَاكِ: بمعنی اُترُك وغیره وغیره

نَزَالِ: بمعنی اِنزِل

دوي فاعل لره رفع ورکوي هغه به ضمیر مستتر وي په دوي کې او مفعول لره به نصب ورکوي

رُوَيدَ زَيدًا.

دريم: قسم اسماء افعال بمعنى مضارع ، دا قسم قليل دي.

اوّه: بمعنى اَتَوَجَّعُ،

اُف بمعنى اَتَضَجَّرُ،

وَي. او. واها بمعنى التعجب

بعضي نحاتو: دا قول کړي دي چي اسم فعل بمعنی مضارع نه راځي او دینه تعبیر په ماضي سره کوي لکه د اُف معنی په تَضَجَّرْتُ سره کوي.

(دويم تقسيم، اسماء افعال)

اسماء افعال باعتبار اصالت وعدم اصالت دا هم دري قسم دي.

قسم اول موضوع: ماوضع من اول امره اسم الفعل ولم يستعمل في غيره لکه شتان وَيه مَه

دويم قسم منقول: ماوضع في اول الامر لمعنى ثم انتقل الي اسم الفعل دا بيا دري قسم دي.

۱: ظرف نه منقول لکه مَکَانَکَ، دُوْنَکَ په دي کي جزء اول اسم فعل دي او جزء ثاني په خپل حالت باندي باقي دي مکان اسم فعل او کاف ضمير مجرور متصل په خپل حال پاتي دي.

۲: دجار مجرور نه منقول لکه عَلَيکَ. اِلَيکَ.


۳: د مصدر نه منقول لکه رُوَيداً.

قسم سوم. ٤: معدول لکه نزال، تراک، دا نزل او اترک نه معدول دي.

اسماء افعالو کي شبه استعمالي ده د دي وجي نه مبني دي.(۴)

---

۴. یعنی د حرف پشان همیشه عامل غیر معمول فیه واقع کیږی نو حرف مبنی دی نو دا هم مبنی شو.



سوالات وتمرین اسماء افعال

عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ	هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ	هيهات هيهات لِمَا تُوعَدُوْنَ
قُلْ هَلُمَّ شُهَدَاءَكُمْ	كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ	

اجراء آیت هیهات هیهات لماتوعدون.

هیهات :اسم فعل بمعنی بَعُدَ لِمَا : لام جار ما موصوله تُوعَدُونَ: فعل مضارع واو ضمیر بارز مرفوع فاعل د فعل .فعل بافاعل جمله فعلیه صله برائې موصول موصول باصله مجرور جار، جارمع المجرور ظرف نظم متعلق د بَعُدَ اسم فعل پوري، اسم فعل بافاعل ومتعلق جمله فعلیه خبریه

اسماء اصوات

پنجم اسماء اصوات چون :اح اح واف وبخ ونخ وغاق.

پنځم قسم د اسم غیر متمکن نه اسماء اصوات دي

تشريح: اسماء اصوات هغه الفاظ دي چې په دې سره نقل د آواز دغير کولې شي، يو حيوان وغيره ته پرې آواز کولې شي. مثال د اول لکه غاق. مثال د ثاني لکه: بخ داوبس دکينولو لپاره ويلې شي نودا الفاظ چې صادر يږي دانسان نه په وخت دخوشحالي کې لکه بخ يا صادر يږي دانسانه په وخت درد د سينې کې لکه اح اح شو.

اسماء اصوات مبني دي په دې کې شبه اهمالي ده نه عامل او نه معمول واقع کيږي اودا د قبيلې د مفرداتو نه دي تفصيل ئې په كفاية النحو شرح هداية النحو والكافيه

اسماء ظروف

ششم اسماء ظروف ظرف زمان چون اذ واذا و متي وكيف وايان الخ وقتيكه مضاف باشند ومضاف اليه محذوف منوي باشد وظرف مكان چون حيث وقدام الخ وقتيكې مضاف باشند ومضاف اليه محذوف منوي باشد.

ترجمه: شپږم قسم د اسم غير متمكن نه اسماء ظروف دي ظروف جمع دظرف ده ځائې د وقوع د فعل يا وقت د وقوع د فعل ته وائي.

ظروف زمان: اذ، اذا، متي، كيف، ايان، امس، مذومنذ، قط وعوض وقبل وبعد.

ظروف مكان: حيث. قدام.تحت فوق، خلف، يمين، شمال، امام

تفصيل: (اذ) دظرف زمان لپاره راځي په معنى دماضي سره اګر چې په مضارع داخل شوې وي مثال دماضي اذ قام زيدٌ. داستقبال مثال: ﴿إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ﴾.

(اذ) كله كله د تعليل لپاره راځي ﴿وَلَن يَنفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذ ظَّلَمْتُمْ أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ﴾ أي لِأَجلِ ظُلمِكُمْ.

فائده: (اذ) هميشه جملې ته مضاف كيږي اوكله په مضاف اليه جمله حذف شوې وي نو عوض كې تنوين راوړي شوى وي لكه يَوْمَئِذٍ. د اذ علة د بناء، شبه وضعي ده دوه حرفيز دي(۵).

إِذَا: اذا د اذ مقابل دي.اذا د مستقبل لپاره زيات راځي، ماضي لپاره قليلاً راځي. ﴿وَإِذَا رَأَوْا

۵. په شان د وضع د حرف باندی په وضع ثنائی کې.

تِجَارَةً ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ﴾ براڼي زمانه مستقبل.
وجه د بناء د اذا: دا حرف شرط لره متضمن دي.

متى: متى دوه قسمه دی. ۱: شرطیه جازمه لکه متیٰ تُسَافِرْ أُسَافِرْ. ۲. استفهامیه. ﴿مَتَىٰ نَصْرُ اللهِ﴾.
علت بناء: متضمن دې حرف شرط او همزه استفهام لره.

کیف: دا د حال د تپوس لپاره دې کیف انت اي في اي حال من الاحول صحیح ام مریض کله چې د کیف سره کلمه د ما راشي نو شرط دې کیفما.

اعراب د کیف: ۱: کله خبر مقدم واقع کیږي په ترکیب کې کیف انت.
دا رنګه د افعال ناقصه خبر واقع کیږی کنت کیف.

۲. او حال هم واقع کیږي ﴿کیف تکفرون بالله﴾.

۳. مفعول به هم واقع کیږي. کیف جِئتَ (کیف ظرفي نه دې، نه زماني او نه مکاني لکن د ده نه تعبیر په جار مجرور سره تاویلاً کیږي کیف انت اي في اي حال من الاحوال او جار مجرور ظرف وي (دا مذهب د ابن مالک او ابن هشام دي)
علت بناء: کیف کې شبه وضعي او شبه معنوي ده.

ایان: استفهام لپاره راځي. ﴿أَيَّانَ يَوْمُ الدِّينِ﴾.
کله کله براڼي شرط جازمه: أَيَّانَ تَجْتَهِدْ أَجْتَهِدْ.
(علت البنهء شبه معنوي)

قط: د ماضي منفي لپاره راځي او فائده کوي استغراق (او تاکید د نفی).
نفي: مَا أَكَلَ زَيْدٌ خُبْزاً قَطُّ.
علة البنهء شبه جمودي ده(٢): په دې کې نور لغات هم دي. قَطْ. قُطُّ. قَط. قُط.

عوض: لپاره د مستقبل نفي راځي او دا د استغراق معنی ورکوي مثال لا أَتْرُكُ الجهاد عوضُ.
علت د بناء پکې شبه جمودي ده.

أَمْسِ: ظرف دې مبني علي الكسرة. د مبني علة بمعنی ماضي.
مذ منذ: د دوه معانیو لپاره راځي.
۱: اول مدة چې په جواب د متي کې راشي، مَتَى مَارَأَيتَ زَيداً؟. جواب: مُذْ يَوْمَ الْجُمُعَة بمعنی:

---

۲. د مبنی پشان چه حرف تثنیه او جمع کیږی نه

اَوَّلُ مُدَّةِ عَدَمِ رُؤْيَتِيِ اِيَاهُ كَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

۲: بمعنی جمیع مده. چې په جواب دکم استفهامیه کې راشي. كَمْ مُدَّةً مَارَأَيْتَ زَيْدًا ؟.

جواب: مَارَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَانِ اَيْ جَمِيعُ مُدَّةِ عَدَمِ رُؤْيَتِيِ اِيَاهُ كَانَ يَوْمَانِ.

مذ منذ درې قسمه دي:

۱: اسمي. ۲: حرفي. ۳: ظرفي.

۱: تفصیل: که وروستو د دینه اسم مرفوع راغي نو اسمي. مذ يومُ الجمعة ترکیب کې دوي مبتدا، دي او مابعد ورله خبر یا برعکس بنا بر اختلاف مذهبين.

۲: او که وروستو ترینه اسم مجرور واقع شوې وو. نو حرفي به وي مارأيته مذ يوم الاحد اي من يوم الاحد

۳: که وروستو ترینه جمله اسمیه یافعلیه واقع شوې وه نو ظرفي به وي.

مثال د جملې اسمیې: مارأيته مذ زيد قائمٌ. مثال د جملې فعلیې: مارأيته مذ قام زيدٌ.

حاصل: دوه صورتونه د مذ منذ اسمي شو او یو صورت جري (یعنی حرفی شو).

دویم ظروف مکان دي حيث قدام الخ.


پدې کې څلور صورتونه دي په درې حالاتو کې معرب او یو حالت کې مبني.

ظرف مکان مع بعض زمان	مضاف اليه	مثال	حکم
قبل وبعد قدام خلف الخ	مذكور	رُبَّ بَعْدٍ كَانَ خَيْرًا مِنْ قَبْلٍ	معرب
قبل وبعد قدام خلف الخ	محذوف نسيًا منسيًا	معرب	معرب
قبل وبعد قدام خلف الخ	محذوف منوى يعنى لفظ کې به حذوف وي او اراده د متکلم کې به وي	مَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ	
		لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَ مِنْ بَعْدُ	مبنى على الضمة

فائده: نسياًمنسياً معنى دا ده چې مضاف اليه لفظ کې نه وي او په اراده دمتکلم کې هم نه وي.

علة البنهء: مضاف اليه ته محتاج دي ضمه باندې ځکه چې دا جبيره قويه ده.

بعضي ظروف زمان: لما. الآن ريث منقول عن المصدر: راث يريث ريثاً. مكان. هند ثم مع. جئت مع الفجر. دون، لدى ولدن دا مشترک دی.



سوالات تمرین (اسماء ظروف)

اِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ	اَءِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ	بَلۡ اَحۡيَاۤءٌ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ
اِذَا جَاۤءَ نَصۡرُ اللّٰهِ	اِذَاۤ اَرَادَ اللّٰهُ بِقَوۡمٍ سُوۡٓءًا فَلَا مَرَدَّ لَهٗ	

اجراً آیت : اذا الشمس کورت :

اذا شرطیه ظرف زمان الشمس مفعول فیه کورت: فعل مجهول ضمیر درو مستتر نائب فاعل فعل بانائب فاعل ومفعول فیه جمله فعلیه خبریه.

اسماء کنایات

هفتم اسماء کنایات چون کم وکذا کنایه ازعدد وکیت وذیت کنایه ازحدیث .

اوم قسم د اسم غیرمتمکن نه اسماء کنایات دي

تشریح: اسم کنایه هغه اسم دی چې په عدد مبهم یا په کلام مبهم باندې دلالت کوي یا کنایات جمع د کنایة ده په لغت کې ابهام ته وایي او په اصطلاح کې تعبیر د معاني وو دي په الفاظ غیرصریحي وو سره.


اودا اسماء کنایه دوه قسمه دی. ۱: معرب لکه فلانٌ وفلانة.

۲: اومبني. دلته بیان د مبني کوي ځکه دا مقصود بالبیان وو.

مثال د عدد لکه کم او کذا.

كم په دوه قسمه دی. ۱: کم استفهامیه ۲: او کم خبریه.
کم استفهامیه سره طلب د عدد کیږي د مخاطب نه لکه: کم مَالًا انفقتَ، کم دِرهمًا عِندکَ تمییز دده به مفرد منصوب وي او ذا مبني دی ځکه متضمن دی معنی د استفهام لره.
اوکم خبریه دیته وائي چې په دې سره اخبار دعدد کیږي د نفس خپل نه مثال لکه: کم مَالٍ عندي، کم دِرهمٍ عِندِي تمییز دده به مفرد مجرور وي او داکم خبریه مبني دی ځکه دا حمل دی په کم استفهامیه باندې، یا وضع دده په شان د وضع دحرف ده.
کذا: مرکب دی د کاف تشبیه اود اسم اشاره نه دلته معنی دعدد مراد ده چې اخبار په دې سره دعدد دخپل طرفنه ورکولې شي کذا درهماً عندي
علة البناء د کذا: دا قبل الترکیب مبني وؤ بعد الترکیب هم مبني دی.
دویم قسم چې په مبهم کلام باندې دلالت کوي لکه کیت اوذیت. دامبني دي ځکه دوي دجملې په ځائې واقع کیږي اوجمله مبني الاصل ده دوي دهغې په ځائې واقع دي نودوي هم مبني شو.

اسماء کنایات



سیأتي تفصیله في اسماء العاملة.

تمرین وسوالات کنایات

كَمْ مِنْ مَلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِي (الآية)	
كَذَا طَالِباً فِي الْمَدْرَسَة	كَمْ أَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَة
	كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ الله

هشتم مرکب بنائي چون احدعشر.
اتم قسم د اسم غیرمتمکن مرکب بنائي دي. قد مر تفصیلاً في فصل الثالث في بیان مرکب غیر مفید فلا نعیده.

فصل

تقسیم د اسم معرفې او نکرې ته

بدانکه اسم بر دوضرب است معرفه ونکره معرفه آن است که موضوع باشدبرائي چیزي معین وآن برهفت نوع است.

ترجمه: پوهه شه چې اسم په دوه قسمه دي معرفه اونکره، معرفه هغه ده چې وضع شوي وي د یوشي معین لپاره اودا په اوه قسمه ده.

تشریح: هرکله چې مصنف فارغ شو د تقسیم د اسم نه چې معرب او مبني وؤ.اود اقسامو نه چې دا تقسیم د اسم وؤ په یو جهت سره.اوس تقسیم کوي په بل جهت سره چې تعیین او عدم تعیین دي یا باعتبار خصوص وعموم سره نو استدراک رانغي (فلا یرد ماد)

یا غرض د مصنف په دې فصل کې بیان د تقسیماتو د اسم کوي.

۱: تقسیم د اسم په اعتبار د تعریف او تمکیر سره.

۲: تقسیم د اسم په اعتبار د تذکیر او تانیث سره.

۳: تقسیم د اسم په اعتبار د عدد سره.

اسم په دوه قسمه دی.۱: معرفه.۲: نکره.

۱: معرفه چې وضع شوي وي لپاره د یو شي معین.

وجه دحصر پکې دا ده چې اسم به خالي نه وي یا به وضع شوې وي لپاره د یوشي معین یا به وضع شوې وي لپاره دیو شي غیرمعین کې اول وؤ نو معرفه اوکه ثاني وؤ نونکره.

او دا معرفه اوه.۷: قسمه ده.۱: اول مضمرات ۲: اسماء اشارات ۳: درېم موصولات د دوي تفصیل مخکې ذکر شویدي.

چهارم اسماء موصوله واین دوقسم رامبهمات گویند.

ترجمه: څلورم اسماء موصوله دي او دي دوه قسمونو ته مبهمات([7]) وائي.

تشریح: علم په لغت کې علامې ته وائي. اوپه اصطلاح کې علم هغه اسم دی چې وضع شوې وي لپاره د یو شي معین په دې شان سره چې نه شاملیږي غیر لره په دغه وضع سره.علم بیا درې قسمه دی.۱: اسم محضه.۲: کنیه.۳: لقب.

کنیه: هغه علم دی چې د دې په شروع کې اب یا أم یا اِبن ذکر وي لکه ابوبکر ، اُمِّ عبد، ابن

[7] دی دوه قسمونو ته مبهمات ځکه وائی چه دوی کی ابهام دی ،موصول بلاصله او اسم اشاره بلا مشارالیه مبهم وی.

عباس:
لقب: دیته وائي چې دده مسمي په مدح یا ذم سره یادیږي لکه علأمه، الشیخ، الامام، بخیل، لئیم
اسم محضه: دیته وائي چې نه کنیت وی او نه لقب لکه زید، عمرو، بکر، دا دريٍ واړه قسمونه د علم اسم معرفې دي.

پنجم معرفه به نداء چون یارجل.

پنځم قسم د معرفې نه معرفه بالنداء ده لکه یا رجل شو.
تشریح په حرف نداء سره نکره هله معرفه کیږي چې کله د هغې تعیین او شي. لکه یا رجلُ، او که غیر معین وي نو بیا به نکره وي اګر کې حرف نداء پرې داخل شي. لکه قول د اعمی شو: یارجلاً خذ بیدي خکه ضرورت د اعمی نفس رجل ته دی، نه رجل خاص ته خکه نکره ده.
ششم: معرفه بالف ولام چون الرجل:
بل قسم د معرفې نه هغه معرفه ده چې الف لامو سره معرفه شوې وي سره د تعیین او قصد د تعریف نه
الف لام زائده ترینه خارج شو په دې سره نکره نه معرفه کیږي (فتامل)
(الرجل شو) (رجل نکره الرجل معرفه)

هفتم: مضاف به یکي ازینها چون غُلامُهُ وَغُلامُ زَیدٍ وغُلامُهُ ذَا وَغُلامُ الَّذِي عِندِي وَغُلامُ الرَّجُلِ؛

أوم قسم د معرفې نه مضاف دی یو د دې اقسامو مذکورو ته
تشریح: لکن معرفه بالنداء ته ئې اضافت نه کیږي خکه په مابین د مضاف او مضاف الیه کې شدت اتصال وي او یا سره فصل راځي او بل صدارت د یا فوت کیږي چې تقاضي کوي د صدارت
غلامه: مثال د هغې دی چې اسم نکره مضاف الی الضمیر وي
غلام زید: مثال د هغې دی چې اسم نکره مضاف الی العلم وي الي اخره.
لکن اضافت په دوه قسمه دی: اضافت د نکرې معرفې ته بالذات لکه غلامه باقي امثله په کتاب کې دي او که اضافت د نکرې معرفې ته بالواسطه وي لکه غُلامُ أَبِیكَ د غلام اضافت شویدې چې نکره ده ضمیر د مخاطب ته په واسطه د اب سره.
قاعده: غَیرُ، مِثلُ، شِبْه، سِوٰي دا اسماء په اضافت سره معرفه نه ګرځي د وجې د توغل د دوي نه

په ابهام کې البته کې د دوي د مضاف الیه لپاره ضد واحد وؤ بیا معرفه کیږي لکه غیر المغضوب علیهم. علیک بالحرکة غیر السکون.

مراتب معرفه

۱: اول درجه مضمرات.

۲: علم

۳: اشارات

٤: معرف باللام او موصول.

او د مضاف درجه د مضاف الیه د درجې نه معلومیږي ضمائرو کې اوله مرتبه د ضمیر د متکلم ده بیا د مخاطب بیا د غائب.


د نکرې تعریف

تعریف د نکرې: چې وضع شوي وي لپاره د یو شي غیر معین.

نکره آنست کې موضوع باشد برائې چیزي غیر معین چون: رَجُلٌ وَفَرَسٌ.

ترجمه: او نکره هغه ده چې وضع شوي وي لپاره د یو شي غیر معین لکه رجل او فرس.

تشریح: یو مثال د ذوي العقول او دویم مثال د غیر ذوي العقول دي



اعرف المعارف مراتب

۱: ضمیر
۲: علم
۳: اشارات
٤: معرفه باللام
٥: موصولات
٦: مضاف باعتبار مضاف الیه

مراتب الضمیر

۱: ضمیر متکلم انا ضربتُ
۲: ضمیر مخاطب انت ضربتَ
۳: ضمیر غائب هو

یادونه: سیبویه وائي: اعرف د معارفو نه لفظ د الله تعالی دی، (بدر منیر)

سوالات وتمرين (معرفه ونكره)

يا نُوْحُ اِنَّهٗ لَيْسَ مِنْ اَهْلِكَ يا: حرف نداء نُوْحُ: منادى معرفه بالنداء اِنَّهٗ: حرف مشبه بالفعل معرفه باضمير منصوب متصل با حرف. لَيْسَ: فعل نا قصه مِنْ: جار اَهْلِكَ: مجرور مضاف معرفه بالاضافة كَ: مضاف اليه معرفه بالضمر	يُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا. چې اصل کې يا يوسف وو يُوْسُفُ: منادى معرفه بالعلم حرف نداء محذوف ده د ر اصل يا يوسف اَعْرِضْ: فعل امر فاعل ضمير مستتر دي يعبر عنه (انت) عَنْ: جار هٰذَا: مجرور محلاً معرفه بالاشارة هاء: براي تنبيه غير عامل

د اسم تقسيم مذكر او مؤنث ته

بدانكه اسم بر دو صنف است مذكر ومؤنث مذكر آن ست كه درو علامت تانيث نباشد چون: رَجُلٌ ومؤنث آن است كې درو علامتِ تانيث باشد چون اِمرَاۃ.

ترجمه: پوهه شه چې اسم په دوه قسمه دي مذكر او مؤنث. مذكر هغه دي چې په هغه كې علامه د تانيث نه وي لكه رَجُل او مؤنث هغه دي چې په هغه كې علامه د تانيث وي لكه اِمرَأة.

تشريح: تقسيم ثالث: اسم باعتبار تذكير وتانيث علي قسمين

پس زد كړه دا خبره چې اسم په دوه قسمه دې: ۱: مذكر. ۲: مؤنث.

وجه د حصر پكې دا ده چې اسم به خالي نه وي يا به پكې علامه د تانيث وي يا به نه وي، كې علامه د تانيث پكې وه نو مؤنث او كه نه وه علامه د تانيث پكې نو مذكر

مذكر مقدم شو په مؤنث باندې د وجې د شرافت نه او تخليق د مذكر مقدم دې په مؤنث باندې، نو احكام ده هم مقدم دي مثال رجلٌ.

دريمه وجه: يا مذكر اصل دې څكه دې علامې ته محتاج ندې، عدم احتياج دليل د اصالت دې

قاعده: مراد د اسم نه دلته اسم متمكن دې دا په دوه قسمه دې: مذكر او مؤنث. او هر چې اسم غير متمكن دي نو د هغه تذكير او تانيث وضعي دې، مذكر لپاره هوا و مؤنث لپاره هي وضعه دي

قاعده تذکير اوتانيث په اسماؤ کې متحقق کيږي هرچې فعل اوحرف دي نوتذکير اوتانيث په دوي کې نه متحقق کيږي البته کې مدلول قصد شي د افعال اوحروف نوتذکير اوتانيث پکې متحقق کيدې شي.

لايتحقق التذكير والتانيث الافي الاسماء . اذا قصد مدلولها فان قصد لفظ الاسم جاز تذكيره باعتبار اللفظ وتانيثه باعتبار الكلمة وكذا الفعل والحرف وحروف الهجاء ويجوز فيها الوجهان بالاعتبارين.

(حاشية الصبان)

قاعده: کوم اسماء چې دهغې د تذکير اوتانيث امتيازي علامه نه وي نوکه تاء پکې وه نومؤنث به وي مطلقاً لکه (نَمْلَة) شو او(قَمْلَة) اوکه تا پکې نه وه مذکر به وي مطلقاً لکه (برغوث)

(حاشيه الصبان)

وعلامت تانيث چهارست :تا چون طلحة والف مقصوره چون حُبْلیٰ والف مدوده چون حَمرَاءُ وتاء مقدّره چون اَرضٌ که دراصل اَرضَة بوده ست بدليل اُرَيضَة زيراکه تصغيراسماء راباصل خودبرود ،واين رامؤنث سماعي گويند.

ترجمه: علامات دتانيث څلوردي تاء لکه طلحة او الف مقصوره لکه حبلیٰ او الف ممدوده لکه حمراء او تاء مقدره لکه ارض چې په اصل کې ارضة وو ، په دليل د اريضة سره څکه چې تصغير اسماؤ لره خپل اصل ته وړي، او ديته مؤنث سماعي وائي.

تشريح: اول تاء ده لکن مطلقاً نه بلکه هغه چې په حالت د وقف کې بدليږي په (ها) سره.تاء په دوه قسمه ده

۱ : ملفوظه لکه طلحة کې. ۲ : مقدرة لکه ارض پدې ارض کې تاء مقدره ده څکه التصغير والتكسير يردان الشيء الى اصله

(الفيه ابن مالک) شعر

ويعرف التقدير بالضمير ونحوه کالرد في الصغير

دويمه: علامه الف مقصوره لکه حُبْلیٰ.

دريمه علامه : الف ممدوده لکه حمراءُ د تاء ډير اقسام دي هغه مخکې په علامات د اسم کې ذکر شو يدي تفصيلاً فاطلب هناک.

اسماء مؤنثه

۱: د انسان متکرر اعضاء ماسوی د خدين او حاجبين نه مؤنث دي

۲: د زنانو اسماء
۳: د زنانو صفات لکه حمل، ولادت، نفاس، استحاض، حیض، ارضاع
٤: د جنگونو نومونه
٥: طبقات جهنم
٦: د هواء نومونه
۷: اسماء الخمر
۸: اسم الشمس
۹: لفظ نفس وارض

اسماء مشترکه بین المذکر والمؤنث

۱: اسم تفضیل مستعمل بمن
۲: مصادر.
۳: حروف تهجي. الف. با. تا. ثا.
٤: بعض اوزان.
٥: فعول صبورٌ.
٦: مفعال مفتاح.
۷: مِفعِيلٌ مِنطِيق.
۸: مِفعَلٌ مِغشَمٌ بمعنی شجاع.

د مؤنث تقسیم حقیقي او لفظي ته

وبدانکه مونث بر دو قسم است حقیقي ولفظي، حقیقي آن ست کې بازائي أوحیواني مذکر باشد چون اِمراة کې بازائي او رَجلٌ ست وَناقَة کې بازائي أوْ جَمَلٌ ست ولفظي آن ست کې بازائي أوحیوان مذکر نباشد چون ظُلمَة وَقُوَة.

ترجمه: پوهه شه چې مؤنث په دوه قسمه دي، حقیقي او لفظي. حقیقي دیته وائي چې په مقابله ده کې حیوان د مذکر وي لکه اِمرَأة چې مقابل ئي رَجُلٌ دي. لفظي دیته وائي چې په مقابله ده کې حیوان مذکر نه وي لکه. ظلمة. عین:

تشریح

اسم باعتبار جنس

متمکن — غیر متمکن

په دې کې تذکیر او تأنیث وضعی دی
(هو) للمذکر (هی) للمؤنث وضعًا

متمکن: مذکر — مؤنث

مؤنث: فیها علامة التأنیث وهی ثلاثة

١: مؤنث حقیقی امرأة — ٢: مؤنث لفظی ظلمة

١: تا — ٢: الف مقصوره، حبلی — ٣: الف ممدوده، حمراء

تا: ارض مقدره — ملفوظه امرأة

سوالات وتمرین مذکر ومؤنث

فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ	
أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَاداً	إِتَّقُوا النَّارَ الَّتِي
وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اَلْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَکَ اَوْعَلَيْکَ (الحدیث)	إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ کُلُّ اُولٰئِکَ کَانَ عَنْهُ مَسْئُوْلًا
	وَقَالَ: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ (الحدیث)

الم نجعل لَهٗ عَيْنَيْنِ وَلِسَانًا وَّ شَفَتَيْنِ

اعتبارین ← الم
مجزوم بلم — مذکر — مؤنث اعتبارین — مؤنث
مذکر ومؤنث والتذکیر اکثر ← شفتین
اعتبارین
مذکر و مؤنث تثنیه و جمع
مذکر وضعی

د اسم تقسیم واحد ، تثنیه او جمعې ته

بدانکه اسم برسه صنف است واحد مثنی ومجموع واحد آن ست کې دلالت کندبریکې چون رَجُلٌ

ترجمه: پوهه شه چې اسم په درې قسمه دی، واحد ،تثنیه ،جمع واحد هغه دی چې دلالت کوي په یو لکه رَجُل شو.

تشریح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د تقسیم د اسم نه په تذکیر اوتانیث سره چې یو جهت وؤ نو شروع ئې وکړه په اعتبار د تعداد سره چې دا بل جهت دی

اسم په درې قسمه دی: واحد ، مثنی ، او جمع.

وجه دحصر پکې دا ده چې اسم به خالي نه وي یا به دلالت کوي په یو یا په دوه یازیات د دوؤ نه که اول وؤ نو واحد او که ثاني وؤتثنیه او که ثالث وؤ نو جمع.

واحد په لغت کې یو ته وائي او په اصطلاح کې چې دلالت کوي په یو باندې لکه رَجُلٌ .او که الرجل شي نو دوه کلمې دي، الف لام او رجل(نو هغه بیا جنس دی).

او اصطلاح کې ماذکر في الکتاب: واحد آنست که دلالت کند بریکې چون رجلٌ

ومثني آن ست کې دلالت کندبردو بسبب آنکه الف یا یائي ماقبل مفتوح ونون مکسوره بآخرش پیوندد چون رَجُلَانِ وَرَجُلَیْنِ

ترجمه: تثنیه هغه ده چې دلاکت کوي په دوو باندې په سبب د هغې چې الف به وي یا به یاء وي ماقبل به ترینه مفتوح وي اونون مکسوره به په آخر دده پورې پیوسته شوې وي

تشریح: مثنی په لغت کې دوه شوې ته وائي او په اصطلاح کې ما ذکر في الکتاب:

مثنی آنست الخ

په تثنیه حالت رفعي کې الف اونون مکسور اخیر کې او ماقبل به ترینه مفتوح وي لکه رَجُلَانِ او یا به یاء ساکنه ماقبل مفتوح مع النون المکسورة في حالة النصب والجر وي مثال رَجُلَیْنِ ماقبل به حالت نصبي اوجري تثنیه کې مفتوح وي

اوجمع سالم کې ماقبل به مکسور راځي په حالت نصبي او جري کې، لپاره د فرق بین التثنیة والجمع .او عکس ئې ندې کړې ځکه تثنیه مخکې ده په اعتبار د وجود سره او فتحه اخف وه نو اخف شي تثنیه اول واخستو او کسره جمع ته پاتې شوه لکن جمع کې نون مفتوح او تثنیه کې مکسور ځکه د کسرې د تثنیه سره مناسبت دی په توسط کې تثنیه متوسطه ده بین الواحد والجمع او کسره متوسط ده بین الضمة والفتحة او نون د جمع سالم به مفتوح وي للتخفیف في

الحالة الرفعية وجد الثقل لاجل الواو والضمة وفي حالة النصب والجر لاجل الياء والكسرة نو فتحه ورکړي شوه لپاره د تخفيف والتفصيل في المطولات

قاعده: د تثنيي لپاره درې شرائط دي

١. مفرد به ورله د دي مادې نه وی.

٢. دلالت به په دوه کوي.

٣. په اخیر کې الف یا یاء ماقبل مفتوح اونون مکسوره به وي

نو که یو شرط پکې نه وؤ. نو تثنيه به نه وي لکه كِلاَ او كِلْتَا.

په دې کې دوه شرطه مفقود دي مفرد ورله نشته او شرط ثالث منتفي دي لكن بيا هم معنا تثنيه ده د دې وجې نه دیته ملحق بالتثنية ويلې کيږي او اثنان او اثنتان مشابه بالتثنيه دي خکه د دوي مفرد نشته دې د دوي دمادې نه

ومجموع آنست کې دلالت كند بربيش ازدو بسبب آنكه تغيري در واحدش كرده باشند لفظاً چون رِجَالٌ يا تقديراً چون فُلكٌ کې واحدش نيز فُلكٌ ست بروزن قُفلٌ وجمعش هم فُلكٌ بروزن أُسدٌ.

ترجمه: جمع دیته وائي چې زيات د اثينو باندي دلالت كوي پدې سبب چې تغير به په مفرد کې شوې وي لفظاً لکه رِجَالٌ. یا به تقديراً تغيرشوې وي لکه فُلكٌ مفرد دې او جمع هم فُلكٌ دی پدې کې تغير فرضي دې کې ضمه د فاء دفلك واخلې په شان د ضمې د قاف د قُفل نو مفرد دې خکه قفل مفرد دی.

دامذهب د سيبويه دې چې فلك مفرد او جمع دي

بعضې نحاة وائي: چې فلك مشترك دې په مابين د مفرد او اسم جمع کې. (خضري)

اقسام د جمعې په اعتبار د لفظ سره

بدانكه جمع باعتبار لفظ بردو قسم ست، جمع تكسير وجمع تصحيح، جمع تكسير آنست کې بناء واحد درو سلامت نباشد چون رِجَالٌ وَمَسَاجِدُ وابنية جمع تكسير در ثلاثي بسماع تعلق دارد وقياس رادرو مجالي نيست امّا در رباعي وخماسي بروزن فَعَالِلُ آيد چون جَعفَرٌ وَجَعَافِرُ وَجَحمَرِشٌ وَجَحَامِرُ بحذف حرف خامس.

ترجمه: پوهه شه چې جمع په اعتبار د لفظ سره په دوه قسمه ده، جمع تکسیر او جمع تصحيح، جمع تكسير هغه ده چې بناء د واحد پدې کې روغه نوې پاتې شوې لکه رجال او مَسَاجِدُ اوصيغې د جمع تکسيري په ثلاثيو کې په سماع پورې تعلق لري، قياس لره پدې کې دخل

نښته او په رباعي او خماسیو کې په وزن د فعالل راځي

تشریح: زده کړه دا خبره چې جمع په اعتبار لفظ سره په دوه قسمه ده، جمع تکسیر او جمع تصحیح.

وجه د حصر پکې دا ده چې دا جمع به خالي نه وي یا به پکې بناء د مفرد سالم وي یا به نه وي، که اول وو نو جمع تصحیح. او که ثاني وو نو جمع تکسیر.

پس مصنف قید باعتبار لفظ لګولې دې، اشاره ده دې خبرې ته چې په اعتبار د معنی هم دوه قسمه ده وروستو راځي قریب.

اعتراض: ستا نقض راغلې په مسلمون باندې دا جمع تصحیح ده او بناء د واحد پکې سالمه نه ده ځکه مفرد یې مُسلِمٌ دې نو واو او نون پدې پورې ملحق شو نو مفرد کې تغیر راغې؟

جواب: دا تغیر به راغلې وي په امور داخله و سره اودلته زمونږ مقصد امور خارجه دي او په امور خارجه ؤ سره ندي راغلي ځکه امور داخله (م س ل م دي) او هغه په خپل حال دي

د جمع مکسر د تغیر دوه صورتونه دي

۱. حکمي: چې لفظ د مفرد او جمع کې هیڅ فرق نه وي بلکه فرضي به وي لکه فُلکٌ

۲. تغیر حقیقي: چې لفظ کې تغیر او تبدیل وي

د دې لپاره شپږ صورتونه دي

۱. تبدیلي حروف په زیادت سره وي لکه صِنوٌ نه صِنوَانٌ (الف ونون)

۲. په کموالي د حروف لکه تُخمَةٌ نه تُخمٌ (ة) حذف شوې ده.

۳. شکل او صورت په تبدیل سره لکه اَسَدٌ نه اُسدٌ (بالضمه والسکون)

٤. په شکل بدلیدو سره د زیادت نه لکه رَجُلٌ نه رِجَالٌ (الف)

٥. شکل بدلیدو سره د کم والي نه لکه: رَسُولٌ نه رُسُل (واو) حذف شوې دې

٦. شکل او په زیادت سره لکه غُلَام نه غِلمَان (الف از مفرد)

فائده: د جمع مکسر او جمع سالم ترمینځ فرق

جمع سالم یا تصحیح	جمع مکسر یا تکسیر
۱: برائې ذوي العقول مختص.	۱: عامه ده ذوي العقول وي او که غیر ذوي العقول وي
۲: بناء مفرد ده سالم اي سالم المفرد	۲: غیر سالم المفرد
۳: اعراب بالحرف	۳: اعراب بالحرکة

اوزان جمع تکسیر ثلاثي کې سماعي دي او رباعي او خماسي کې:

بروزن فعَالِلُ مي آيد لکه جَعفَرٌ مفرد. جمع د دې جَعَافِرُ راځي، رباعي دې
او جَحْمَرِشٌ خماسي دې جمع د دې جَحَامِرُ راځي نو شین ترینه حذف شو چې وزن د فَعَالِلُ برابر
شي
جَحْمَرِشٌ: بوډۍ ښځې ته وائي. جعفر: نوم د سړي دی. دارنګه کندې ته هم وائي، ختکي ته هم
وائي. خر ته هم وائي وغیره وغیره. شعر:
راغلی په کتاب زمونږ کې اسم د جعفر دی کنده، ختکی، دریم سړی څلورم خر دی
مقوله: رَأَيتُ جَعْفَرًا عَلَى جَعْفَرٍ يَأْكُلُ جَعْفَرًا.
(سمعته من عمي حضرت مولانه فضل احمد المعروف به شالپین بابا)

د جمعې اقسام په اعتبار د معنی سره

بدانکه جمع باعتبار معنی بر دو نوع است جمع قلت وجمع کثرت. جمع قلت آنست که بر کم از ده اطلاق کنند وآن راچهار بنا ست. اَفْعُلٌ، مثل اَکْلُبٌ واَفْعَالٌ چون اَقْوَالٌ واَفْعِلَة مِثْلُ اَغوِنَة وفِعْلَة چون غِلْمَة ودو جمع تصحیح بي الف ولام یعني مُسْلِمُوْنَ وَمُسْلِمَاتٌ.

ترجمه: پوهه شه چې جمع په اعتبار د معنی سره په دوه قسمه ده جمع قلت او جمع کثرت، جمع قلت هغه ده چې په کم د لسو نه د هغې اطلاق کیږي او ددې لپاره څلور اوزان دي.
تشریح: هر کله چې مصنف فارغ شو د جمع نه په اعتبار د لفظ سره چې جمع تصحیح او جمع تکسیر وه. نو شروع ئې وکړه په بیان د جمع کې په اعتبار د معنی سره او د اجمع دوه قسمه ده. ۱: جمع قلت. ۲: جمع کثرت.

اختلاف النحاة في تعریفهما

درې مذاهب دي:
۱: د مصنف په نزد باندې جمع قلت هغه ده چې درې وو نه تر نهو (۹) پورې اطلاق کیږي او جمع کثرت لس او دینه په زیاتو باندې
۲: قول: بعض نحات وائي: چې جمع قلت هغه چې د درې وو نه تر لسو پورې اطلاق کیږي او جمع کثرت یو لس او د دینه زیاتو باندې اطلاق کیږي.
۳: دریم قول د بعضو دا دې چې جمع قلت اطلاق د درې وو نه الی عشرة. او جمع کثرت من ثلث الی مالانهایة له

اوزان جمع قلت شپږ دي

۱: اَفْعُلٌ. اَكْلُبٌ جمع د كلبٌ ده	۲: اَفْعَالٌ. اَقْوَالٌ جمع د قولٌ	۳: اَفْعِلَة. اَرْغِفَة جمع د رغيفٌ
۴: فِعْلَة. غِلْمَة جمع د غلام ده	۵: فَاعِلُوْنَ. ضَارِبُوْنَ جمع د ضاربٌ	۶: فَاعِلَاتٌ. نَاصِرَاتٌ جمع د ناصرٌ

جمع سالم مذكر او جمع سالم مؤنث بغير د الف لام نه

وجمع کثرت آنست کې برده وبیشترازده اطلاق کنند وابنیة آن هرچه غیرازین شش بناست.

ترجمه: جمع کسرت هغه ده چې په لسو یا زیات د لسو نه د هغې اطلاق کیږي

تشریح: اوزان د جمع کثرت ډیر دي چې هغه علاوه د اوزانو د جمع قلت نه دي

(فتامل ولاتکن من الغافلین).

تشریح: کله کله اطلاق د جمع قلت په جمع کثرت باندې کیږي او کله بالعکس.


د جمع قلت اطلاق په کثرت چې لفظ کې به په وزن د قلت وي او معنیٰ به د جمع کثرت وي لکه اصحَابٌ شو. او مثال د جمع کثرت چې اطلاق په جمع قلت شوې وي. لکه قُرُوْءٌ شو چې جمع کثرت ده لکن معنی کې جمع قلت ده څکه حیض د (۱۰) لسو نه زیات نه وي

تمام الآية: (ثَلَاثَةَ قُرُوْءٍ).

سوالات تمرين

رُسُلٌ	شَرَائِفُ	اَنْوَارٌ
عُلُوْمٌ	اَلْمُسْلِمَاتُ	اَلْمُؤْمِنُوْنَ
اَخْيَارٌ	اَعْوَانٌ	فَاسِقُوْنَ
اَلْمُفْسِدُوْنَ		

تقسیم اسم باعتبار تعداد



✼✼✼✼✼✼✼✼✼

فصل

اعراب د اسم

په دې فصل کې غرض د مصنف رحمه الله. ۱: تعریف د اسم متمکن. ۲: اقسام د اسم متمکن بیانه وي.

بدانکه اعراب اسم سه است رفع ونصب وجر.

ترجمه: پوهه شه چې اعراب د اسم درې دي رفع نصب جر.

تشریح: په دې فصل کې بیان د يو خاص اعراب کوي چې هغه اعراب د اسم دې په دې قيد سره چې **اعراب د اسم:** پدې سره ترينه خارج شو اعراب د فعل مضارع ځکه هغه رفع نصب جزم دي، نه رفع نصب جر ځکه جر په افعالو کې نه راځي.

او سه است: سره اشاره ده چې دا مطلق اعراب نه دي ځکه هغه څلور دي

۱: رفع. ۲: نصب. ۳: جر. ٤: جزم.

جزم د مختصاتو د فعل نه دې. حاصل دا شو چې اعراب درې قسمه دې اول مطلق اعراب او هغه څلور دي

۱: رفع، نصب، جر، جزم

دويم: اعراب د اسم او هغه درې دي: رفع ،نصب، جر،

دريم: اعراب د فعل، او هغه درې دي. ۱: رفع. ۲: نصب. ۳: جزم.

جر مختص دې په اسم پورې. او جزم مختص دې په فعل پورې او دا دوه چې رفع او نصب دي ، مشترک دي بين الاسم والفعل جَاءَنِي زَيْدٌ. لَن يضرِبَ.

فائده: جزم ځکه خاص دې په افعالو پورې چې جزم اثر د حرف جازم دې او حرف جازم خاص دې په فعل پورې نو جزم به هم خاص وي په فعل پورې چې اثر د حرف جازم دې. دارنګه جر خاص دې په اسم پورې ځکه جر اثر د حرف جر دې الخ

قاعده: دا اعراب که د اسم وي او که د فعل وي په اخير کې به راځي نه په اول او نه په وسط کې ځکه اسم او فعل په منزله د موصوف دي او عراب په منزله دصفت دي او صفت وروستو د موصوف نه راځي نو اعراب به هم په اخير کې راځي.

اعراب دوه قسمه دې. ۱: اول: اعراب بالحرکة کوم چې مذکور دي

۲: دويم اعراب بالحرف. ۱: واو. ۲: الف ۳: يا.

اعراب بالحركة اصل او اعراب بالحرف فرع د اعراب بالحركة ده.

تفصيل: رفع علامه د فاعليت ده او دا رفع د درې وو اسماؤ سره تعلق لري او راځي پرې

۱: الضمة في المفردات. ۲: الف في التثنيه ۳: واو في الاسماء الستة المكبرة الموحدة

فالنصب علم المفعولية:

۱: بالكسرة في جمع المؤنث السالم

۲: بالفتحة في المفردات.

۳: بالياء في التثنيه والجمع.

٤: بالالف في اسماء الستة المكبرة الواحدة

والجر علامة الاضافة:

۱: بالكسرة في المفردات.

۲: بالفتحة في غير المنصرف.

۳: بالياء في التثنية والجمع.

اقسام د اسم متمكن

واسم متمكن باعتبار وجوه اعراب برشانزده قسم است.

ترجمه: اسم متمكن په اعتبار د وجوهو د اعراب سره په شپاړس قسمه دي

تشريح: هر كله چې فارغ شو مصنف دبيان د اقسامو د اعراب د اسم متمكن نه نو شروع ئې وكړه په بيان د اقسامو د اسم متمكن كې او دا شپاړس قسم اسم متمكن دي.

اول مفرد منصرف صحيح چون زيدٌ:

مفرد به وي تثنيه او جمع به نه وي اگر كه مضاف وي، منصرف به وي، غير منصرف به نه وي، صحيح به وي ناقص به نه وي لكن مراد د صحيح نه دلته صحيح دنحاتو دي.

پس صحيح ۲: دوه قسمه دي ۱: صحيح صرفي ۲: صحيح نحوي

صحيح صرفي ديته وائي چې په مقابله د فاء او لام او عين كلمه كې حرف علة او همزه او تضعيف نه وي لكه ضَرَبَ رَجُلٌ شو.

صحيح نحوي ديته وائي چې لام كلمه كې حرف علت نه وي اگر كه په ځائې د فا يا عين باندې حرف علت راغلې وي مثال: زيدٌ.

دا صحيح نحوي دي او اجوف دي عند الصراف.

دوم مفرد منصرف جاري مجرى صحيح چون دلو :

دويم قسم د شپاړس اقسامو د اسم متمكن نه په اعتبار د وجوه د اعراب سره جاري مجري صحيح دي.دا هغه اسم دي چې اخير كې واو يا حرف علت وي او ماقبل ترينه ساكن وي لكه دَلْوٌ اوظبي دا په شان د صحيح دې په تخفيف او عدم اعلال كې.

سوم جمع مكسر منصرف چون رِجَالٌ :

دريم جمع مكسر منصرف دې. جمع به وي مفرد به نه وي. مكسر به وي صحيح به نه وي منصرف به وي غير منصرف به نه وي ځكه ددوي اعراب بل شان ته راځي.

رفع شان بضمه باشد ونصب بفتح وجر بكسره چون جَاءَ نِي زَيدٌ. وَدَلْوٌ . وَرِجَالٌ . وَرَأَيتُ زَيدًا وَدَلْوًا. وَرِجَالًا. وَمَرَرْتُ بِزَيدٍ. وَدَلْوٍ. وَرِجَالٍ :

د دې دريو واړو قسمونو اعراب به لفظي وي تقديري به نه وي بالحركة به وي، بالحرف به نه وي احوال ثلاثو كې به وي، حالت واحده او حالتين كې به نه وي حالت رفعي به ئې په ضمې سره او حالت نصبي په فتحې سره او حالت جري به ئې په كسره سره وي.

دا قسم اعراب دي دريو واړو اسماؤ ته ځكه وركړې شو چې دا قسم د اسم نه اصل وؤ نو اصل وركړې شو اصل ته لپاره د مناسبت مثال مذكور في الكتاب.

چهارم جمع مؤنث سالم :

مؤنث سالم سره احتراز وكړو د جمع مذكر سالم نه ځكه د هغې اعراب جدا دې وسيأتي.

رفعش بضمه باشد ونصب وجر بكسره چون هُنَّ مُسْلِمَاتٌ وَرَأَيتُ مُسْلِمَاتٍ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ :

ددوي اعراب به بالحركت وي .لفظي به وي .او حالت نصبي به تابع د حالت جري وي

دا قسم اعراب جمع مؤنث سالمي ته ځكه وركړې شو چې جمع مؤنث سالم فرع د جمع مذكر سالم ده. او هغې كې حالت نصبي تابع د حالت جري وؤ.نو دلته به هم جمع مؤنث سالم كې حالت نصبي تابع د جري وي. لپاره د موافقت دفرع د اصل سره.مثال : هُنَّ مُسْلِمَاتٌ .رَأَيتُ مُسْلِمَاتٍ. مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ.

پنجم غير منصرف وآن اسميست كې دوسبب از اسباب منع صرف درو باشد :

ترجمه : پنځم قسم غير منصرف دي او دا هغه اسم دي چې دوه اسباب دا سبابو د منع صرف نه پديكې وي

تشريح : غير منصرف مقابل د منصرف دې غير منصرف ديته وائي چې د نهه اسبابو د منع صرف

ته به په دوي کې يو سبب چې قائمقام د سببين وي يا دوه سببه وي لکه مصنف تعريف کړيدي
نه به په دوي کې يو سبب چې قائمقام دسببين وي يا دوه سببه وي لکه مصنف تعريف کړيدي
په خپل قول سره: آن اسميست الخ او اسباب د منع صرف نهه دي
۱: عدل ۲: وصف ۳: تانيث ٤: معرفه ٥: عجمه ٦: ترکيب ۷: جمع ۸: وزن فعل ۹: الف نون زائد
تان والتفصيل في المطولات لايعلم ولا يفهم به المبتدي فلانذكره الآن، وسيأتي اجمالاً في موضعه

رفع شان بضمه باشد ونصب وجر بفتحه چون جَاءَ عُمَرُ وَرَأَيتُ عُمَرَ وَمَرَرتُ بِعُمَرَ.

په دې کې به اعرب لفظي وي تقديري به نه وي، بالحرکة به وي، بالحرف به نه وي. په حالاتو ثلاثو کې به نه وي بلکه بعض احوال به تابع د بعضو وي جر به تابع د نصب وي
دا قسم اعراب خکه ورکړې شو چې غير منصرف مشابه دې د فعل سره په وجود د فرعيتينو کې فعل محتاج دې فاعل ته په صدور کې او مصدر ته په اشتقاق کې او غير منصرف کې هم فرعتين دي خکه بناء د هر سبب په فرعيت ده نو دوه فرعي په غير منصرف کې شوي او فعل کې جر او تنوين نه راځي نو په غير منصرف کې به هم نه راځي. مثال: جَاءَنِي عُمَرُ رَأَيتُ عُمَرَ مَرَرتُ بِعُمَرَ

ششم اسماء سته مکبره در وقتيکې مضاف باشد بغير يائې متکلم. چون اَبٌ. اَخٌ. حَمٌ الخ.

ترجمه: شپږم قسم د اسم متمکن نه په اعتبار د اعراب سره اسماء سته موحده مکبره دي.
تشريح هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د اعراب لفظي بالحرکة نه نو شروع ئې وکړه په بيان د اعراب لفظي بالحرف کې. او دا راځي په احوال ثلاثو کې په اسماء سته موحده مکبره کې په دې شان سره چې په حالت رفعي کې واو، نصبي کې الف، او جري کې ياء ده.
اسماء سته مکبره شپږ اسماء دي: ۱: اَبٌ. ۲: اَخٌ. ۳: حَمٌ. ٤: هنٌ. ٥: فَمٌ. ٦: ذو.
معاني د دې معلومې او مشهوري دي لکن حَمٌ وائي قريب خپل ته د جانب د زوج نه چې ليور دې دده اضافت به صرف ضمير دمؤنث ته کيدې شي نه مذکر ته. د ذو اضافت به اسم جنس ته کيږي نه ضمير ته
په اسماء سته کې اعراب مذکور راځي نو د دې لپاره څلور شرائط دي
۱: واحد به وي دا اسماء، تثنيه او جمع به نه وي ورنه د دوي اعراب به د تثنيه او جمع وي لکه جَاءَنِي اَبَوَانِ وَرَأَيتُ اَبَوَينِ وَمَرَرتُ بِأَبَوَينِ.
۲: دويم شرط چې مکبر به وي مصغر به نه وي ورنه د دوي اعراب به د جاري مجرى صحيح والا

وي جَاءَنِي أَبِيْ. رَأَيْتُ أَبِيًا. مَرَرْتُ بِأَبِيْ

۳: دریم شرط دا دې چې مضاف به وي، ورنه د دې اعراب به د مفرد صحیح منصرف وي لکه جَاءَنِي أَبٌ رَأَيْتُ أَباً مَرَرْتُ بِأَبٍ. دا درې شرطه کتاب کې ذکر دي، اول شرط د کتاب دمثال نه معلومیږي جاءني ابوک رأیتُ اباک مررتُ بابیک.

٤: څلورم شرط دا دې چې اضافت به یاء د متکلم ته نه وي شوې ورنه د دوي اعراب به تقدیري وي لکه جَاءَنِي أَبِي رَأَيْتُ أَبِي مَرَرْتُ بِأَبِي

سوال: اسماء سته مفردات دي او مفرداتو کې اعراب بالحرکة وي نو دوي لره اعراب بالحرف ولې ورکړې شو ؟.

جواب: دا قسم اعراب (یعني اعراب بالحرف) ورلره ځکه ورکړې شو چې کامل وحشت او نفرت پیدا نشي په ټولو تثنیو او جمعو کې سره د مناسبت اشتقاقي نه په دې شان چې که مفرداتو لره اعراب بالحرکة ورکړې شي او تثنیو او جمعو لره اعراب بالحرف ورکړې شي نو نفرت راځي. نو بعض مفرداتو ته اعراب بالحرف ورکړې شو لکه اسماء سته ته، لپاره د دې چې د دوي وحشت او نفرت ختم شي بیا:

سوال: چې سته دې ولې او ویل ؟.

جواب: سته ئې ځکه او ویل چې درې حالات د تثنیه دي او درې حالات د جمع دي نو د هر حالت په مقابله کې اسم علیحده وضع شو.

سوال: او دا شپږ ئې ولې و ویل ؟

جواب: دا اسماء مشابه دي د تثنیه او جمع سره په تعدد کې د دوي معاني مُنبئ دي په تعدد سره لکه ابٌ هغه چاته وائي چې من له الابن او اخ هغه چاته وائي چې من له الاخ وغیره.

قاعده: فمٌ په اصل کې فُوه وو په دلیل د جمع مکسر چې افواه دې ځکه قانون دا دې التصاغیر والتکاسیر تردان الشيئ الي اصله بیا هاء حذف شوه خلاف القیاس برائې تخفیف فصار فُو أوس که واو باقي پاتې شي نو اعراب به په ده باندې جاري شي او دا صحیح نه ده نو أوس که واو متحرک او ماقبل مفتوح په الف بدل شي نو بیا التقاء الساکنین راځي په مابین د الف او تنوین کې، که الف حذف شي نو اسم یک حرفیز به پاتې شي او دا هم جائز نه ده نو بناء برضرورت واو په میم بدل شو ځکه دواړه قریب المخرج دي نو فمٌ شو.

قاعده: ذو په اصل کې ذَوُو وه نو یو واو ترینه حذف شو فاکلمي لره ضمه ورکړې شوه ذُو شو او دې به همیشه په اضافت سره الي الجنس مستعملیږي ذومال، خاوند دمال.

فائده: اسماء سته کې اعراب بالحرکت شي او که بالحرف شي نو اختلاف د نحاتو دې، جمهور بصرين وائي: اعراب بالحرکة تقديري به وي
سيبويه او ابو علي وائي: اعراب لفظي بالحرف به وي

هفتم مثني چون رَجُلَانِ، هشتم كِلَا وَكِلْتَا مضاف بمضمر

ترجمه: اووم قسم مثني ده لکه رجلان او اتم کلا او کلتا دي

تشريح کلا او کلتا کې دوه اعتباره دي ۱: اعراب بالحرکة چې اضافت د دوي اسم ظاهر ته اوشي لکه جاءني کلا الرجلين رأيتُ کلا الرجلين مررتُ بکلا الرجلين.
نو د دوی اعراب به اعراب بالحرکت تقديري وی مثل الف مقصور.
۲: اعراب بالحرف: په حالت رفعي کې الف، په نصبي او جري کې ياء ماقبل مفتوح کله چې اضافت ضمير ته اوشي لکه جاءنی کلاهما رأيت کليهما مررتُ بکليهما دلته مصنف ځکه قيد د اضافت الي الضمير اوويل.

قاعده: کلا او کلتا لفظاً مفرد معنا تثنيه دي، په احکامو کې لحاظ کله د مفرد کيدې شي او کله د تثنيه، کلتا مفرد لفظاً دي ځکه د تثنيه تعريف پرې صادق نه دی.

نهم اِثْنَانِ وَاثْنَتَانِ رفع شان بالف باشد ونصب وجربيا ماقبل مفتوح چون جَاءَنِی رَجُلَانِ وَكِلَاهُمَا وَاثْنَانِ وَرَأَيتُ رَجُلَيْنِ وَكِلَيهِمَا وَاثْنَيْنِ وَمَرَرْتُ بِرَجُلَيْنِ وَكِلَيهِمَا وَاثْنَيْنِ.

تشريح: دا دواړه صورة تثنيه دي اعراب د اُوم او اتم او نهم په حالت رفعي کې الف او نصبي جری کې ياء ماقبل مفتوح د دواړو اخير کې نون مکسوره دی.

دهم جمع مذکر سالم چون مُسْلِمُوْنَ. يازدهم: اُوْلُوْا، دوزدهم: عِشْرُوْنَ تَاتِسْعُوْنَ رفع شان بواو ماقبل مضموم باشد ونصب وجربيائي ماقبل مکسورچون جَاءَ مُسْلِمُوْنَ وَاُولُوْمَالٍ وَعِشْرُوْنَ رَجُلًا وَرَأَيتُ مُسْلِمِينَ وَاُولِي مَالٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِينَ وَاُولِي مَالٍ وَعِشْرِينَ رَجُلًا.

تشريح: اعراب: حالت رفعي بالواو نصبي وجري بالياء المکسورة ماقبلها نون مفتوح اخير کې.
دليل داعراب د تثنيه او جمع مع ملحقاتها .حروف، اعراب درې وو ، او حالات شپږ وؤ.درې د تثنيه او درې د جمع نو که دا اعراب تثنيه ته ورکړې شي نو جمع به بلا اعراب پاتي شي.او که جمع ته ورکړې شي نو تثنيه به بلا اعراب پاتې شي او که کډوډ ورکړې شي.نو التباس راځي بين التثنيه والجمع، لهذا تقسيم اُوکړې شو.الف تثنيه ته ورکړې شو په حالت رفعي کې ځکه دا ضمير د فاعل دي په افعالو د تثنيه کې لکه ضربا.واو جمع لره ورکړې شو په حالت رفعي

کې څکه دا ضمیر د فاعل دي په افعالو د جمع کې. لکه ضربوا اویا، مشترکه کړي شوه په تثنیه اوجمع کې .لکن فرق وکړي شو پدي شان چې ماقبل د یاء نه مفتوح وي په تثنیه کې اوماقبل دیاء نه مکسور وي په جمع کې.دا په حالت نصبي اوجري کې لپاره د فرق بین التثنیه والجمع .اوفرق په نون سره نه دي کړي شوي څکه چې نون په اضافت سره ساقط کیږي نو بیا به التباس راځي د تثنیه اوجمع. لهذا دا فارق ونه ګرځولي شو. یعني حرکت دده بین التثنیه والجمع.

سیزدهم اسم مقصور وآن اسمیست کې در آخرش الف مقصوره باشدچون مُوْسٰی چاردهم غیر جمع مذکر سالم مضاف بیائي متکلم .چون غُلَامِي رفع شان بتقدیرضمه باشد ونصب بتقدیرفتحه وجربتقدیرکسره ودرلفظ همیشه یکسان باشندچون جَاءَ مُوْسٰی وَغُلَامِي وَرَءَیتُ مُوْسٰی وَغُلَامِي وَمَرَرْتُ بِمُوْسٰی وَغُلَامِي.

تشریح اعراب د دوي په دريْ واړه حالتونو کې بالحرکت تقدیري دي جاء ني موسي اوغلامي الخ اسم مقصور کې به اعراب بالحرکة تقدیري وي څکه اخیر د دې کې الف دي اوهغه وضعي ساکن دي، قابل د حرکت نه دي لفظاً نو تقدیراً پکې اعراب راځي.

اوهر چې غلامي کې تقدیري دې څکه اخیر کې حرف علت یا،ضعیفه راغلې ده، دا هم برداشت د حرکاتو نه شي کولې یا ماقبل د یاء نه میم دې اوهغې باندې د وجې د یاء نه کسره راغلې ده، نو بل حرکت پرې نشي راتلې.

پانزدهم اسم منقوص وآن اسمیست کې آخرش یائي ماقبل مکسورباشدچون قَاضِي رفعش بتقدیرضمه باشد ونصبش بفتحه لفظي وجرش بتقدیرکسره چون جَاءَ الْقَاضِي وَرَأَیتُ الْقَاضِي وَمَرَرْتُ بِالْقَاضِي.

ترجمه: پنځلسم قسم اسم منقوص دي اودا هغه اسم دي چې په آخرکې ئي یاء ماقبل مکسور وي لکه قاضِي شو ، رفع به ئي په تقدیرد ضمي سره وي اونصب به ئي په فتحه لفظي سره وي اوجربه ئي په تقدیرد کسري سره وي لکه جَاءَ الْقَاضِي او رَأَیتُ الْقَاضِي اومَرَرْتُ بِالْقَاضِي.

تشریح: دا هر هغه اسم دې چې اخیر کې ئي یاء وي اوماقبل ترینه مکسور وي.

د دې اعراب: حالت رفعي اوجري په تقدیر د حرکت سره چې ضمه اوکسره ده اوحالت نصبي په فتحه لفظي سره. دوه حالتینو کې به تقدیري وي څکه یاء حرف علت ضعیفه دې برداشت د ضمې اوکسرې نشي کولې اوفتحه خفیفه ده نودا برداشت کولې شي. جَاءَ الْقَاضِي. رَأَیتُ الْقَاضِي. مَرَرْتُ بِالْقَاضِي.

شانزدهم جمع مذکر سالم مضاف بیائي متکلم چون مُسْلِمِي رفعش بتقدیر واو باشد ونصب وجرش بیائي ماقبل

مکسورچون هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ کې دراصل مُسْلِمُوْنَ بود نون باضافت ساقط شد واو ویاجمع شده بودند وسابق ساکن بود واو رایابدل کردند ویا رادر یا ادغام کردند مُسْلِمِيَّ شدضمّه میم رابکسره بدل کردند وَرَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ وَمَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ

ترجمه: شپارسم قسم جمع مذکر سالمه ده چې مضاف وي یاء د متکلم ته لکه مُسْلِمِيَّ شو، رفع ئې په تقدیر د واو سره، نصب او جرئې په یاء سره چې ماقبل ترې کسره وي لکه هٰؤُلَاءِ مُسْلِمِيَّ چې دا په اصل کې مُسْلِمُوْنَ وو نون په اضافت سره اُوغورځیدو واو او یاء جمع شو، مخکې ساکن وو، واو په یاء سره بدل شو او یاء په یاء کې ادغام شوه مُسْلِمِيَّ شو، ضمه د میم مو په کسره سره بدله کړه لکه مُسْلِمِيَّ شو.

تشریح: چې اضافت د دې یاء د متکلم ته شوې وي لکه مُسْلِمِيَّ

اعراب د دې قسم: بالحرف تقدیراً رفعاً په واو سره او نصباً او جراً ملفوظاً په یاء سره حالت رفعي کې تقدیر د واو دې ځکه په دې حالت کې ابدال شوې دې او ابدال سره شي د حقیقت نه اُوځي او نصبي جري کې ادغام شوې دې او ادغام سره شي باقي وي د حقیقت نه نه اُوځي

نقشه اسم متمکن شانزده اقسام

(۸) صورت اعراب بالحرکة

۱: رفع. ۲: نصب. ۳: جر

لفظی

احوال ثلاثة

۱: مفرد منصرف صحیح: زید.

۲: جاری مجرای صحیح: دلو، ظبی

۳: جمع مکسر منصرف: رجال.

بالضمة رفعًا والفتحة نصبًا والکسرة جرا

حالتین

۴: غیر منصرف بالضمة رفعًا والفتحة نصبًا وجرًا

جاءَنِي اَحْمَدُ الخ

۵: جمع مؤنث سالم بالضمة رفعًا والکسرة

مُسْلِمَاتٍ

تقدیری

احوال ثلاثة

۶: اسم مقصور موسی.

بالضمة والکسرة والفتحة تقدیرا.

۷: غلامی

حالتین

۸: اسم منقوص القاضی

رفعًا وجرًا تقدیرًا ونصبًا لفظًا



د اعراب بالحرف (۸) صورتونه

۱: واو. ۲: الف. ۳: یاء.

لفظي

احوال ثلاثه

۹: اسماء سته

اب اخ حم الخ

بالواو رفعا

والالف نصبًا

والياء جرا

حالتين

۱۰: تثنیه. ۱۱: ملحقات تثنيه.

۱۲: مشابه بالتثنية بالواو رفعا والياء نصبا جرا

۱۳: جمع مذكر سالم مسلمون مسلمين

۱٤: ملحق بالجمع أولوا.

۱۵: مشابه بالجمع عشرون تا تسعون

تقديري

حالت واحدة

۱٦: جمع مذكر سالم مضاف بياء متكلم مسلمي بالواو رفعا تقديرا

والياء نصبا وجرا لفظا

سوالات تمرين اسم متمكن (١٦) اقسام

وَاللهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ	وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيماً
اَلرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي كِلَاهُمَا فِي النَّارِ	وَوَاعَدْنَا مُوْسٰي ثَلَاثِيْنَ لَيْلَةً
اِنَّمَا يَتَذَكَّرُ اُولُوا الْاَلْبَابِ	اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَي اللهِ مَسَاجِدُهَا
وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ	يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهٗ اَحْمَدُ.

اجراء آيت: يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهٗ اَحْمَدُ.

(يَأْتِي) مضارع مهموز الفاء وناقص يائي.

(مِنْ): حرف جر.

(بَعْدِي): ظرف زمان حالت معرب اعراب لفظي بالحركت حالت جري به من.

(اِسْمُهٗ): فاعل يأتي مرفوع حالت رفعي ضمير مجرور مضاف اليه اعرابه جر حالت جري

(اَحْمَدُ): غير منصرف حالت رفعي فيه علم ووزن الفعل بدل اسمه مبدل منه

(فائده نافعه) برائې اجراء اسباق مذكوره سابقه

١: دوه اقسام عبارت دي د مفرد او مركب نه
٢: سه اقسام: عبارت دي د اسم ، فعل او حرف نه
٣: چهار اقسام: عبارت دي د:
١: ثلاثي مجرد. ٢: ثلاثي مزيد فيه ٣: رباعي مجرد . ٤: رباعي مزيد فيه
٤: پنج اقسام: عبارت دي د:
١: ثلاثي مجرد. ٢: ثلاثي مزيد فيه ٣: رباعي مجرد. ٤: رباعي مزيد فيه ٥: خماسي مجرد.
٥: هفت اقسام عبارت دي د:
١: صحيح ٢: مهموز ٣: مضاعف ٤: مثال ٥: اجوف ٦: ناقص. ٧: لفيف.
٦: نه اقسام عبارت دي د:
١: ماضي. ٢: مضارع ٣: امر. ٤: نهي ٥: اسم فاعل ٦: اسم مفعول. ٧: اسم تفضيل ٨: اسم آله. ٩: اسم ظرف.
٧: چهارده اقسام عبارت دی د څوارلس صيغو د ماضي او څوارلس صيغو د مضارع نه.
٨: شانزده اقسام عبارت دی د اسم متمكن د شپاړس اقسامو نه په اعتبار د اعراب سره په طور د مثال لفظ زَيدٌ كې د دې اجراء.

د شپارس اقساموا جراء

	٢ اقسام	٣ اقسام	٤ اقسام	٥ اقسام	٧ اقسام	٩ اقسام	١٤ اقسام	١٦ اقسام	حالت اعرابي
زيد	مفرد	اسم	ثلاثي مجرد	ثلاثي مجرد	صحيح عند النحات اجوف عند الصراف	نشته	نشته	قسم اول	بالضمة رفعا والفتحة نصبا والكسرة جرا
مدرسة	+	+	+		صحيح الصراف	اسم ظرف	-	+	بالكسرة جرا
قال	بدون الضمير	فعل	+	+	اجوف واوی	ماضي غائب	واحد مذكر	-	مبني اصل
هل	+	حرف	-	-	-	-	-	-	مبني حرف
من	+	حرف	-	-	-	-	-	-	مبني حرف
اكرم	+	فعل	ثلاثي مزيد فيه	ثلاثي مزيد فيه	صحيح	ماضي	واحد مذكر	-	ماضي مبني الاصل
احمد	+	اسم		ثلاثي مزيد فيه	+	-	-	غير منصرف	مرفوع بالضمه

فصل

اعراب د فعل مضارع

بدانكه اعراب مضارع سه است رفع نصب وجزم. وفعل مضارع باعتبار وجوه اعراب برچهار قسم ست.

ترجمه: پوهه شه چې اعراب دمضارع درې دي رفع،نصب،جزم ،فعل مضارع په اعتبار د وجوهو د اعراب سره په څلور قسمه ده.

تشریح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اعراب د اسم متمکن نه نو شروع ئې وکړه په بیان د اعراب د فعل مضارع کې. ماضي او امرنه وائي اګر که هغه د افعالو نه دي ځکه دوي مبني دي

فعل مضارع سره ترینه ماضي او امر حاضر خارج شو.اوامر غائب اونهي (، جحد تول پکې داخل دي ځکه دوي معرب دي

اوبل دارنګه بدانکه اعراب مضارع الخ رفع د مضارع به هغه وخت وي چې مضارع خالي وي د ناصب اوجازم نه اونصب به په هغه وخت کې وي چې عامل د نصب پرې داخل وي او جزم به په هغه وخت کې وي چې عامل جازم پرې داخل وي لکه يضرِبُ.لَنْ يضرِبَ.لَمْ يضرِبْ.

هرکله چې اعراب د فعل مضارع درې شو نو فعل مضارع په اعتبار د اقسامو د اعراب سره څلور قسمه ده.

اول صحيح مجرداز ضميربارز مرفوع برائي تثنيه وجمع مذكروبرائي واحدمونث مخاطب الخ

ترجمه: اول مفرد صحيح مجرد .۲: قسم ثاني تثنيه وجمع.

۳: قسم ثالث معتل واوي وياي ٤: قسم رابع معتل الفي.

تفصيل واحكام لكل واحد : قسم اول بالضمة رفعاً والفتحة نصباو بالسكون جزماً د دې لپاره پنځه صيغې دمضارع دي.

۱: يفْعَلُ: واحد مذكر غائب.

۲: تَفْعَلُ: واحده مؤنثه غائبه

۲: تَفْعَلُ: واحد مذكر مَخاطب

٤: اَفْعَلُ: واحد متكلم

٥: نَفْعَلُ: متكلم مع الغير. هو يفْعَلُ. لَنْ تَنْصُرَ. لَمْ يعْلَمْ.

۲ دويم قسم ۱: تثنيه ۲: مع واحد مؤنثه مخاطبه.
لکن جمع مؤنث غائبه او جمع مؤنث مخاطبه پکې نه دي شمار ، هغه مبني دي
اعراب د دې قسم رفع باثبات النون نصب وجزم بسقوط النون.
د دې لپاره ۷: اوه صيغې د مضارع دي.

۱: يفعلانِ: تثنيه غائب مذکر.

۲: تفعلانِ: تثنيه غائبه.

۳: تفعلانِ: تثنيه مذکر مخاطب.

٤: تفعلينَ: واحده مؤنثه مخاطبه

٥: تفعلانِ: تثنيه مخاطبه مؤنثه

٦: يفعلونَ: جمع مذکر غائب.

۷: تفعلونَ: جمع مذکر مخاطب.

مثال د (تثنيه) حالت رفعي ونصبي وجزمي: هما يفعلانِ ويدعوانِ ويرميانِ ويرضيانِ. لن يفعلا ولن يدعوا ولن يرميا ولن يرضيا ولم يفعلا ولم يدعوا ولم يرميا ولم يرضيا.

مثال د مؤنث مخاطب: أنتِ تفعلينَ وتدعينَ وترمينَ وترضينَ لن تفعلي ولن تدعي ولن ترمي ولن ترضي ولم تفعلي لم تدعي ولم ترمي ولم ترضي.

مثال د جمع مذکر غائب: هم يفعلونَ ويدعونَ ويرمونَ ويرضونَ. لن يفعلوا ولن يدعوا ولن يرموا ولن يرضوا. دا رنګه مؤنث مخاطب. وقس عليه.

يادونه: تثنيه او جمع او واحد مؤنث مخاطبه عامه ده کې صحيح وي او که معتل واوي وي او که يائي وي او که معتل الفي وي د دې ټولو اعراب يو دي حالت رفعي باثبات النون، حالت نصبي وجزمي بسقوط النون راځي.

دريم قسم: معتل واوي ويائي مفرد چون يدعو ويرمي.
هغه مفردات مراد دي کوم چې قسم اول کې ذکر دي

۱: يدعو. ۱: يرضي ۱: يرمي

۲: تدعو. ۲: ترضى ۲: ترمي

۲: اُدْعُوْ. ۳: اَرْضیٰ ۳: اَرْمِي

٤: نَدْعُوْ. ٤: نَرْضیٰ. ٤: نَرْمِي

۵: اَرْضیٰ. ۵: نَرْضیٰ

اعراب د دوي په حالت رفعي کښ تقدير د ضمه اونصبي کښ اظهار د فتحه اوجزمي کښ بحذف الواووالياء: هوَ يدْعُوْ ويرْمِي لَنْ يدْعُوَ لَنْ يرْمِيَ لَمْ يدْعُ لَمْ يرْمِ.

څلورم قسم معتل الفي مفرد: ۱: يرْضیٰ. ۲: تَرْضیٰ. ۳: تَرْضیٰ. ٤: اَرْضیٰ. ۵: نَرْضیٰ.

اعراب د دوي درحالت رفع ونصب تقدير ضمه وفتحه ودرحالت جزم بسقوط الف:

۱: هوَ يرْضیٰ. ۲: وَلَنْ يرْضیٰ. ۳: ولَمْ يرْضَ.


د اول قسم حکم اودليل: دا اعراب ځکه اول قسم ته ورکړې شو چې دا قسم د اعراب نه اصل وؤ.او دا قسم د مضارع نه اصل وو.نو اصل ئې اصل ته ورکړو لپاره د مناسبت.

د دويم قسم داعراب حکم اودليل: حالت رفعي کښ اثبات د نون اوجزمي اونصبي کښ سقوط د نون.دا ځکه چې نون په شان د حرکت د مفرد دې اوحرکت دمفرد په حالت رفعي کښ ثابت وي اونصبي اوجزمي کښ ساقط وي نو دلته به هم داسې وي.

د دريم قسم داعراب حکم اودليل: حالت رفعي کښ تقدير د ضمه اوجزمي کښ سقوط دحرف اونصبي کښ اظهار د حرکت.ځکه ضمه ثقيله ده په واو او ياء باندې چې حرف علت ضعيفه دې نو تقديري به وي.اونصبي کښ فتحه وي او داحرف علت برداشت کولې شي ځکه خفيفه ده.اوجزمي کښ حرف علت ساقط وي ځکه حرف علت په شان دحرکت دې اوجازم حرکت غورځوي چې دا نوي نو حرف علت غورځوي.

د څلورم قسم د اعراب حکم اودليل: رفعي اونصبي کښ تقديرد ضمې اوفتحې دې ځکه اخير د دې کښ الف دې اوالف وضعي ساکن دې، حرکت نه قبلوي او جزمي کښ سقوط د الف دې ځکه حرف علت په شان د حرکت دې اوعامل جازم حرکت غورځوي، چې دا نوي نو حرف علت غورځوي.

(اعراب مضارع سه قسم است) رفع، نصب، جزم؛ و مضارع به چهار قسم است.



سوالات تمرین

فعل مضارع باعتبار الاعراب.

لَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى	لَنْ نَّدْعُوَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلٰهًا
اُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ اِلَى اللّٰهِ	تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا
وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا
قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا	

لَمْ: حرف جازم من عوامل المضارع مبني الاصل

یلِدْ: مضارع مجزوم بلم بسقوط الحرکۃ دراصل یولِد بود فحذف الواو بقانون یعِدُ.

یولَدْ: مضارع مجهول مجزوم بلم بسقوط الحرکۃ ولم یحذف الواو بقانون یؤکلُ.(زرادي)

مضارع	مفرد صحیح	تثنیه	جمع	معتل واوی	معتل یایی	معتل الفی	اعراب
لَمْ یلِدْ	مفرد عند النحاۃ	.	.	.	.	.	مجزوم بحرف الجازم (لم)
أُقْرِضُ	+	.	.	.	.	.	مرفوع لم یدخل علیه الناصب والجازم
یدْعُونَ	.	.	+	ناقص واوي	ناقص واوی	.	مرفوع حالت الرفع باثبات النون
لَنْ تَرْضٰی	مفرد	.	.	.	.	+	منصوب بحرف الناصب حالت النصب (لن)
اَنْ تَدْخُلُوْا	.	.	+	.	.	.	منصوب (بأن) حالت النصب بسقوط النون
یقْرِضُ	+	.	.	.	.	.	مرفوع لم یدخل علیه الناصب والجازم
تُؤْثِرُوْنَ	.	.	+	مهموز	.	.	مرفوع حالت الرفع باثبات النون
سَیقُوْلُ	+عند النحاۃ	.	.	.	/	.	مرفوع لم یدخل علیه الناصب والجازم
یرِیدَانِ	.	+	.	.	.	.	مرفوع حالۃ الرفع باثبات النون

فصل

بیان د عواملو د اعراب

بدانکه عوامل اعراب بر دوقسم است لفظي ومعنوي. لفظي برسه قسم است حروف وافعال واسماء واین رادرسه باب یادکنیم ان شاء الله تعالی.

ترجمه: پوهه شه چې عوامل د اعراب په دوه قسمه دي لفظي او معنوي، لفظي په درې قسمه دي حروف او افعال او اسماء. او دا به په درې بابونو کې یاد کړو انشاء الله تعالی.

تشریح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اعراب د اسم متمکن او د بیان د اعراب د فعل مضارع نه نو شروع ئې وکړه په بیان د عواملو کې.

عوامل جمع د عامل ده، عامل په لغت کې مؤثر ته وائي. او په اصطلاح کې عامل په دوه قسمه دي ۱: عامل د اسم. ۲: مطلق عامل.

عامل د اسم دیته وائي چې حاصلیږي په هغه سره معنی مقتضیه د اعراب. چې هغه فاعلیت، مفعولیت او اضافت دي.

او مطلق عامل دیته وائي چې ګرځوی آخر د کلمې په یوه وجه خاصې سره چې اعراب یا بناء ده.

عامل په اعتبار د تلفظ او عدم تلفظ سره په دوه قسمه دي: ۱: لفظي. ۲: معنوي.

لفظي عامل دیته وائي: مَایَتَصَوَّرُ فِي القَلْبِ وَیَتَلَفَّظُ بِه. مثلاً لَن شو په لَن یضرِبَ کې. چې دا عامل لفظي دې، تلفظ پرې هم کیږي او متصور في القلب هم دي.

عامل معنوي: دیته وائي: مایتصور في القلب ولایتلفظ به مثلا: زیدٌ قَائمٌ. په زیدٌ کې چې مبتدأ ده. او په قائم کې چې د مبتدأ خبر دی هغه عامل معنوي دی نو هغه څه شي دی؟ تلفظ پرې نشي کیدې.

عامل لفظي بیا په دوه قسمه دی

۱: سماعي. ۲: قیاسي:

سماعي: دیته وائي مایسمع من العرب ولایقاس علیه

قیاسي: دیته وائي مایسمع من العرب ویقاس علیه

بیا عوامل لفظیه سماعیه درې قسمه دي:

۱: حروف عامله. ۲: افعال عامله ۳: اسماء عامله.

حروف عامله مخکې شو په افعال عاملو او اسماء عاملو باندې ځکه دا ډیر دي. او اَلعِزَّةُ لِلتَّکَاثُرِ. او افعال عامله مخکې شو په اسماء عامله ؤ باندې ځکه اصل په عمل کې فعل دي.

د دې عواملو تفصيل مصنف کوي په درې بابونو کې نو پس داسې ئې وويل : باب اول
درحروف عامله الخ

فائده نافعه او غريبه

(لِيُنفِقْ ذُوْسَعَةٍ مِنْ سَعَتِهٖ)

لِيُنفِق: اللام: لام الامر ينفق: مضارع مجزوم بلام الامر. ذو فاعل مرفوع وعلامة رفعه الواو
لانه من الاسماء الستة .سَعة: مضاف اليه مجرور من سعته جارومجرور متعلق بفعل ينفق
والهاء ضمير متصل في محل جر مضاف اليه.

ينفق: مضارع مرتفصيله ذو.اي صاحب مرّ تفصيله في اسماء الستة واقسامه مِن جار سيأتي
تفصيله سعته: مضاف ومضاف اليه سيأتي تفصيل المضاف و(ه) ضمير مر تفصيله

فائده: د لام ډير اقسام دي ۱ : لام الامر.

۲: لام ابتدائيه: علامه دده دا ده چې دا به مفتوحه وي معنى کې به تاکيد پيداکوي داخليږي
به په مبتدأ او خبر باندې ولاعمل لها.

مثال لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهبَةً : ترکيب : لام ابتدائيه لاعمل لها ، انتم : ضمير منفصل في محل رفع
مبتداء. اَشَدُّ خبر مرفوع، رَهبَةً: تمييز منصوب

۳:لام فارقه: دا لام فرق راولي د اِنْ مخففه د اِنَّ مثقله نه او د اِن نافيه

مثال: اِنْ خَالِدٌ لَمُسَافِرٌ.
اِن مخفف زائد من المثقل لاعمل لها ، خالدٌ مبتدأ مرفوع لمسافر: لام فارقه مُسافِرخبرمرفوع

۴:لام زائده: دا دوه قسمه دي:
۱:لام زائده عامله جاره.مثال: رَدِفَ لكم. ۲: لام زائده غير عامله دا زياتولې شي اکثر په خبر
دمبتداء کې مثال: سعيد لكاتب. يا په خبر د اَنَّ مفتوحة الهمزه کې:
اِلَّآ اَنَّهُمْ لَيَأْكُلُوْنَ الطَّعَامَ: يا په خبر د لكن حرف مشبه بالفعل کې
لٰكِنَّ زَيدًا لَمُسَافِرٌ.

۵:بل لام راځي په جواب د لو کې يا لولا کې دا هم غير عامل دي
مثال :(لَوْكَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ اِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا)

تركيب : لَوْ حرف شرط غير جازمه .كانَ : فعل ماضي تام. فيهما : جارومجرور متعلقان بفعل كان آلهة : فاعل مرفوع الا الله : الكلمتان بحكم الكلمة الواحدة.الا بمعنى غير صفة آلهة.

لفسدتا : اللام واقعة في جواب لو ولاعمل لها.فَسَدَتَا : فعل ماضي مبني علي الفتح والتاء للتانيث والالف ضمير متصل في محل رفع فاعل جملة (كان الهة) ابتدائية لامحل لها من الاعراب، فسدتا جواب شرط غير جازم لامحل لها من الاعراب.

مثال لام داخلة في جواب لولا .(وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَفَسَدَتِ الْأَرْضُ)

٢: اللام واقعة في جواب القسم لاعمل لها ايضاً (تَاللهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ)

٧: اللام للبعد: وهي داخلة علي اسماء الاشارة وتفيد انّ المشاراليه بعيد.مثال : (وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ).

باب اول درحروف عامله ودرودو فصل است

تشریح: په دې باب کې فصلین دي اول فصل په بیان دهغه حروف عاملو کې دې چې په اسم باندې داخلیږي او په هغې کې به عمل کوي

اوداحروف عامله پنځه قسمه دي:۱: حروف جاره. ۲: حروف مشبه بالفعل ۳: ماولا المشبهتینْ بلیس. ٤: لالنفي الجنس. ٥: حروف نداء.

په دې کې قسم اول اوپنځم قسم په یو اسم داخلیږي په هغې کې عمل کوي، اودویم دریم اوڅلورم په اسمینو داخلیږي اوپه هغې کې عمل کوي.

قسم اول حروف جر وآن هفتده است:

حروف جاره اولس (۱۷) دي، مشهور لکه د نظم مأة عامل په شعر کې ذکر دي

باوتاوکاف ولام ،واو، منذ، مذ، خلا رُبَّ حاشامن عدا، في عن علي حتی اِلیٰ

دجر تعریف: اَلجَرُّ حرکة اوحرف تَدلُّ علي کون الاسم مضافاً الیه

دحروف جاره تعریف: ما وضع للافضاء بالفعل وشبهه الي مدخوله مثال د فعل: مررتُ بزید.

مثال د شبه فعل: آنه مَارٌّ بِزَیدٍ

قاعده: زده کړه دا خبره چې په حروفو کې لابدي ده د معرفت د امور خمسه ؤ نه. ۱: ذات د حروفو.

۲: نوم ددې ۳: عمل ددې. ٤: عدد ددې. ٥: مدخول ددې

۱: ذات دحروف جاره حروف دي

۲: عمل ددوي جردې مدخول خپل ته.

۳: عدد دحروف جاره و اولس (۱۷) دي مشهور. اوابن حاجب اتلس (۱۸) ذکر کړیدي په زیادت د واو رُبَّ سره. دارنګه بعض نحاتو غیر مشهور نور هم ذکر کړیدي نقشه کې به د هغې ذکر اُوشي اجمالاً.

(٤: مدخول دحروف جاره و اسم دې، حقیقي اسم وي اوکه تاویلي وي، دتاویلي مثال لکه: قَامَ زَیدٌ لِیصَلِّي اَي لِلصَّلٰوة.

٥: اسماء د دوي ۱: حروف جاره دي۲: حروف المعاني دي ۳: حروف الاضافة دي مثال: اَلمَالُ لِزَیدٍ مذکورفي الکتب.

قاعده: حروف جاره مخکې متعلق غواړي دا متعلق به کله لفظاً مخکې ذکر وي لکه مَرَرتُ بِزَیدٍ متعلق د باء مررت دې، دیته ظرف لغوه هم وائي اوکله به محذوف وي متعلق دحروفو لکه: زَیدٌ فِي الدار . د دې حرف جر چې في دې متعلق ثَبَتَ دې یا ثابت دې بنا بر اختلاف بین الکوفیین والبصرین

بصرین متعلق د ظرف مستقر فعل وائي، اوکوفیین متعلق دظرف مستقر اسم وائي دیته ظرف مستقر وائي. متعلق دظرف مستقر کې بیا هم اختلاف دې

چې فعل عام وي اوکه فعل خاص وی

بعض فعل عامه وائي اوبعض فعل خاصه وائي.

افعال عامه مشهور څلور دي (شعر)

افعال عموم چهار هستند نزد ارباب عقول کون است، ثبوت است، وجوداست، حصول

قاعده: بعض حروف جاره داسې دي چې متعلق نه غواړي هغه حروف جاره زائده: رُبَّ لولا لعل لات حاشا. خلا. عدا دي.

بعض نحاة وائي دلات متعلق په دې ایت کې (فَنَادَوْا وَلَاتَ حِينَ مَنَاصٍ) اِستَغَاثُوْا دې لات ترینه مستثنیٰ دی. شعر:

چند حرف بدان مستغني ازمتعلق رُبَّ، حَاشَا، لَاتَ، لَوْلَا هم خلا دیگر عدا

هم لعل دیگر پس حرف زائد در کلام سابقاً تفصیل هر زائد بیان کردم ترا

فائده: کې چرې متعلق ظرف مستقر د افعال عامه نه وو نو څلور مقاماتو کې به حذف د دې فعل لازم وي

۱: مبتداء لپاره چې خبر واقع شي زَيدٌ فِي الدَّارِ اَي ثَبَتَ یا ثَابِتٌ.

۲: صله د موصول کې اَلَّذِي فِي الدَّارِ قَائِمٌ اَي ثَبَتَ یا ثَابِتٌ

۳: صفت د موصوف کې.


٤: ذوالحال لپاره حال واقع شي.

والله اعلم بالصواب (وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ).

عن عائشة رضي الله عنها قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (مَنْ قَالَ اِنَّ مُحَمَّدًا يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ اَعْظَمَ عَلَي اللهِ الْفِرْيَةَ) (الحديث).

دحروف جاره ؤ د هر حرف معاني په مصباح العوامل شرح پښتو شرح مأته عامل کې ذکر دي تفصيلاً فليطلب منه.

نقشه بحث سابقه



سوالات تمرين

إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحاً طَوِيلاً	اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ
فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ	وَتَاللّٰهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَامَكُمْ
لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ	وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ

اجراء آيت : وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ

وَمِنَ: واو حرف غير عامله مبني الاصل

مِنَ: حرف جاره عامله مبني الاصل

النَّاس: مجرور بالكسرة لفظاً معرب قسم اول در (۱۶) اقسام

مَنْ: موصولة مشتركه اسم مبني استعماله في ذوي العقول غالباً وغير ذوي العقول قليلاً

يقول: مضارع اجوف واوي قياس بر نَصَرَ يَنصُرُ معرب حالت رفعي مجرد ازعامل ناصب وجازم

آمَنَّا: ماضي معلوم مهموز الفاء مبني الاصل، ضمير مرفوع متصل فاعل براي فعل اسم مبني.

بِاللّٰهِ: باء جار. الله: مفرد منصرف لفظاً مجرور باء

تركيب: من: جار. الناس: مجرور لفظاً جار بامجرور ظرف مستقر ثابت سره تعلق لري. ثابت سره د خپل متعلق نه خبر مقدم من: موصوله يقول: فعل وفاعل ضمير درومستتر معبر به هوَ مقوله قول، قول سره د مقولې نه صله د موصول، موصول باصله مبتدأ مؤخر، مبتداء باخبر جمله اسميه خبريه

حروف مشبه بالفعل

دوم حروف مشبهه بالفعل وآن شش است : إِنَّ. أَنَّ. كَأَنَّ. لَيتَ. لٰكِنَّ. لَعَلَّ.

ترجمه: دويم قسم حروف مشبه بالفعل دي او دا شپږ دي په اعتبار د عدد سره

تشريح: هر كله چې فارغ شو مصنف دحروف جاره ؤ نه نو شروع ئې وكړه په بل قسم د حروف عامله د اسم كې چې هغې ته حروف مشبه بالفعل وائي.

وجه التسميه: دي حروفو ته مشبه بالفعل وائي ځكه دوي مشابه دي د فعل سره:

۱: لفظاً ۲: معنا ۳: عملاً ٤: اقساماً.
هر چې مشابهت لفظي د فعل سره دې نو دا په دیرو څیزونو کې د فعل سره مشابهت لري
۱: وزن کې اِنّ بروزن فَرَّ، مَدَّ، لیت بروزن لَیسَ. کَاَنَّ. کَاَنَّنَ بروزن ضَرَبْنَ لٰکِنَّ: لٰکِنَّنَ بروزن ضَارِبْنَ.
لعل په دې کې ډیر لغات دي لَعَنَّ بروزن ضَرَبْنَ.
۲: دا رنګه فعل پورې کاف د خطاب پیوسته کیږي نو په دې پورې هم پیوسته کیږي لکه: انک.
۳: فعل پورې نون وقایه پیوسته کیږي نو په دوي پورې هم پیوسته کیږي لکه اِنَّنِي اَنَا اللهُ وغیره وغیره.
هر چې مشابهت معنوي دی نو دا حروف د فعل معنیٰ ادا کوي لکه اِنَّ اَنَّ بمعنی حَقَّقْتُ کَاَنَّ بمعنی شَبَّهْتُ لَیتَ بمعنی تَمَنَّیتُ. لَعَلَّ بمعنی تَرَجَّیتُ. لٰکِنَّ بمعنی اِستَدرَکْتُ.
هر چې مشابهت عملي د دې حروفو د فعل سره دې. نو هغه دا چې دوي اسم له نصب ورکوي او خبر له رفع ورکوي لکه (اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ).
او اقساماً دوي مشابه دي د فعل سره په ثلاثیت او رباعیت او خماسیت کې.
قاعده: دوي چې په مبتدأ او خبر داخل شي نو مبتداء ته اسم د دې حروفو وائي او خبر ته خبر د دې حروفو وائي. مبتدأ او خبر ورته نشي ویلې څکه مبتدأ او خبر کې عامل معنوي وي چې دا صحیح قول دی
سوال: دوي مشابه شود فعل سره لفظاً، معناً او عملاً نو فعل لره عملین وو: ۱ : اصلي ۲: فرعي. اصلي عمل د فعل تقدیم د مرفوع دې په منصوب باندې لکه ضَرَبَ زَیدٌ عمراً فرعي عمل عکس د دې دې چې هغه تقدیم د منصوب دې په مرفوع باندې لکه: ضَرَبَ عمراً زَیدٌ. نو حروف مشبه بالفعل له ئې عمل فرعي ولې ورکړو ؟.
جواب: که عمل اصلي ورکړې شي نو مساوات د فرع د اصل سره راځي او دا جائز دي لکن غیر مستحسن دي
سوال: دا حروف دي په عمل کې ضعیف دي شیئینو کې به څرنګه عمل او کړي ؟.
جواب: دوي لوجې د مشابهت نه د فعل سره قوي شویدي او دوي مشابه دي د فعل سره په اقتضاء د شیئینو کې.
فائده: دا حروف چې په اسم کې عمل کوي نو په دې د تمامو نحاتو اتفاق دې او عمل د دوي په خبر کې په نزد د بصرینو باندې دې او کوفیان وائي په خبر کې عمل د عامل سابقه دې چې د

دوي د دخول نه مخکې دو.
دليل کوفيان: د احروف فرع د فعل ده او فعل ورله اصل دې او فرع اضعف وي د اصل نه کله
شيئينو کې عمل وکړي نو مساوات به لازم شي لهذا په مبتداء کې عمل کوي نه په خبر کې.
جواب: د طرفه د بصرينو نه: دوي د وجې د مشابهت نه د فعل سره قوي شويدي نو په شيئينو
کې عمل کولې شي.

إِنَّ أَنَّ کې فرق لفظاً: أَنّ مفتوح الهمزه په چند مواضعو کې مفتوح الهمزه راځي.

۱: چې فاعل واقع شي أن سره د اسم او خبر نه په تاويل د مصدر سره ګرځي بَلَغَنِي أَنَّکَ ضَارِبٌ أي بَلَغَنِي ضَربُکَ.

۲: نائب فاعل کې: (وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ).

۳: مبتدأ کې: (وَمِنْ آيَاتِهِ أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ).

٤: بعد لولا. (فَلَوْلَا أَنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِينَ) وغيره وغيره.

إِنَّ مکسور الهمزه په چند مواضعو کې مکسور راځي.

۱: في ابتداء الكلام (إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ).

۲: په صله د موصول کې. (وَآتَيْنَاهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَا إِنَّ مَفَاتِحَهُ)

۳: په صفت د موصوف کې ابتداء. مَرَرتُ بِرَجُلٍ إِنَّهُ فَاضِلٌ.

٤: بعد حرف النداء. (يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ).

۵: جواب قسم. (وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنْسَانَ) وغيره وغيره

حاصل دا دې چې کوم ځائې جمله وي نو هلته به إِنّ مکسوره وي او کوم ځائې چې مفرد وي يا تاويل د جملې په مفرد سره کيږي نو هلته به أَنّ مفتوح الهمزه وي.

(والتفصيل في المطولات)

حروف مشبه بالفعل

۱: لفظاً	۲: معناً	۳: عملاً	۴: اقساماً
اِنَّ بروزن فِرَّ	حققتُ	اسم منصوب	
اَنَّ بروزن فَرَّمَدَّ		وخبر مرفوع	
كَانَّ بروزن ضربنَ	شبهت	وهذا عمل فرعي	ثلاثيت
ليت بروزن ليس	تمنيتُ	للفعل	ورباعيت
لكن بروزن ضَارِبُنَ	استدراكتُ		
لَعَلَ بروزن ضَرَبُنَ في اللغت ترجيتُ			

سوالات تمرین حروف مشبه بالفعل

اِعْلَمُوْا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ	لَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ
لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ	وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ

اجراء آیت: لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيْبٌ.

لعل: حرف مشبه بالفعل.

الساعة: اسم لعل منصوب لفظاً.

قريب: خبر لعل لعل با اسم وخبر جمله اسميه

فائده: ۱: ذات د حروف مشبه بالفعل حروف دي.

۲: مدخول ئې مبتداء او خبر دي

۳: عمل ئې نصب او رفع دی

٤: عدد ئې (٦) دي.

٥: اسم يې حروف مشبه بالفعل دی.

ماولا مشبهتان بلیس

سوم ماولا مشبهتان بلیس وآن عمل لیس مي کنند: اولادي چې مشابه دي د لیس سره.

ترجمه: دریم قسم دحروف عامله نه هغه ما او لا دي چې دوي مشابه دي دلیس سره په نفي کې او

تشریح: دوي ته ما ولا مشبهتین بلیس ځکه وائي چې دوي مشابه دي دلیس سره په نفي کې او په دخول کې په مبتدأ او خبر باندې لکه څرنګه چې لیس راځي د نفي لپاره نودوي هم راځي د نفي لپاره او لکه څرنګه چې لیس داخلیږي په مبتدأ او خبر باندې نودوي هم داسې دي. هر کله چې دوي مشابه شو د لیسَ سره نو لیسَ عمل کولو، فعل وو د افعال ناقصو نه نو ما ولا به هم عمل کوي لکن دا عمل د دوي په نزد د اهل حجاز دي لیکن عمل د دوي هم مشروط دي په شرائط ثلاثهٔ سره (هدایة النحو)

اوبني تمیم وائي دوي عمل نه کوي ځکه د دُوي عمل په شعر کې نه دي موندلې شوي چې هغه دا دې شعر

وَمُهفهفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَه انْتَسِبْ   فَأَجَابَ مَا قَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَامٌ

(دا دلیل نقلي د هغوي دي).

ترجمه د شعر: ډیر خله نرې ملاوالا محبوب څما، په شان دڅانګي د ونې ماورته اووې چې ما ته خپل نسب أوښایه (بیان کړه): هغه په جواب کې أووې چې قتل د محب دمحبوب لپاره حرام نه دې.

په دې سوال واردیږي چې جواب د سوال سره موافق نه دي ځکه ماورته اوې نسب بیان کړه هغه په جواب کې وائي ما قتل المحب حرامٌ؟.

جواب: ۱: جواب موافق دې د سوال سره دلته تقدیر دعبارت دې وان لم تنتسب **فَأَقْتُلُ نَفْسِي فَأَجَابَ** الخ.

۲: جواب دا دې چې محبوب ورکړې دې په پټې اشارې سره چه ماقتل المحب حرامٌ هرکله چې حرامٌ په رفع سره محبوب اولوستو نو معلومه شوه چې ما عمل نه دې کړې او دا مذهب د بني تمیم دې نو محبوب وائي څه هم دهغوي نه یم(یعنی څما نسب بنو تمیم دی) (فتامل)

دلیل عقلي: دویم: بني تمیم وائي: دوي ځکه عمل نکوي چې د دوي مدخول کله اسم وي او کله فعل وي اوشرط دعمل د عامل لپاره دا دې چې په یوه نوع به داخلیږي یا په اسم او یا په فعل باندې اودوي خو داسې نه دي

حجازین وائي: دوي عمل کوي دليل نقلي دا دي چې قرآن کې د دوي عمل موجود دي. (مَا هٰذَا بَشَرًا). هذا اسم د ما او بشرا خبر د ما، اسم مرفوع اوخبر منصوب.
دارنګه (مَا هُنَّ اُمَّهَاتِهِمْ: هنّ اسم د ما أمها تِهِمْ خبرد ما، جمع مؤنث سالم ده نصب پکې تابع د جر وي.
دويم دليل عقلي دي: د دوي لپاره چې دوي څکه عمل کوي چې مشابه دي د ليس سره او هغه فعل دې قوي العمل دې عمل کوي نودوي هم عمل کوي.
جواب بني تميم ته دا دې د اول استدلال د هغوي نه ۱: دا عمل د ضرورت شعري دوجې نه دې په نثر اووسعت د کلام کې راته أونبائ.
۲: د دې شعر قائل تميمي دې او د هغه قول حجت نه دې، قول د ثالث پيش کړه.
۲: بل تاسو په مقابله د قرآن کې شعر پيش کوئ، دا قابل استدلال نه دې.
جواب د دويم استدلال د بني تميمونه چې تاسو فرق نه دې کړې د ماولا اسمي اوماولا فعلي .ما ولا اسمي يعني په اسم باندې چې کوم ماولا داخلېږي دوي لفظاً اومعناً عمل کوي په اسم کې اوکوم ما ولا چې فعلي دي يعني په فعل داخلېږي نوهغوي عامل في المعنى دي اوعامل في الفظ نه دي (فالتفصيل في المطولات)
مثال: مَا زَيْدٌ قَائِمًا. لَا رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْکَ.
فرق د ما اولادا دې: ما په معرفه اونکره دواړو داخليږي اولاصرف په نکره باندې داخليږي څکه د مامشابهت دليس سره زيات دې د مشابهت د لانه د ليسَ سره ما راځي د نفي حالي لپاره لکه ليسَ راځي د نفي حالي لپاره عند الجمهور.
لا راځي د نفي مطلق لپاره، نه د نفي حالي لپاره په شان دليس اوکوم ځائې چې لا په معرفه داخل شوې وو هغه به شاذ وي.
اقسام کلمة ما ولا: ما په دوه قسمه ده.۱: اسمي. ۲: حرفي

اول قسم ما اسمي:

دما اسمي علامه دا ده چې مسند يا مسند اليه به واقع وي او د هغې ډير قسمونه دي
۱: ماموصوله په معنى د الذي او التي سره مثال:
(مَا عِنْدَکُمْ يَنْفَدُ وَمَا عِنْدَ اللهِ بَاقٍ) (وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْکَ).
۲: ماموصوله دا په معنى د شيء يا الشيئ سره دا به موصوف وي او مابعد به ورله صفت وي (

ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ)
۲. تامه: فَنِعِمَّا هِيَ ما تامه دیته وائي چې اتمام د دې په مابعد سره کیږي د وصف په شان محتاج نه وي
٤. ما شرطیه: د دې علامه دا ده چې ددینه وروستو به جملتین واقع وي اوله جمله شرطیه، دویمه جمله جزائیه (مَا نَنْسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنْسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا)
٥. مااستفهامیه: (وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَا مُوسَى) (اَلْقَارِعَةُ مَا الْقَارِعَةُ)
او ماحرفي ۱: مانافیه (مَا أَنْتُمْ إِلَّا بَشَرٌ مِثْلُنَا) (وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا)
۲: مامشابه بلیس (مَا هٰذَا بَشَرًا) (وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ)
۳: مامصدریه: (وَضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ) (فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ: (مَا دُمْتُ حَيًّا)
٤: مازائده: (فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ)
٥: ماکافه: (إِنَّمَا إِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَاحِدٌ).
دا لس(۱۰) قسمه کلمه د ما شو. ٥: پنځه اسمي او. ٥: پنځه حرفي.

اقسام کلمة لا: د لا شپږ ٦: اقسام دي

۱: لامشابه بلیس: علامه د دې دا ده چې اسم او خبر غواړي، اسم او خبر دده به نکره وي مثال لَا رَجُلٌ قَائِمٌ.
۲: لالنفي الجنس: د دې علامه دا ده چې اسم دده به نکره مفرده مبني برفتحه وي. مثال: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ.
۳: لازائده: لَا أُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ. ۱: علامه د دې دا ده چې قبل القسم به راځي
۲: بعد أن مصدریه به راځي: (مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ).
٤: لانافیه: دا به په فعل مضارع داخلیږي او لفظ کې به عمل نکوي: لَايَضْرِبُ (لَا أَعْبُدُ: کله کله به په ماضي هم داخلیږي: (فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى).
٥: لاناهیه: دا به په فعل مضارع داخلیږي او عمل د جزم به کوي. (لَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ).
٦: لاعاطفه: اِضْرِبْ زَيْدًا لَا عَمْرًا.

بحث د لا لنفي الجنس

چهارم لائ نفي جنس اسم این لا اکثر مضاف باشد منصوب وخبرش مرفوع چون لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ:

ترجمه: څلورم قسم د حروف عامله ونه اسم د لا لنفي الجنس دې اسم د دې د منصوبانو نه دي او خبر د ده د مرفوعاتو نه دې مثال: لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ

تشريح: د ده د اسم پنځه حالات دي

۱: اسم مضاف: حکم د دې دا دې چې منصوب به وي او معرب به وي: لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيفٌ فِي الدَّارِ

۲: مشابه بالمضاف: مشابه بالمضاف هر هغه اسم ته وائي چې د مابعد سره ئې تعلق وي بیا عام دې چې د عمل وي او که د عطف تعلق وي مثال د اول: لَاطَالِعاً جَبَلاً ضَعِيفٌ. طَالِعاً: خپل مابعد لره چې جَبَلاً دې نصب ورکړيدې او د مفعول به کيدو په وجه ديته مشابه بالمضاف وائي چې جَبَلاً مفعول به د طالعاً دې. مثال د ثاني چې تعلق عطفي وي ثلاثة وثلاثين. دا ثلاثة شبه مضاف دي د ده د مابعد سره چې ثلاثين دي تعلق عطفي دې او هغه پرې عطف دې حکم د دې قسم د لا لنفي الجنس دا دې چې دا به هم منصوب معرب وي په شان د مضاف ، لاطالعاً اسم د لا ، جبلاً مفعول به د طالعا ، ضعيف: مرفوع خبر د لا.

۳: صورت: اسم لا اسم نکره مفرده وي. (د لته د مفرد نه مراد دا دې چې مضاف او شبه مضاف به نه وي اګر که تثنيه او جمع وي دا قسم اسم د لا به منصوب وي[*]) مبني به وي برفتحه. لَارَجُلَ فِي الدار. دا رنګه لَاغِلْمَانَ لَکَ. لَابَنِيْنَ لَکَ.

۴: صورت: اسم لا مفرد معرفه: د دې صورت حکم دا دې چې تکرار د معرفه او تکرار د لا به ورسره لازم وي او مدخول د لا به مرفوع وي بنا برابتدائيت لا به په دې صورت کې ملغي وي يعني عامل به نه وي مثال: لَازيدٌ عندي ولاعمروٌ.

۵: صورت او حالت: اسم د لا نکره مفرده به وي: او تکرار د لا سره د بلې نکرې نه به وي مينځ کې حرف عاطفه به وي په دې صورت کې حکم دا دې چې ترکيب به په پنځه طريقو سره کول جائز وي مثال کې مصنف: لَا حَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ ذکر کړيدې

۱: دواړه مبني بر فتحه: لَا حَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ.

لا برائ نفي الجنس په دواړو ځايونو کې او اسم مفرد دی، د دې وجي نه مبني برفتحه دی اسم

---

[*] ص ۱۲۹


د لا چې نژدې وې ديته نکره مفرد وي نو مبني على الفتحه به وي
(لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ)


۲: اول مبني برفتحه دويم معرب منصوب (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ) اول مبني برفتحه دويم معرب منصوب ... اول لالنفي الجنس دې اسم دلا چې نژدې وي نکره وي نو مبني علی الفتح وي واو عاطفه دې دويم لا زائد دې صرف د اول د نفي د تاکيد لپاره راوړې شوې دې او قُوَّة په محل د حَوْل باندې عطف دې او هغه منصوب محلاً دې اگر که لفظاً مبني برفتحه دې


۳: اول مبني په فتحه دويم مرفوع: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ، اول لا برائې نفي الجنس واسم مفرد مبني علی الفتح، دويم مرفوع دې واو عاطفه لا زائده برائې تاکيد د نفي اول او قُوَّة حمل دې په محل بعيده د حَوْل باندې او محل بعيده د حَوْل مرفوع وؤ بنا بر ابتدائيت (دا مذهب د سيبويه دې) نور مذاهب پکې هم دي

٤: دواړه اسمونه مرفوع: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللهِ دواړه ايتونو کې لا مشابه بليس دې يا لا دواړه أتيونو کې ملغي عن العمل دې او حول او قوة مرفوع دي بنا برابتدائيت.

٥: اول اسم مرفوع دويم مبني په فتحه: لَا حَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ.
اول لا مشابه بليس دويم لا برائې نفي الجنس







مبنی بر فتحہ حکم

حکم---معرب مرفوع بنا بر ابتدائیت (ملغی عن العمل)

حکم---منصوب معرب

سوالات(تمرین)

	وَمَا اَمْرُنَا اِلَّا وَاحِدَة
وَمَا ذٰلِکَ عَلَي اللهِ بِعَزِيْزٍ	لَا تَمْرَةَ نَاضِجَةٌ فِي الْبُسْتَانِ
وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ	لَا عِنْدِي دِرْهَمٌ وَلَا دِيْنَارٌ
وَمَا اَنَا بِظَلَّامٍ لِلْعَبِيْدِ	لَا اَصْغَرَ مِنْ ذَالِکَ وَلَا اَکْبَرَ
لَا اِيْمَانَ لِمَنْ لَا اَمَانَةَ لَه	
يَوْمٌ لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةَ	لَا عَقْلَ کَالتَّدْبِيْرِ

وفي مثل لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ . . . خمسة اوجه.

رفع الاول وفتح الثاني	فتح الاول ونصب الثاني	فتح الاول ورفع الثاني	رفعهما	فتحهما
لَاحَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ لا:اول بمعنی ليس لا:دوم برائي نفي الجنس خبرالاول موجوداً وخبر الثاني موجودٌ. پوره مثال . لَاحَوْلٌ مَوْجُوْداً وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدٌ اِلَّا بِاللهِ	لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةً اِلَّا بِاللهِ لا اول لنفي الجنس دوم لا زائده خبر هما واحد مَوْجُوْدَانِ. پوره مثال . لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةً مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ	لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللهِ لا اول برائي نفي جنس دوم زائد . خبرالاول موجودٌ وخبرالثاني موجوداً. پوره مثال لَاحَوْلَ مَوْجُوْدٌ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْداً اِلَّا بِاللهِ	لَاحَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللهِ. لاملغي عن العمل برائي نفي جنس خبرهما مَوْجُوْدانِ پوره مثال لَاحَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ	لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ لابرائي نفي جنس خبرهما واحد مَوْجُوْدَانِ پوره مثال لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ مَوْجُوْدَانِ اِلَّا بِاللهِ

لَاحَوْلَ مبتدأ ، معطوف عليه ، ولَاقُوَّةَ واو عاطف ، مَوْجُوْدَان ، خبر لَابَيْعٌ فيه ولَاخُلَّة

ملغي عن العمل — معطوف — ازين قبيل است

دا ټرکیب د شلورم صورت دی اجمالاً شو.

حروف نداء

پنجم حروف نداء وآن پنج است یا ،وَاَیا، وَهیا، وَاَي و همزه مفتوحه، واین حروف منادی مضاف رانصب کنندچون یاعَبۡدَاللهِ.

ترجمه: پنځم حروف نداء دي او دا پنځه دي یاوایا الخ.دا حروف منادی مضاف لره نصب ورکوي.

تشریح: نداء: معنی یو تن ځان ته متوجه کول په حرف نداء سره چې قائم مقام د ادعُو ده، دغه حروفو ته حروف نداء وائي او هغه پنځه دي او څوک چې طلب شوي وي هغه ته منادی وائي پدي منادی کې مصنف څلور حالته ذکر کړي دي په اعتبار د اعراب سره. په دریې حالاتو کې منصوب او په یو حالت کې مبني.

اول حالت: د اعراب او د نصب کله چې منادی مضاف وي لکه یاعَبۡدَاللهِ.

دویم حالت: د اعراب او نصب، کله چې منادی شبه مضاف وي یا طَالِعًا جَبَلًا.

دریم حالت: نکره غیر معین. کمافي قول الاعمي یارَجُلًا خُذۡ بِیَدِي.

پدي صورتونو کې منادی منصوب ده ځکه دامفعول به د" اَدۡعُوۡ" ده " اَدۡعُوۡ" فعل فاعل دې او اعراب د اول او ثاني مفعول به نصب وي معرب به وي ځکه چې اضافت دخواصو معظمه مکبره و د اسم نه دي او خاصه د شي چې ملحق شي په شي پوري نو شي راجع کوي اصل خپل ته او اصل په اسماؤ کې اعراب دي.

اوصورت ثالث کې اعراب او نصب: هرچې نفس اعراب دي له وجي دعدم وجود د علت د بناء نه پدي کې چې وقوع ده په مقام دکاف خطابي باندي

ځکه هغه معرفه ده او دا قسم د منادی نکره ده.نکره په ځای د معرفي نه واقع کیږي او د نصب وجه او دلیل کما مر في المنادی المضاف.

څلورم صورت: منادی مفرد معرفه مبني باشد برعلامت رفع.

هرچې نفس بناء ده ځکه چې دا قسم دمنادی واقع ده په مقام دکاف اسمي چې ادعُوکَ کې دي او کاف اسمي مشابه دي دکاف حرفي خطابي سره لفظاًخطاباً تعریفا، چې کاف دکذلک ذي او هغه مبني وو نو دا هم مبني شو

او هرچې په علامت د رفع سره دې نو لپاره د دې چې موافقت د اصل حالت اعرابي سره راشي چې حالت رفعي دي او اصل حالت اعرابي د رفع دي ځکه دا رفع عمده ده او حالت بنائي به ولي

... سره ځکه دوي د يو بل سره مشابه دي په عروض کې ځکه بناء
موافق وي د حالت اعرابي سره ځکه دوي د يو بل سره مشابه دي په عروض کې ځکه بناء، ده مخکې د ترکيب نه
عارضي ده او اعراب هم عارضي دي ځکه اصل په اسماؤ کې بناء ده مخکې د ترکيب نه
عارضي ده او اعراب هم عارضي دي ځکه اصل په اسماؤ کې بناء. ده مخکې د ترکيب نه عارضي ده او اعراب هم عارضي دي ځکه اصل په اسماؤ کې بناء الوقوع في التركيب.

او اعراب پکې عارضي راځي بعد الوقوع في التركيب. او اعراب پکې عارضي راځي بعد الوقوع في التركيب يا زيدون يا مسلمون کې واو دي او دا مخکې يا زيدان مثال په علامې د رفع سره چې الف دي
چې ذکر شو نو دا حروف او حرکتونه لفظي دي
او س مثالونه د حرکت تقديري په منادی: يامُوسٰى يا قاضيِ موسی مخکې د دخول د حرف نداء
نه معرفه ده او قاضي مخکې د دخول د حرف نداء نه نکره ده، بعد د دخول حرف نداء، معرفه شوه
او س تقسيم کوي د حروف نداٌ، قريب بعيد متوسط ته

بدانكه: أَيْ وهمزه براىٔ نزديک است وأَيا وَهيا براىٔ دور ويا عام است:

ترجمه: پوهه شه چې اَي او همزه لپاره د نزدې راځي، اَيا او هيا لپاره د لرې او يا عامه ده.

تشريح: په دوي سره آواز کولې شي منادی قريب ته ځکه په دوي کې قلت د حروف دي او قلت د حروفو دلالت کوي په قلت د مسافت باندې

بعض نحاة وائي: **همزه براىٔ قريب است وأَي براىٔ متوسط.** ځکه په دوي کې توسط د حروفو دي او توسط د حروفو دلالت کوي په توسط د مسافت باندې او ايا او هيا براىٔ دور. ځکه په دوي کې کثرت د حروفو دي او دا دلالت کوي په کثرت د مسافت باندې او ياعامه ده قريب وي منادی او که بعيد وي او که متوسط وي ځکه اصل په حروف نداء کې ياء ده نو اولي بالتعميم ده.

اختلاف نحاة

اول مذهب د سيبويه: (او ابن حاجب) دي چې منادی مفعول به د فعل مقدره ده چې أَدْعُو دي او حرف نداء، د هغې فعل قائم مقام ده.

٢: مذهب د مبرد دي: چې منادی کې حرف نداء عامل دې د وجې د اقامت دده نه په ځائې د فعل چې أَدْعُوْ دي

٣: ابو علي وائي: حرف نداء اسم فعل دې او ضمير مستتر په دې کې هغه ورلره فاعل دې او دا حرف نداء عامل في المنادی دي.

فائده: يا زيدٌ په اتفاق د ائمه ثلاثه وُسره جمله ده ليکن جمله مسند او مسند اليه غواړي او منادی دا جزء د جملې نه نه ده. سيبويه وائي: مسند او مسند اليه دواړه مقدر دي چې جزئين د جملې دي چې أَدْعُوْ دي.

امام مبرد وائي: يو جزء د جملې شته چې مسند يا حرف نداء ده. دويم جزء مسند اليه فاعل مقدر دې

ابوعلي وائي: د جملې جزئين يو جزء مسند يا اسم فعل شته. دويم جزء فاعل مسند اليه په ياء كې مستتر دې

قاعده: كله حرف نداء حذف كيدې شي. لكه: يُوسُفُ أَعْرِضْ عَنْ هٰذَا. در اصل يا يُوسُفُ

قاعده: په حذف د منادى كې اختلاف دې امام كسائي وائي: حذف د منادى كيدې شي ليكن مطلقاً نه بلكه دوه شرطه دي

۱: اول كله چې د حرف نداء نه وروستو ماضي يا امر راشي مثال د ماضي: قولِ العالم للسائل يا إعْلَمْ يا حَفِظَكَ اللهُ. ماضي برائې دعاء.

مثال د امر چې وروستو د حرف نداء نه امر راشي .(أَلاَّ يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ) (سورة نمل۲۵)

۲: دويم شرط چې پس د حرف نداء نه ليت يا رُبَّ راشي (يالَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُوْنَ بِمَا غَفَرَلِي: يارُبَّ كَاسِيةٍ فِي الدُّنْيا عَارِيَة فِي الآخِرَةِ].

بعض نحاة وائي: منادى نشي حذف كيدې

امثله مذكوره ؤ نه جواب دا دې لاعلاقة لها بالنداء(النحو الكافي) بلكه دا حرف تنبيه ده.

حروف نداء

۱: يا عامه ده يا عبد الله

۲: اي: برائي قريب عند البعض وقيل اي برائي متوسط وهمزه برائي قريب مثال

۳: همزه: أَيْ رَبِّ إِنْ أَصْلَحْتَ فَاَعِفِيْ أَيْ رَبُّ الْكَوْنِ أَنْتَ قَادِرٌ ان تغفر ذُنُوْبِي

۴: أيا .برائي بعيد .أيَا شَرِيفَ الْقَوْمِ

۵: هيا .برائي بعيد

اقسام منادی


۱: المنادی المضاف یَانِسَاءَ النَّبِيِّ لَسْتُنَّ الخ یَاعَبْدَ اللّٰهِ
۲: شبہ المضاف یَا طَالِعًا جَبَلاً
۳: النکرة غیر المقصودة یَارَجُلاً خُذْ بِیَدِيْ یَامُسْلِمًا لاَتَکُنْ حَقُوْدًا
حکم ← معرب یجب نصبہ فی الصور الثلاثة

۴: النکرة المقصودة: یَا رَجُلُ یَا طَالِبُ اجْتَهِدْ فِيْ دِرَاسَتِكَ
۵: المفرد المعرفة. یازیدُ یازیدان یاآدَمُ اسْکُنْ اَنْتَ الخ.
حکم ← مبنی علی

سوالات تمرین

یانُوحُ اِنَّه لَیسَ مِنْ اَهلِکَ	یاأیها الرُّسُلُ کُلُوا مِنَ الطَّیبَاتِ الایة.
یُوسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا	یانارُ کُوْنِي بَرْداً وَّسَلامًا

ترکیب:



حروف عامله د فعل مضارع

فصل

دوم در حروف عامله در فعل مضارع

وآن بر دو قسم است قسم اول : حروفیکې فعل مضارع رابنصب کنند وآن چهارست اول آن چون أُرِيدُ أَنْ تَقُوْمَ وَأَنْ بافعل بمعنی مصدر باشد یعني أُرِيدُ قِيَامَكَ وباین سبب أورا مصدریه گویند .

ترجمه : دویم فصل دي په بیان دحروف عاملو د فعل مضارع کې اودا په دوه قسمه دي، اول هغه حروف دي چې فعل مضارع لره نصب ورکوي اوداخلوردي اول ان لکه أُرِيدُ أَنْ تَقُوْمَ . او ان سره د فعل نه په معنی د مصدر دي یعني أُرِيدُ قِيَامَكَ او په همدې سبب دیته ان مصدریه وائي

تشریح: هرکله چې فارغ شو مصنف د بیان دهغه حروف عامله نه چې داخلیږي په اسم باندې نو شروع ئې وکړه په بیان د هغه حروف عامله ؤکې چې داخلیږي په فعل مضارع باندې اودا په دوه قسمه دي، یو حروف ناصبه د فعل مضارع اودویم حروف جازمه د فعل مضارع حروف ناصبه د فعل مضارع خلور دي.۱: أَنْ. ۲: لَنْ ۳: كَيْ. ۴: إِذَنْ

دا ټول فعل مضارع مفرداتو لره نصب ورکوي اوتثنیو اوجمعو اوواحده مؤنثه مخاطبی نه نون ساقطوي ماسوا دجمع مؤنث نه دا عمل لفظي د دې حروفو دې اوعمل معنوي د هر حرف جدا جدا دې

تفصیل: عمل د أن په دوه قسمه دې.۱ : لفظي ۲: معنوي

لفظي مرسابقاً . ۲ : معنوي عمل فعل مضارع لره په تاویل د مصدر سره گرځوی مثال : أُرِيدُ أَنْ تَقُوْمَ اي أُرِيدُ قِيَامَكَ. أَنْ عمل کوي ځکه دا مشابه دې د أنّ سره په فتحه د همزه کې او دده عمل اتفاقي دې دا أن کله لفظي راځي په کلام کې لکه امثله مذکوره في الکتاب شو او کله تقدیري راځي د هغې بیان به روسته بدان سره راځي

أن په پنځه ۵: قسمه دې

۱: أن مخفف من المثقل: (عَلِمَ أَنْ سَيَكُوْنُ مِنْكُمْ مَرْضى)

۲: شرطیه : (وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَانُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوْكُمْ)

۳: نافیه (أَنْ يُؤْتِي أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُوْتِيتُمْ)

٤. تفسیر یه (وَنَادَیْنَاهُ اَنْ یَّا اِبْرَاهِیْمُ)
٥. مصدریه (یُرِیْدُ اللّٰهُ اَنْ یُّخَفِّفَ عَنْکُمْ)

دوم لن چون لَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ وآن برائي تاکیدنفي است

ترجمه: دویم د حروف ناصبه د فعل مضارع نه لن دي او دا لپاره د تاکید د نفي دي

تشریح: په کلمه د لن کي لفظي هم اختلاف دي او معنوي هم اختلاف دي.

اول اختلاف په لفظ د لَنْ کي:

اول مذهب د سیبویه او جمهور نحّات او صراف دي دوي وائي: دا کلمه برأسها ده لا تتغیر ولاتتبدل

دویم مذهب دکسائي او دخلیل دي چي اصل دلن لا آن دي همزه حذف شوه برائي تخفیف فصارلان مکتوب غیرمقروء شو بیا د الف او د نون التقاء ساکنین راغله الف حذف شوفصار لن.

دریم مذهب د امام فراء دي. دي وائي چي اصل دلن لا وو، الف په نون بدل شولن ترینه جوړ شو.

دوهم اختلاف په معنی دلن کي

اول اهل السنت والجماعت وائي چي لن راخي لپاره د نفي د مستقبل.

دویم معتزله وائي لن راخي لپاره د نفي د مستقبل تابیداً.

ثمره د اختلاف پدي آیت کي ده (لَنْ تَرَانِيْ). معتزله وائي: الله تعالي نه په دنیاکي څوک لیدلي شي او نه په آخرت کي. استدلال پدي آیت کوي چي لن لپاره دنفي د تابید دي.

اهل السنت والجماعة وائي: دنیاکي الله تعالی نه لیدلي کیږي او په آخرت کي به مسلمانان دیدار الٰهي کوي اودا لوي نعمت د نعمتونود جنت نه دي په قرآن کي الله تعالي فرمائي: (لِلَّذِیْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰي وَزِیَادَةٌ)

مفسرین وائي: د زیادت نه مراد رؤیت د باري تعالی دی، ورنه تناقض بین الآیات و الاحادیث به راشي نو معلومه شوه چي لن د تاکید د نفي مستقبل دي، نه د تابید لپاره و التفصیل في المطولات ولایلیق بهذه الرسالة

سوم کَيْ چون اَسْلَمْتُ کَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ

ترجمه: دریم د حروف ناصبه و د فعل مضارع نه کي دي.

تشريح: د ده هم دوه عمله دي، يولفظي كما مر. دويم معنوي: هغه دا چې كې راځي لپاره د سببيت چې ګرځوي ماقبل خپل سبب لپاره د مابعد پدي شرط چې كې اسميه وي او جاره نه دي مثال "اَسْلَمْتُ كَيْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ" اسلام سبب د دخول د جنت دي

كې اسميه ديته وائي چې دا مخفف وي د كيف نه لكه: كَيْ تَنْجَحُوْنَ اَيْ كَيْفَ تَنْجَحُوْنَ.

كې جاره دا په ما استفهاميه، ما مصدريه باندي داخليږي پدي كې هم د نحاتو اختلاف دي چې كې بالذات ناصب دي او كه نه د ده نه وروسته ان مقدر دي؟.

بعضي وائي: چې د ده نه وروستو ان ناصبه مقدر وي، هغه نصب وركوي

اوبعضي وائي: يعني د جمهور و دا رايه ده چې كې بالذات ناصب دي مصنف هم دا مذهب اختيار كړي دي

چهارم اِذَنْ چون اِذَنْ اُكْرِمَكَ درجواب كسيكې گويد آنه آتِيكَ غَدًا.

ترجمه: څلورم اِذَنْ دي لكه اِذَنْ اُكْرِمَكَ چې په جواب د هغه چا كې ويل كيږي چې هغه اووائي: آتِيكَ غَداً.

تشريح: اِذَنْ: په فعل مضارع كې عمل كوي لفظا كما مر.

او معنیٰ د فعل مضارع په مستقبل پورې خاص كوي.

په دې كې هم په شان د كې اختلاف دې

د امام زجاج او د امام ابوعلي فارسي په نزد باندې اِذَنْ بالذات ناصب نه دي بلكه د دينه وروستو ان مقدره ناصب دې. د دې وجي نه اِذَنْ په فعل پورې مختص نه دي لكه اِذَنْ عَبْدُ اللهِ يأْتِيكَ.

او جمهور وائي: اِذَن په استعمال كې د جواب د سوال او جزاء لپاره راځي. لكه سائل اووائي آنه آتِيكَ غَداً.

جواب: اِذَنْ اُكْرِمَكَ. هركله چې مصنف فارغ شو د هغه مواضعو نه چې هغې كې ان ملفوظه عامل وو نو شروع ئې اوكړه په هغه مواضعو كې چې هلته ان مقدره عمل كوي نو وې ويل

بدانكه آن بعدازشش حروف مقدرباشد وفعل مضارع رابنصب كند.

ترجمه: پوهه شه چې آن به پس د شپږو حروفو نه مقدر وي او فعل مضارع لره به نصب وركوي.

تشريح: اول د هغې نه حتي دې لكه مَرَرْتُ حَتيٰ اَدْخُلَ الْبَلَدَ دلته پس د حتي نه آن مقدر دې. ناصب

په ادخل کې دې ځکه حتي د حروف جاره ؤنه دې، داخلیږي په اسم باندې دلته داخل دې په فعل باندې معلومه دا شوه چې دلته اَن مقدر دې او اَن ذکر کولې نشي ځکه لازمیږي دخول دحرف په حرف باندې او دا باطل دې او دغه وجه په لام جحد کې هم ده لکه وائي: **ولام جحد الخ**

پس دلام جحد نه به هم اَن مقدر وي.

لام جحد دیته وائي چې داخل وي په خبر دکان منفي باندې لکه (مَاكَانَ اللهُ لِيعذِّبَهمْ) (لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيغفِرَ لَهمْ). دلیله ما مرّ.

واو بمعنی، الي ان یا الا اَن سره.

تشریح: او په معنیٰ د الي اَن دا مذهب دجمهورنحاتو دې او الا اَن سره دا مذهب د سیبویه دې مصنف دواړه مذهبین ذکر کړل دلته به اَن ځکه مقدر وي چې الي او الا داخلیږي په اسم باندې دلته په فعل داخل دي ځکه به اَنْ مقدر وي چې په تاویل د مصدر سره فعل وګرځوي او ظاهریږي نه ځکه تکرار به د اَن اَنْ راشي او دا هم صحیح نه ده. او بل دخول دحرف به اُوشي په حرف باندې

ووالصرف:

خلورم اَنْ مقدر راځي پس د واو الصرف نه.

تشریح: واو الصرف هغه واودې چې ددېنه وروستو کوم معطوف وي نو هغې کې صلاحیت د واپس کیدو دهغه شي نه وي کوم چې په سر د معطوف علیه کې وي

مثال:

لَاتَنْه عَنْ خُلُقٍ وَتَأْتِيَ مِثْلَه عَارٌ عَلَيْكَ اِذَا فَعَلْتَ عَظِيم

په دې مثال کې واو الصرف واو د تأتي معطوف دې او لاتنه معطوف علیه دې او داخل دې په لا دا واو لا نشي معادکولې ورنه فساد د معنیٰ به راشي.

معنیٰ د شعر دا ده: ته منع کوې خلقو لره دبد خویونو او بد اخلاقي نه او حال دا دې چې ته راتلل کوې مثل د دغه بد اخلاقو ته نو دا خود عارخبره ده ستا لپاره لویه

خکه د (أَتَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ) مصداق به شي. (لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ).

اوس که دغه لاناهیه او واو الصرف معاد کړې نو فساد دمعنیٰ به راشي ځکه حاصل به دا شي چې پخپله بد اخلاقي نکوې او نور خلق منع کوې دا خو مدح شوه او مقصود د شعر نه ذم دې.

وَلَامُ کَيْ: او پس دلام کي نه اَنْ مقدر راځي

فرق دلام جحد او لام کي:

۱: د لام جحد نه مخکې به نفي وي ، نه مخکې دلام کي نه.
۲: لام کي د علت لپاره راځي معنی ته نقصان رسي په لرې کولو سره د لفظ نه او لام جحد داسې ندې

وفا که درجواب شش چیزاست الخ

ترجمه: او فاء چې په جواب د شپږو شیانو کې وي.

تشریح: وامثلتها مشهورة او ان مقدر کیږي پس د فاء نه.

د تقدیر د اَنْ پس د فاء نه شرطین دي

۱: ماقبل دفاء نه به سبب وي دمابعد دفا لپاره.

۲: دا فاء به واقع وي په جواب د شپږ ځایونو کې. په دې مواضعو کې اَن ولې مقدر دې ځکه لپاره د صحت د عطف دمفرد په مفرد سره ځکه جواب دانشاء دلته اخبار راځي او عطف د اخبار په انشاء ناجائز دې نو ان پس د فاء نه مقدر شو چې تاویل دمصدر ترینه او شي مفرد به شي اومخکې انشاء نه به هم تاویل بالمصدر اوشي نو عطف به صحیح شي دمفرد په مفرد نه عطف دجمله خبریه په انشائیه باندې مثال زُرْنِي فاکرمک .نو تاویل به داسې کولې شي لِیَکُنْ مِنْکَ الزِّیَارَةُ فَاِکْرَامٌ مِنِّي. نو عطف داکرام مصدر وشو په الزیارة مصدر باندې دارنګه نور امثله پرې قیاس کولې شي.

مثال د فاء ذکر شوی چې مخکې ترینه امر وي زُرْنِي فَاُکْرِمَکَ دارنګه اَسْلِمْ فَتَسْلَمَ (الحدیث)

مثال د نهي په جواب کې فاء (لَاتَفْتَرُوْا عَلَي اللهِ کَذِبًا فَیُسْحِتَکُمْ).

مثال د نفي په جواب کې فا (لَایُقْضٰي عَلَیْهِمْ فَیَمُوْتُوْا)


مثال د نفي په جواب کې استفهام (فَهَلْ لَنَا مِنْ شُفَعَاءَ فَیَشْفَعُوْا لَنَا).

مثال دتمني په جواب کې استفهام (یٰالَیْتَنِي کُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِیْمًا).

مثال دعرض په جواب کې استفهام (اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِیْبَ خَیْرًا).

مثال د دعاء په جواب کې استفهام (رَبَّنَا اطْمِسْ عَلٰي اَمْوَالِهِمْ وَاشْدُدْ عَلٰي قُلُوْبِهِمْ فَلَا یُؤْمِنُوْا)

حروف ناصبه فعل مضارع



اَنْ مقدر بعد از شش چیز است.

۱: حتي ۲: لام جحد ۳: لام كي (٤): واو بمعنى الا ان او الي اَنْ ٥: واو الصرف.(٦): بعد فاء جواب شش چیز است.

سوالات تمرین حروف ناصبه فعل مضارع

لَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكَ	اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ
لَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَحْوِيْلاً	اِسْتَيْقَظْتُ كَيْ اُصَلِّيَ النَّوَافِلَ
لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ	سَاَتُوْبُ تَوْبَةً نَصُوْحاً
اِذَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكَ	مَاكَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ
يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِئُوْا نُوْرَ اللهِ	

منصوب بحذف نون فعل　مرفوع لفظا صيغة اسم تفضيل فاعل درو ضمير مستتر معبر به هو

ناصبه مصدريه اَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَكُمْ ← جار مجرور محلا جار با مجرور ظرف لغو متعلق بخير

خبر مبتدأ مبتدأ با خبر جمله اسميه خبريه

فاعل فعل

فعل با فاعل بتاويل مصدر مبتدأ

حروف جازمه د فعل مضارع

قسم دوم حروفيكې فعل مضارع رابجزم كنند وآن پنج است لَمْ. ولَمَّا. ولام امر. ولاي نهي. وان شرطيه چون لَمْ يَنْصُرْ. لَمَّا يَنْصُرْ. الخ.

ترجمه: دويم قسم د هغې حروفو نه چې داخليږي په فعل مضارع باندې اوجزم وركوي فعل مضارع لره هغه پنځه ۵: حروف دي لم ولما الخ.

تشريح: د دې حروفو لپاره هم دوه عمله دي. ۱: لفظي ۲: معنوي

عمل لفظي ورله جزم دې په مفرداتو دمضارع كې په دې شرط سره چې په آخر د مضارع كې حرف علت نه وي ورنه هغه به ساقط وي. اوتثنيو اوجمعو كې او واحده مؤنثه مخاطبه كې نون ساقط وي ماسوا د جمع مؤنث د نون نه، غائبه وي اوكه مخاطبه وي لكه لَمْ يَفْعَلْنَ لَمْ تَفْعَلْنَ په دې كې عمل نه كوي.

عوامل جازمه د فعل مضارع دوه. ۲: قسمه دي ۱: حروف عامله جازمه ۲: اسماء عامله جازمه درفعل مضارع حروف عامله جازمه پنځه ۵: دي اواسماء جازمه درفعل مضارع نهه (۹) دي مصنف په دريم باب كې تفصيلاً ذكر كړيدي دلته بيان د قسم اول دې.

لم او لما

فرق د لم اولما واشتراک لما ولم في الامور

۱: دواړه د نفي لپاره دي.

۲: دواړه په فعل مضارع داخليږي.

۳: دواړه په دخول د همزه سره عمل کوي وي (أَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ صَدْرَکَ).

٤: دواړه حرفين دي.

۵: دواړه جزم ورکوي.

٦: دواړو کې معنیٰ د انتقال المضارع الي الماضي المنفي ده.

افتراق في الامور: په لم باندې حرف شرط داخليدې شي (إِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَه) په لما باندې حرف شرط نشي داخليدې إِنْ لَمَّا نشي ويلې.

۱: د لم نه فعل نشي حذف کيدې بخلاف لمّا چې فعل ترينه حذف کيدې شي. مثال نَصَحتُ لِزَيدٍ وَلَمَّا أي لَمْ تَنْفَعْه النَّصِيحَة.

۲: لم کې استغراق دنفي د ماضي نشته دې بخلاف لما چې دا لپاره د نفي د استغراق د ماضي راځي: لَمَّا ينصرُ زيدٌ (وَلَمَّا يَعْلَمِ اللهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ).

۳: د لم مدخول نه بعد ثم استعمال صحيح دې. لَمْ يَكُنْ ثم کان صحيح او درست دې بخلاف لما داسې نشي ويلې. لما يکن ثم کان.

٤: د لما په مدخول کې د توقع معنیٰ وي لَمَّا يَرْكَبِ الأَمِيرُ. بخلاف لم.

۵: لما په معنیٰ د الا سره مستعمل دې. (إِنْ كُلٌّ لَمَّا جَمِيعٌ لَدَينه مُحْضَرُوْنَ).

ان بمعنی ما. لما بمعنی الا. مَاكُلٌّ إِلَّا جَمِيعٌ لَدَينا بخلاف لم.

٦: لما بمعنی جمعاً مستعمل دې. (وَتَأْكُلُوْنَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا أي جَمْعًا. بخلاف لم

قاعده: لما چې کله په ماضي داخل شي نو ظرفيه او شرطيه به وي اوچې په مضارع داخل شي نو حرف جازمه به وي

د لم اولما عمل لفظي وي کمامر. او عمل معنوي: دوي مضارع ماضي منفي ته معنا نقل کوي لکه لَمْ يَضْرِبْ أي مَا ضَرَبَ. لَمْ يَعْلَمْ أي مَا عَلِمَ.

لام امر :

لام امر هم په مضارع کې دوه قسمه عمل کوي

۱ . لفظا کمامر.

۲ . او معناً مضارع مثبت په معنیٰ د امر سره گرځوي او لام د ده به مکسور وي مبني به وي که چې پرې فا ، ثم او واو داخل شي نو لام به ساکن کیږي ځکه په دې سره صورت د فعلِ جوړیږي نو په قانون د حلق العین سره لام به ساکن کیږي او دا لام په فعل غائب مضارع معلوم و مجهول او په مخاطب او متکلم المجهولین باندې داخلیږي.

په معلوم مضارع مخاطب نه داخلیږي.

دا رنگه په متکلم معلوم باندې نه داخلیږي عند البعض ځکه مخاطب معلوم او متکلم معلوم کې امر حاضر جوړ دي، هغه صیغې هغه نیولي دي امر باللام پکې نشي راتلې مثال یضرب مثال السکون (فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَّلْيَبْكُوا كَثِيرًا) (ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ).

لاي نهي :

دده لپاره هم دوه عمله دي ۱ : لفظي کمامر . ۲ : معنوي عمل مضارع د مثبت نه نهي ته منتقل کوي

(لَاتُشْرِكْ بِاللهِ) (لَا تَقُلْ لَّهُمَا أُفٍّ) (لَاتَجْعَلْ مَعَ اللهِ اِلٰهًا آخَرَ).

ان شرطیه چون لَمْ يَنْصُرْ ولَمَّا يَنْصُرْ :

ان شرطیه :

دده لپاره هم عملین دي ۱ : لفظي عمل کمامر. ۲ : معنوي عمل دا دي چې جملتینو باندې داخلیږي اولې ته شرطیه وائي دویمې ته جزائیه، اوله سبب گرځوي لپاره د وجود د ثاني مثلا

اِنْ تَنْصُرْ اَنْصُرْ

(تفصيلا) شرط او جزاء کې څلور صورتونه دي

۱ : دواړه به فعل مضارع وي اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ فالجزم واجب.

۲ : شرط مضارع جزاء ماضي اِنْ تَضْرِبْ ضَرَبْتُكَ فالجزم في المضارع واجب .


۳ : جزاء مضارع شرط ماضي اِنْ ضَرَبْتَ اَضْرِبْ. واضربُ جزم او رفع دواړه جائز دي په جزاء کې

۴ : دواړه فعل ماضي په دې صورت کې جزم محلي به وي . اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ

دليل: په دې څلورم صورت کې ان عمل نکوي ځکه ماضي مبني وي او مبني ديته وائي: ان لايختلف آخره باختلاف العوامل.
او هر چې په هغه صورت کې چې ماضي شرط واقع شوې وي د وجې د دليل مذكوره نه او جزاء چې مضارع واقع شوې وي اختيار د رفع او جزم دې. هر چې عمل دې ځکه محل صالح لپاره د عمل دې او هر چې عدم عمل دې ځکه په مابين د مضارع او ان کې فصل راغلې دې په ماضي سره نو عمل د نکوي.
او هر چې هغه صورت چې شرط او جزاء دواړه مضارع وي يا شرط مضارع وي او جزاء ماضي نو لوجې د صالحيت د محل نه ان عمل کولې شي.
پنځم صورت: کچيرې شرط جمله اسميه وه يا امر وو يا نهي وه يا دعاء وه نو په جزاء کې فا راوړل لازم دي ځکه د دې نو لونه مخکې چې کوم ذکر دي چې شرط دي هغه جمله خبريه وي او وروستو به په جزاء کې جمله انشائيه وي نو عطف د جملې انشائي راځي په جمله خبريه او دا صحيح نه دي نو فا به راوړې چې عطف صحيح شي امثله په کتاب کې تفصيلا ذکر دي

سوالات تمرين

إِنْ تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ	إِنْ جَاءُوكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ
أُولَٰئِكَ لَمْ يُؤْمِنُوا	إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ
فَلْيَنْظُرِ الْإِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ	إِنْ تَعُودُوا نَعُدْ.



حروف جازمه

۱: اِنْ... عمل لفظي ومعنوي تدخل علي الشرط والجزاء ولها اربع صورة.
۲: لم... لَمْ يَضْرِبْ. ۱: لفظي ۲: معنوي عمل.
۳: لما... عمل لفظي ومعنوي لما يضرب

۴: لام امر.. عمل لفظي ومعنوي ليضرب.

۱: لاي نهي. عمل لفظي ومعنوي لاتضرب.

تَمَّ باب اول بعونه تعَالی.

دویم باب په عمل د افعالو کې

باب دوم در عمل افعال

بدانکه هیچ فعل غیرعامل نیست وافعال در اعمال بردوگونه است قسم اول معروف.

ترجمه: پوهه شه چې هیڅ یو فعل غیر عامل نه وي. افعال چې عمل کوي نو په دوه قسمه دي اول معروف دي.

تشریح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بیان د اول باب نه چې هغه مشتمل وو په بیان د حروف عامله سره نو شروع ئې وکړه په بیان د افعال عامله ؤکې هر فعل عامل دی.

او په اعتبار د عمل سره فعل په دوه ۲: قسمه دي ۱: معروف ۲: مجهول

بیا فعل معروف دوه قسمه دي، متعدي فعل، لازمي فعل دوي کله په عمل کې متفق وي او کله مختلف وي.

اتفاقي او مشترک عمل د دوي:

۱: دواړه فاعل له رفع ورکوي ضَرَبَ زَیْدٌ. مثال متعدي. قَامَ زَیْدٌ مثال د لازمي.

او شپږ اسماؤ له نصب ورکوي ۱: مفعول مطلق ۲: مفعول فیه ۳: مفعول معه ٤: مفعول له ٥: حال ٦: تمییز.

فعل لازمي او متعدي په عمل کې متفاوت دي:

فعل لازمي مفعول به نه غواړي او د فعل متعدي مفعول به کله یو وي. کله دوه او کله دري وي.

ضَرَبْتُ زَیداً. عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلاً. اَعْلَمَ اللهُ زَیْدًا عَمْرًا فَاضِلاً.

قاعده: هرفعل عامل دي ماسوا د قَلَّ. کَثُرَ. طَالَ کله چې په دوي ماکافه داخل شي. دارنګه کان زائده هم ملغي عن العمل دي او هغه افعال چې تاکید واقع شي لکه قام زیدٌ شو.

قاعده: فعل په اعتبار د فاعل سره دوه قسمه دي ۱: معلوم ۲: مجهول

معلوم: فعل معلوم دیته وائي چې فاعل د دي معلوم وي. د دې ورته نسبت شوي وي او دیته ۱: فعل معروف ۲: معلوم ۳ مبني للفاعل ٤: فعل یسمي فاعله وائي.

فعل مجهول: فعل مجهول دیته وائي چې د ده فاعل معلوم نه وي او د ده نسبت شوي وي نائب فاعل ته دیته ۱: فعل مجهول، ۲: فعل مبني للمفعول ۳ فعل مالم یسم فاعله وائي.

فعل په اعتبار د معنی سره په دري قسمه دي: ۱: لازمي ۲: متعدي ۳ غیرلازمي

غير متعدي: فعل لازمي ديته وائي چې په فاعل باندې تماميږي او په اعتبار د معنی خپلې سره مفعول به ورته محتاج نه وي لکه قام زيدٌ.

فعل متعدي: فعل متعدي ديته وائي چې په فاعل باندې نه تماميږي بلکه په اعتبار د معنی خپلې سره مفعول به ته محتاج وي لکه: ضَرَبَ زَيدٌ عَمْرًا افعل غير متعدي وغير لازمي لکه افعال ناقصه او افعال مقاربه.

فصل

د فاعل تعريف

بدانکه فاعل اسميست کې پيش ازوي فعلي باشد مسندبدان اسم برطريق قيام فعل بدان اسم چون زَيدٌ در ضَرَبَ زَيدٌ:

ترجمه: فاعل هغه اسم دی چې مخکې دده نه به فعل وي مسند دغه اسم ته په طريقې د قيام د فعل د دغه اسم پوري

تشريح: هرکله چې مصنف قيد د قيام اولګوو نو هغه افعال په تعريف د فاعل کې داخل شوچې اسناد ئې فعل ته په طريقه د حدوث سره نه وي شوې بلکه په طريقې دقيام سره شوې وي لکه مَاتَ زَيدٌ او طَالَ بَکرٌ ځکه د بعض خلقو دا شبهه راخي چې فعل به صادر شوې وي د فعل نه نو موت او طول خو د زيد او بکر نه صادر نه دي

جواب: برابره خبره ده چې فعل صادر وي د فاعل نه لکه ضرب زيدٌ شو، ضَرب صادر دې د زيد فاعل نه او که په طريقې د تعلق او قيام سره وي لکه مات زيدٌ، طال بکرٌ شو.

دارنګه په دې قيد سره چې په طريقې دقيام سره وي نو فعل مجهول ترينه خارج شو ځکه هغه په طريقې د وقوع سره دې مثال د فعل: قام زيدٌ. مثال د شبه فعل: زيدٌ قائم ابوه.

اقسام شبه فعل: ۱: مصدر ۲: اسم فاعل ۳: اسم مفعول ٤: صفت مشبه ۵: اسم تفضيل ٦: صيغه مبالغه ۷: اسم منسوب ۸: ظرف (۹) اسم آله (۱۰) اسم فعل

ليکن دوي چې عامل ګرځي نو اعتماد به ئې شوې وي په ماقبل باندې

(تفصيل في المطولات)

فائده: فاعل به هميشه مرفوع وي او کله کله مجرور راخي.

چې اضافت د مصدر فاعل ته او شي مثال: لَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ يا په فاعل باندې باء زائده داخله

شي مثال: كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيدًا. يا په فاعل باندې مِنْ زائده داخل شي لكه: (مَاجَاءَنَا مِنْ بَشِيرٍ وَّلَانَذِيرٍ) دلته فاعل مجرور لفظاً دې اومرفوع معنا دې.

د مفعول مطلق تعريف

مفعول مطلق مصدريست كې واقع شود بعد ازفعلي وآن مصدربمعنی آن فعل باشدچون ضَرْبًا درضَرَبْتُ ضَرْبًا وقِيامًادرقُمْتُ قِيامًا.

ترجمه: مفعول مطلق هرهغه مصدر دې چې واقع وي وروستو د خپل فعل نه او دا مصدر به په معنیٰ د دغه فعل وي مثال: ضَرَبْتُ ضَرْبًا. قُمْتُ قِيامًا. قَعَدْتُ جُلُوْسًا. اَنْبَتَ نَبَاتًا.

تشريح: فعل چه ماقبل كې مذكور وي. نوعام دې لفظاً وي لكه امثله مذكوره شو. او كې مقدر وي لكه ضَرْبَ الرِّقَابِ اصل كې اِضْرِبُوْا ضَرْبَ الرِّقَابِ دي

وجه تسميه مفعول مطلق: ديته مفعول مطلق ځكه وائي چې دا د قيد د له اوفيه اومعه او به نه خالي دې لكه نورمفاعيل چې په دې قيودا تو سره مقيد دي

مفعول مطلق په دوه قسمه دې يعني په ده كې اعتبارين دي.

۱ باعتبارلفظ. ۲: باعتبار معنی. په اعتبار دلفظ سره په درې قسمه دې. مفعول مطلق به په معنی كې دماقبل فعل په شان وي، ليكن تغاير به وي پكې كله كله

نودا درې قسمه دې: ۱: تغاير في الباب والمادة مثال: (فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيفَةً).

۲: تغاير في الباب فقط (وَتَبَتَّلْ اِلَيهِ تَبْتِيلًا).

۳: تغاير في المادة فقط قَعَدْتُ جُلُوْسًا.

اومفعول مطلق باعتبار معنیٰ: درې قسمه دې۱: تاكيدي ۲: نوعي ۳: عددي

مفعول مطلق تاكيدي: ديته وائي چې دلالت كوي په هغه معنیٰ باندې چې مستفاده وي دفعل ماسبقه نه لكه ضربتُ ضرباً.

مفعول مطلق نوعي: ديته وائي چې دفعل په يوه نوع دلالت كوي جَلَسْتُ جَلْسَةَ الْقَارِيْ ضَرَبْتُ ضَرْبَ الْاَمِيْرِ.

مفعول مطلق عددي: ديته وائي چې دفعل په وحدت ياكثرت دلالت كوي لكه ضَرَبْتُ ضَرْبَتَيْنِ اوجَلَسْتُ جَلْسَتَيْنِ اوجَلَسَات

قاعده: مفعول مطلق تاکیدي بالاتفاق جمع اوتثنیه نه راځي اومفعول مطلق عددي بالاتفاق جمع اوتثنیه راځي او مفعول مطلق نوعي عند الجمهور راځي تثینه اوجمع اوامام سیبویه وائي: نه راځي.

د مفعول فیه تعریف

ومفعول فیه اسمیست کې فعل مذکور درو واقع شود واوراظرف گویند وظرف بردوگونه است الخ.

ترجمه: مفعول فیه هغه اسم دي چې فعل مذکوره پده کې واقع شوي وي او دیته ظرف وائي او ظرف په دوه قسمه دي.

تشریح: دا هغه اسم زمان یا مکان دي چې فعل مذکوره د فاعل به په ده کې واقع وي اودیته ظرف هم وائي. او ظرف په دوه قسمه دي۱: ظرف زمان ۲: ظرف مکان.

زمانه د وقوع دفعل ته ظرف زمان وائي مثال: ء.

اومکان د وقوع دفعل ته ظرف مکان وائي مثال: جَلَسْتُ عِنْدَكَ.

قاعده: په ظروفو کې بعض لازم الظرف دي، کله مبتدأ او خبر اوفاعل اومفعول هم واقع کیږي

لکه: اَلْيَوْمَ يَوْمٌ مُبَارَكٌ، پدې کې ظرف مبتداء او خبر واقع دي.

او اَعْجَبَنِي اَلْيَوْمُ . پدې کې ظرف فاعل واقع دي.

ظرف زمان په دوه قسمه دي:۱: مبهم لکه حین اودهر شو.

۲: محدود لکه سنة او شهر شو.

مکان هم دوه قسمه دي. ۱: مبهم لکه تحت فوق

۲: محدود ... لکه مسجد وسوق

ظرف زمان که مبهم وي اوکه محدود وي، همیشه به منصوب وي په تقدیر د في حرف جر سره.

لکه: جَلَسْتُ خَلْفَكَ آي فِي خَلْفِكَ.

په ظرف زمان مبهم کې به تقدیر د في ښکه وي چې دا جزء دي د مفهوم دفعل خپل نه نو مشابه شو د مفعول سره اومفعول مطلق ته ایصال دفعل بالذات کیدو بي د واسطې نه نو دوي ته به هم ایصال د فعل بالذات کیږي بې د واسطې نه.

اوظرف زمان محدود حمل دې په زمان مبهم باندې د وجې د اشتراک نه په ذات کې اوظرف مکان مبهم کې به هم تقدیر د في وي ښکه دا حمل دې په ظرف زمان مبهم باندې لوجې د اشتراک د دوي نه په وصف د ابهام کې اوظرف مکان محدود کې به ذکر د في وي لوجې د عدم

اشتراک دده نه د زمان مبهم سره په ذات کې، هغه زمان دې اودا مکان دې، هغه مبهم دې اودا محدود دې په وصف کې د رسره هم اشتراک نه لري.

د مفعول معه تعریف

ومفعول معه اسمیست کې مذکور باشد بعداز واو بمعنی مَعَ چون وَ الْجُبَّاتِ در جَاءَ الْبَرْدُ وَ الْجُبَّاتِ اي مَعَ الْجُبَّاتِ:

تشریح: بل قسم دهغه مفاعیلو نه چې فعل ورله نصب ورکوي. فعل معلوم وي اوکه مجهول وي مفعول معه دې دا هغه اسم دې چې ذکر شوې وي پس د واو نه چې په معنی دمَعَ سره وي لپاره د مصاحبت د معمول د فعل په صدور یا وقوع کې. مثال: جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ اي مَعَ الْجُبَّاتِ دا مثال د صدور دې

مثال د وقوع لکه: كَفَاكَ وَزَيْدًا دِرْهَمٌ، دا قید چې وروستو د واو نه به وي په دې سره ترینه خارج شو: جاءَني زيدٌ فعمرٌو ځکه دا بعد الفاء دې، نه بعد الواو اودا قید چې واو بمعنی مع باشد: په دې سره ترینه خارج شو هغه اسم چې بعد الواو وي لیکن په معنی د مع سره نه وي لکه جاءَ نِي زَيْدٌ وَعَمْرٌو قَبْلَه. لیکن شرط د مصاحبت لپاره اتحاد د زمان اومکان ضروري دې لکه سِرْتُ وَزَيداً د مکان مثال: لَوْ تُرِكَتِ النَاقَةُ وَفَصِيلَتُهَا لَرَضَعَتْهَا (والتفصیل في المطولات)

قاعده: د مفعول معه عامل عند الجمهور فعل یا شبه فعل دې واو نه دې

اوشیخ عبد القاهر جرجاني واو وائي، لکه نظم مأة عامل واو ذکر کړې دې لیکن دلته مصنف مذهب د جمهورو مختار کړې دې ځکه ئې مفعول معه د معمولاتو د فعل نه ګرځولې دې.

د مفعول له تعریف

ومفعول له اسمیست کې دلالت کند برچیزي کې سبب فعل مذکورباشد چون اِكْرَامًا در قُمْتُ اِكْرَامًالِزَيدٍ

ترجمه: او مفعول له هغه اسم دې چې دلالت کوي په داسې شي باندې چې سبب د مخکې ذکر شوي فعل لپاره وي لکه اکراما شو په: قمت اکراما لزید کې.

تشریح: دا هغه اسم دې چې فعل واقع وي د وجې دحصول دده نه لکه: ضَرَبْتُ زَيْدًا تَأْدِيبًا. وهل راغلي دي له وجې د حصول د تادیب نداو کله به فعل واقع وي د وجې د وجود دمفعول له نه:

قَعَدتُ عَنِ الْحَرْبِ جُبْنًا جُبن مخکې دې او قعود وروستو راغې یا لکه: قمتُ اکراماً لزید دلته نعل چې قیام دې د وجې د اکرام د زید نه. دا مثال د حصولي دې په شان د تأدیباً. لیکن شرط د نصب د مفعول له به تقدیر دلام وي ځکه تلفظ په حرف جر سره لازموي جر د مدخول خپل اودا دلته صحیح نه ده. مفعول له په اوه. ۷: حروفو سره راځي:

۱: باء. ۲: لام ۳: من. ٤: في. ٥: حتی. ٦: کي. ۷: کاف.

(لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْآنَ عَلىٰ جَبَلٍ لَرَأَيْتَه خَاشِعاً مُتَصَدِّعاً مِنْ خَشْيَةِ اللهِ: دا د من مثال دې مثال د باء:

(فَبِظُلْمٍ مِنَ الَّذِينَ هَادُوْ) الخ. [اِنَّ امْرَأَةً دَخَلَتِ النَّارَ فِي هِرَّةٍ]. (الحدیث)

دا مثال د في دې. لام سره ضربته للتأدیب.

او کله لام مقدره وي: ضربت زيداً تأديباً. دلته لام مقدر دې لکه دا مشهور د حروفو د تعلیل دې نو ملفوظاً هم راځي او مقدراً هم، دا نور به ملفوظاً وي او نه مقدراً په مفعول له کې ځکه ذهن که ذهاب تقدیر د دغه حروفو ته وکړي نو لازم به شي التباس او دا جائز نه ده.

د حال تعریف

وحال اسمیست نکره کې دلالت کند برهیئات فاعل چون راكِبًا درجَاءَ زَيْدٌرَا كِبًا یابرهیئت مفعول چون مَشْدُوْدًا در ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا یا برهیئت هردوچون رَا كِبَيْنِ در لَقِيتُ زَيْدًا رَا كِبَيْنِ.

ترجمه: او حال هغه اسم نکره دې چې دلالت کوي په هیئت او حالت د فاعل لکه راکباً شو په جاء زید راکباً کې یا به دلالت کوي په هیئت د مفعول به لکه مشدوداً شو په ضربت زیداً مشدوداً کې یا به دلالت کوي په هیئت د دواړو لکه راکبین شو په لقِيتُ زيداً راكِبَيْنِ کې

تشریح: حال هغه اسم دې چې د ذوالحال بیان کوي ذوالحال به یا فاعل وي. لکه جاء ني زید راکباً. یا به مفعول وي. لکه: ضربتُ زیداً مشدوداً او کله به د دواړو بیان کوي لکه لَقِيتُ زَيداً رَاكِبَيْنِ شو.

قاعده: حال به نکره وي غالباً او ذو الحال به معرفه وي غالباً، کې چرې ذو الحال نکره وه نو تقدیم د حال پرې واجب دې مثال لکه: رأيت رجلاً راکباً شو نو دلته به ویلې کیږي وجوباً د تقدیم د حال په ذو الحال باندې د دې لپاره چې د حال التباس د صفت سره رانشي په حالت نصبي د صفت کې او حالت رفعي او جري د حال دا حمل دې په حالت نصبي باندې طرداً للباب لکه: جاء

ني راكباً رجل مررت براكب رجل.
قاعده: حال كله د مبتداء، نه هم واقع كيږي مثال: زيدٌ راكباً حسنٌ ځكه مبتدأ فاعل حكمي وي دارنگه مفعول معه نه هم واقع كيږي ځكه مفعول معه كې دوه احتمالين دي كې د ماقبل فاعل سره په صدور دفعل كې شريك وو. نودا مفعول معه حكمي فاعل دې لكه جئتُ وزيداً. يا به د ماقبل مفعول سره شريك وي په وقوع د فعل د فاعل كې په ده باندې نو مفعول به حكمي شو. مثال: كَفَاكَ وَزَيْدًا رَاكِبًا.
دارنگه د مفعول مطلق نه هم حال واقع كيږي ځكه مفعول مطلق هم مفعول به حكمي دې لكه أَحْدَثْتُ ضَرْبًا شَدِيدًا وغيره وغيره.
(والتفصيل في هداية النحو والكافيه، وكفاية النحو شرح هداية النحو).
قاعده: حال به اسم مشتقي وي كې چرې جامد واقع شوې وونو تاويل به ترينه كيږي په مشتقي سره لكه زَيْدٌ اَسَداً اي شُجَاعًا. اُدْخُلُوا رَجُلًا رَجُلًا اي مُتَرَتِّبِينَ.
قاعده: حال مفرد هم واقع كيږي او جمله هم. د جملې درې ۳: شرطونه دي.
۱: شرط: جمله حاليه به جمله خبريه وي، انشائيه به نه وي
۲: شرط: د فعل په شروع كې به سين او سوف نه وي.
۳: شرط: د ذوالحال سره به رابط ضروري وي، رابط به يا واو وي يا به ضمير وي.
قاعده: ذوالحال به معرفه وي او حال به نكره وي او كله ذوالحال نكره هم واقع كيږي.
۱: جاء ني راكباً رَجُلٌ. ۲: هَلْ اَتَاكَ رَجُلٌ راكباً
۳: ذوالحال ټولو افرادو له شامل وو لكه: (فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ اَمْرٍ حَكِيمٍ اَمْرًا مِنْ عِنْدِنَا) وغيره وغيره.

د تمييز تعريف

> وتمييز اسميست كې رفع ابهام كند از عدد چون عِنْدِي اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا يا وزن چون عِنْدِي رِطْلٌ زَيْتًا يا از كيل چون عِنْدِي قَفِيزَانِ بُرًّا يا از مساحت چون مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا.

ترجمه: تمييز هغه اسم دي چې رفع د ابهام كوي د عدد نه يا د وزن نه او يا د كيل نه او يا د مساحت نه
تشريح: تمييز په لغت كې جدا كولو ته وائي او په اصطلاح كې تمييز اسم نكره ده چې په دې سره رفع د ابهام كيږي د ذات نه يا د نسبت نه په جمله كې.

تمیز په دوه قسمه دې ۱ : یو هغه چې رفع د ابهام کوي د ذات نه او دیته ۱ تمییز مفرد وائي

۲: دویم هغه دې چې رفع دَ ابهام عن النسبة کوي ویقال له تمییز جمله

هغه تمییز چې رفع د ابهام کوي د ذات نه د هغې اقسام دي

۱: رفع د ابهام د عدد نه راځي لکه: رَاَیتُ اَحَدَ عَشَرَ کَوکَباً. دلته اسم مبهم احدَ عشرَ دي او کوکباً ورله تمییز دې

۲: کله رفع د ابهام د وزن نه کوي لکه: عِندِي رِطلٌ زَیتًا رطل اسم مبهم دې زیتاً ورله تمییز دې

۳: کله به رفع د ابهام کوي د کیل نه. لکه: عِندِي قَفِیزَانِ بُرًّا.

٤: کله رفع د ابهام کوي د مسافت نه لکه: مَا فِي السَّمَاءِ قَدرُ رَاحَةٍ سَحَابًا. قَدرُ رَاحَة اسم مبهم دې، سحاباً ورله تمییز دې

دویم قسم چې رفع د ابهام کوي د نسبت نه في الجملة مثال لکه: طَابَ زَیدٌ نَفساً.


او د دې اقسام دي ۱ : دا به کله محول عن الفاعل وي یعني اصل کې به تمییز فاعل وي بیا به ترینه تمییز جوړشوې وي لکه: طاب زیدٌ نفساً په اصل کې طابت نفس زید وو. نفس فاعل دې د طابَت لپاره بیا تمییز ترینه جوړ شو. (وَاشتَعَلَ الرَّأسُ شَیبًا:

۲: یا به محول عن المفعول وي لکه: (وَفَجَّرنَا الاَرضَ عُیُونًا). در اصل : فَجَّرنَا عُیُونَ الاَرضِ. عیونا مفعول د فجرنا وو بیا تمییز شو. دا رنګه: غَرَستُ الاَرضَ شَجَرًا.

۳: او کله محول عن المبتدأ وي لکه:

(وَکَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ یُحَاوِرُهُ اَنَه اَکثَرُ مِنکَ مَالًا وَّ اَعَزُّ نَفَرًا).

مالاً او نفراً تمییز دي اصل کې مبتدأ وه تقدیر دا رنګه وو: مَالِي اَکثَرُ مِنکَ.



۱: عدد.... عندي عشرون درهماً

۲: وزن.... عندى رطل زيتاً ومنوان سمنه

۳: كيل.... عندي قفيزان بُراً

٤: مقياس... علي التمرة مثلها زبداً

۵: مساحة... ما في السماء قدر راحة سحاباً

مقدر عن نسبة

جمله.... طاب زيدٌ نفساً واباً وابوّة وداراً وعلماً

شبه جمله... زيدٌ طيبٌ ،نفساً ،اباً ،واُبوّة ، وداراً وعِلماً

اضافت.... يعجبني طيبة نفساً واباً واُبُوّة وداراً وعِلماً.

د مفعول به تعريف

ومفعول به اسميست كې فعل فاعل برو واقع شود چون ضَرَبَ زَيدٌ عَمرًا:

تشريح: مفعول به يو اسم دې چې فعل د فاعل په ده واقع شوې وي لكه: ضربَ زيدٌ عمراً يا تعلق د فعل د مفعول سره جوړه وي لكه (اِياكَ نَعْبُدُ وَاِياكَ نَسْتَعِينُ).

قاعده: كله به فعل د مفعول حذف كيږي ليكن دا حذف دوه قسمه دي:

۱: حذف وجوبي. ۲: حذف جوازي.

حذف جوازي لپاره چند صورتونه دي اود دې حذف لپاره قرينه وي او قرينه په دوه قسمه ده. ۱: قرينه حاليه ۲: او قرينه مقاليه.

قرينه حاليه مثال: مَكَّة يا شَيخ اَي تُرِيدُ مَكَّة يا شَيخ. قرينه پرې حال دحاجي دي چې روان بيت الله ته وي او قرينه مقاليه مثال من ضربتَ جواب زيداً اي ضربتُ زيداً.

دحذف وجوبي خلور مواضع دي مشهور. دا بيا دوه قسمه دي ۱: سماعي ۲: قياسي. سماعي لکه:

۱: اِمرَأً وَنَفسَه اَي اُترُكِ امرَأً وَنَفسَه

۲: وَانتَهوا خَيرًا لَكُمْ اَي وَاقصُدُوا التَّوحِيدَ خَيرًا لَكُمْ.

۳: اَهلاً وَسَهلاً اَي اَتَيتَ اَهلًا وَوَطِيتَ سَهلاً.

وجوبي: ۱: منادى لکه: ياعبد الله کې ۲: تحذير کې لکه: اِياکَ منَ الاسد.

۴: ما اضمر عامله کې لکه: زيداً ضربته.

دا مواضع مشهور دي درې قياسي او يو سماعي.

اوغير مشهور لکه باب د اغراء شو اَخَاکَ اَخَاکَ اَي اِلزَمْ منصوب على سبيل التحضيض چې اعني او اَخُصُّ دي منصوب على سبيل المدح والذم د مدح مثال لکه: بسم الله الرحمنَ الرحيمَ بالفتحة اي اَمدَحُ الرحمنَ الرحيمَ.


الفرق بين التمييز والصفة وكذا بين التمييز والحال

تميز يرفع الابهام عن الذات صفت
يرفع الابهام عن الصفة

تميز يرفع الابهام عن ذات. حال يرفع الابهام عن الصفة

تميز:
- ٢: جار مجرور ظرف نه واقع كيږي.
- ٣: تميز د خپل مميز تاكيد نه واقع كيږي.
- ٤: هميشه به مفرد وي.
- ٥: جمله نه واقع كيږي.
- ٦: په مميز نه مقدم كيږي.

حال:
- ٢: حال واقع كيږي.
- ٣: حال تاكيد واقع كيږي.
- ٤: حال متعدد واقع كيږي.
- ٥: جمله هم واقع كيږي.
- ٦: يجوز تقديمه على ذي الحال



بدانکه این همه منصوبات بعد از تمامي جمله باشند وجمله بفعل وفاعل تمام شود بدین سبب گویند که

اَلْمَنْصُوبُ فَضْلَةٌ

پوهه شه چې دا ټول منصوبات د جملې د پوره کېدو نه وروستو وي او جمله په فعل او فاعل باندې پوره کېږي د دې وجه نه ويلې کېږي چې منصوب فضله (زیاتي) وي

فصل

تقسیم د فاعل مظهر او مضمر ته

بدانکه فاعل بر دوقسم است مظهر چون ضَرَبَ زَيْدٌ ومضمر بارز چون ضَرَبْتُ ومستتر يعني پوشيده چون زَيْدٌ ضَرَبَ كي فاعل ضَرَبَ هو است در ضَرَبَ مستتر.

ترجمه: پوهه شه چې فاعل په دوه قسمه دي، يو اسم ظاهر لکه ضَرَبَ زَيْدٌ او بل ضمير بارز لکه ضَرَبْتُ او بل مستتر (يعني پټ) دي لکه زيد ضَرَبَ چې فاعل د ضَرَبَ هوَ دي په ضَرَبَ کې مستتر دي.

تشریح: په دې فصل کې اقسام دفاعل ذکر کوي ظاهر۱ او مضمر۱ ومستتر۱ او بارز۱ سره د امثلو هر واحد نه يعني فاعل په دوه قسمه دي يو اسم ظاهر لکه زيد په ضرب زيد کې شو او بل فاعل اسم ضمير دي بيا ضمير په دوه قسمه دي، يو ضمير بارز (ښکاره) لکه په ضربتُ کې تُ ضمير بارز فاعل دي د ضربه او بل ضمير مستتر (پټ) دي لکه په زيد ضرب کې په ضرب کې ضمير (هوَ) مستتر دي او هغه فاعل د ضربَ دي او د دې تفصيل مصنف داسې بيان کړيدې:

بدانکه چون فاعل فعل مؤنث حقيقي ياضمير مؤنث باشد، علامت تانيث در فعل لازم باشد چون قَامَتْ هِنْدٌ وهِنْدٌ قَامَتْ أي هي.

ترجمه: پوهه شه چې هر کله فاعل د فعل مؤنث حقيقي وي يا ضمير د مؤنث وي نو په فعل کې به علامه د تانيث راوړل لازم وي لکه قَامَتْ هِنْدٌ او هند قامت چې پدې کې هي ضمير مستتر دي.

تشریح: ۱: هر کله چې فاعل د فعل مؤنث حقيقي اسم ظاهر وو مثال لکه ضربتْ هندٌ.

۲: يا ضمير دمؤنث حقيقي وو. لکه هِنْدٌ ضَرَبَتْ. اِمْرَأَةٌ ضَرَبَتْ يا غير حقيقي وي لکه الشمس طَلَعَتْ نو تانيث د فعل واجب دي ليکن په مؤنث حقيقي اسم ظاهر کې به قيد د بلافصل وي ورنه حکم د هغې وروستو راځي، هر چې اول صورت کې تانيث دفعل واجب دي نو وجه دا ده،

لپاره د دې چې تانیث د فعل دلالت وکړي په تانیث د فاعل باندې د اول حالت نه هر کله چې
فعل مؤنث شو، معلومه شوه چې فاعل ورلره هم مؤنث دې
اودویم صورت کې تانیث د فعل واجب دې ځکه د ضمیر د خپلې مرجع سره موافقت وي په
تانیث او تذکیر کې.

دریم صورت: ودر مظهر مؤنث غیر حقیقي
څلورم صورت: ودر مظهر جمع تکسیر دو وجه روا باشد.
ترجمه: چه فاعل مؤنث غیر حقیقي وی دوه وجه روا دی په فعل کی.
او په مظهر جمع تکسیر کې دوه وجه روا دي) یعني تذکیر د فعل اوتانیث دفعل دواړه روادي
تانیث په اعتبار معنیٰ سره اوتذکیر په اعتبار د لفظ سره.


مثال د دریم صورت: طَلَعَ الشَّمْسُ او طَلَعَتِ الشَّمْسُ. شمس فاعل د فعل دې او مؤنث غیر حقیقي
دې نولفظ دده مذکر دې نوفعل به ورته مذکر وي اومعنیٰ دده معنیٰ د مؤنث ده نو فعل به ورته
مؤنث وي

مثال د څلورم صورت: قَامَ الرِّجَالُ. قَامَتِ الرِّجَالُ. رجال جمع مکسر اسم ظاهر فاعل دفعل دې،
تذکیر د فعل په دې کې روا دې ځکه لفظ د رجال مذکر دې فاعل چې مذکر وي نوفعل ئې هم
مذکر وي اوتانیث د فعل پکې هم روا دې ځکه جمع په تاویل دجماعة سره مؤنث ده نوفعل به
ورته مؤنث کیږي کمامر.

په دې صورت کې جمع مؤنث سالم اسم ظاهر هم داخله ده چې فاعل واقع شي د فعل لکه: قَامَ
الْهِنْدَاتُ. قَامَتِ الْهِنْدَاتُ. دواړه جائزدي بتذکیر الفعل وتانیثه لوجې دعدم مانع نه کما مر في
جمع المذکر السالم نحو مُسْلِمُوْنَ.


دوه صورتونه مصنف پریخودي دي
۱: یو دا چې فاعل د فعل مؤنث حقیقي وي سره د فصل نه لکه دیته اشاره شوې ده مخکې.
نودلته هم تذکیر د فعل اوتانیث د فعل دواړه جائز دي په شان دمؤنث غیر حقیقي اوجمع
مکسر.مثال: حَضَرَتِ الْقَاضِيَ امْرَأَةٌ. حَضَرَ الْقَاضِيَ امْرَأَةٌ.
۲: بل صورت چې فاعل دفعل ضمیر د جمع مکسر وي نوتذکیر د فعل اوتانیث دواړه جائز
دي "اَلرِّجَالُ قَامَتْ. اَلرِّجَالُ قَامُوْا" لوجې د اختصار نه.
اوهغه صورت چې فاعل دفعل ضمیر دمؤنث غیر حقیقي وي لکه "الشمسُ طلعَت" دلته

الشمس طلع غلط دي بلكه تانيث د فعل واجب دي نو دغه ته اشاره شوې ده په متن کې په دې قول سره: باضمير مؤنث باشد دا مطلقاً ذکر شوې دې حقيقي وي او که غير حقيقي وي. تانيث د فعل ورلره لازم دي لاندې صفحه کې د دې تفصيل نقشه کې ذکر دي (فتامل ولاتکن من الغافلين)



تانيث الفعل ممتنع تفصيل اين سيأتي

الشمس طلعَ غلط دي بلکه تانیث د فعل واجب دې نو دغه ته اشاره شوې ده په متن کې په دې قول سره: یاضمیر مؤنث باشد. دا مطلقاً ذکر شوې دې حقیقي وي او که غیر حقیقي وي، تانیث د فعل ورلره لازم دې لاندې صفحه کې د دې تفصیل نقشه کې ذکر دې (فتامل ولاتکن من الغافلین)



تأنیث الفعل ممتنع تفصیل این سیأتي.

عمل د فعل مجهول

قسم دوم مجهول بدانکه فعل مجهول بجائي فاعل مفعول به رابرفع کند وباقي رابنصب کندچون ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيرِ ضَرْبًا شَدِيدًا فِي دَارِهِ تَأْدِيبًا وَالْخَشَبَةَ.

ترجمه: دويم قسم دفعل نه فعل مجهول دي پوهه شه چې فعل مجهول په ځاي دفاعل باندې مفعول به لره رفع ورکوي اوباقي مفاعيلولره نصب الخ.

تشريح: هر کله چې فارغ شو مصنف د بيان د فعل معلوم نه په اعتبار دعمل سره نو شروع ئې اوکړه په عمل د فعل مجهول کې. فعل مجهول په ځاني د فاعل باندې مفعول به لره رفع ورکوي اونورومفاعيلو لره نصب ورکوي کوم چې ذکر دي په عمل دفعل معلوم کې چې مفعول مطلق وغيره دي

مثال: ضُرِبَ زَيْدٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَمَامَ الْأَمِيرِ ضَرْبًا شَدِيدًا فِي دَارِهِ تَأْدِيبًا وَالْخَشَبَةَ:
دلته د ضُرِبَ نائب فاعل زيدٌ دې، دا په اصل کې مفعول به وو يوم الجمعة مفعول فيه ظرف زمان دې، امام الامير مفعول فيه ظرف مکان مبهم دې، ضرباً شديداً مفعول مطلق دې، في داره مفعول فيه ظرف مکان محدود دې، تاديباً مفعول له دي، والخشبة مفعول معه دي، دې ټولو مفاعيلو لره فعل مجهول نصب ورکړي دي حاصل دا شو چې مفعول به په ځائې د فاعل په فعل مجهول کې واقع کيږي د دې وجې نه ديته نائب فاعل وائي قائم مقام د فاعل په اسناد د فعل کې ده ته

وفعل مجهول رافعل مالم يسم فاعله گويند ومرفوعش رامفعول مالم يسمَّ فاعله گويند.

ترجمه: او فعل مجهول ته فعل ما لم يسم فاعله وائي او دده مرفوع ته يعني ده چې چا له رفع ورکړيده هغه ته مفعول ما لم يسم فاعله وائي.

تشريح: ضُرِبَ ته لکه څرنګه چې فعل ماضي مجهول وائي نو فعل مالم يسم فاعله هم ورته وائي معنیٰ دا چې فاعل د ده د سره ذکر نه دي او ده چې کوم مفعول ته رفع ورکړيده نو هغه ته مفعول ما لم يسم فاعله وائي. زيدٌ ته په ضُرِبَ زيدٌ. کې مفعول مالم يسمَّ فاعله وائي ځکه دده فاعل ذکر نه دې او دا مفعول په ځائې د فاعل واقع دي

سوال: مفعول به په ځائې د فاعل څنګه واقع شي فاعل خو عمده وي او مفعول فضله وي ؟.

جواب: مفعول قائم دې په ځائې د فاعل په اسناد دفعل کې ده ته، يعني اسناد د فعل ديته کيږي لکه مخکې فاعل ته کيده او يو شي چې قائم شي په ځائې د بل نو اخلي حکم د هغه

سوالات (تمرين) تعيين فاعل اومفاعيل د فعل معلوم اومجهول

اِتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ	اُذْكُرُوا اللهَ ذِكْرًا كَثِيرًا
يَنْصُرَكَ اللهُ نَصْرًا عَزِيزًا	لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطٰنِ
حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ	تَبْيَضُّ وُجُوهٌ
مَا زَاغَ الْبَصَرُ	يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْاَنْهَارُ
وَدَّتْ طَائِفَةٌ	قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ
وَقَالَ نِسْوَةٌ فِي الْمَدِينَةِ	كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ

فصل

تقسيم د فعل متعدي

بدانكه فعل متعدي برچهار قسم است .

مخكې ذكر دفعل لازمي وشو أوس بيان دفعل متعدي كوي، فعل لازمي مفعول به نه غواړي اوفعل متعدي مفعول به غواړي ليكن كله به يو مفعول به غواړي اوكله دوه الخ دلته أوس د دې بيان كوي

فعل متعدي په اعتبار د تعديت سره په څلور قسمه دي

اول متعدي بيک مفعول چون " ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا "

ضرب فعل زيدٌ فاعل عمراً مفعول به.

دوم متعدي به دومفعول كه اقتصار بريک مفعول رواباشدچون اَعْطي وآن چه درمعنى ئي أوباشدچون اَعطَيتُ زَيْدًا دِرْهمًا واينجا اَعْطَيْتُ زَيْدًا نيز جائز ست.

ترجمه : دويم متعدي دوه مفعولو ته چې اقتصار به ئې په يو مفعول روا وي لكه اعطي شو او هغه چې په معنى ددي وي لكه اعطيت زيداً درهماً او پدې ځائې كې اَعْطَيْتُ زَيْدًا ويل هم جائز دي:

تشريح : كوم فعل چې متعدي وي دوه مفعولو ته دا بيا په دوه قسمه دې ۱ : يو هغه دي چې اكتفاء او اقتصار په يو مفعول جائز وي دويم د دې بالعكس چې اقتصار په يو مفعول نه وي جائز، مثال د اول چې اقتصار په يو مفعول جائز وي كه يو ترينه حذف شي اوبل ذكر وي نو هم

کلام کې نقصان او خلل نه واقع کیږي او هغه مفعولین د اَعطي دي او هغه چې په معنی دده وي لکه کَسَوتُ مثال:

اَعْطَیتُ زَیداً دِرهماً. زیداً: مفعول اول، درهماً مفعول ثاني د اعطیت. په دې کې داسې هم ویل جائز دي: اَعْطَیتُ زَیدًا. په حذف د مفعول ثاني سره. او داسې هم ویلې شي: اَعْطَیتُ دِرْهَمًا په حذف د مفعول اول سره. دا رنګه مثال د کَسَوْتُ اې کَسَوْتُ زیداً جُبَّةً.

سوم متعدي بدومفعول که اقتصار بیک مفعول روانباشد واین درافعال قلوب است چون عَلِمْتُ وَظَنَنْتُ وَ حَسِبْتُ وَخِلْتُ الخ.

ترجمه: دریم هغه چې متعدي وي دوه مفعولو ته چې اقتصار په یو مفعول روا نه وي او دا په افعال قلوبو کې وي لکه: عَلِمْتُ او ظَنَنْتُ الخ

تشریح دا قسم راځي په افعال قلوبو کې لکه عَلِمْتُ زَیداً فَاضِلاً. زَیداً مفعول اول او فاضلاً مفعول ثاني د علمتُ دي دلته قاعده دا ده چې دواړه به ذکر وي یا دواړه حذف کیږي

دا جائز نه دي چې یو حذف شي او بل پاتې شي لکه عَلِمْتُ زَیداً یا عَلِمْتُ فَاضِلاً ویل جائز نه دي ځکه مفعول د باب د علمتُ په حقیقت کې مضمون د جملې وي

مضمون د جملې دیته وائي چې اخذ د مصدر به اُوکړې شي د جزء مشتقي نه او مضاف به شي جزء غیر مشتقي ته مثلاً عَلِمْتُ زَیداً فاضلاً دې نو عَلِمْتُ فَضْلَ زَیدٍ به شي مصدر را واخستلې شو د فاضلاً مفعول ثاني او مضاف شو زیداً مفعول اول ته چې غیر مشتقي دې نو فضلَ زید ترینه جوړ شو. اُوس کې مفعول اول د باب د عَلِمْتُ حذف کړې شي نو حذف د مضاف الیه به لازم شي او کې مفعول ثاني حذف کړې شي نو حذف د مضاف به لازم شي او دا جائز نه دي ځکه مضاف او مضاف الیه جزء د جملې واقع کیږي نو لازم به شي حذف د بعض اجزاء د کلمې سره د بقاء د بعض نه وذالک غیر جائز.

چهارم متعدي بسه مفعول. چون اَعْلَمَ. وَاَرٰي. وَاَنْبَأَ. وَاَخْبَرَ الخ.

څلورم قسم د متعدي نه هغه فعل متعدي دې چې درې مفاعیل غواړي هغه اَعْلَمَ او اَرٰی او نَبَّأَ وَاَنْبَأَ وَخَبَّرَ وَاَخْبَرَ او وَجَدْتُ دي. مثال: اَعْلَمَ اللّٰهُ زَیدًا عَمْرًا فَاضِلاً. اَعْلَمَ فعل، لفظ د اللهُ ورله فاعل زَیداً مفعول اول، عَمْراً مفعول ثاني، فاضلاً مفعول ثالث.

نقشه افعال متعدیه

۱: متعدی بیک مفعول .... ضَرَبَ زَیدٌ عَمرًا

۲: متعدی بدو مفعول ویجوز الاقتصار بواحد منها- اَعْطَیتُ زَیدًا دِرهَمًا

۱: اَعْطیت زیدًا
هم جائز است
۲: اعطیت درهمًا

۳: متعدی بدو مفعول لا یجُوز الاقتصار بواحِد منها یذکر معا، علمت زیدًا فاضلا

۱: علمت زیدا
جائز نیست.
۲: علمت فاضلاً

٤: متعدی به سه مفعول .... اَعْلَمُ... اَرَی... اَنْبَأَ... اَخْبَرَ.... وغیره

بدانکه این همه مفعولات مفعول به اند ومفعول دوم در باب عَلِمتُ، ومفعول سوم در باب آعلَمتُ ومفعول له ومفعول معه رابجائي فاعل نتوانند نهاد ودیگرها را شاید ودرباب آعطیتُ مفعول اول بمفعول مالم یسم فاعله لائق تر باشد از مفعول دوم.

ترجمه: پوهه شه چې دا ټول (ذکر شوي) مفاعیل مفعول به دي (یعني مفعول به ګرځوی) او دویم مفعول په باب د علمت کې او دریم مفعول په باب اعلمت کې او مفعول له او مفعول معه په ځائې د فاعل باندې نه شي کیخودلې کیدې او د دې نه علاوه لائق دي (چې په ځائې د فاعل کیخودې شي) او په باب د اعطیت کې مفعول اول د مفعول ما لم یسم فاعله (جوړیدو) ډیر لائق دي د دویم مفعول نه.

تشریح: غرض دعبارت نه جواب د سوال د سائل دې، سوال په دې شان واردیږي چې مخکې ذکر وشو چې فعل مجهول په ځائې دفاعل به مفعول لره رفع ورکوي اوقائمقام ګرځي دفاعل نومفاعیل خو ډیر دي نوهر مفعول په ځائې د فاعل واقع کیږي اوکه بعض واقع کیږي اوبعض نه واقع کیږي ؟.

په دې عبارت سره بیان د تعیین د هغه مفاعیلو ئې وکړوچې په ځائې د فاعل نه واقع کیږي

نووې ویل: ومفعول دوم الخ.

دویم مفعول د باب د عَلِمتُ په ځائې دفاعل نه واقع کیږي مثال لکه: عَلِمتُ زیداً فاضلاً ځکه دا مسند وو اول نه چې کله فعل قلب پرې نه وو داخل شوې ځکه خبر وو او اول مسندالیه

وو، مبتدا وه، اوس كه دا مفعول ثاني نائب فاعل شي نو د فعل اسناد به ورته اوشي اودا به مسند اليه شي نولازم به شي كون د مفعول مسند اومسنداليه په يو وخت كې اودا جائز نه دي او هر چې مفعول ثالث د باب د اعلمتُ په ځائې دفاعل نه واقع كيږي ځكه دا مسندوو ثاني ته كه اوس نائب فاعل شي نولازم به شي كون د شي واحد په آن واحد كې مسند او مسند اليه او دا جائز نه ده.

اومفعول له هم نائب فاعل نه واقع كيږي ځكه نصب دده دلالت كوي په دې خبره چې دا علت دفعل دي اونائب فاعل خومرفوع وي نودلالت به په معنى دعلتيت فوت شي او دا جائز نه دي، ليكن دا قاعده په هغه مفعول له كې ده چې لام ورسره ذكر نه وي اوكه لام ذكر وي نو بيا مفعول له نائب فاعل واقع كيدي شي لكه "ضرب للتاديب" ځكه نائب فاعل په دې صورت كې مجرور وي

اومفعول معه هم نه واقع كيږي په ځائې د فاعل باندې ځكه مفعول معه ديته وائي چې ذكر وي بعد الواو. اوس سره د واو نه نائب فاعل مفعول معه واقع شي نودا واو خو تقاضيٰ د انفصال كوي او په مابين د فعل اوفاعل كې اتصال وي اوكه بغير د واو نه نائب فاعل شي نو مفعول معه به مفعول معه نه شي.

تمرين الفعل المتعدي

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُه	وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجاً
لَاتَحْسَبُوْنِيْ كَاذِباً	وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ .
بُعْثِرَ مَا فِي الْقُبُوْرِ	لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ
كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ	وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا
وَلَاتَحْسَبَنَّ اللّٰهَ غَافِلاً عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُوْنَ	زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوَاتِ

عمل فعل مجهول

صورت قائمقام	ظرف مکان	مفعول معه	مفعول فیه مفعول له (ظرف زمان محدود)	مفعول مطلق	ظرف مکان مبهم	نائب فاعل	فعل مجهول
یجوز	في داره	وسوطا	تأدیبا في یوم الجمعة	ضربًا شدیدًا	امام الامیر	زَید	ضُرِبَ

تادیبًا- فاعل — فاعل

ضُرِبَ- نائب مفعول به - - مفعول له - - — لا یجوز

ضُرِبَ- وسط مفعول معه - - - - مفعول معه - -

ضُرِبَ- للتأدیب - - - مفعول له مع اللام - - — یجوز

عُلِمَ در علمتُ زیدٌ مفعول اول باب علمت — یجوز

قائمقام فاعل

عُلِمَ فَاضِلٌ مفعول ثانی باب علمت قائمقام فاعل — لا یجوز

اعلم الله زیدًا فاضل مفعول ثالث باب اعلمت — لا یجوز

قائمقام فاعل

فعل متعدي

۱: متعدي یو مفعول ته ضَرَبَ زیدٌ عمراً

۲: متعدي دوه مفعولو ته. اعطیت زیداً درهماً. اقتصار په یو روا دي.

۲: متعدي دوه مفعول ته علمت زیداً فاضلاً. اقتصار په یو روانه دي.

٤: متعدي دري مفعول ته. اعلم الله زیداً عمراً فاضلاً.

بحذف مفعول ثاني. اعطیت زیداً جائز علمت زیداً یجوز بحذف مفعول ثاني.

بحذف مفعول اول.. اعطیت درهماً جائز علمت فاضلاً لایجوز بحذف مفعول اول.

ودرباب اعطیت مفعول اول بمفعول مالم یسم فاعله لائق ترباشد ازمفعول دوم.

ترجمه: او په باب د اعطیت کې اول مفعول په مفعول ما لم یسم فاعله جوړولو ډیر لائق دي د دویم مفعول نه

تشریح: د اعطیت مفعول اول او مفعول ثاني دواړه په ځائې د فاعل واقع کیدي شي. داسې ویلي شي أُعْطِيَ زِيْدٌ دِرْهَماً دارنګه أُعْطِيَ دِرْهَمٌ زَيْداً.

لیکن په دې کې مفعول اول چې زیداً دې د مفعول ثاني نه چې درهماً په ځائې دفاعل واقع کیدل غوره دي ځکه په ده کې معنیٰ د فاعلیت هم ده چې اخذ دې د درهم او آخِذ فاعل وي او معنی د مفعول هم ده چې ماخوذ دې او معطيٰ له دې بخلاف ثاني چې دي ماخوذ دې او آخذ نه دې، معطي له دې او معطي نه دی.

هر کله چې افعال ناقصه او افعال مقاربه او افعال مدح اوذم او فعل تعجب د افعال عاملو نه وو لیکن د دوي عمل جدا وو په شان د عامو افعالو نه وو لکه مخکې ذکر شو نو مصنف دا جدا ذکر کړل نو وې ویل:

فصل

بیان د افعال ناقصه وو

بدانکه افعال ناقصه هفده اند. كَانَ وَصَارَ وَظَلَّ وَبَاتَ وَاَصْبَحَ وَاَضْحي وَاَمْسي وَعَادَ وَآضَ وَغَدَا وَرَاحَ وَمَازَالَ وَمَا انْفَكَّ وَمَابَرِحَ وَمَادَامَ وَلَيْس.

تشریح: افعال ناقصه مشهور اولس (۱۷) دي ځوک دیارلس (۱۳) وائي.

سیبویه په دې کې حصر نه وائي.

پس زده کړه دا خبره چې فعل په دوه قسمه دې فعل تام او فعل ناقص. فعل تام دیته وائي چې یوځاي په فاعل سره تمامیږي لکه نَصَرَ فعل تام دې او ضَرَبَ فعل تام دې وغیره وغیره.

او فعل ناقص دیته وائي چې یوځاي په فاعل نه تمامیږي بلکه مابعد ته محتاج وي چې خبر دې مثلاً کان زید قائماً شو. کان یوځاي په زید نه تمامیږي قائماً ته محتاج دې.

سوال: فعل ناقص دیته وائي چې لام کلمه کې حرف علت وي لکه دُعِيَ، رَضِيَ شو نو کان صادر وغیره کې حرف علت نشته نو دا ځنګه افعال ناقصه دي؟

جواب: فعل ناقص په دوه قسمه دې ۱: لفظي ۲: معنوي.

لفظي: ظاهر دې چې لام کلمه دهغه کې حرف علت وي د دینه بحث صرفیان کوي.

معنوي: معنوي دیته وائي چې معنی کې نقص وي نه تمامیږي په فاعل سره بغیر د ذکر دخبر نه، دلته مراد د ناقص نه ثاني دي لکه مصنف کتاب کې هم ذکر کړیدي **این افعال تمام نشود الخ.**

چون کان صار الخ:

د افعال ناقصه ونه اول کان دی د ماضي صيغه ده مصدر یې کونٌ دی د دې مصدر ماضي مضارع امر څو مره چې مشتقات دي دا د فعل ناقص عمل کوي اسم لره رفع ورکوي او خبر لره نصب ورکوي کان په درې قسمه دې ۱: کان ناقصه ۲: تامه ۳: زائده.

کان ناقصه دیته وائي چې خبر خپل ثابتوي اسم خپل لره په زمانه ماضي کې دا بیا په دوه قسمه دې ۱: دائمي ۲: او غیر دائمي.

دائمي معنی خبر به د اسم نه نه جدا کیږي. مثال: (وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَحِيماً)، (وَكَانَ اللهُ عَلِيمًا حَكِيمًا).

مثال د غیر دائمي چې انفکاک پکې وي لکه: کان زید قائماً.

۲: کان تامه دیته وائي چې فقط په اسم باندې تمامیږي خبر ته ئې ضرورت نه وي علامه د کان تامه دا ده په معنی د (وَجَدَ، حَصَلَ، ثَبَتَ، دَخَلَ) سره وي مثال: (وَإِنْ كَانَ ذُوْعُسْرَةٍ) [قَدْ كَانَ مَطَرٌ أَيْ وَجَدَ مَطَرٌ وَثَبَتَ]

۳: کان زائده دیته وائي چې کلام کې به زائد وي عمل به نکوي. صرف د تحسين د کلام لپاره به راوړې شوې وي په کلام کې.

۱: قَدْكَانَ مِنْ مَطَرٍ. ۲: (كَيْفَ نُكَلِّمُ مَنْ كَانَ فِي الْمَهْدِ صَبِياً).

قاعده: کله کان په لفظ کې حذف شوې وي او عمل ئې باقي وي لکه: [إِنْ خَيراً فَخَيْرٌ]. اصل کې: إِنْ كَانَ عَمَلُه خَيراً فَجَزَاؤُه خَيرٌ. (کافیه)

قاعده: د کان خبر په دوه صورتونو کې فعل ماضي راځي.

۱: په خبر باندې قد داخل وي لکه کان زیدٌ قدْ رَكِبَ.

۲: د کان نه مخکې حرف شرط راشي. (إِنْ كَانَ قَمِيصُه قُدَّ مِنْ دُبُرٍ).

۲: دویم صار: ماضي صیغه ده د صیرورة نه ماخوذ دې خپل اسم په خبر سره موصوف کوي صار زیدٌ غنیاً.

۳: دریم ظل: کله په معنی د صَارَ راځي، او کله د تمام النهار په معنی د تلو راځي. لکه: ظَلَّ زَيدٌ سَائِراً.

۴: بات: د بیتوتة مصدر نه مأخوذ دې په معنی د شپې گرځیدل بَاتَ خَالِدٌ نَائِماً.

۵: اصبح: معنی اتصافه بالصباح لکه اصبح بکر مریضاً.

۶: اضحیٰ: اتصافه في الضحیٰ. اضحیٰ زیدٌ کاتباً.

۷: امسیٰ: اتصافه بالمساء. لکه: امسیٰ حمید قارئاً.

۸: عاد، آض، غدا: بمعنی صار. عادزیدٌ غنیاً.

۹: مازال ماانفک مابرح ما فتيءَ تدل علي الدوام. مازال خالدٌ کریماً.

۱۰: مادام: مامصدریه ظرفیه: د ظرف مطلب دا دي چې د وخت معنی پکې ده او د مصدریه مطلب دادي چې مدخول خپل په تاویل د مصدرګرځوی مثال لکه: اِجْلِسْ مَادَامَ زَیْدٌ جَالِسًا.

۱۱: لیس: اصل کې لَیِسَ وو په وزن د سَمِعَ د تخفیف لپاره یاء ساکنه شوه.د دې صرف د ماضي صیغه استعمال ده چې لَیْسَ او لَیْسَتْ او لَیْسُوْا دي.د خپل اسم نه خبر نفي کوي لکه: لیس زیدٌ عالماً.

قاعده: افعال ناقصه په عمل کې په درې قسمه دي

۱: چې اول کې حرف نفي نه وي لکه کان صار وغیره. خبر ددوي په اسم باندې هم مخکې کیدي شي مثال "کَانَ قَائِماً زیدٌ".

او د دوي خبرپه دې افعالو هم مخکې کیدي شي. لکه قائماً کان زیدٌ. ځکه دا افعال قوي العمل دي، عمل په معمول مرتب اوغیر مرتب په مقدم او مؤخرتولو کې کولې شي.

۲: دویم قسم چې اول کې ئې کلمه د ماوي، ما یا مصدریه وي. لکه مادام یا ما نافیه وي لکه مازال، مابرح، مافتيءَ، ما انفک.


خبر د دوي په اسم مقدم کیدیشي ځکه دوي قوی العمل دي په مرتب معمول اوغیر مرتب معمول دواړو کې عمل کولې شي. اود دوي خبر په دوي یعني په دې افعالو نشي مخکې کیدې، داسې نشي ویلې: کریماً مازال خالد.

ځکه په اول د دوي کې ما نافیه دې د هغه تقاضي د صدارت فوت کیږي یا اول کې ما مصدریه دې لکه مادام. نو د هغه مدخول مصدر دې په ماقبل کې عمل نشي کولې ځکه مصدر په معمول متأخر کې عمل کوي اوپه متقدم کې ئې نشي کولې ولا یتقدم معموله علیه (کافیه). یا صدارت د ما فوت کیږي.

۳: دریم قسم لیسَ دې، دده خبر دده په اسم مقدم کیدې شي کما مر.اوخبر د لیس په ده باندې په نزد بعضو مقدم کیدې شي، قیاس دې په هغه افعالو چې اول کې کلمه د ما نه وي لکه کان صار. اوپه نزد دبعضو باندې نشي مقدم کیدې ځکه معنی کې ئې نفي ده ، نو دا قیاس دې په هغه افعال ناقصو چې اول کې ئې کلمه د ما وه.

افعال ناقصه

۱: كان: كَانَ زَيْدٌ قَائِماً	۲: صَارَ: صَارَ زَيْدٌ غَنِياً
۳: ظل. ظَلَّ زَيْدٌ سَائِراً	٤: بَاتَ: بَاتَ خَالِدٌ قَائِمًا.
٥: أَصْبَحَ. أَصْبَحَ بَكْرٌ مَرِيضاً	٦: أَضْحٰي: أَضْحٰي زَيْدٌ كَاتِبًا.
۷: أَمْسٰي: أَمْسٰي حَمِيدٌ قَائِمًا	۸: لَيسَ: لَيسَ زَيدٌ قَائِماً.
۹: مَازَالَ: مَازَالَ خَالِدٌ كَرِيمًا.	۱۰: مَا انْفَكَّ بمعنى مَازَالَ مَا انْفَكَّ عَمْرٌو رَاكِبًا.
۱۱: مَابَرِحَ بمعنى مَازَالَ: مَابَرِحَ زَيْدٌ حَزِينا.	۱۲: مَافَتِئَ بمعنى مَازَالَ: مَافَتِئَ خَالِدٌ جَالِسًا
۱۳: مَادَامَ: اِجْلِسْ مَادَامَ زَيْدٌ جَالِسًا.	



مغالطه ترکیب كَانَ زَيْدٌ قَائِمٌ

افعال ناقصه په جمله اسميه داخليږي اسم لره رفع او خبر لره نصب ورکوي.

تمرين الافعال الناقصه

كَانَ اللهُ عَلِيماً حَكِيماً وكَانَ مِنَ الكَافِرِينَ	اَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوسٰي فَارِغاً انا لَنْ نَدْخُلَهَا ابدا مَادَامُوْا فِيهَا
ظَلَّ العُصْفُوْرُ طَائِراً	لَيْسَ اليَتِيْمُ الَّذِي مَنْ قَدْ مَاتَ وَالِدُه
ظَلَّ وَجْهه مُسْوَدًّا	اَصْبَحُوْا نَادِمِينَ



فصل

بيان د افعال مقاربه وو

بدانكه افعال مقاربه چاراست عَسى، وكَادَ، وكَرُبَ، و اَوشَكَ واين افعال درجمله اسميه روند چون كَانَ اسم رابرفع كنند وخبر رابنصب.

ترجمه : پوهه شه افعال مقاربه څلور دي عَسىٰ. كَادَ. كَرُبَ او اَوْشَكَ. او دا افعال په جمله اسميه كې راځي لكه د كان په شان اسم ته رفع وركوي او خبر ته نصب وركوي

تشريح : افعال مقاربه په عمل كې په شان د افعال ناقصه ودي ليكن لږ فرق دي چې د افعال ناقصو خبر عام دې مفرد وي او كه جمله، جمله عامه ده، اسميه وي او كه فعليه وي

فعليه كې فعل ماضي وي او كه مضارع وي، او افعال مقاربه څلور دي مشهور. ۱ : عَسي ۲ : كَادَ ۳ : كَرُبَ. ٤ : اَوْشَكَ. د عسىٰ خبر به فعل مضارع وي سره د اَنْ نه غالباً.

عَسي زَيد اَنْ يخرج اوكله بغير د اَنْ نه وي دغه شان اَوْشَكَ هم دي. كَادَ عكس د عسي دي په استعمال د اَنْ كې. دارنګه كَرُبَ هم دي، افعال مقاربه په اعتبار د معنٰى سره درې قسمه دي

۱ : ما تدل علي قرب الخبر. ۱ : كَادَ ۲ : كَرُبَ ۳ : اَوْشَكَ

۲: ما تدل علي رجاء وقوع الخبر وهو عسي.

۳: ما تدل علي الشروع في العمل طَفِقَ اَخَذَ جَعَلَ عَلِقَ.

اودا افعال مقاربه غیر مشهوردي.

عسي زيدٌ اَن يخرُجَ:

ترکیبین: ۱ : عسیٰ فعل مقاربه زید: اسم د عسیٰ، ان ناصبه مصدریه، یخرج: فعل فاعل فعل سره د فاعل نه په تأویل د مصدر سره خبر د عسيٰ عسيٰ سره د اسم او خبرنه جمله فعلیه انشائیه. ۲: عسيٰ اَن یخرجُ زیدٌ: عسيٰ فعل مقاربه، ان ناصبه مصدریه، یخرج: فعل، زید فاعل، فعل سره د فاعل نه په تاویل د مصدر سره فاعل عسيٰ، عسيٰ سره د فاعل خپل نه جمله فعلیه خبریه په دویم ترکیب کې عسيٰ تامه دې خبر ته محتاج نه دي.

قاعده: افعال مقاربه افعال غیر منصرفه دي د دوي صرف ماضي مستعمل ده په کلام د عربو کې لکن د اَوشَکَ او کَادَ مضارع هم مستعمل ده. او د اوشکَ اسم فاعل هم مستعمل دي فقط. (یکَادُ زَیتُها یضِيءُ) [یوشِکُ اَن یأتِینِي رَسُولُ رَبِّي]

افعال مقاربه

۱: مشهور.

۱: عسي اقتران اَن غالب درخبر

۲: کاد. تجرید اَنْ غالب درخبر.

۳: کَرَبَ. تجرید اَنْ غالب درخبر.

۴: اَوشَکَ. اقتران اَنْ غالب درخبر.

۲: غیرمشهور

درخبرآن اقتران اَنْ واجب

۱: حَرٰی ۲: اِخلَولَقَ ۳: اَنشَأَ ۴: طَفِقَ.

۵: اَخَذَ ۲: جَعَلَ ۷: عَلِقَ تجرید اَنَ لازم

مثال: اَنشَأَ زیدٌ یکتُبُ. فَجَعَلَا یخصِفَانِ عَلَیهِمَا مِن وَرَقِ الجَنَّةِ.

تمرین سوالات

عَسي رَبُّکُمْ اَن یرحَمَکُمْ	یکَادُ البَرقُ یخطَفُ اَبصَارَهم
عَسي اَن یبعَثَکَ رَبُّکَ	عَسي رَبِّي اَن یهدِینِي
عَسي الکَرْبُ الَّذِي اَمسَیتُ فِیهِ.	تَکَادُ السَّمٰوٰتُ یتَفَطَّرنَ
مَقَامًا مَحمُودًا	یکُونُ وَرَآءَهُ فَرَجٌ قَرِیبٌ

فصل

افعال مدح وذم

بدانكه افعال مدح وذم چهارست نِعمَ وَحَبَّذَا برائي مدح وَبِئْسَ وَسَاءَ برائي ذم.

ترجمه: پوهه شه چې افعال مدح اوذم څلور دي نِعمَ اوحَبَّذَا لپاره د مدح راځي او بِئْسَ اوسَاءَ لپاره د ذم.

تشريح: افعال مدح اوذم هغه افعال دي چې وضع شوي وي لپاره د انشاء د مدح او ذم او دا څلور افعال دي دوه لپاره د مدح لكه نِعْمَ اوحَبَّذَا اودوه لپاره د ذم لكه بِئْسَ اوسَاءَ. عمل د دوي دا دي چې دا مابعد خپل له بنا بر فاعليت رفع وركوي او د فاعل نه چې مابعد كوم اسم وي هغې ته مخصوص بالمدح وائي يا مخصوص بالذم وائي.

مثال: نِعْمَ الرَّجُلُ زَيدٌ. نعم فعل مدح الرجل ورلره فاعل، زيدٌ مخصوص بالمدح. بِئْسَتِ الْمَرْأَةُ هِنْدٌ. بِئْسَتْ فعل المرأة فاعل، هند مخصوص بالذم.

فاعل د دې افعالو درې قسمه دي. ۱: معرف باللام لكه نعم الرجل زيدٌ.

په دې كې دوه تركيبه دي اول تركيب: نعم، فعل، الرجل: فاعل، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبر مقدم، زيدٌ مخصوص بالمدح مبتدأ مؤخر، مبتدأ مؤخر سره د خبر مقدم نه جمله اسميه انشائيه دا تركيب مشهور دې.

دويم تركيب: نعم الرجل: جمله فعليه اوزيد مخصوص بالمدح خبر محذوف المبتداء چې هو دې تقدير دا رنګه شو هو زيدٌ: هوَ مبتدأ زيدٌ ورله خبر مبتدا سره د خبر نه جمله اسميه مرجع د هوَ، الرجل دې چې فاعل د نِعْمَ دې.

دويم: فاعل د دوي به مضاف وي. معرف باللام ته مثال لكه: نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ. نعم فعل مدح، صاحب: مضاف، القوم: مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه فاعل د نِعْمَ، زيدٌ مخصوص بالمدح مر تركيبه

دريم: فاعل د دوي به ضمير مبهم وي چې ماقبل دده به مرجع نه وي اومابعد كې د دغه ضمير مبهم تفسير شوې وي په نكرې منصوبې سره لكه نِعْمَ رَجُلاً زيد.

تركيب: نعم فعل مدح هوَ پكې ضمير مستتر مميز، رجلاً: تمييز، مميز سره د تمييز نه فاعل د نِعْمَ، فعل سره د فاعل نه جمله فعليه خبرمقدم زيدٌ مخصوص بالمدح مبتداء مؤخر مبتداء

مؤخر سره د خبر مقدم نه جمله اسمیه انشائیه

قاعده: کله به مخصوص بالمدح او مخصوص بالذم د وجې د وجود د قرینې نه حذف کیدې شي لکه: نِعْمَ الْعَبْدُ اَيْ اَيُّوْبُ عَلَيْهِ السَّلَامُ .دا حذف دې مخصوص بالمدح.

نِعْمَ الثَّوَابُ الْجَنَّةُ.

قاعده: فاعل د حبَّ به همیشه ذا وي، حبذا زید. دا به مخصوص بالمدح مذکر وي اوکه مؤنث وي مفرد ، تثنیه او جمع تمامو حالاتو کې یو شان وي حبذا زید .حبذا زیدان حبذا زیدون حبذا هند. الخ.

قاعده: کله به مخصوص بالمدح یاذم مخکې کیدې شي په فعل باندې اَبُوْبَكْرٍ نِعْمَ الرَّجُلُ.

قاعده : افعال مدح اوذم افعال غیر متصرفه دي، ماسوا د ماضي نه د دوي بله صیغه نه ده مستعمل شوې

قاعده: دا افعال غیر متصرف دي نو د دې وجې نه په دوي حرف جاره هم داخلیږي لکه: نِعْمَ السَّيْرُ عَلَى بِئْسَ الْعَيْرُ.

افعال مدح اوذم. ۱ : نعم ۲: حبذا. ۳ ساء ٤: بئس

۱ : فاعل د دوی معرفه باللام. نِعْمَ الرجل زید .بئس الشراب. وفاعل حبذا (ذا) في جمیع الاحوال.

۲: مضاف معرف باللام ته وَلَنِعْمَ دَارُ الْمُتَّقِيْنَ وَلَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ.

۳: ضمیر مبهم نعم رجلا زید ،بئس للظلمین بدلا.

٤: کلمة د ما. فنعما هي .فنعم فعل مدح ما بمعنی الشیئ. هي مخصوص بالمدح

فصل

افعال تعجب

بدانکه افعال تعجب دو صیغه از هر مصدر ثلاثي مجرد باشد اول مااَفْعَلَه چون ما احسن زیداً چه نیکو است زید تقدیرش اي شيء احسن زیداً، ما بمعنی اي شيء است در محل رفع بابتدا واحسن در محل رفع خبر مبتدا وفاعل احسن هو است درو مستتر وزیداً مفعول به. دوم افعل به چون احسن بزید احسن صیغه امر است بمعنی خبر تقدیرش احسن زید اي صار ذا حسن وبا زائده است.

ترجمه : پوهه شه چې افعال تعجب دوه صیغې د هر مصدر د ثلاثي مجردو نه دي اول ما اَفْعَلَه

لکه مَا اَحْسَنَ زَیداً، زید ډیر نیک دی. تقدیر ئې داسې دی: اَيُّ شَيْءٍ اَحْسَنَ زَیداً. ما په معنی د اَيُّ شَيْءٍ دی، په محل د رفع کې په ابتداء سره او اَحْسَنَ په محل د رفع کې خبر د مبتداء دی او فاعل د اَحْسَنَ هو ضمیر دی چې پدې کې مستتر دی او زَیداً مفعول به دی. دویم اَفْعِلْ بِهٖ دی لکه اَحْسِنْ بِزَیدٍ. اَحْسِنْ صیغه د امر ده په معنی د خبر ده. تقدیر ئې داسې دی: اَحْسِنَ زَیدٌ اَيْ صَارَ ذَا حُسْنٍ او باء زائده ده.

تشریح: فعل تعجب هغه فعل دی چې وضع شوې دی د انشاء د تعجب لپاره. د دې لپاره دوه صیغې دي یوه په وزن د مَا اَفْعَلَهٗ باندې لکه: مَا اَحْسَنَهٗ دویم په وزن د اَفْعِلْ بِهٖ باندې لکه اَحْسِنْ بِهٖ او دا راځي د ثلاثي مجرد د مصدر نه، د مزید اورباعي نه نه راځي.

دارنګه د هغه مصدر ثلاثي مجرد نه چې معنیٰ د عیب اولون پکې وي

دلیل: د ثلاثي مزید او رباعي نه نه راځي ځکه چې دوي کې زیادت د حرف وي او په دې کې که زیادت د حرف راشي نو وزن د ثلاثي مجرد د فعل تعجب به وران شي.

او که زیادت د حرف پکې نوي او د مزید اورباعي نه جوړول غواړي نو مزید اورباعي پاتې نه شو. ځکه دوي کې زیادت د حرف وي او هر چې د عیب اولون نه نه راتلل دي ځکه چې په دې کې صفت مشبه راغلي دي نو بیا به التباس راشي او دا مخل د معنیٰ دي

او د مَا اَفْعَلَهٗ اَيْ اَحْسَنَهٗ په ترکیب کې درې مذاهب دي.

۱: مذهب د فرّاء دی. ما استفهامیه بمعنی اَيُّ شَيْءٍ دا مبتداء، احسن زیداً فعل فاعل او مفعول به جمله خبر د مبتداء او جواب د استفهام محذوف دی یعني شَيْءٌ عَظِیمٌ مصنف دا مذهب غوره کړی دی او په متن کې ئې ذکر کړی دی.

۲: مذهب د سیبویه دی هغه وائي ما بمعنی شیئ موصوف، صفت ورله عظیم مقدر دی، موصوف سره د صفت نه مبتدا. احسن زیداً جمله فعلیه خبر د مبتداء. تقدیر د عبارت دارنګه شو. شیئ عظیم احسن زیداً.

۳: مذهب د اخفش دی. ماموصوله احسن زیداً جمله فعلیه صله د موصول، موصول باصله مبتدا خبر مقدر دی شیئ عظیم. تقدیر د عبارت: الذي احسن زیداً شیئ عظیم.

ددویمې صیغې ترکیب: وَاَفْعِلْ بِهٖ اَيْ اَحْسِنْ بِزَیدٍ، اَحْسِنْ صیغه د امرحاضر بمعنی فعل ماضي اي حَسُنَ فعل، با زائده زید لفظاً مجرور معنا مرفوع فاعل فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه

۱: **فائده:** مَا اَحْسَنَه کې ما اتفاقاً په مذاهب ثلاثه ؤ سره مبتداء ده، اختلاف په مابعد کې دي

۲: **فائده:** اَحْسَنَ فعل دي او که اسم دي دوه مذهبه دي

کوفيان وائي: اسم دي دليل د دې تصغير راغلې دي په: مَا اُحَيسِنَه.

بصريان وائي: دا فعل دي ځکه د دې په اخير کې چې ياء د متکلم ملحق شي نون وقايه راځي او دا دليل د فعليت دي مَا اَفْقَرَنِي اِلَي رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَي.

۳: **فائده:** په دې دواړو صيغو کې تصرف نشي کيدې د دې وجې نه د دوي معمول په دوي نشي مقدم کيدې.

٤: **فائده:** د استعمال د دې دوه صيغو لپاره اته ۸: شرطونه دي

۱: ان يکون ثلاثياً مجرداً

۲: ان يکون متصرفاً

۳: ان يکون معناه قابلا للتفاضل

٤: ان يکون مبنياً للمفعول.

۵: ان يکون تاماً.

٦: ان يکون مثبتاً.

۷: ان لايکون صفته علي افعل فعلاء.

سوالات التمرين. افعال مدح والذم اوافعال تعجب

مَاکَادُوا يفعَلُوْنَ	نِعْمَ الْعَبْدُ اَيوْبُ
بِئْسَ الْمِهادُ	سَآءَ مَاکَانُوْا يعْمَلُوْنَ
حَبَّذَا زَيدٌ	نِعْمَ الْمَاهِدُوْنَ
اَبْصِرْ بِه وَاَسْمِعْ	

تم الباب الثاني بفضله تعالی

باب سوم

در عمل اسماء عامله وآن یازده قسم است

اول اسماء شرطیه بمعنی إن وآن نه است من ما این الخ.

ترجمه: دریم باب دي په بیان د عمل د اسماء عامله ؤ کې او دا یولس قسمه دي، اول اسماء شرطیه دي په معنی د ان سره او دا نهه (۹) دي لکه مَنْ او مَا او اَینَ الخ

تشریح: دي اسماؤ ته اسماء شرطیه وائي ځکه دا متضمن دي حرف شرط لره چې إن دې ورنه بیا عمل نکوي دارنګه دوي ته دویم اسم کلم المجازاة وائي ځکه دوي شرط او جزاء غواړي دا اسماء په دوؤ جملو داخلیږي اولې جملې ته شرط او دویمې ته جزاء وائي.

دا اسماء فعل مضارع لره که چرې شرط او جزاء کې واقع شي جزم ورکوي ځکه دوي متضمن دي إنْ شرطیه لره او اِن شرطیه جزم مضارع لره ورکوي نو دوي به هم جزم مضارع لره ورکوي

مثال د مَنْ: مَنْ تَضْرِبْ أَضْرِبْ. مثال د ما: ماتَفْعَلْ أَفْعَلْ الخ.

امثله مذکور دي في الکتاب.

تفصیل: اسماء شرطیه شپږ قسم دي

۱: قسم محض شرط لپاره، او هغه دوه دي ۱: إنْ. ۲: إذْمَا. بنابر اختلاف.

بعض وائي: إذْمَا اسم دي، او سیبویه وائي: حرف دي

۲: قسم دلالت په ذوي العقول کوي او متضمن وي معنی د شرط لره هغه مَنْ دي.

۳: قسم دلالت په غیر ذوي العقول کوي او متضمن وي معنی د شرط لره هغه دوه دي.

۱: ما. ۲: مهما. مهما کې اختلاف دی اسماً او حرفاً لیکن راجح قول دا دی چې اسم دی.

٤: هغه اسماء چې دلالت علي الزمان کوي او متضمن وي معنی د شرط لره هغه دوه دي.

۱: متي

۲: ایان.

۵: هغه اسماء چې په مکان باندې دلالت کوي او متضمن وي معنی د شرط لره.

هغه درې دي. ۱: اَینَ. ۲: اَنّٰی ۳: حَیثُمَا

۶: بعض داسي دي چې د مضاف الیه نه معنی معلومیږي اکتساباً کې مضاف الیه ذوي العقول

وونو دا به هم وي لکه أَيهمْ يقُمْ أَقُمْ. او که غير ذوي العقولو ته مضاف وو. لکه: أَيَّ الدَّوَابِّ تَرْكَبْ أَرْكَبْ. يا به متي ته مضاف وي نو معنی د متي به ورکوي وغيره وغيره .(شذور الذهب)

د ما او مَنْ فرق تفصيلاً مرّ في الموصولات فلا نعيده.

شرائط د جمله شرطيه

لها شروط ستة.

۱: فعل به باعتبار معنی ماضي نه وی ورنه تاويل به کيږي په مضارع سره(إِنْ كُنْتُ قُلْتُه فَقَدْ عَلِمْتَه) أي إِنْ يتبين أَنِّي كَذَبْتُ قُلْتُه الخ

۲: شرط: فعل خبري به شرط وي امر او نهي شرط نه واقع کيږي

۳: فعل جامد به نه وي عسی او ليس شرط نه واقع کيږي

٤: اول د فعل کې به سين، سوف نه وي نو سيضرب سوف يضرب شرط نه واقع کيږي

٥: مقرون بقَدْ به نه وي قَدْ يضْرِبُ وغيره.

٦: حرف نفي به پرې داخل نه وي چې ما نافيه او لَنْ دي، لَمْ او لا سره که مقرون وي نو جائز دي إِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَه

سوالات تمرين اسماء شرطيه

مَنْ يعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيرًا يرَه	مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيءٍ فَإِنَّ اللهَ بِه عَلِيمٌ.
أَينَمَا تَكُوْنُوا يأْتِ بِكُمُ اللهُ جَمِيعًا	مَنْ يطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ

حَيثُمَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهُ

اسم شرط ← حَيثُمَا

فعل تام ← كُنْتُمْ

ضمير مرفوع متصل مرفوع محلا فاعل

امر حاضر معلوم ← فَوَلُّوا

مضاف، مضاف بامضاف اليه مفعول به. ← وُجُوْهَكُمْ

ضمير مجرور محلا مضاف الی

مفعول فيه ← شَطْرَهُ

اسماء افعال

دوم اسماء افعال: بمعنی ماضي چون هیهات وَشَتَّانَ وَسَرْعَانَ.

د دې تفصیل په اسم غیر متمکن کې تیر شوی دی او د سوم قسم تفصیل هم تیر شوي دي

چهارم اسم فاعل: بمعنی حال یا استقبال عمل فعل معروف کند بشرط آنکه اعتماد کرده باشد برلفظیکې پیش ازو باشد وآن لفظ مبتدا باشد درلازم چون زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوهُ ودر متعدي چون زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوهُ عَمْرًا یا موصوف چون مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ أَبُوهُ بَكْرًا یا موصول چون جَاءَ نِي الْقَائِمُ أَبُوهُ وَجَاءَ نِي الضَّارِبُ أَبُوهُ عَمْرًا یا ذو الحال چون جَاءَ نِي زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ فَرَسًا الخ.

ترجمه: څلورم اسم فاعل دی چې په معنی د حال یا استقبال سره وي، دا عمل د فعل معروف کوي پدې شرط چې اعتماد به ئې کړي وي په هغه لفظ چې ددئ نه مخکې وي او هغه لفظ به مبتداء وي په فعل لازم کې وي لکه زَيْدٌ قائم أَبُوهُ او په فعل متعدي کې لکه زَيد ضَارِبٌ أَبُوه عَمراً یا به موصوف وي لکه: مَرَرْتُ بِرَجُل ضَارِب أَبُوه بَكْراً یا به موصول وي لکه جَاءَ نِي الْقَائِمُ أَبُوه وَجَاءَ نِي الضَّارِبُ أَبُوه عَمراً یا ذو الحال لکه جَاءَ نِي زَيْدٌ رَاكِباً غُلَامُه فَرَساً.

تشریح: څلورم د اسماء عامله نه اسم فاعل دی اسم فاعل هرهغه اسم دی چې مشتق وي د فعل مضارع معلوم نه اووضع شوې وي لپاره دهغه ذات چې قائم وي فعل په هغه باندې په معنی دحدوث سره.

اسم فاعل عمل په شان د خپل فعل یعني فعل معروف کوي که لازمي وي اسم فاعل نوعمل د فعل لازمي کوي اوکه متعدي وي نوعمل د متعدي کوي مثال دلازمي. زَيْدٌ قَائِمٌ أَبُوه.

مثال د متعدي: زَيْدٌ ضَارِبٌ أَبُوه عَمْرًا. قَائِمٌ عمل د قَامَ او يَقُومُ کوي اوضَارِبٌ عمل د ضَرَبَ او يَضْرِبُ کوي، مُعْطِي عمل د أَعْطي کوي مُخْبِرٌ عمل د أَخْبَرَ کوي د فعل عمل مخکې باب ثاني کې تفصيلاً ذکر دی هغه عمل اسم فاعل هم کوي.

اسم فاعل په دوه قسمه دی ۱: مقرون باللام. ۲: مجرد عن اللام.

مقرون باللام لپاره شرط نشته، اسم فاعل عمل کوي په شان د فعل خپل. جاء الْمُعْطِي الْمَسَاكِينَ أَمْسِ بمعنی ماضي. جاء الْمُعْطِي الْمَسَاكِينَ الآنَ بمعنی حال. جاء المعطي الْمَسَاكِينَ غَداً. بمعنی استقبال. یعني غداً بمعنی استقبال، الآن بمعنی حال امس بمعنی ماضي.

۲: مجرد عن اللام: فاعل اسم ظاهر اومفعول به نه علاوه چې څومره معمولات دي هغې کې عمل کوي بې دڅه شرط نه او که په فاعل اسم ظاهر کې عمل کوي نو شرائط ثلاثه (۱) دي

۱: اول شرط اعتماد به شوې وي په مبتدأ باندې اسم فاعل سره د معمولاتو نه به ورله خبر وي زيدٌ قائمٌ ابوه. زيد ضارب ابوه عمراً.

۲: اعتماد به ئې شوې وي په موصول باندې، اسم فاعل سره د معمولاتو نه به ورله صله وي جاء ني الضارب زيدٌ

۳: اعتماد به ئې شوې وي په ذوالحال باندې اسم فاعل سره د معمولاتو نه به حال وي جاء ني زيدٌ راکباً ابوه.

٤: اعتماد به ئې شوې وي په حرف نفي باندې ما قائم زيدٌ.

٥: حرف استفهام باندې به ئې اعتماد شوې وي اقائم زيدٌ

٦: اعتماد برصفت. جاء ني رجل قائم ابوه

۲: دويم شرط: اسم فاعل به موصوف نه وي واقع شوې د صفت لپاره.

۳: دريم شرط: اسم فاعل به مصغر نه وي نقشه د اسم فاعل په قواعدو کې راځي في آخر الكتاب.

او اسم فاعل چې مفعول به کې عمل کوي دوه شرط دي

اول شرط: په معنی د حال يا استقبال سره به وي ځکه اسم فاعل مشابه د مضارع سره دی لفظاً معناً جميعاً او د مضارع د عمل لپاره شرط حال يا استقبال دی نو اسم فاعل به هم داسې وي

دويم شرط: اعتماد به شوې وي په يو د اشياء ستهؤ باندې كما تقدم آنفاً.

فائده: د اسم فاعل اعتماد څرنګه چې په ملفوظ کې کيږي دارنګه په مقدر کې هم کيږي لپاره د عمل مختلف الوانه اي صنف مختلف الوانه. يا طالعاً جبلاً اي يا رجلاً طالعاً جبلاً. بعض وائي دلته اعتماد په حرف نداء شوی دی او اشياء سته مشهور دي

قاعده: اسم فاعل د ثلاثي مجردو نه په وزن د فاعل راځي غالباً. ضارب. عالمٌ او د مزيدو نه په صيغه د فعل مضارع معلوم راځي چې ميم مضموم په اول کې راوړې شي لکه مُكرِمٌ از اَكرَمَ. مُستَخرِج از اِستَخرَجَ دارنګه د رباعي نه هم مُدَحرِجٌ د دحرج نه راځي

(۱) د اسم فاعل د عمل د پاره دوه قسمه شرائط دي چه وجودي شپږ دي او عدمي دري دي.

پنجم اسم مفعول: بمعنی حال واستقبال عمل فعل مجهول کند بشرط اعتماد مذکور چون زَيْدٌ مَضْرُوبٌ اَبُوه وَعَمْرٌو مُعطَي غُلَامُه دِرهمًا الخ.

ترجمه: پنځم اسم مفعول په معنی دحال اواستقبال سره عمل دفعل مجهول کوي په شرط د اعتماد مذکوره سره لکه الخ.

تشريح: اسم مفعول په لغت کې کارکرده شده راګويند.او په اصطلاح کې هر هغه اسم دی چې مشتق شوې وي د فعل مضارع مجهول نه او وضع شوې وي لپاره د هغه ذات چې واقع وي فعل دفاعل په هغه باندې په معنی دحدوث سره.مثال مضروب.مُكْرَمٌ.

اسم مفعول په احكامو کې په شان د اسم فاعل دی ليکن اسم مفعول به عمل د فعل مجهول کوي.نائب فاعل لره به رفع ورکوي اوباقي معمولاتو لره به نصب ورکوي . مَضْرُوْبٌ به عمل دضَرِبَ. يُضْرَبُ کوي. مُعْطِي به عمل اُعْطِي .مَعْلُوْمٌ به عمل د عُلِمَ کوي وغيره وغيره

(حاله کحال اسم الفاعل)

ليکن د ثلاثي مجردو نه په وزن دمفعول راځي. اود مزيد او رباعي نه په وزن د فعل مضارع مجهول راځي. ميم مضموم به اول کې راوړې شي په ځائې دحرف مضارعت اوماقبل آخر به مفتوح وي مُكْرَمٌ د اُكْرِمَ نه. مُتَدَحْرَجٌ د تُدُحْرِجَ نه(والتفصيل في المطولات)

ششم قسم صفة مشبه : عمل فعل خود کندبشرط اعتمادمذکورچون زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُه همان عمل که حَسُنَ مي کرد حَسَنٌ ميکند.

ترجمه : شپږم صفت مشبه دي عمل دفعل خپل کوي په شرط د اعتمادمذکوره لکه زيد حسن غلامه همدغه عمل چې حَسُنَ کولو حَسَنٌ به ئې هم کوي

تشريح: صفت مشبه په لغت کې مشابه کړې شوي ته وائي.او په اصطلاح کې هغه اسم دی چې مشتق شوې وي د فعل لازمي نه اووضع شوې وي لپاره د هغه ذات چې قائم وي معنی د فعل په ده پورې په معنی د ثبوت سره.

صفت مشبه عمل په شان د فعل خپل کوي چې لازمي دی. د دې دعمل لپاره شرط حال اواستقبال نه دی په شان د اسم فاعل اواسم مفعول ځکه دې صفت مشبه کې معنیٰ د ثبوت ده او هغه منافي ده د زماني سره ليکن دويم شرط به ورلره وي چې اعتماد ئې شوې وي په يو د اشياء خمسه ؤ باندې په دې کې به اعتماد په الف لام سره نه کيږي ځکه الف لام چې په صفت مشبه باندې داخل وي هغه الف لام حرفي وي، نه اسمي موصولي، د دې رجې نه اعتماد به په

الف لام موصولي نه وي شوې.

قاعده: د صفت مشبه د استعمال لپاره اتلس صورتونه دي په دې کې بعض عمده دي، هغې ته احسن وائي او بعض غير عمده دي

دا بیا په دوه قسمه دي ۱: حَسَن ۲: قبيح

او بعض مختلف فيه دي تفصيل دا دی: صفت مشبه به خالي نه وي ۱: يا به معرف باللام وي ۲: يا به مجرد عن اللام وي بيا د هر واحد معمول به خالي نه وي

۱: يا به معرف باللام وي

۲: يا به مضاف وي

۳: يا به دواړه نه وي

شپږ اقسام دا شو بيا په هر واحد باندې يعني معمول باندې درې اعرابه راځي

۱: رفع ۲: نصب ۳: جر

۱: رفع بنا برفاعليت . ۲ : نصب بنا برتمييز كله چي معمول نكره وي يا نصب بنا برتشبيه بالمفعول كله چې معمول معرفه وه.

۳: جر بنا براضافت:

شپږو له چي درېو کې ضرب ورکړې شي نو حاصل ضرب اتلس راځي:

۲x۲=۶ بيا ۶x۳=۱۸.

قاعده: (اَحْسَن، حَسن، قبيح) كله چي صفت كې ضمير واحد وو نو اَحْسَن به وي او كله چې خالي وي د ضمير نه نو قبيح به وي او كله چې دوه ضميره په كې وي هغه به حَسَن وي

۹: صورتونه احسن دي ، او دوه ۲: حسن ، او څلور قبيح او يو مختلف فيه او دوه نا جائز دي

نقشہ صفت مشبہ

(۱۸ – صورت د عمل)

۱: صفت مشبہ مقرون باللام

معمولها

- ۱: مضاف
  - مرفوع: زَيدٌ الحسنُ وجهُهُ احسن
  - منصوب: زيد الحسن وجْهَهٗ حسن
  - مجرور: زيد الحسن وَجْهِهِ ممتنع
- ۲: معرف باللام
  - مرفوع: زَيدٌ الحسنُ الوجهُ قبیح
  - منصوب: زيد الحسن الوجْهَ احسن
  - مجرور: زيد الحسنُ الوجْهِ حسن
- ۳: غيرهما
  - مرفوع: زَيدٌ الحسن وجهٌ قبیح
  - منصوب: زيد الحسنُ وجْهًا احسن
  - مجرور: زيد الحسنُ وَجْهٍ ممتنع

۲: صفت مشبہ غیر مقرون باللام

معمولها

- ۱: مضاف
  - مرفوع: زيدٌ حسنٌ وجهُهُ ... احسن
  - منصوب: زيدٌ حسنٌ وَجْهَهٗ....احسن
  - مجرور: زيد حسن وَجْهِهٖ -مختلف
- ۲: معرف باللام
  - مرفوع: زيد حسنٌ الوجهُ- قبیح
  - منصوب: زيدٌ حسنٌ الوَجْهَ- احسن
  - مجرور: زيد حسنُ الوجهِ- احسن
- ۳: غيرهما
  - ۱: مرفوع: زيدٌ حسن وجهٌ - قبیح
  - ۲: منصوب: زيدٌ حسنٌ وجْهًا- احسن
  - ۳: مجرور: زيد حسنُ وجهٍ.....احسن

هفتم اسم تفضيل : واستعمال اوبر سه وجه است به من چون زيدافضل من عمرو ويابالف ولام چون جاءني زيد الافضل ياباضافت چون زيد افضل القوم.

ترجمه: د يولسو اقسامو د اسم نه اووم قسم اسم تفضيل دی ددي استعمال په دربو طريقوسره دي، يو استعمال په من سره، دويم په الف لامو سره اودريم په اضافت سره.

تشريح: اسم تفضيل هغه اسم دی چي مشتق شوي وي د فعل مضارع نه لپاره د دلالت کولو په دي خبره چي معنی مصدري په يوشي کي زياته ده د بل شي نه .په کوم اسم کي چي معنی مصدري زياته وي هغې ته مُفضل وائي.اوپه کوم اسم کي چي معنی مصدري ک وي هغې ته مفضل عليه وائي.بيا صيغې د اسم تفضيل دوه.۲ : دي برائې مذکر اَفعَلُ اوبرائې مؤنث په وزن د فُعلي.اَنصَرُ نُصري، اَضرَبُ ضُرْبي، اَعلَمُ عُلمي.

قاعده: اسم تفضيل راځي د ثلاثي مجردو نه چي معنی د عيب اولون پکې نه وي

دليل د دې تيرشوې دې په فعل تعجب کي.

فرق د اسم تفضيل اومبالغې.

اسم تفضيل کې زيادت علي الغير وي چې مفضل عليه ورته وائي.اومبالغه کې زيادت في نفسه وي لاعلي الغير.

استعمال د اسم تفضيل په درې طريقو سره دي:

اوله طريقه: استعمال د اسم تفضيل په من سره مثال: زَيدٌ اَفضَلُ مِنْ عَمرٍو.زيد مفضل اَفضَلُ اسم تفضيل، من جار، عمرو: مجرور مفضل عليه ددينه جوړيږي جمله اسميه خبريه

قاعده: کله د وجې د معلومتيا اوتعيين د مفضل عليه نه حذف جائز وي لکه اَللهُ اَکبَرُ اَي اَللهُ اَکبَرُ مِن کُلِّ شَيءٍ.

دويمه طريقه: استعمال د اسم تفضيل په الف لام سره .جاءنی زَيدٌ الاَفضَلُ. جاء فعل (ن) وقايه (ي) ضمير متکلم مفعول به، زيد موصوف الاَفضَلُ ورله صفت، موصوف سره د صفت نه فاعل د جاء، فعل سره د فاعل اومفعول به خپل نه جمله فعليه خبريه

دريمه طريقه: استعمال د اسم تفضيل په اضافت سره.چون زَيدٌ اَفضَلُ القَومِ. زيدٌ مبتدأ ، افضل مضاف القوم مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه نه خبر د مبتداء، مبتداء سره د خبرنه جمله اسميه خبريه په دې دربو طريقوسره به استعمال د اسم تفضيل کيږي چي اسم تفضيل راځي لپاره د زيادت د مفضل په مفضل عليه باندې اودا بغير ديو دربو طريقو نه نشي کيدې

وعمل اودرفاعل باشد وآن هو است وفاعل اَفْضَلُ كه درو مستتراست.

ترجمه: او عمل دده به په فاعل کې وي چې هغه هو دې او فاعل د افضلُ دې چې په هغې کې مستتر دي.

قاعده: اسم تفضيل هميشه په وزن د افعل فعلي راځي هرچې خير اوشردې نودا په اصل کې اخير اواشرر دي. همزه حذف شوه د ياء فتحه اود راء فتحه ماقبل ته نقل شوه. نو خَيْرٌ شو او شَرْرٌ شو بيا اول راء ساكن ثې په ثاني راء کې مدغم كړه نو شَرٌّ شو.

قاعده: د اسم تفضيل مستعمل بمن حكم دا دې چې اسم تفضيل به هميشه مفرد مذكر وي اګر کې موصوف دده تثنيه اوجمع اومؤنث وي. زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو، هِنْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو. اَلزَّيْدَانِ اَلْهِنْدَانِ وَالزَّيْدُوْنَ وَالْهِنْدَاتُ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

٢: اسم تفضيل مستعمل په الف لام سره د دې لپاره دوه حكمونه دي

١: د مِنْ په شان هميشه مفرد مذكر. دا جائز نه دي ٢: د موصوف خپل سره به لازماً مطابق وي زَيْدٌنِ الْاَفْضَلُ. اَلزَّيْدَانِ الْاَفْضَلَانِ. اَلزَّيْدُوْنَ الْاَفْضَلُوْنَ. هِنْدٌ اَلْفُضْلي. اَلْهِنْدَاتُ اَلْفُضْلَيَاتُ.

٣: اسم تفضيل مستعمل په اضافت سره. ١: مطابقت ٢: عدم مطابقت مثال د مطابقت: اَكَابِرَ مُجْرِمِيهَا مثال د عدم مطابقت: وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰي حَيٰوةٍ: (شذور الذهب).



يعمل بلاقيد وشرط

١: بر مفعوليت ٢: ظرفيت.
٣: حاليت. ٤: تميز.
زيد احسن منك اليوم اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالاً
رَاكِبًا ظرف، حال وَاَعَزُّ نَفَرًا- تميز-

١: در ضمير يعمل بلا شرط.
٢: در ظاهر د دري شرطونو سره عمل كوي
الكحل

نصب بنا برمفعولیت نکوي ځکه مفعول دده مفضل علیه وي او هغه چې مذکوروي نو مجرور وي زید افضل الناس او من عمر	۱ : غائب زَیْدٌ اَفْضَلُ مِنْکَ ضمیر هودرو مستتر ۲ : مخاطب : انت افضل منه ۳ : متکلم: انا اکثر منک	۱ : اسم تفضیل په لفظ کې دماقبل صفت اود معنیٰ په اعتبار سره دمابعد صفت ۲ : اسم ظاهر کې دوه اعتباره دی ماقبل په لحاظ سره مفضل علیه .اومابعد په لحاظ سره مفضل ۳ : داسم تفضیل نه مخکې به نفي یانهي یا استفهام انکاري وي . مثال مَارَأَیْتُ رَجُلًا اَحْسَنَ فِي عَیْنِهِ الْکُحْلُ مِنْهُ فِي عَیْنِ زَیْدٍ.

سوالات تمرین

اسم فاعل او اسم مفعول وصفت مشبه او اسم تفضیل

اِنِّي جَاعِلٌ فِي الْاَرْضِ خَلِیْفَةً	کَلْبُهُمْ بَاسِطٌ ذِرَاعَیْهِ بِالْوَصِیْدِ
اَشْرَفُ الْمَوْتِ قَتْلُ الشُّهَدَاءِ	اِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِیْدٌ
هٰذَا الْمَسْجِدُ اَرْفَعُ وَاَطْوَلُ مِنْ ذَالِکَ	لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَکْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ
وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِیْثًا	اَحْسَنَ الْقَصَصِ
اَلْعُذْرُ عِنْدَ کِرَامِ النَّاسِ مَقْبُوْلٌ	اَکْثَرُهُمُ الْکَافِرُوْنَ
هشتم مصدر بشرط آنکه مفعول مطلق نباشد وعمل فعلش کند چون اَعْجَبَنِي ضَرْبُ زَیْدٍ عَمْراً.	

ترجمه: اتم د اسماء عامله نه مصدر دې دا عمل کوي خو پدې شرط چې مفعول مطلق به نه وي او دا عمل د فعل کوي لکه: اعجبني ضربُ زیدٍ عمراً.

تشریح: مصدر هم عمل کوي لیکن مطلقاً نه بلکه ددي د عمل لپاره یوشرط دا دې چې دا مصدر به مفعول مطلق نه وي واقع شوې ځکه چې مصدر مفعول مطلق واقع شي نومخکې توي عامل موجود دي چې فعل دې نو مصدر عمل نه شي کولې چې ضعیف دې په عمل کې او دا مصدر عمل کوي په شان دفعل خپل که فعل دده عمل درفع کولو فقط نو دي به هم عمل د رفع کوي فقط اَعْجَبَنِي قِیَامُ زَیْدٌ.

اوکه فعل عمل د رفع او د نصب کوو نو مصدر به هم عمل د رفع او نصب کوي لکه اَعْجَبَنِي

ضَرْبُ زَيْدٌ عَمْراً.

فائده: د مصدر د استعمال دوه طريقې دي ۱: منون ۲: غير منون

مثال منون: اَعْجَبَنِي ضَرْبٌ زَيْدٌ عَمْراً مثال د غير منون: ضَرْبُ زيدٍ عمراً.

غوره استعمال منون دې ځکه چې منون شي نو نکره به شي نو مشابهت د فعل سره به ئې مؤکد شي ځکه فعل کې نسبت دې منکر او مصدر عمل د خپل فعل کوي نو مشابهت زيات شو د مصدر د فعل سره.

او که غير منون شي نو معرفه به شي مشابهت کې به مصدر د فعل سره کم شي.

شرائط عمل مصدر.

۱: مفرد به وي مصدر.

۲: مفعول مطلقاً به نوي کمافي الکتاب.

۳: ضمير به نه وي چې راجع وي مصدر ته

٤: مصغر به نه وي.

۵: تاء د وحدت به ورپورې نه وي ملحق شوې

۶: د معمول د ده او د مصدر په مابين کې به فاصل نه وي.

۷: معمول د ده به په ده متقدم نه وي

قاعده: د مصدر اضافت فاعل ته هم کيږي لکه: ضَرْبُ زَيْدٍ عَمْراً، ضرب مصدر زيد فاعل مجرور لفظاً مرفوع معناً، عَمْراً مفعول به او اضافت مفعول ته هم کيږي لکه ضَرْبُ عَمْرٍو زَيْدٌ. عمرو مفعول به او زيد فاعل دي.

الفرق بين المصدر والفعل

۱: د فعل نه فاعل نه حذف کيږي، بخلاف المصدر.

۲: فعل کې د فاعل ضمير مستتر کيدې شي بخلاف المصدر.

۳: فعل مجهول نائب فاعل لره رفع ورکوي، بخلاف المصدر

فائده: د مصدر مضاف لپاره حالات خمسه دي

۱: الاضافة الي الفاعل والمفعول يذکر بعده لَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ. د دفع مصدر مضاف شويدې فاعل ته چې لفظ الله دې او الناس مفعول به دې.

۲: عکس الاول لکه اَعْجَبَنِي شُرْبُ الْعَسَلِ زَيْدٌ شرب مصدر مضاف دې مفعول ته چې عسل دې او

زيد ئې فاعل دې

(ولله علي الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا).
حج مصدر مضاف دې مفعول به ته او فاعل ئې مَنْ دې

۳: الاضافة الي الفاعل بدون ذكر المفعول. (وَمَاكَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرَاهِيمَ)
استغفار مصدر مضاف دې ابراهيم فاعل ته او مفعول نه دې ذکر.

۴: عکس الثالث (لَايَسْئَمُ الْاِنْسَانُ مِنْ دُعَاءِ الْخَيْرِ)

۵: الاضافة الي الظرف والفاعل والمفعول بعده.

مصدر ظرف مفعوله فيه

اَعْجَبَنِي اِنْتِظَارُ يَوْمِ الْجُمُعَةِ زَيْدٌ عَمْرًا ← مفعول به

فاعل

يعني انتظار مصدر، يوم مفعول فيه، زيد فاعل، او عمراً مفعول به دې

مصدر

عملاً	استعمالا
رفعًا... قيامُ زيدٌ	منون..... ضرب زيدٌ عمرًا
رفعا ونصبًا... ضربُ زيدٌ	غير منون ضَرْبُ زَيْدٍ

تشريح: د مصدر اول کې ميم هم زياتي کولې شي هغې ته مصدر ميمي وائي.

نهم اسم مضاف : مضاف اليه رابجر كند چون جَاءَ نِي غُلَامُ زَيْدٍ ،بدانكه اينجالام بحقيقت مقدر است زيراكه تقديرش آنست كې غُلَامٌ لِزَيْدٍ.

ترجمه : نهم قسم د اسماء عامله و نه مضاف دې چې مضاف اليه ته جر ورکوي لکه : جاء ني غلام زيد. پوهه شه چې پدې ځائې کې لام په حقيقت کې مقدر دې ځکه چې تقدير ئې دا دې چې :غلامٌ لزيد.

تشريح: مضاف صيغه د اسم مفعول ده د باب اَضَافَ يُضِيفُ اِضَافَة نه(يعنى افعال).
په لغت کې نسبت ته وائي.او په اصطلاح کې نسبة شيئ اَلي الاسم بواسطة حرف الجر لفظاً اوتقديراً .مضاف اليه په لغت کې نسبت کرده شده ته وائي.او په اصطلاح کې مضاف اليه هر

هغه اسم دې چې دي ته نسبت شوې وي الخ حرف جر عام دي لفظاً وي لکه: مَرَرْتُ بِزَيدٍ اوکه تقدیراً وي لکه: غُلَامُ زَيدٍ در اصل غُلَامٌ لِزَيدٍ کما ذکر في الکتاب.
لیکن فرق دا دې: کې چرې حرف جر ملفوظ وي نو هغې نه تعبیر په جار مجرور سره کیږي

اختلاف:

په تقدیر د حرف جر کې دوه مذهبه دي
۱: جمهور نحاة په تقدیر د حرف جر قائل دي او عمل په مضاف الیه کې هم دغه حرف جر کوي
۲: ابو حیان اندلسي او ابن درستویه په تقدیر د حرف جر قائل نه دي
دلته مصنف مذهب د جمهورو مختار کړې دې

اختلاف:

په دې مسئله کې اتفاق دې یعني په اعراب د مضاف الیه کې چې مضاف الیه به مجرور وي لیکن اختلاف په عامل د مضاف الیه کې دې
د جمهورو نحاتو او سیبویه په مذهب عامل د مضاف الیه مضاف دې.
د امام زجاج او ابن حاجب مذهب دا دې چې مضاف الیه مجرور دې په حرف جر مقدر سره بین المضاف والمضاف الیه. د جمهورو دلیل دا دې چې د مضاف سره اتصال د ضمیر کیدې شي او اتصال د ضمیر نه کیږي مگر د عامل خپل سره لکه غلامه (۱) (حاشیه خضري)
اضافت په دوه قسمه دې. ۱: لفظیه ۲: معنویه
۱: اضافت لفظیه: اضافت لفظي دیته وائي چې صیغه د اسم صفتي به مضاف وي معمول خپل ته دوه قیده دي په جانب د مضاف کې یو دا چې دا به اسم صفتي وي دویم په جانب د مضاف الیه چې دا به معمول د مضاف وي. مراد د صیغې د صفت نه ۱: اسم فاعل ۲: اسم مفعول ۳: صفت مشبه دي په دې شرط سره چې په معنی د زمانه ماضي نه وي ورنه بیا به اضافت معنوي وي او د معمول نه مراد فاعل او مفعول به دي.
فوائد د اضافت: د اضافت لفظي فائده صرف تخفیف دې، تعریف او تخصیص نه فائده کوي خلافاً لابن مالک، عنده یفید التخصیص ایضاً، ضاربُ زید اخص من ضارب، وقال ابن هشام في جوابه انما اخطأ ابن مالک في قوله ځکه اصل د ضاربُ ضارب زید دې فقط ضارب نه دې او تخصیص په دې کې قبل الاضافت په معمول سره حاصل دې (همع الهوامع)
۲: اضافت معنویه: اضافت معنویه دیته وائي چې اضافت د غیر صفت اُوشي خپل معمول ته د

---

(۱) نو که صرف جر عامل وی نو پکار وه چه اتصال نوی.

دي درې صورتونه دي ۱ : مضاف به صیغه د صفت نه وي مثال: غُلَامُ زَيدٍ ۲ : مضاف به صیغه د صفت وي لیکن اضافت به ئې خپل معمول ته نوي شوې لکه کریم البلد شو دلته اضافت د اسم صفتي چې کریم دې مفعول فیه ته شوې دې نه مفعول به ته او مراد د معمول نه مفعول به دې یا فاعل.

۳ : مضاف به اسم صفت وي او معمول ته به مضاف وي لیکن په معنی د ماضي سره به وي مثال رَبُّ الْعَالَمِينَ اضافت د رب العالمین ته اضافت معنوي دې. اضافت معنوي درې قسمه دی.

۱ : لامي ۲ : مني ۳ : فیه فمي.

۱ : اضافت لامي دیته وائي چې مضاف الیه دمضاف لپاره نه جنس وي او نه ظرف وي مثال غُلَامُ زَيدٍ دلته لام حرف جر مقدر دې اصل کې غلام لزید وو.

۲ : اضافت بیانیه دیته وائي چې مضاف الیه دمضاف لپاره جنس وي یعني په کوم باندې چې مضاف صادقیږي نو په هغې مضاف الیه هم صادقیږي خَاتَمُ فِضَّةٍ . دلته من بیانیه مقدر دې اصل کې خَاتَمٌ مِنْ فِضَّةٍ وو.

۳ : اضافت فیه (فمي) : دیته وائي چې مضاف الیه ظرف وي د مضاف لپاره ظرف زمان وي او که ظرف مکان وي. مثال صلوة اللیل دلته في حرف جر مقدر دې، اصل کې: صَلوٰةٌ فِي اللَّيلِ وو.

فائده: اقسام اضافت:

الاضافة ثلاثة اقسام عند بعض النحاة وهو الراجح او جمهور نحاة وائي اقسام د اضافت معنوي دوه دي ۱ : اضافت لامي ۲ : او اضافت مِنّي او هر چې اضافت په معنی د في سره دې، د هغې رجع کیږي اضافت لامي ته ځکه کومه فائده چې د اضافت لامي ده چې اختصاص دي نو هغه فائده په اضافت بمعنی في کې هم ده. د ضَرْبُ الْيَومِ معنیٰ ده ضَرْبٌ لَهُ اِخْتِصَاصٌ بِالْيَومِ

(والتفصیل في المطولات)

فائده: د اضافت معنوي ۱ : تخصیص ۲ : تعریف دي.

فائده: غیرُ، مثلُ، شبه، جهات سته (قبل.بعد .یمین.شمال.تحت.فوق) دامستثنيٰ دي د مخکې قاعدې نه یعني دوي په اضافت سره معرفه نه ګرځي د وجې د توغل نه په ابهام کې مګر که دمثل او غیر د مضاف الیه لپاره ضد واحد وي نو بیا تعریف فائده کوي.

مثال عَلَيكَ بِالْحَرَكَةِ غَيرِ السُّكُونِ. یا غَيرُ الْمُنْصَرِفِ یا غَيرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيهِمْ.

فائده: ۱ : قسم اول: بعض اسماء لازم الاضافت دي چې حذف د مضاف الیه ترینه جائز نه وي دا درې قسمه دي ۱ : کلا کلتا : چې مضاف وي اسم ظاهر ته او چې مضاف وي ضمیر ته.

۲: عند. ۳: سواء. ٤: لعری. ۵: قصاري

۲: اسم ظاهر ته مضاف وي لکه اُولُوا. اولات. ذي ذات.

(نَحْنُ اُولُوْا قُوَّة) او (واُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهنَّ : (ذَاتَ بَهجَة).


۲: قسم د قسم اول نه چې مضاف وي ضمير ته (وَحْدَه) دي.

مثال: (اِذَا دُعِيَ اللهُ وَحْدَه: [لااله الا الله وحده].

دويم قسم: هغه اسماء چې هغې کې اضافت او افراد دواړه درست وي لکه غلام. ثوب.

دريم قسم: هغه اسماء چې نه مضاف کيږي لکه مضمرات. اسماء اشارات. اسماء موصولات. اسماء شرط. اسماء استفهام

قاعدة عجيبة فاحفظها ولاتكن من الغافلين



۱: لامی... غلامُ زيد

۲: منی... خاتم فضة

۳: فی... صلوة الليل

عند البعض وهو الراجح- وقال اكثر من النحاة الاضافة المعنوية على نوعين

۱: لامی. ۲: ومنی

واما اضافة فوی وفمی راجع الى الاضافة اللامية (لاشتراكهما في المعنى)

سوالات تمرین

نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا	وَلَذِكْرُ اللهِ اَكْبَرُ	عَنْ صَلَاتِهٖ غَافِلٌ
خَيْرُ الْعِلْمِ مَا نَفَعَ	فِي سَبِيلِ اللهِ	اَكْثَرُهُمْ كَلَاماً
فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ	فِي رَحْمَةِ اللهِ	غُلَامُ اللهِ

دهم اسم تام : **تمییز رابنصب کند وتمامي اسم یابتنوین باشدچون مَافِي السَّمَاءِ قَدْرُرَاحَةٍ سَحَابًا یابتقدیر تنوین الخ.**

ترجمه: لسم د اسماء عامله نه اسم تام دې، چې تمییز ته نصب ورکوي او د اسم تمامیت به یا په تنوین سره وي لکه ما في السماء قدر راحة سحاباً یا به په تقدیر د تنوین سره وي

تشریح: اسم تام هغه اسم دې چې تام وي په تنوین یا قائمقام تنوین یا په اضافت سره چې په دې حالاتو کې اضافت د ده ممتنع وي.

اسم تام په پنځه اشیاؤ سره تامیږي:

۱: تنوین ظاهري سره لکه رَاحَة شو په دې قول کې: مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا.

۲: تنوین مقدر لکه: عِنْدِي اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا.

۳: نون تثنیه لکه: عِنْدِي قَفِيزَانِ بُرًّا.

٤: نون جمع سره لکه: (هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِينَ اَعْمَالًا).

٥: بالاضافة لکه: مِلْؤُهٗ عَسَلًا.

عمل: اسم تام تمییز لره نصب ورکوي ځکه دده مشابهت دې د فعل سره او فعل تامیږي په فاعل سره نومفعول لره نصب ورکوي او اسم تام تامیږي په اشیاء مذکورو سره نو تمییز لره نصب ورکوي.

یازدهم اسماء کنایه ازعدد : وآن دولفظ است کَمْ وَکَذَا کَمْ بردوقسم است استفهامیه وخبریه

ترجمه: یولسم اسماء کنایه دي د عدد نه اودا دوه لفظونه دي کم اوکذا، او کم په دوه قسمه دي، استفهامیه او خبریه

تشریح کَمْ په دوه قسمه دې. ۱: کم استفهامیه ۲: کم خبریه

۱: اول په معنی داي عَدَدٍ. ۲: دویم په معنی دعَدَدٌ کثیرٌ دي، دواړه د تمییز تقاضي کوي کم

لکه: كَمْ رَجُلاً عِنْدَكَ. او د کم خبریه استفهامیه تمییز لره نصب ورکوي او تمییز دده به مفرد وي لکه: كَمْ رِجَالٍ لَقِيتُهُمْ .کم تمیز به مفرد مجرور وي لکه : كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتَ اوکله به جمع وي لکه كَمْ رِجَالٍ لَقِيتُهُمْ .کم استفهامیه لره درجه دعدد اوسط ورکړې شوې ده اود هغې تمییز مفرد منصوب وي اَحَدَعَشَرَ كَوْكَبًا.

نود دي کم استفهامیه تمییز به هم مفرد منصوب وي او کم خبریه لره درجه د باقي عدد ورکړې شوې ده د عدد اقل تمییز جمع مجرور وي لکه ثلاثة رجال. نود کم خبریه تمییز به هم جمع وي اود عدد اکثر تمییز مفرد مجرور وي مأة رجل. نو کم خبریه به هم داسې وي.

دکم استفهامیه اوخبریه په امورخمسه ؤکې اشتراک دی

۱: دواړه کنایه ازعدد مجهول.

۲: اسمیت کې شریک دي

۳: مبني علي السکون

٤: لازم التصدیر دي دواړه.

۵: احتیاج الي التمییز.

امورخمسه ؤکې افتراق

۱: د کم استفهامیه تمییز مفرد منصوب او د کم خبریه تمییز مفرد مجرور وي اوکله جمع مجرور.

۲: کم استفهامیه ماضي پورې مختص نه دې كَمْ غُلَاماً سَتَشْتَرِيهِ. کم خبریه مختص بالماضي دي لکه كَمْ غِلْمَانٍ سَأَلْتُهُمْ

۳: کم خبریه کې احتمال دصدق اوکذب وي بخلاف کم استفهامیه.

٤: کم خبریه کې مخاطب نه جواب مطلوب نه وي بخلاف کم استفهامیه لکه کم غلاماً عندک کم خبریه لکه کم غلام عندي

۵: د کم خبریه اوتمییز کې فاصله د ضرورت په وقت کې جائز ده بخلاف کم استفهامیه بغیرد ضرورت نه فاصله هم جائزده.

سوالات التمرین

کَمْ یوماً مَضَیتُ اِلَی الْمَدِینَة	کَمْ اَھلَکْنہ مِنْ قَرْیَة
کَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِیلَة	کَمْ دِرْھماً عِنْدَکَ
کَمْ یوماً سَفَرُکَ	کَمْ وَلَدٍ لکَ

قسم دوم در عوامل معنوي

بدانکه عوامل معنوي بر دوقسم است اول ابتداء يعني خلواسم ازعوامل لفظي کې مبتدا وخبر رابرفع کند.

ترجمه: پوهه شه چې عوامل معنويه په دوه قسمه دي اول ابتداء يعني خالي والي د اسم دی د عوامل لفظيونه چې مبتدا اوخبرلره رفع ورکوي.

تشريح هرکله چې فارغ شو مصنف د بيان د عوامل لفظيونه نو شروع ئې وکړه په بيان دعوامل معنويهؤ کې اودا په ۲: دوه قسمه دي ۱ : مبتدأ اوخبرکې.

۲: فعل مضارع کې عامل معنوي دې، تعريف د عامل معنوي مخکې ذکر شوې دې دلته بيان د تقسيم دعوامل معنويه دي

د مبتدأ اوخبر په عامل کې اختلاف دي.

۱: دواړوکې عامل معنوي دې چې خالي والې دې دعامل لفظي نه دا مذهب د زمخشري دي

۲: مبتدأ اوخبر دواړوکې عامل لفظي دې په دې شان مبتدأ عامل دې په خبر کې اوخبر په مبتدأ کې.دا مذهب دکوفينو دي

بعض علماء وائي: راجح مذهب د سيبويه دې اوبعض علماء د زمخشري مذهب مختاره کړې دې دلته مصنف هم دا مذهب غوره کړې دي

دوم خلوّفعل مضارع ازناصب و جازم فعل مضارع رابرفع کند.

دويم عامل معنوي په فعل مضارع کې دې، په حالت رفعي کې عامل معنوي دې.دا مذهب دکوفينو دې اويا وقوعه موقع الاسم دا مذهب د بصرينو دي

امام کسائي وائي چې مضارع کې عامل لفظي دې چې حروف اتين دي ليکن دا مذهب غير مختار عند کل احد اوشاذ دي

تعريف المبتدأ: هو اسم مجرد عن العوامل اللفظية مسند اليه مثال: اَللّٰهُ رَبُّنَا.

سوال:

تَسْمَعُ بِالْمُعِيدِي خَيْرٌ مِنْ اَنْ تَرَاهُ سَتَعْرِفُ قَدْرَهُ اِنْ فَتَحَ فَاهُ

دلته تسمعُ مبتدأ ده او حال دا چې فعل دی ؟.

جواب: دا اسم تاويلي دې په تقدير د اَنْ سره اي سَمَاعُكَ بِالْمُعِيدِي الخ دلته تقدير د اَنْ د هغه مواضع غير مشهورو نه دي

سوال: بِحَسْبِكَ دِرْهَمٌ. (بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ).دلته مبتداء مجرد عن العوامل اللفظية نه ده ؟.

جواب: باء زائده داخلیږي په مبتدأ باندې (عند سیبویه).

اخفش وائي: بِأَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ خبر مقدم دی او المفتون مبتدأ مؤخره ده.

قاعده: اصل په مبتداء کې تعریف دی او اصل په خبر کې تنکیر دې که مبتداء نکره واقع وي نو دا به نکره مخصصه وي نه نکره محضه لکه (وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ) وغیره: د دې لپاره دېر صورتونه دي

۱: په تقدیم د خبر سره په مبتدأ باندې تخصیص راځي. (وَعَلَىٰ أَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ).

۲: په استفهام سره (ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللهِ)

۳: په صفت سره (ولَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ) المذکور في المطولات.

قاعده: کله په کلام کې مبتداء حذف شوې وي. (قَالَ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ) اي هي اساطير الاولين. (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ) اي هُمْ صُمٌّ هُمْ بُكْمٌ هُمْ عُمْيٌ. (بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ) اي هُوَ.

قاعده: کله به خبر حذف کیږي په کلام کې، مثال: زيدٌ في الدار اي ثابتٌ في الدار.

لَوْلَا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ اي لَوْلَا عَلِيٌّ مَوْجُوْدٌ. وغیره وغیره (کافیه وملاجامي مع شرحیهما).

قاعده: مبتداء به همیشه مفرد وي زيدٌ قائمٌ. خبر مفرد هم راځي ځکه چې اصل په خبر کې افراد دی او جمله هم راځي لیکن جمله کې جمله خبریه راځي نه انشائیه. خبر متعدد هم راځي جمله چې خبر واقع شي نو رابط به پکې لازم وي: زيدٌ قَائِمٌ أَبُوْهُ.

(والله اعلم بالصواب)


التمرین

اللهُ عَلِيمٌ	أُولٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ
اَللهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ	اَلرِّجَالُ قَوَّامُوْنَ عَلَى النِّسَاءِ
اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ	قُلُوْبُهُمْ شَتّٰى
هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ	

نقشہ عوامل لفظی ابواب ثلاثہ

باب اول

(حروف عاملہ)




باب دوم افعال عاملہ



۱: مفعول مطلق. ۲: مفعول فیہ. ۳: مفعول معہ. ۴: مفعول لہ. ۵: حال. ۶: تمییز.
ضُرِبَ زَیدٌ ضربًا شَدِیدًا یوم الجمعۃ فی دارہ امام الامیر تأدیبًا وسوطًا

باب سوم در اسماء عامله (۱۱) اقساماً

۱: اسماء شرطیه [۹].
۲: اسماء افعال بمعنی لامر و الماضي [۲].
۳: اسم فاعل لازمي و متعدي
۴: اسم مفعول مضروبٌ
۵: صفت مشبه حسن الوجه
۶: اسم تفضیل زید افضل من عمرو
۸: مصدر ضَرَبُ زید عمراً.
۹: اسم مضاف غلام زید
۱۰: اسم تام عندي رطل زیتاً.
۱۱: اسماء کنایه کم کذا



ختم شد عوامل نحو

مقدمة الكتاب وابواب الثلاثة بتوفيق الله تعاليٰ وعونه

العبد نصير الحق عفي عنه

شالپيني ۲۰۰۴/۹/۲

خاتمه

در فوائد متفرقه که دانستن آن واجب است وآن سه فصل است

ترجمه په فوائد ومتفرقه کې چې پيژندل د هغې واجب دي او دا درې فصلونه دي

تشريح: هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان د مقدمې دکتاب اود ابوابو ثلاثه نه نو شروع ئې وکړه په دکتاب کې چې د دې پيژندل هم ضروري دي طالب د علم نحو لره او په دې مقدمه کې فصول ثلاثه دي اول فصل په بيان د توابعو کې دې ، دويم فصل په بيان د منصرف او غير منصرف کې دې ، دريم فصل په بيان د حروف غير عامله ؤکې دې. اول شروع په فصل اول کې

فصل اول درتوابع

تابع په لغت کې وروسته کيدونکي ته وائي او په اصطلاح کې ما ذکر في الکتاب.

بدانکه تابع لفظي است که دومي ازلفظ سابق باشد باعراب سابق ازيک جهت ولفظ سابق رامتبوع گويند.

ترجمه: پوهه شه چې تابع يو لفظ دي چې ددويم لفظ نه به وروسته وي په اعراب د مخکني لفظ د يو جهت نه او مخکني لفظ ته متبوع وائي

تشريح: دا قول د مصنف باعراب سابق. يعني اعراب د لفظ ثاني او اعراب د اول به يو وي په دې شان سره که لفظ معرب وو په اعراب د رفع سره نو ثاني لفظ به هم معرب وي په اعراب د رفع سره. مثال جاء ني رَجُلٌ عَالِمٌ رجُلٌ متبوع او عالم تابع، متبوع معرب دې باعراب رفع نو تابع هم معرب مرفوع باعراب رفع شو. عامل په دې دواړو کې جَاءَ دې، د دواړو عامل به يو وي اولاً بالذات به عامل عمل کوي په متبوع کې او ثانياً به عامل عمل کوي په تابع کې بالخصوص وعلي هذا القياس که متبوع معرب وو په اعراب د نصب سره نو تابع به هم معرب وي په اعراب د نصب سره. مثال رأيت رجلاً عالمً الخ.

ازيک جهت: علت اوسبب د لفظ اول د اعراب او د ثاني به يو وي په دې شان سره چې لفظ اول مرفوع وو بنا برفاعليت نو ثاني به هم مرفوع وي بنابر فاعليت. علي هذا القياس المنصوب والمجرور ، په دې قيد سره خارج شو دا قول ضربتُ زيداً مشدوداً. نود مشدوداً اود زيداً يو اعراب دې لکن جهت مختلف دې ځکه زيداً منصوب دې بنا برمفعوليت اومشدوداً منصوب دې بنا برحاليت، لهذا مشدوداً ته تابع اوزيداً ته متبوع نشي ويلي

وتوابع پنج نوع است: ۱: صفت. ۲: عطف بيان. ۳: بدل. ۴: عطف بالحرف. ۵: تاکيد.

وجه الحصر في الخمسة: مقصود بالنسبة به خالي نه وي يا به تابع وي يا به متبوع وي او يا به

دواړه وي که اول وو نو بدل او که ثاني وو نو تابع به خالي نه وي یا به دلالت کوي په هغه معنی چې ثابته وي په متبوع کې یا به تقرر او یا به توضیح د متبوع کوي که اول وو، نو نعت او که ثاني وو نو تاکید او ثالث عطف البیان او که دواړه مقصود وو نو معطوف.

اول صفت واو تابعیست کې دلالت کند بر معنی که در متبوع باشد چون جاء ني رجل عالمٌ

ترجمه: اول صفت دې او دا هغه تابع دې چې دلالت کوي په یوه معنی چې په متبوع کې وي لکه جاءني رجل عالم.

تشریح: صفت هغه تابع دې چې دلالت کوي په هغه معنی چې موجوده وي په موصوف کې. او دیته صفت بحاله وائي. مثال: جَاءَ نِي رَجُلٌ عَالِمٌ، رجلٌ موصوف، عالم صفت دلالت کوي په علم باندې او هغه په رجل کې دې. موصوف سره د صفت نه فاعل شو د جاء، فعل سره د فاعل نه جمله فعلیه خبریه

یا بر معنی که در متعلق متبوع باشد:

ترجمه: یا په هغه صفت باندې دلالت کوي چې په متعلق د متبوع کې وي

تشریح: دویم قسم صفت چې دلالت کوي په یوه معنی چې دغه معنی به موجوده وي په متعلق د موصوف کې لکه: جَاءَ نِي رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ. رجل موصوف، حسن صفت او غلامه متعلق د رجل دې، حَسَنٌ دلالت کوي په یوه معنی چې حسن دې او هغه موجود دې په متعلق د رجل کې چې غلام دې

خلاصه: صفت دوه قسمه شو:

صفت بحاله.....جاء ني رجلٌ عالمٌ

صفت بحال متعلقه..جاء ني رجلٌ حَسَنٌ غُلَامُهُ

قسم اول در ده چیز موافق متبوع باشد. ۱ : در تعریف. ۲ : تنکیر. ۳: تذکیر. ۴: تانیث. ۵ : افراد. ۶ : تثنیه. ۷ : جمع ۸ : رفع (۹) نصب (۱۰) جر.

ترجمه: اول قسم (صفت بحاله) به په لسو څیزونو کې د متبوع موافق وي په تعریف کې الخ

تشریح: لس به څکه وي چې پنځه اول راځي په اعتبار د موصوف سره او پنځه باقي راځي په اعتبار د مسندالیه سره. اودلته مسندالیه اوموصوف شيئ واحد دي لیکن لس واړه په یوځائې نه موجودیږي څکم بعض منافي دي د بعضو سره.

معرفه اونکره دواړه نشي راتلې د دینه به یو اخستلې شي. دغه شان تذکیر، تانیث نه یو، د افراد

تثنیه جمع نه یو، او د رفع نصب جر نه یو. نو موجود یږي به په هر ترکیب کې څلور. او شپږ ممتنع دي چون عندي رجلٌ عالمٌ. دلته عالمٌ صفت د رجل دې څلور واړه موجود دي صفت ۱: موصوف دواړه نکره دي ۲: دواړه مذکر دي ۳: دواړه مفرد دي ٤: دواړه مرفوع دي ورجلان عالمان. دا مثال دتثنیه دي ورجال عالمون: دا مثال دجمع دې اوامرأة عالمة دا مثال دمؤنث دي وعلي هذا القياس البواقي.

واما قسم دوم موافق متبوع باشد. درپنج چیز. در. ۱: تعریف ۲: وتنکیر ۳: و رفع ٤: ونصب ٥: وجر.

ترجمه: دویم قسم به موافق د متبوع سره وي په پنځه څیزونو کې په تعریف کې الخ

تشریح: لیکن په هر ترکیب کې به د دې پنځو نه دوه وي او دري به ممتنع وي ځکه بعض د بعضو سره منافي دي، د تعریف او تنکیر نه یو او د رفع او نصب او جر نه یو. نو دوه شو او دري منع دي

دلیل: پنځه به ځکه راځي لپاره د موافقت دا پنځه راځي په اعتبار دموصوف سره او پنځه په اعتبار د مسند الیه سره. دلته مسند الیه غیر دې جدا دي نو په دې کې حال د ده به په شان د حال دفعل وي که اسناد یې شوې وو اسم ظاهر ته نو صفت به همیشه مفرد وي. او که اسناد یې شوې وو ضمیر ته نو که ضمیر واحد وو نو صفت به هم واحد وي او که تثنیه وه یا جمع وه نو صفت به هم دغه شان وي دارنګه حال د تذکیر او تانیث د فعل دي نو صفت به هم دغه شان وي. وقدمر تفصیلاً.

بدانکه نکره رابجمله خبریه صفت توان کرد چون جَاءَنِي رَجُلٌ اَبُوهُ عَالِمٌ.

ترجمه: پوهه شه چې د نکرې په جملې سره صفت کیږي لکه جاءني رجل الخ

تشریح: په دې عبارت سره غرض د مصنف دا دي چې لکه څرنګه چې صفت مفرد واقع کیږي نو جمله هم واقع کیږي صفت د موصوف ځکه غرض د صفت نه دلالت کول دي په یوه معنی چې موجوده وي په موصوف کې یا په متعلق د موصوف کې څرنګه چې مفرد سره صفت کیږي نو دارنګه په جملې سره هم کیدې شي

او مراد د جملې نه جمله خبریه ده نه انشائیه. ځکه انشائیه ثابته نه ده نو څرنګه به دلالت وکړي په یوه معنی چې موجوده وي په غیر کې او که چرې جمله انشائیه صفت دموصوف واقع شوې وو نو تاویل به کیږي په خبریه سره. لیکن جمله صفت د موصوف نکرې واقع کیږي نه د معرفې، لپاره د مطابقت ځکه د نکرې او جملې مناسبت شته په نکارت کې او د معرفې او د جملې مناسبت نشته. معرفه دلالت کوي په ذات معین باندې او جمله دلالت کوي په نسبت

مبهم باندې او په مابين د تعيين او عدم تعين کې منافات دې

ودرجمله ضميري عائد بنكره لازم باشد.

ترجمه: او په جمله کې به یو ضمیر عائد (راجع کید ونکې) نکرې ته لازم وي

تشريح: جمله خبريه چې صفت واقع شي د نكرې نوعائد به پکې ضروري وي چې ضمير دې، لپاره د ربط څكه صفت مربوط وي د موصوف سره او جمله مستقله بنفسها ده د ماقبل سره مربوطه نه وي نولابدي ده د عائد نه لپاره د ربط د جملې د موصوف سره. لكه جَاءَ نِي رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ

قاعده: په مطابقت د صفت او موصوف کې اسم تفضيل چې مستعمل وي په مِنْ سره مستثنیٰ دې څكه اسم تفضيل مستعمل بمن لازماً مفرد مذكر وي لكه مررت برجال افضل مِنْ زَيد. دويم هغه صفات چې په هغې کې مذكر او مؤنث برابر او مساوي وي لكه فَعُوْل بمعنى فاعل او فعِيل بمعنى مفعول لكه: جَاءَ نِي امْرَأَةٌ صَبُوْرٌ او امْرَأَةٌ قَتِيلٌ

قاعده: دوه اسمين معرفه وو يا دواړه نكره وو نوصفت موصوف به وي غالباً

موصوف صفت معرفتين — الرجلُ العالمُ

موصوف صفت نكرتين — رَجُلٌ عالمٌ

قاعده: كه د اسم اشارې نه بعد يو اسم معرفه باللام راغې نو اكثر به صفت موصوف وي لكه: (ذٰلِكَ الْكِتَابُ).

فوائد صفت او اقسام صفت

۱: صفت مخصصه.. قوله تعالي فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ.. رقبة موصوف مؤمنة صفت

۲: صفت موضحه. قوله تعالي وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ.. البلد موصوف الامين

۳: صفت كاشفه.. قوله تعالي اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ.... الذين موصوف يؤمنون صفت

٤: صفت مادحه. قوله تعالي بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.. الله موصوف الرحمن الرحيم صفتين

۵: صفت ذامه قوله تعالي فاستعذ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ. الشيطن موصوف الرجيم صفت

٦: صفت مؤكده. قوله تعالي: نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ.. نفخة موصوف واحدة صفت

۷: صفت مبينة. قوله تعالي وَلَا طَائِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْه.. طائر موصوف يطير صفت

۸: صفت مفیده. (للترحم) اللهمّ انا عبدُکَ المِسکِینُ. عبدک موصوف المسکین صفت

صفت

صفت بحاله	بحال متعلقه
رَجُلٌ عَالِمٌ صفت مفرد	صفت جمله رَجُلٌ عَالِمٌ اَبُوْهُ
در ده اشیاء (۱۰)	در پنج اشیاء (۵)
۱: تعریف. ۲: تنکیر	۱: تعریف.
۳: تذکیر. ۴: تأنیث.	۲: تنکیر
۵: افراد. ۶: تأنیث	۳: رفع. ۴: نصب.
۷: جمع. ۸: رفع.	۵: جر.
۹: نصب. ۱۰: جر.	یوجد في صفة مع موصوف اثنان لاغیر
یوجد اربعة منها في صفة مع موصوف لاغیر	

سوالات تمرین صفت و موصوف

نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ	عِنْدِي قَلَمٌ ثَمِينٌ	اَلْمُسْلِمُوْنَ الصَّادِقُوْنَ
كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ	إِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ	فِئَةٍ قَلِيلَةٍ
هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا	فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ	وَأَنْبَتَهَا نَبَاتاً حَسَنَه
وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكَةٍ		

دوم تاکید واَو تابعیست که حال متبوع رامقرر گرداند در نسبت یا شمول تا سامع راشک نماند.

ترجمه: دویم تاکید دي او دا هغه تابع دي چي حالت د متبوع مضبوطوي په نسبت کي یا په شمول کي دي لپاره چي د سامع (آوریدونکي) شک پاتي نشي.

تشریح: تاکید حال د متبوع مضبوطوي په نسبت د دي متبوع کي یعني چي مسند الیه په دي نسبت کي متبوع وي نه غیر. د دي لپاره چي شک د سامع پاتي نشي.

مثال: زیدٌ زیدٌ قائمٌ. په دي مثال کي دویم زید د اول لپاره تاکید دي مقصد د دي تاکید نه د

اول زید چې مسند الیه دې د هغه پختګې او تقرر دې چې د قائم نسبت ورته شوې دې.دویم
زید ثابتوې چې څه شک په دې کې نشته دې.
دارنګه ضَرَبَ ضَرَبَ زَیدٌ: دویم ضرب د اول لپاره تاکید دې، مقصد د دې تاکید نه چې د ضَرَبَ
اول اسناد او نسبت زیدٌ ته شوې دې دا مظبوطوې چې شک پاتې نه شي.
یادرشمول: د دې مقصد دا دې چې د سامع دا یقین جوړشي چې متبوع تمامو افرادو خپلو لره
شامل دې او ټول افراد د متبوع مراد دې د دې لپاره تاکید راوړې شي مثال لکه: جَاءَنی القَوْمُ
کُلهم کلهم تاکید د قوم لپاره دې، د دې لپاره چې دا ثابته شي چې مجيء حکم په ټول افراد د
قوم صادق دې او دا ورلره شامل دې.یا لکه (فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ) یا لکه جَاءَنِي زَيدٌ
زَيدٌ.

وتاکید بردو قسم است لفظي ومعنوي تاکید لفظي بتکرار لفظ است چون زَیدٌ زَیدٌ قَائمٌ الخ.

ترجمه: تاکید په دوه قسمه دې یو لفظي دویم معنوي تاکید لفظي په تکرار د لفظ سره دې

تشریح: تاکید معنوي لپاره مخصوص چند الفاظ دي ۱: نفس ۲: عین ۳:کلا کلتا ۴: کل ۵:
جمیع ۶: اجمع ۷: اکتع ۸: ابتع ۹: ابصع

نفس او عین عام دي، واحد تثنیه جمع، مذکر او مؤنث ټولو لپاره راځي او دا به همیشه ضمیر د
مؤکد ته مضاف وي د دوي او د دوي د مضاف الیه ضمیر مؤکد سره مطابقت لازم به وي البته
تثنیه کې صور ثلاثه جائز دي

۱: مفرداً: جاءني الزیدان نفسها.

۲: تثنیه: جاءني الزیدان نفساهما.

۳: جمعاً: جاءني الزیدان أنفسهما.

دارنګه د نفس او عین د با زائده سره مجرور لوستل هم جائز دي جاء زیدٌ بنفسه کلا وکلتا دا د
تثنیه لپاره تاکید واقع کیږي او دوي هم مضاف کیږي ضمیر د مؤکد ته لکه جاء ني الزیدان
کلاهما.

کل د هغه مؤکد تاکید واقع کیږي چې ذو اجزاء وي لکه: جَاءَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ. اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّه. جَاءَ
زَيدٌ كُلُّه غلط دي ځکه زید ذو اجزاء نه دي.

قاعده: کل کله خپل مؤکد ته مضاف کیږي په دغه وخت کې به صفت وي، تاکید به نه وي لکه:
رأیت الرجل کل الرجل بمعنی کامل.

اجمع، جمعاء، جمع، اجمعین دا د شمول د احاطې د تمامو افرادو لپاره راځي. (فَسَجَدَ

الملائكة كلهم أجمعون) او كله به د تاكيد لپاره راځي بغير د كل نه (لأغوينهم أجمعين)
د تثنيه د تاكيد لپاره نه راځي .بخلاف الكوفيين واخفش لكه جاء ني الزيدان اجمعان
والهندان جمعا وان
اكتع ابتع ابصع دا د اجمع تابع دي په تاكيد كې نو د هغې نه مخكې كيدې هم نه شي او نه
بغير د اجمع نه استعمال د دوي جائز دي
جميعٌ وعامة دا د كُل حكم لري، البته د دوي په تاكيد كې استعمال قليل دې
تاكيد لفظي په تكرار د لفظ اول سره راځي برابره خبره ده چې اسم وي ظاهراً ومضمراً فعلاً ام
حرفاً ام جملة: د جملې مثال: كلا سيعلمون:
د مفرد تاكيد : [فنكاحها باطلٌ باطلٌ باطلٌ].
د حرف د تاكيد لپاره د تكرار د اسم هم ضروري دي اِنّ زيداً اِنّ زيداً.

التمرين

الرَّاهِي وَالْمُرْتَشِي كِلَاهُمَا فِي النَّارِ	عَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا
فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ	اِشْتَرَيْتُ الْأَمَةَ كُلَّهَا
ذَهَبَتِ النِّسَاءُ كُلُّهُنَّ	جَاءَ نِي زَيْدٌ نَفْسُهُ
جَاءَ نِي رَجُلَانِ أَجْمَعَانِ	

سوم بدل و أو تابعيست كې مقصود به نسبت او باشد وبدل برچهار قسم است بدل الكل و بدل الاشتمال وبدل الغلط،وبدل البعض.

ترجمه: دريم قسم بدل دي او دا هغه تابع دي چې مقصود په نسبت سره مبدل منه ته وي او بدل په څلور قسمه دي.

تشريح: بدل هغه تابع دې چې كلام كې به مقصود وي او مبدل منه به ذكركولې شي لپاره د تمهيد.او د ده متبوع ته مبدل منه وائي.
اودا بدل په څلور قسم دی. ۱: بدل الكل ۲: بدل الاشتمال ۳: بدل البعض ٤: بدل الغلط
بدل الكل: ديته وائي چې د ده مصداق به هغه وي كوم چې دمبدل منه وي لكه: جَاءَ نِي زَيدٌ اَخُوكَ زيد مبدل منه، اخوک بدل د دوارو مدلول يودې ديته بدل مُطابَقْ هم وائي. استشهاد من القرآن (إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ، اللهِ الَّذِي).

بدل الاشتمال: دیته وائي چې دا د مبدل منه جزء او کل نه وي ددینه علاوه تعلق به وي د مبدل منه او د بدل سُلِبَ زَیدٌ ثَوبُه زید مبدل منه ثوبه بدل، ثوب نه عین زید دی او نه جزء د زید دی بلکه د دواړو ترمینځ تعلق د اشتمال دی نور مثالونه لکه: [اَعْجَبَنِي زَيدٌ عِلْمُه اَوحُسْنُه .اَعْجَبَنِي الْمُدَرِّسُ عِلْمُه .اَعْجَبَتْنِي الْوَرْدَةُ رَائِحَتُهَا].

بدل الغلط: دیته وائي چې د سبقت لساني په وجه انسان غلط شي بې د قصد او ارادې نه او بدل بیا راوړې شي لپاره د تصحیح د غلطیانو. مثل: جاء المعلم التلمیذ حیث اردت ان تذکر (التلمیذ) فسبق لسانک فذکرت المعلم غلطاً فادرکت غلطک فتدارکې.

(یعني ستا اراده وه چې ته لفظ د تلمیذ ذکر کړې لیکن ستا ژبې نه سبقت وشو او غلط شوې او د تلمیذ په ځائې دې معلم ذکر کړو، بیا دې د خپلې غلطۍ تدارک او تلافي وکړه نو صحیح لفظ دې ذکر کړو). بل مثال: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ.

بدل البعض: دیته وائي چې د مبدل منه جزء به وي برابر خبره ده چې قلیل وي دا جزء د مبدل نه یا مساوي وي ورسره یا ترینه اکثر وي لکه: اَكَلْتُ الْبِطِّيخَةَ ثُلُثَهَا. اَكَلْتُ الرَّغِيفَ نِصْفَه .اَلْكَلَامُ ثَلَاثَةُ اَقْسَامٍ اِسْمٌ وَفِعْلٌ وَحَرْفٌ.

قاعده: بدل الکل من البعض: جمهور نحاة د دې قائل نه دي

لیکن بعض نحاة په دې قول کوي علامه سیوطي قرآن کې د دې نظیر پیش کړې دې. (فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ شَيْئًا جَنّٰتِ عَدْنٍ).

بعض وائي لکه علامه خضري چې دا بدل الکل من الکل دې او الجنة کې الف لام برائې جنس دي

قاعده: بدل او مبدل منه په اعتبار د ظاهر او مضمر سره څلور قسم دي:

۱: دواړه مظهر. لکه جاءني زیدٌ اخوک.

۲: بدل المضمر من المضمر. لکه ضربته ایاه.

۳: بدل مضمر من المظهر. ضربت زیداً ایاه

٤: بدل المظهر من المضمر. (وَمَا أَنْسَانِيهُ إِلَّا الشَّيْطَانُ أَنْ أَذْكُرَهُ).

قاعده: د بدل او مبدل منه په اعتبار د تعریف او تنکیر سره څلور صورتونه دي:

۱: معرفتین. (اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ).

۲: نکرتین. (اِنَّ لِلْمُتَّقِیْنَ مَفَازاً حَدَائِقَ).

۳: بدل معرفه مبدل منه نکره. (اِلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِیْمٍ صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِي).

٤: بدل نکره مبدل منه معرفه (لَنَسْفَعاً بِالنَّاصِیَةِ نَاصِیَةٍ).

تمرین بدل ومبدل منه

یَسْئَلُوْنَکَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِیْهِ.	وَاِلٰی ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صَالِحاً
کَیْفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِعَادٍ	اِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ
وَاتَّبَعْتُ مِلَّةَ آبَاءِي اِبْرَاهِیْمَ وَاِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ	

چهارم عطف بحرف واو تابعیست کي مقصود باشدبه نسبت بامتبوعش بعداز حرف عطف چون جَاءَ زَیْدٌ وَعَمْرٌو.

ترجمه: څلورم عطف په حرف سره دي او دا هغه تابع دي چي مقصود وي په نسبت سره د متبوع خپل نه پس د حرف عطف نه

تشریح: معطوف بالحرف هغه تابع دي چي مقصود په نسبت سره تابع او متبوع دواړه وي اوذکر وي پس د حرف عاطفه نه دیته عطف نسق هم وائي، نسق ترتیب ته اودلته بعض صورتونو کي معطوف پس د معطوف علیه نه په ترتیب سره وي

امام سیبویه دیته باب الشرکة وائي مثال جاء ني زیدٌ وعمرٌو. زید متبوع معطوف علیه واو حرف عاطفه، عمرو تابع معطوف کوم نسبت د مجيء چي زید ته شوي دي نو دغه عمرو ته هم شوي دي، دواړه مقصود بالنسبت دي في الکلام د حروف عاطفه وتفصیلاً بیان به په فصل ثالث کي راشي ان شاء الله تعالي.

تمرین معطوف ومعطوف علیه وحرف عطف وعطف بیان

لَقّٰهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْراً	
اَهْلَکْنَاهَا فَجَاءَهَا بَأْسُنَا	حٰفِظُوْا عَلَي الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰي
اَکَلْتُ السَّمَکَةَ رَأْسَهَا	ثُمَّ اِذَا شَاءَ اَنْشَرَهُ
	اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ زِیْنَةُ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا.

پنجم عطف بیان: واو تابعیست غیر صفت کې متبوع راروشن گرداند.

ترجمه: پنځم عطف بیان دې او دا هغه تابع دې چې صفت به نه وي د متبوع وضاحت به کوي

تشریح عطف بیان هغه تابع ته ویلې شي چې صفت نه وي او خپل متبوع لره واضح کوي غیر صفت قید سره صفت خارج شو ځکه صفت د موصوف وضاحت کوي لیکن په دې سره خارج دې ځکه هغه دلالت کوي په هغه معنی چې موجوده وي په موصوف کې اودیته عطف بیان ځکه وائي چې دا بیان د خپل متبوع کوي

مثال: أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرُ. ابو حفص کنیه د جناب عمر فاروق رضي الله عنه ده لیکن په دې کنیه سره عمر فاروق مشهور نه دې نو اکتفاء ئې په دې اونه کړه بلکې اسم محضه ئې ذکر کړه نو که اسم محضه مشهوره وي نو هغه به ذکر کولې شي اوکه بالعکس وو ، کنیه سره یو شخص مشهور وو لکه د ابو یوسف نوم یعقوب دې په دې مشهور نه دې، د ابو حنیفه نوم نعمان دې په دې مشهور نه دې نو بیا به دواړه ذکر کیږي کنیه او اسم محضه لپاره د وضاحت.

واقعه: اقسم بالله ابو حفص عمر: دا د یو اعرابي (بانډچي) قول دې چې راغې سیدنا عمر رضی الله عنه ته، هغه ته ئې اووې ځما کور لرې دې ځما اوښ زخمي شوې دې، هم ملا د هغه او هم دهغه خپې سوري شوي دي سیدنا عمر رضی الله عنه اووې: دروغ وائي. اعرابي (بانډچي) روان شو، اوښ ئې روان کړو او دا شعر ئې اووې.شعر

أَقْسَمَ بِاللهِ أَبُوْ حَفْصٍ عُمَرْ مَا مَسَّهَا مِنْ نَقَبٍ وَلَا دَبَرْ

اِغْفِرْ لَهُ اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ فَجَرْ

نو عمر دا خبره د اعرابي واوریده نو هغه اوې: اللّٰهُمَّ صَدَقَ، صَدَقَ.

اسم درې قسم دې. ۱ : محضه ۲: کنیه ۳: لقب کما مر في بیان المعرفة والنكرة.

فصل دوم دربیان منصرف وغیر منصرف

منصرف آن است کې هيچ سبب ازاسباب منع صرف درو نباشد.

ترجمه: دويم فصل په بيان د منصرف او غير منصرف کې دي، منصرف هغه دي چې په ده کې هيڅ يو سبب هم د اسبابو دغير منصرف نه نوي.

تشريح: په دې فصل کې مصنف بيان د اسم معرب کوي دوه قسمونو ته:

۱: منصرف. ۲: غير منصرف

د دې اجمالاً بيان اسم منصرف ديته وائي چې دوه سببه يا يو سبب د اسباب تسعه ؤ د غير منصرف نه پکې نه وي او اخير د ده مختلف کيږي په اختلاف د عواملو سره، تنوين اوکسره پکې راځي، ديته اسم متمکن امکن اوغير متقي هم وائي. امثله د دې زيات دي مثلاً زيدٌ شو په دې ترکيب کې چې جَاءَ نِي زَيدٌ. رايتُ زَيداً و مَرَرْتُ بِزَيدٍ وغيره وغيره.

وغير منصرف آنست کې دوسبب ازاسباب منع صرف درو باشد واسباب منع صرف نه است، عدل، وصف، تانيث، الخ.

ترجمه: او غير منصرف ديته وائي چې دوه سببه يا يو سبب د اسباب تسعه ؤ د منع صرف نه پکې راغلي وي او اخير د ده مختلف کيږي، تنوين اوکسره پکې نه راځي الا من ضرورة وتناسب ديته غير امکن اومتقي هم وائي: لانه يتقي عن التنوين والكسرة. مثال: جَاءَ نِي عُمَرُ رَأيتُ عُمَرَ وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ. تنوين او کسره پکې نه راځي ځکه دا غير منصرف د فعل سره مشابه دي په وجود د فرعيتينو کې. فعل محتاج دي ۱: فاعل ته په صدور کې. ۲: او مصدر ته په اشتقاق کې او غير منصرف کې هم فرعيتين دي ځکه بنا د هر سبب په فرعيت ده اودوه سببين چې راشي په يو اسم کې نودوه فرعي پکې راغلي د دې غير منصرف مشابهت د فعل سره راغلو نو په ده کې به تنوين اوکسره نه راځي. لکه په فعل کې چې نه راځي او اسباب د منع صرف په قول حق او مشهور سره نهه دي شعر

عَدْلٌ وَوَصْفٌ وَتَأنِيثٌ وَمَعْرِفَةٌ وَعُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيبٌ
وَالنُّونُ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا أَلِفٌ وَوَزْنُ فِعْلٍ وَهٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيبٌ

سبب اول عدل تعريف: تحويل الاسم من حالة الي حالة اخري مع بقاء المادة الاصلية والمعنى الاصلي بلا قانون صرفي. (كافيه). اقسام د عدل ۱: عدل تحقيقي. ۲: عدل تقديري
۱ عدل تحقيقي: ما يوجد فيه دليل علي وجود الاصل سواء منع صرف. مثال: ثلاث ومثلث

وغیره.

عدل تقدیري: ما لم یوجد فیه دلیل علي وجود الاصل مثال: عُمَرُ. زُفَرُ.

اوزان د عدل شپږ دي:

۱: فُعَال نحو ثُلث.

۲: مفْعَل نحو مَثْلَثَ.

۳: فُعَلَ أُخَرَ.

٤: فَعَلَ صَفَرَ.

٥: فَعَالِ قَطَامِ.

٦: فَعَلِ آمْسِ.

قاعده: عدل او وزن فعل نه جمع کیږي ځکه اوزان د عدل سماعي دي او اوزان د فعل قیاسي دي و بینهما منافات.

سبب ثاني وصف: وصف په لغت کې تعریف کولو ته وائي.

او په اصطلاح کې دوه قسمه دي. ۱: وصف هغه تابع دې چې دلالت کوي په هغې معنیٰ چې موجوده وي په متبوع کې (کما مر في التوابع) لکه: جاءني رجلٌ عالمٌ دا قسم د وصف معرفه اونکره دواړه راځي

دویم قسم هغه اسم دې چې دلالت په وصف د ذات مبهم باندې کوي. لکه اَحْمَدَ شو دا قسم صرف نکره راځي. په اسبابو د منع صرف کې وصف ثاني مراد دې او دا بیا دوه قسمه دي. ۱: وصف اصلي وضعي. ۲: وصف عارضي غیر وضعي.

وصف اصلي وضعي دیته وائي چې واضع وضع کړې وي لپاره د وصف. مثال اسود او اَرْقم شو دا غیر منصرف دي لوجود السببین فیهما الوصف الاصلي ووزن الفعل.

وصف غیر وضعي دیته وائي چې واضع نه وي وضع کړې لپاره د وصف لیکن استعمال کې وصف ګرځیدلې وي مثال لکه اربعٌ شو په دې ترکیب کې: مَرَرْتُ بِنِسْوَةٍ اَرْبَعٍ. وصفیت اصلي وضعي سبب د منع صرف ګرځي نه عارضي.

دریم سبب تانیث ۱: تانیث لفظي. ۲: معنوي، تانیث لفظي په درې قسمه دې.

۱: تانیث بالتاء اللفظي لکه طلحة

۲: تانیث بالف مقصوره حُبْلیٰ.

۳: تانیث بالف ممدوده لکه حَمْرَاءُ.

شرط په سببیت د منع صرف کې د تانیث لفظي بالتاء لپاره علمیت دې لکه طلحة او تانیث لفظي بالف الممدوده والمقصوره یو سبب هم قائمقام د سببین دې چې تانیث او لزوم التانیث دې دوي چې یو اسم کې راشي نو په وقف وغیره سره ن ساقطیږي.

۲: تانیث معنوي: د دې لپاره په سببیت د منع صرف کې دوه شرطه دي. یو د وجوب او بل د جواز. شرط د جواز علمیت هندٌ شرط وجوب ۳: دي
۱: زائده علي ثلاثة احرف مثال لکه زینب ۲: یا ثلاثي متحرک الاوسط مثال لکه سَقَرُ ۳: عجمي مثال لکه ماه وجُوْر.

الحاصل: تانیث په څلور قسمه دي ۱: تانیث بالتاء اللفظي ۲: تانیث معنوي ۳: تانیث بالف مقصوره. ٤: تانیث بالف ممدوده.

څلورم سبب معرفه: مراد د معرفې نه علم دې ځکه د معرفې باقي اقسام غیر منصرف لپاره سبب نه ګرځي، مثال لکه: ابراهیم

پنځم سبب عجمه دیته وائي چې غیر عربو یو لفظ وضع کړې وي لپاره د یوې معنیٰ. د دې لپاره هم شرطین دي ۱: علمیت ۲: زائده علي الثلاثة مثال ابراهیم یا ثلاثي متحرک الاوسط مثال شَتَرَ، فنُوحٌ منصرف لفوات الشرط الثاني (فتامل)

۶: سبب جمع: مراد د جمع نه صیغه د منتهي الجموع ده. د دې لپاره شرط دا دې چې تاء به نه قبلوي. دا جمع هم قائمقام د سببینو ده یو جمعیة او بل لزوم الجمعیة مثال: دَوَآبُّ. مَسَاجِدُ. مَصَابِیحُ

اوم سبب ترکیب: ترکیب لپاره شرط علمیت دې په سببیت د منع صرف کې او اقسامو د مرکب نه صرف یو مرکب چې امتزاجي دې سبب ګرځي د منع صرف لپاره. کما مرّ تفصیلاً اقسام المرکب مراراً.

اتم سبب الف نون زائدتان: د دې دوه استعماله دي.

۱: که اسم جامد ذاتي کې راشي، شرط ورلره علمیت دې په سببیت د منع صرف کې، مثال لکه: عمران، عثمان، سلمان

۲: که اسم صفتي کې راشي شرط دا دې چې مؤنث دده به په وزن د فعلانة سره نه وي

نهم سبب وزن فعل: د دې لپاره هم دوه شرطین دي ۱: اختصاص الوزن بالفعل. وضعاً فعل وي بیا نقل شوې وي اسم ته مثال: شَمَّرَ، ضُرِبَ.

۲: مختص بالفعل نه وي د دې لپاره شرط دا دې چې په اول د دې کې به یو د حروف مضارعت

نه دي مثال لكه: احمد، يشكر، تغلب، نرجس ولي شرط د دي لپاره دا دي چې تاء به نه قبلوي يعمل د وزن فعل نه شمار نه دي لوجود يعملة چې تاء قبلوي.


قاعده: د انبياء عليهم السلام اسماء: اوه ۷: اسماء انبياء منصرف دي ۱: محمد. ۲: صالح. ۳: هود. ٤: شعيب ٥: نوح ٦: لوط. ۷: شيث باقي ټول غير منصرف دي لكه چې په دې شعر كې راغلي دي شعر

صالح، هود، محمد، باشعيبُ، نوح، لوطْ　　　اين منصرف ديگر همه لاينصرِف

اسماء ملائكة:

څلور په دوي كې منصرف دي. ۱: رضوان ۲: نكير. ۳: منكر. ٤: مالك دا عربي اسماء دي باقي تمام غير منصرف عجمي دي.

اسماء الشهور: شپږ غير منصرف دي. ۱: جماد الاولي ۲: جمادي الاخري ۳: شعبان ٤: رمضان ٥: صفر. ٦: رجب باقي شپږ منصرف دي



تمرین منصرف وغیر منصرف

رَحْمٰن	اِسْمَاعِيلُ	فريده	فرحان
جبرائيل	احاديث	نوح	رمضان
اقوال	زيد	جمادالاول	احاد موحده
دواب	يوسف	نعمان	اشياء
رجب	عثمان	عمران	سكران

فصل سوم درحروف غیرعامله

وآن شانزده قسم است

دریم فصل دخاتمې نه په بیان دحروف غیر عامله کې دې او دا شپاړس قسمونه دي دا داسې حروف دي چې رفع اونصب اوجر اوجزم نه ورکوي عامل نه واقع کیږي بلکه د دې څه معاني اوفوائد دي دهغې لپاره یې په دې فصل کې مصنف ذکر کوي

اول حروف تنبیه وان سه است الا ,واما وها.

ترجمه: اول حروف تنبیه دي اودا درې دي

تشریح تنبیه په لغت کې آگاهي اوخبر داري ته وائي. او اصطلاحاً هغه حروف دي چې راوړې شي په صدر د جمله فعلیه یا اسمیه کې د دې لپاره چې غفلت د سامع اومخاطب لرې کړې شي اوکلام د متکلم ته متوجې شي. اودا درې حروف دي اول ددینه الا دې

(اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ).الا لپاره نورې معاني هم دي ماسوا د تنبیه نه

۱: برائي تمني الاتنزلُ بنافتصب خيراً.

۲: برائي انکار وتوبيخ. الا زيدٌ قائم

۳: برائي عرض: (اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ).

٤: برائي تحضيض: (اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْا اَيْمَانَهُمْ).

دویم حرف دحروف تنبیه نه اما دې. اَمَا لَاتَفْعَل. اَمَا وَالَّذِي اَبْكٰي وَاَضْحَكَ.

دریم ها دې دا په اسم اشاره داخلیږي هذا

دارنګه په ضمیر باندې لګه: ها انتم هآؤلاء. دارنګه په اې پورې متصل کیږي چې حروف نداء

پرې داخله وي. يا أيها الذِينَ آمَنُوا. دارنګه په لفظ د الله باندې ها الله

قاعده: ها اسم فعل په معنی د خُذ سره هم راځي. هازيداً اي خذ زيداً.

په اخير د دې پورې حرف خطاب هم متصل كيږي هالك وغيره.

دوم حروف ايجاب وآن شش است نَعَم وَبَلي وَاَجَل واي وَجَيرِ وَاِنَّ.

ترجمه: دويم حروف ايجاب دي او هغه شپږ دي نعم او بلي الخ.

تشريح: دويم حروف ايجاب دي، ايجاب مصدر د باب افعال دې اَجَابَ يُجِيبُ اِيجَاباً په معنی د ثابت كولو سره. دا هم د يو شي د تقرر او اثبات لپاره وضع شوي دي

او دا شپږ دي. ۱: نعم ۲: بلي ۳: اجل ٤: اي ٥: جَيرِ ٦: اِنَّ

نَعَمْ او اَجَلْ د متكلم د كلام د تصديق لپاره راځي. بعض نحاة د نَعَمْ وَاَجَلْ ترمينځ فرق كوي اَجَلْ د خبر لپاره مختص دي

امام اخفش وائي چې اَجَلْ د خبر نه بعد احسن دي او نعم پس د استفهام نه احسن دي

تفصيل نعم: نعم وضع شوي دي د مضمون د كلام سابق د اثبات لپاره برابره خبره ده كه كلام سابق انشاء مثبت وي او كه منفي وي منفي ثابتوي او مثبت مثبت پاتې كوي. مثلاً: د اَجَاءَ زَيدٌ په جواب كې نَعَمْ ويلې شي يعني يقينا زيد راغلی دې. اَمَا جَاءَ زَيدٌ په جواب كې نَعَمْ وويلې شي مطلب به دا وي: يقينا زيد نه دې راغلی.

د قام زيدٌ جواب نعم الخ مطلب به دا وي: يقينا زيد قائم دې.

بلي دا راځي د جواب د ما نافيه يعني نفي د كلام سابقه مثبته كوي لكه د ماقام زيد. په جواب كې بلیٰ مطلب به دا وي داسې نه ده بلكه زيد قائم دې دغه مطلب د اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ دې. جواب كې بلي داسې نه ده بلكه اې الله! ته زمونږ رب ئې.

دارنګه (زَعَمَ الذِينَ كَفَرُوْا اَنْ لَنْ يُبْعَثُوْا قُلْ بَلٰي وَرَبِّيْ). اي راځي لپاره د اثبات د كلام سابق په جواب د استفهام كې سره د قسم نه اَجَاءَ زَيدٌ جواب اِي والله.

جَير او ان راځي لپاره د تصديق د خبر برابره خبره ده چې منفي وي او كه مثبت وي.

سوم حروف تفسير وآن دو است اي وان.

ترجمه: دريم حروف تفسير دي او دا دوه دي ۱: اَي ۲: اَنْ.

تشريح: ديته حروف تفسير ځكه وائي چې تفسير وضاحت ته وائي او په دوي سره هم وضاحت د ابهام كيږي چې راغلی وي په كلام كې.

وَنَادَيْنَاهُ اَنْ يَّا اِبْرَاهِيمُ: جَاءَنِي رَجُلٌ اَيْ زَيْدٌ.

فائده: د اَنْ لپاره شرط دا دي چې واقع کیږي په مابین الجملتین کې او اوله جمله به په معنی د قول سره وي (وَنَادَيْنَاهُ اَنْ يَّا اِبْرَاهِيمُ) اي بِلَفْظٍ هُوَ قَوْلُنَا اَنْ يَّا اِبْرَاهِيمُ.

چهارم حروف مصدریه وآن سه است ما وان وانّ ما وان در فعل روند تا فعل بمعنی مصدر باشد.

ترجمه: څلورم حروف مصدریه دي او دا درې دي ۱: اَنْ. ۲: ما. ۳: واَنّ، ما او اَن په فعل کې راځي دې لپاره چې فعل په معنی د مصدر شي.

تشریح: دا حروف مصدریه مدخول خپل په تاویل د مصدر سره ګرځوي څکه ورته حروف مصدریه وائي. اَنْ په ماضي او مضارع دواړو داخلیږي لیکن عمل فقط مضارع کې کوي ما (مَادُمْتُ حَيًّا). دا زمانیه دې. (مَا عَنِتُّمْ) دا غیر زمانیه مصدریه دې اَنّ مخفف یا مثقل مصدریه دي عمل کوي. مدخول په تاویل د مصدر ګرځوي.

پنجم حروف تحضیض وان چهار است.

ترجمه: پنځم حروف تحضیض دي او دا څلور دي

تشریح: ۱: اَلّا. ۲: وهلا. ۳: وَلَوْلَا. ٤: وَلَوْمَا. دا حروف په ماضي هم داخلیږي او مضارع باندې هم. فرق دا دې چې په ماضي کې معنی د توبیخ پیدا کوي او په مضارع کې معنی د ترغیب پیدا کوي

ششم حروف توقع وان قد است برائي تحقق در ماضي وبرائي تقریب ماضي بحال ودر مضارع برائي تقلیل.

ترجمه: شپږم حروف توقع دي او دا قد دې لپاره د تحقق (او ثبوت) په ماضي کې او لپاره د تقریب (نزدې کولو) د ماضي دې حال ته او په مضارع کې لپاره د تقلیل دې.

تشریح: حروف توقع یو حرف قد دې چې په ماضي داخل شي نو تقریب پیدا کوي او چې په مضارع داخل شي نو تقلیل پیدا کوي. وقد تقرب الماضي الي الحال، قد قام زيدٌ. معنی د تحقیق پیدا کوي. (قَدْ نَرٰي تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ: مصنف صیغه د جمع ویلې ده چې حروف توقع نو دا په اعتبار د کثرت د افرادو د قد سره یا طرداً للباب.

هفتم حروف استفهام وان سه است.

ترجمه: اووم حروف استفهام دي او دا درې دي.

تشریح: حروف استفهام (چې د تپوس لپاره) استعمالیږي درې دي:

۱: ما. ۲: همزه. ۳: هل.

هلْ او همزه داخليږي په جمله باندي اسميه وي لکه اَزَيدٌ قَاءِمٌ وهلْ زَيدٌ قَائِمٌ اوکه جمله فعليه وي جَاءَ زَيدٌ وَهلْ جَاءَ زَيدٌ مثال د ما : مَا اسْمُکَ.

هشتم حرف ردع وآن کَلاَّ است بمعني باز گردانيدن و بمعني حَقًّا نيزامده است.

ترجمه : اتم حرف ردع دې او دا کلا دي په معنیٰ واپس کولو سره او په معنی د حقاً (يقينا هم راغلې دې.

تشريح: حرف ردع يو حرف دې او هغه کَلَّا دي په معنی د واپس کولو سره او په معنی د حق سره هم راځي.

کله چې په ابتداء د کلام کې راشي قاله کسائي وقال ابو حاتم والفراء بمعنى نَعَمْ.

مثال د کلا بمعنی حقاً . (کَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ). وبمعنى ردع کلام المخاطب زيدٌ يبغضُکَ يقَالُ فِي جَوَابِه کَلَّا اَي لَيسَ الاَمْرُ کَمَا قُلْتَ.

نهم تنوين وآن پنج است تمکن چون زَيدٌ الخ .

تقدم ذکره في علامات اسم فلانعيده.

دهم نون تاکيد درآخر فعل مضارع ثقيله وخفيفه چون اِضْرِبَنَّ وَاضْرِبَنْ.

ترجمه: اتم نون تاکيد په آخر د فعل مضارع کې ثقيله او خفيفه دي لکه اضربن.

تشريح: دا د مضارع، امر، نهي په اخير کې پيوست کيږي نون تاکيد دوه قسم دې، نون ثقيله مشدد مثال لَيضْرِبَنَّ خفيفه ساکن لَيضْرِبَنْ.

د دې تفصيل د صرف په کتابونو کې دي تفصيلاً فاطلب هناک.

يازدهم حروف زيادة وآن هشت اِست.

ترجمه: يولسم حروف زيادت دي اودا اته دي.

تشريح: حروف زيادت اته دي. ۱ : ان ۲: ما. ۳ أن. ٤: لا. ٥: من. ٦: کاف ۷: باء. ۸: لام.

حروف زيادت ديته وائي چې د دوي په سقوط سره اصلي معنیٰ د کلام ته نقصان نه رسي، دا راوړې شي د دې لپاره چې په لفظ يامعنیٰ کې څه فائده ترينه حاصلولې شي مثلاً تحسين دکلام، وزن دکلام، سجع، تاکيد وغيره.

د زيادت مطلب دا دې چې هميشه زائد به نه وي کله به دوي زائد مستعمل وي في الکلام، اِنْ مخفف، ما نافيه يا مصدريه او لما نه وروستو زائد راځي. ما ان رأيت زيداً.

اِنْ اکثر د ما شرطیه نه وروسته راځي. (فَلَمَّا اَنْ جَآءَ الْبَشِيْرُ). ما زائده د اذا، متي، اي، اين، اِنْ چې دوي شرطي دي استعمال ورسره کيږي مَتٰي مَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ. اَيْنَ مَا تَجْلِسْ اَجْلِسْ (اِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ اَحَدًا). اما در اصل اِنْ ما. لا زائده اکثر د واو عاطفه نه بعد اود اُقْسِمُ مضارع متکلم نه ماقبل راځي. مَا عِنْدِي دِرْهَمٌ وَّلَا دِيْنَارٌ (لَآ اُقْسِمُ بِهٰذَا الْبَلَدِ).

مِنْ، کاف، با، لام: دا حروف جاره زائده دي بيا هم خپل مدخول لره جرور کوي.

د مِنْ مثال: (يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوْبِكُمْ).

د کاف مثال: (لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ). د با مثال: (كَفٰي بِاللّٰهِ).

د لام مثال: (رَدِفَ لَكُمْ:

دوازدهم حروف شرط وآن دواست: ۱: اَمَّا. ۲: وَلَو.

ترجمه: دولسم حروف شرط دي او دا دوه دي. اما او لو.

تشريح: اَمَّا د شرط او تاکيد لپاره راځي او تفصيل لپاره غالباً راځي او استينا ف لپاره قليلاً.
اَمَّا شرطيه قائمقام د مَهمَا وي چې د ده فعل شرط هميشه محذوف وي او جزاء کې فاء راوړل لازمي وي اَمَّا زَيْدٌ فَمُنْطَلِقٌ:

(فَاَمَّا اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ وَّجَنَّةُ نَعِيْمٍ).

لو په درې قسمه دې:

۱: اول مصدريه: (وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ). (يَوَدُّ اَحَدُهُمْ لَوْ يُعَمَّرُ اَلْفَ سَنَةٍ):

۲: تعليق في المستقبل (وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا).

٤: تعليق في الماضي (وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا).

لو د شپږو معانيو لپاره مستعمل دې په کلام د عربو کې. مصنف يو معنی شرطي ذکر کړې ده.

۱: لو برائي عرض: لَوْ تَنْزِلُ عِنْدَنَه فَتُصِيْبَ خَيْرًا

۲: برائي تقليل: تَصَدَّقُوْا وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ.

۳: لو برائي تمني: لَوْ تَأْتِيْنَا فَتُحَدِّثُنَه. ودرقران: (لَوْ اَنَّ لَهُ كَرَّةً).

٤: مصدريه: (وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ).

۵: لو برائي تحضيض: لَوْ تَأْمُرُ فَتُطَاعُ

٦. لو شرطيه: لَوْجِئْتَنِي لَاَكْرَمْتُكَ.

سيزدهم لَوْلَا: واو موضوع است برائي انتفاء ثاني بسبب وجود اول. لَوْلَا عَلِيٌ لَهلكَ عُمَرُ.

ترجمه: ديارلسم لولا دي، اودا وضع شوي دي لپاره دانتفاء د ثاني په سبب د وجود د اول

تشريح: دا هم د حروف شرط نه دې، د دې استعمال د انتفاء دثاني په سبب د وجود د اول لپاره دي لكه: لَوْلَا عَلِيٌ لَهلكَ عُمَرُ. مَاهلكَ عُمَرُ لِوُجُوْدِ عَلِيٍ.

واقعه داسې وه چې يوه حامله ښځه راغله زنا ترينه شوې وه نوحكم عُمر اوكړو د هغې په رجم باندې نو سيدنا علي رضى الله عنه او ويل: دحاملې رجم بعد وضع الحمل وي په دغه وخت كې د عمر د ژبان (دخولي) نه داكلام جاري شو لَوْلَا عَلِيٌ لَهلكَ عُمَرُ.

چهاردهم. لام مفتوحه برائي تاكيد چون لَزَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

دالام د جملې د تاكيد لپاره راځي په اسم او فعل دواړو داخليږي ديته لام ابتدائيه وائي (اِنَّ رَبَّكَ لَيَحْكُمُ بَيْنَهُمْ).

پانزدهم مابمعنى مادام چون اَقُوْمُ مَا جَلَسَ الْاَمِيْرُ.

ترجمه: پنځلسم ما په معنى د مادام دي لكه اقوم ما جلس الامير.

تشريح: ديته ظرفيه مصدريه وائي اي اَقُوْمُ وَقْتَ دَوَامِ جُلُوْسِ الْاَمِيْرِ

ما په لس قسم دې حرفي او اسمي. مر تفصيله في ماولا مشبهتان بليس فلا نعيده.

شانزدهم حروف عطف وآن ده است.

ترجمه: شپاړسم حروف عطف دي اودا لس دي

تشريح: حروف لس دي. ١: واو. ٢: فاء. ٣ ثم ٤: حتي ٥: اَمَّا. ٦: اَوْ. ٧: اَمْ. ٨: لا. ٩: بَلْ. ١٠: لكِنْ.

واو: د معطوف اومعطوف عليه جمع راولي مطلقاً لا مع الترتيب والتعقيب. دا مذهب د جمهور و نحاتو دې كوفيين وائي: د جمع مع الترتيب لپاره راځي لكه جاء زيد وعمروٌ.

فاء: راځي د معطوف اومعطوف عليه په مابين كې د ترتيب بلافصل لپاره. اول حكم به د معطوف عليه لپاره او بيا بلافصل سره د ترتيب نه د معطوف لپاره لكه: جاءني زيدٌ فعمروٌ.

ثم: برائي ترتيب و تراخي لكه: جاءني زيدٌ ثم عَمْرٌ.

حتي: په دې سره چې عطف كيدې شي نو څلور شرطونه به وي

١: معطوف به د معطوف عليه بعض حصه وي لكه اكلتُ السكمة حتي رأسها.

۲: معطوف به جزء د معطوف علیه وي یا جزء قوي وي. لکه: مَاتَ النَّاسُ حَتَّى الْأَنْبِيَاءُ. انبیاء بعض د الناس نه دي او په الناس کې قوي دي یا به ضعیف وي لکه: قَدِمَ الْحَاجُّ حَتَّى الْمُشَاةُ. مشاة جزء ضعیفه د الحاج دي.

۳: معطوف به اسم ظاهر وي لکه امثله مذکوره شو. قَامَ النَّاسُ حَتَّي اَنَهٗ صحیح نه دي

٤: معطوف به اسم وي لکه امثله مذکوره شو ، جمله یا فعل به نه وي

اَوْ، اِمَّا، اَمْ: دا درې واړه راځي لپاره د نسبت د حکم یو د معطوف او معطوف علیه ته بغیر د تعین د احدهما نه لکه: جَاءَنِي زَيْدٌ أَوْعَمْرٌو، جَاءَنِي إِمَّا عَمْرٌو، جَاءَنِي زَيْدٌ أَمْ عَمْرٌو.

فائده: او د ډیرو معانیو لپاره راځي:

۱: تخییر د معطوف او معطوف علیه کې چې کوم مختاره کوې. لکه: تَزَوَّجْ فَاطِمَةَ أَوْ أُخْتَهَا.

۲: برائې اباحت معطوف او معطوف علیه په اختیار کې ستا لپاره رخصت او اجازت دي لکه: [جَالِسِ الْعُلَمَاءَ أَوِ الزُّهَادَ].

فرق د تخییر او اباحت

په تخییر کې د معطوف او معطوف علیه نه به یو مختاره کوې، جمع به صحیح نه وي لکه مثال مذکوره شو. او اباحت کې دواړه جمع کولې شي. لکه الکلمة اسم او فعل او حرف.

۳: برائې ابهام د متکلم ، یقین په احدهما وي لیکن سامع په ابهام کې واقع کوي لکه مثال: جاء زید او عمرو.

٤: برائې شک: د متکلم په دواړو کې د تعیین د احدهما شک وي لکه: جاء زیدٌ اَوْ عمروٌ.

۵: برائې اِضراب په شان د بَلْ حکم د معطوف علیه نه نقل کوي معطوف ته.

٦: اَوْ بمعنی واو د دي لپاره چې التباس را نه شي.

قاعده: د اِمّا د معطوف علیه په سر کې که اِمّا بل ذکر شي نو په دې کې به د اَوْ په شان مذکوره پنځه معاني راځي

۱: اِمّا برائې تخیر لکه: خُذْ مِنْ مَالِي إِمَّا دِرْهَماً وَإِمَّا دِينَاراً.

۲: دویم اما په مثال کې برائې تخییر دي.

۳: برائې اباحت مثال: جَالِسْ إِمَّا الْحَسَنَ وَإِمَّا ابْنَ سِيرِينَ.

٤: تقسیم لپاره لکه الکلمة اِمّا اسم وَاِمّا فعل وَاِمّا حرف.

۵: برائې ابهام وشک لکه: جاء إِمَّا زيدٌ وَإِمَّا عمرٌو.

فائده: اِمّا کې د نحاتو اختلاف دې بعض وائي: حرف عطف نه دې ځکه په دې واو عاطفه داخلیږي او حرف عاطفه په حرف عاطفه نه داخلیږي دا مختار مذهب دې

او بعض وائي: حرف عطف دې.

سوال: هر کله چې حرف عطف نه شو نو دلته ولې شمار شو؟

جواب: مجازاً ئې شمار کړې دې ځکه د بعض حروف عاطفهؤ معنیٰ ادا کوي

لا: هم د حروف عاطفهؤ نه دې په دې سره عطف کیدې شي.

۱: نداء نه بعد: یازیدُ لا عمر.

۲: امر نه بعد لکه: اِضْرِبْ زیداً لا عمراً.

۳: بعد الاثبات لکه: جاء ني زيدٌ لا عمروٌ.

فائده: لا د حروف عاطفه نه به هله شمار وي چې معطوف علیه مفرد وي لکه امثله مذکوره شو.

لکن: په لکن سره عطف د نفي نه وروستو کیدې شي یا بعد النهي مثال النفي. ما ضربتُ زیداً لکن عمراً. مثال النهي: لاتضرب زیداً لکن عمراً په اثبات کې عطف په لا سره صحیح نه دې لکه: جاء ني زید لکن عمروٌ.

بل: ددې د عطف یو څو صورتونه دي ۱: نفي نه بعد. ۲: یا د نهي نه بعد لکه: مَا قَامَ زَيدٌ بَلْ عَمْرٌو لاَ تَضْرِبْ زَيداً بَلْ عَمْرًا. و التفصيل في المطولات.

تمرین بحث فصل ثالث حروف غیر عامله

فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً	وَآخَرُونَ مُرْجَوْنَ لِأَمْرِ اللّٰهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمْ
أَوْ يَتُوبُ عَلَيْهِمْ	لَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ
وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ	لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللّٰهَ
لَوْ مَا تَأْتِينَا بِالْمَلَائِكَةِ	أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ
قُلْ إِي وَرَبِّي إِنَّهُ لَحَقٌّ	جَاءَ نِي زَيدٌ أَي أَبُو عَمْرٍو
أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ	أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَا تُوعَدُونَ
اِتَّبِعِ الْهُدٰى لَا الْهَوٰى	

جدول حروف غیر عامله

نقشه حروف غیر عامله (۱۶) اقسام

۱: حروف تنبیه .... ۱: الا. ۲: اما. ۳: ها.
۲: حروف ایجاب .... ۱: نعم ۲: بلي. ۳: اِي ٤: جير. ٥: اِنّ ٦: اجل.
۳: حروف تفسیر: .... ۱: اي ۲: انْ
٤: حروف مصدریه .... ۱: ما. ۲: انْ. ۳: انّ
٥: حروف تحضیض .... ۱: الا. ۲: هلا. ۳: لولا. ٤: لوما
٦: حروف توقع: .... ۱: قد
۷: حروف ردع: .... ۱: کلا
۸: حروف استفهامیه .... ۱: ما. ۲: همزه ۳: هل
۹: تنوین: .... ۱: تمکن ۲: تنکیر. ۳: عوضي ٤: مقابله ٥: ترنم.
۱۰: نون تاکید: .... ۱: ثقیله ۲: خفیفه
۱۱: حروف زیادت .... ۱: انْ ۲: انّ ۳: ما. ٤: لا. ٥: من ٦: کاف ۷: با. ۸: لام
۱۲: حروف شرط: .... ۱: اَمّا. ۲: لوْ.
۱۳: برائي انتفاء الثاني لوجود الاول.......... ۱: لولا.
۱٤: لام مفتوحه .... ۱: لزیدٌ افضل منک.
۱٥: ما .... ۱: مابمعنی مادام
۱٦: حروف عطف. ۱۰: .... واو، فا، ثم، حتي، اما، امْ، لا، بل، لکن، فقط

احسان باري تعالي

لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا.

دعاء:

اللهمّ اغفِرْلي جَمِيعَ ذُنُوبي وَلِوَالِدَي وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِناتِ وَالْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ، الْأَحْياءِ مِنْهمْ وَالْأَمْواتِ

(آمين)

تَمَّ الْكِتَابُ بِعَوْنِ اللهِ تَعَالي وَتَوْفِيقِه.

بتاریخ ۱۸: رجب المرجب سنه ۱٤۲٥: هجري المطابق ۲۰۰۹/۹/۳ یوم الجمعة المبارکة

بحث مستثنی

چون بحث مستثني در کتاب نحومیر نبود برائي فائده طلاب افزوده شد.

هر کله چې بحث د مستثني په نحو میر کتاب کې نه وو. او د دې بحث نه لابدي وه د طالب لپاره نو دلته ئې ذکر کوي چې فائده ترینه واخلي.

مصنف په دې بحث کې درې خبرې ذکر کوي:

۱: تعریف د مستثني. ۲: تقسیم د مستثني قسمینو ته. ۳: اعراب د مستثني.

مستثني صیغه د اسم مفعول ده د باب استفعال نه، په لغت کې جدا کړې شوې او راویستلې شوې ته وائي. او په اصطلاح کې مصنف تعریف په دې قول سره کړیدې چې:

بدانکه مستثني لفظي است کې مذکورباشد بعد الا و اخوات آن الخ

هر هغه لفظ دې چې ذکر شوي وروستو د. ۱: الا. ۲: وغیر. ۳: سوي. ٤: سواء. ۵: وخلا. ٦: عدا. ۷: وماخلا. ۸: وماعدا. ۹: ولیس. ۱۰: لایکون نه د دې لپاره چې کوم نسبت مستثني منه ته شوې دې هغه به مستثني ته نه وي شوې.

بیا دلته لابدي ده د معرفت د امور ثلاثه نه. ۱: مستثني. ۲: مستثني منه. ۳: حرف استثناء.

مستثني دیته وائي چې وروسته وي د الا او اخواتو د الا نه او حرف استثناء الا او اخوات دي کوم چې په کتاب کې ذکر شویدي.[1]

وآن بر دو قسم است متصل ومنقطع.

ترجمه: او مستثني په دوه قسمه ده متصل او منقطع.

تشریح: په دې عبارت سره دویمه خبره د بحث ذکر کوي چې تقسیم د مستثني دې نو مستثني په دوه قسمه ده. ۱: متصله ۲: منقطع.

تعریف ذکر دې په کتاب کې لکن په تعریف د مستثني کې دوه مذهب دي.

۱: محققین. ۲: عام نحات.

محققین نحات وائي: مستثني متصله دیته وائي چې خارج شوې وي د متعدد نه په الا سره یا په اخوات د الا سره لکه: جاء ني القوم الا زیدا.

او مستثني منقطع دیته وائي چې خارجه شوې نه وي د متعدد نه ځکه چې داخله نه وي نو خارجه به څنګه شي ځکه اخراج د شي د شي نه سبق دخول د شي په شي کې غواړي مثال لکه: جاء ني القوم الا حمارا. دلته تعریف مصنف بنا کړي دي په مذهب د محققینو باندي نو داسې

[1] او مستثنی منه دیته وائی چه مخکی وی د حرف استثناء نه.

نې وويل :متصل آن است. دا تقسيم دمستثني په اعتبار د دخول د مستثني په مستثني منه کې او د عدم د خول سره دي.

بدانکه اعراب مستثني بر چهارم قسم است.

ترجمه: پوهه شه چې اعراب د مستثني په څلور قسمه دي.

تشريح: هر کله چې فارغ شو مصنف دبيان د تقسيم د مستثني نه په اعتبار داتصال او عدم اتصال سره. نو شروع ئې وکړه په بيان د اعراب دمستثني کې نو داسې ئې وويل بدانکه اعراب الخ.مستثني په اعتبار د اعراب سره په څلور قسمه ده. ١ : منصوب.٢ : منصوب ومرفوع.٣: باعتبارعامل.٤: مجرور.

اول آنکې اگرمستثني بعدالّا درکلام موجب واقع شود پس مستثني هميشه منصوب باشد.

ترجمه: اول هغه ده چې که مستثني د الا نه وروسته په کلام موجب کې واقع شي نو مستثني به هميشه منصوبه وي.

تشريح: اول قسم مستثني په اعتبار د اعراب سره چې منصو به وي کله چې مستثني واقع شي پس د الا نه په کلام موجب کې اومستثني منه ذکر وي په ماقبل کې نو هميشه به منصوب وي.
هر چې منصوب کيدل دي نو ځکه چې اعراب دمستثني نصب دی بنابر تشبيه بالمفعول او محل نصب ته اعراب دی بنا بر بدليت اوبدل دلته متعذر دې ځکه بدل تقاضي کوي د تکرار د عامل اوتکرار د عامل متعذر دې د وجې د فساد د معنى نه چې هغه عدم مخالفت د مابعد دې د ماقبل نه مثلاً جاءني القوم الازيداً.
که زيداً بدل شي دقوم نه نو عامل د قوم جاء دې نوزيداً کې به هم اوويلې شي : جاء القوم الا جاء زيد. اودا نه دې مگر فساد د معنى دې، مقصود دا وو چې حکم د زيداً مخالف دې چې عدم مجيء ده، د حکم د ماقبل نه چې قوم دې چې مجيء د هغه حکم دې لهذا دلته به فساد في المعني راشي. (فتامل)
مخکې اوويلي شو" درکلام موجب" نوکلام موجب څه ته وائي ؟ دهغې بيان کوي په دې عبارت سره:

وکلام موجب آنکه در آن نفي ونهي واستفهام نباشد وهمچنين در کلام غير موجب اگر مستثني رابه مستثني منه مقدم گرداند منصوب خوانند.

ترجمه: او کلام موجب هغه دې چې په هغې کې نفي او نهي او استفهام نه وي او همدغه شان په کلام غير موجب کې که مستثني په مستثني منه باندې مقدم کړي نو منصوب به يې وائي.

تشریح: دویمه وجه د نصب د مستثني ذکر کوي: ماجاءني الازیداً احدٌ.
دلته به هم مستثنی منصوب وي دلیل کما مر او محل د رفع بدلیت دي او بدلیت دلته متعذر دي ځکه بیا به لازم شي تقدم د بدل په مبدل منه باندې او دا جائز نه ده ځکه مستثنی منه به مبدل منه شي او مستثنی به بدل شي ځکه دلته مستثنی مقدم ده په مستثنی منه باندې.

ومستثني منقطع همیشه منصوب باشد.

ترجمه: او مستثنی منقطع به همیشه منصوب وي.
تشریح: مثال جاءني القوم الا حماراً منصوب به وي ځکه اصل په مستثنی کې نصب دی او محل د نصب لپاره اعراب دي بنا بر بدلیت او دلته بدلیت متعذر دی
ځکه بدل په څلور قسم دي.
۱: بدل الکل نه صحیح کیږي ځکه په دې کې ماصدق علیه د بدل او مبدل منه یو وي او مستثنی منقطع کې ماصدق علیه یو نه وي.
۲: بدل البعض هم نه صحیح کیږي ځکه په دې کې ماصدق علیه د بدل جزء وي د مبدل منه او دلته حمار جزء د قوم څخه نه دي
۳: بدل الاشتمال هم نه صحیح کیږي ځکه بدل الاشتمال کې مبدل منه مشتمل وي په بدل باندې او دلته داسې نه ده، یا بالعکس او دلته داسې نه ده ځکه دلته نه حمار مشتمل دې په قوم او نه قوم په حمار باندې.
٤: او بدل الغلط: هم نه صحیح کیږي ځکه مدار د بدل غلط په سهو او غفلت وي او دلته دار ومدار د مستثني په فطانت او ذکاوت او قصد او ارادی سره وي.
هر کله چې یو بدل هم صحیح نه شو نو رفع هم صحیح نه شوه د وجې د منافات د بدل او مستثني نه

واگر مستثني بعد خلا وعدا واقع شود بر مذهب اکثر علماء منصوب باشد.

ترجمه: او که مستثني پس د خلا او عدا نه واقع شي نو دا به په مذهب د اکثرو علماؤ منصوب به وي
تشریح: په دې صورت کې دوه مذهب دي
۱: اکثر علماء وائي مستثني واقع بعد خلا به منصوب به وي ځکه دوي وایي چې خلا او عدا فعلین دي او ضمیر مستتره په دوي کې فاعل دې او وروسته مستثني واقع د دوي نه به مفعول له به وي او اعراب د مفعول به نصب وي

۲: بعض علماء وائي چې مستثني واقع پس د خلا او عدا نه به مجرور وي ځکه دا دواړه د حروف جاره ؤ نه دي او عمل د حرف جر په مدخول خپل کې جر وي مثال: جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا وَزَيْدٍ عَدَا زَيْدًا أَوْ عَدَا زَيْدٍ.

وَبَعْدَ مَاخَلَا وَمَاعَدَا وَلَيْسَ وَلَايَكُوْنُ همیشه منصوب باشد.

ترجمه: او پس د ما خلا او ما عدا او لیس او لایکون نه به همیشه منصوب وي

تشریح: هرچې بعد د ماخلا اوما عدا نه مستثني واقع شي منصوب به وي ځکه چې دا فعلین دي بالاتفاق اومابعد د دوي نه مفعول به وي اود مفعول به اعراب نصب وي.

او علامه د فعلیت د دوي کلمه دما ده چې مصدریه ده اوما مصدریه په فعل داخلیږي ولیس ولایکون افعال ناقصه دي په دوي کې ضمیر مستتر ه ددوي اسم وي او وروستو چې کوم لفظ واقع کیږي هغه ورله خبر وي اوخبر د افعال ناقصه ؤ د منصوباتو نه دې ځکه مستثني واقع وروستو د دوي نه به منصوب وي مثال: جَاءَنِي الْقَوْمُ مَاخَلَا وَمَاعَدَا وَلَيْسَ وَلَا يَكُوْنُ زَيْدًا. په دې صُوَر مذکوره کې مستثني واقع به منصوبه وي.

اوس دویم قسم مستثني په اعتبار د اعراب ذکر کوي نو داسې ئې وویل:

دوم آنکه مستثني بعد الا در کلام غیر موجب واقع شود ومستثني منه هم مذکورباشد پس دران دو وجه رواست یکي آنکه منصوب باشدبر سبیل استثناء ودیگر آنکه بدل باشدازماقبل خویش.

ترجمه: دویم هغه ده چې استثناء واقع شي پس دالانه په کلام غیرموجب کې او مستثني منه هم ذکروي پس پدي کې دوه وجې جائزدي یوه هغه چې منصوب به وي په طریقي د استثناء سره دویم هغه چې بدل به وي د ماقبل خپل نه.

تشریح: مثال ماجاءني احد الا زیداً پس په دې صورت کې دوه وجې روا دي:

۱: نصب بنا براستثنائیت چې دا مستثني ده او اعراب د مستثني نصب وي.

۲: رفع هم جائز ده لکه مَاجَاءَنِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدٌ بنا بر بدلیت لیکن فرق دا دې چې اعراب بنا بر بدلیت بالاصالت دي او اعراب د مستثني بالتبع دي.

سوال: بدل خو د توابعو نه دې څرنګه په دې کې اعراب بالاصالت شو ځکه د تابع اعراب بالتبع وي؟ **جواب:** دا په نسبت سره مقصود د متکلم ته دي اومبدل منه او بدل کې بدل مقصود وي، مبدل منه توطیه او تمهید وي مثال من القرآن: (مَا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلًا وَاِلَّا قَلِيْلٌ).

سوم آنکه مستثني مفرغ باشد یعني مستثني منه مذکور نباشد و درکلام غیرموجب واقع شود پس اعراب مستثني به اِلَّا درین صورت بحسب عوامل مختلف باشد.

ترجمه: دریم قسم مستثني مفرغه چې مستثني منه نه وي ذکرشوي اوپه کلام غیرموجب کې واقع شوي وي نوپس اعراب د مستثني په الاسره پدې صورت کې موافق د عواملو مختلفو سره به وي

تفصیل: دریم قسم اعراب د مستثني ذکر کوي چې د دې قسم اعراب به په اعتبار د عامل سره وي دې قسم مستثني ته مفرغ وائي ځکه هرکله چې مستثني منه حذف شو ه نوعامل دهغې فارغ شوعمل کولو ته په دې مستثني کې نواوس به عمل په مستثني کې کوي پس که چرې عامل د رفع وي نومستثني به مرفوع وي اوکه عامل د نصب اوجر وو نوعمل د نصب او جر به کوي په مستثني کې، مثال : مَاجَاءَنِي اِلَّازَيْدٌ وَمَارَأَيْتُ اِلَّازَيْدًا وَمَامَرَرْتُ اِلَّابِزَيْدٍ.

چهارم آنکې مستثني بعد لفظ غیر وسوي اوسواء واقع شود پس مستثني را مجرور خوانند وبعد حَاشَا برمذهب اکثرنیز مجرورباشد.

ترجمه: څلورم هغه مستثني ده چې پس د لفظ د غیر اود سوي اوسواء نه واقع شوي وي نومستثني به مجرور لوستلي کیږي او پس د حاشا نه چې واقع شوي وي نو هم به مجرور لوستلي کیږي په مذهب د اکثروعلماؤ.

تشریح: ځکه غیر او سوي اوسواء مضاف دي مستثني ته اواعراب د مضاف الیه مجرور وي او پس د حاشا نه به هم مستثني په مذهب د اکثر علماؤ مجرور وي لکه حاشا زید. ځکه حاشا حرف جردې اومستثني واقع پس ددینه به مجرور وي.

او بعض علماء وائي مستثني واقع وروستو د دینه به منصوب وي ځکه دا فعل دې ضمیر پکې مستتردې هغه ورلره فاعل دې. اووروستو مفعول به وي اواعراب د مفعول به نصب وي هرکله چې فارغ شو مصنف د اعراب د مستثني نه نو په کلماتو د استثناء کې غیر هم وو. او غیراسم دې اعراب غواړي نوشروع ئي وکړه په اعراب د ده کې نووې ویل:

وبدانکه اعراب لفظ غیر مثل اعراب مستثني به الاباشد الخ.

ترجمه: او پوهه شه چې اعراب د لفظ غیر په شان د اعراب د مستثني په الا سره دې الخ.

تشریح: اعراب د غیر په شان د اعراب د مستثني دې چې په ټولوصورتونوکې به منصوب راځي لکه څنګه چې مستثني په کوم صورتونوکې منصوب وه.

دارنګه په جواز د وجهین او په اعراب د جرکې به په شان د مستثنی وي مثال لکه: جَاءَ نِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ وَجَاءَ نِي الْقَوْمُ غَيْرَ حِمَارٍ وَمَاجَاءَ نِي غَيْرُ زَيْدٍ الْقَوْمُ وَمَا جَاءَ نِي غَيْرُ زَيْدٍ وَمَارَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ وَمَا مَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ الخ. (فتامل)

بدانکه لفظ غیر.

د مصنف غرض د دې عبارت نه دا دې چې غیر وضع شوي دې لپاره د صفت ، کله کله به داستثناء لپاره راځي او بالعکس د غیر دې الا وضع د استثناء لپاره دې او کله کله به صفت لپاره راځي .مثال دالا چې مستعمل وي د صفت لپاره قوله تعالى: (لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا) اي غَيْرُ اللهِ.

قاعده: غیر چې په معني د الا شي شرائط ورلره نشته دې او که الا په معنی د غیر شي نو د دې لپاره شرائط دې درې:

۱: شرط اول الا نه به ماقبل جمع وي د دې لپاره چې حال د الا صفتي مشابه شي د الا استثنائي سره.

۲: دويم شرط دا دې چې ماقبل به نکره وي که معرفه شي نو الف لام به ورسره وي نو یا به الف لام استغراقي وي یا به جنسي وي نو سوال دا دې چې مستثنی به په مستثنیٰ منه کې داخله وې او که نه ؟ که داخله وي نو متصله او که داخله نه وي نو منقطع او حال دا دې چې دلته یو قسم د مستثنی منه هم صحیح نه ده.

۳: شرط دا دې چې په دې جمع کې به حصر نه وي ځکه حصر په دوه قسمه دې:

۱: حصر مستغرق چې ټول افراد معلوم وي.

۲: بعض معلوم العدد. اودلته دواړه نه صحیح کیږي

دلته درې واړه شرائط شته (لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللهُ لَفَسَدَتَا)د الا نه مخکې جمع ده چې آلهة دي او نکره ده او حصر پکې هم نشته چې څو آلهه دي نو الا په معنی د غیر سره دې او الا استثنائي نه صحيح کیږي ځکه مقصود د آیت نه توحید د باري تعالى دې که مستثنی شي الله تعالیٰ د آلهة نه نو متصله به وائي او که منقطع به وائي ؟

که اوله شي معني به دا شي الله هم دې اونورهم دي، الله ترینه مستثنی شوې دې او دا موجب د کفر دې او که ثاني شي نو هم نه صحيح کیږي ځکه معني به داسې شي چې الله هم دې او آلهه هم دي الله ترینه خارج دې دا هم کفر دې نو دلته الا په معني د غیر سره دې استثنائیه نه دې

التمرين: بيان مستثني

فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ اِلَّا اِبْلِيسَ	وَلَا يَلْتَفِتْ مِنْكُمْ اَحَدٌ اِلَّا امْرَأَتَكَ
وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُولٌ	وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ
حَضَرَ الطُّلَّابُ خَلَا طَالِبٍ	او عَدَا طَالِبًا اَوْ حَاشَا طَالِبٍ
حَاشَا قُرَيْشًا فَاِنَّ اللّٰهَ فَضَّلَهُمْ	عَلَي الْبَرِيَّةِ بِالْاِسْلَامِ وَالدِّيْنِ
كُلُّ الْعَدَاوَاتِ تُرْجٰي اِزَالَتُهَا	اِلَّا عَدَاوَةَ مَنْ عَادَاكَ مِنْ حَسَدٍ
لَمْ يَبْقَ سِوَي الْعُدْوَانِ	دِنَاهُمْ كَمَا دَانُوْا
اَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ	وَكُلُّ نَعِيْمٍ لَا مَحَالَةَ زَائِلٌ

(النحو الكافي)

تمت بالخير

بتاريخ ۱۹ رجب المرجب ۱۴۲۵ سنه هجري

المطابق ۲۰۰۴/۹/۴ يوم السبت بمقام پير كلي شاميزي

ضلع سوات تحصيل مټه

شروع اول رجب المرجب ۱۴۲۵ سنه يوم الاربعاء

دعاء

رَبِّ اَوْزِعْنِي اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِي اَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَ عَلٰى وَالِدَيَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحاً تَرْضٰه وَاَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِيْنَ

فَاللّٰهُمَّ يَا وَلِيَّ الْمُؤْمِنِيْنَ وَمُتَوَلِّي الصَّالِحِيْنَ اِجْعَلْ عَمَلِي هذا قُرْبَةً اِلَيْكَ وَاجْعَلْه صَحِيحاً مَقْبُوْلاً وَسَعْيِي فِيهِ مَرْضِياً مَشْكُوْرًا اِنَّكَ وَحْدَكَ الْقَادِرُ عَلٰى ذٰلِكَ

(ابو حماد نصیر الحق بن غلام احمد مرحوم شالپنی سواتی)

اعراب مستثنی بالاّ

۱: نصب واجب. مستثني بعد الا در کلام موجب واقع شود.. جاءني القوم الا زيداً.
۲: نصب واجب.. مستثني بر مستثني منه مقدم.... جاءني الا زيداً القومُ
۳: نصب واجب... اذا كان منقطعاً........ جاءني القوم الا حماراً.
٤: نصب جائز بدل مختار. مستثني بعد الا در كلام غير موجب و مستثني منه مذكور فيما قبل .... (مَا فَعَلُوهُ اِلاَّ قَلِيلٌ وإلاَّ قَلِيلاً).
۵: اعراب بحسب عوامل. مستثني بعد الا در كلام غير موجب باشد و مستثني منه مذكور نباشد.........مَا جَاءَ نِي اِلَّا زَيدٌ وَمَا رَأَيتُ اِلَّا زَيدًا وَمَا مَرَرْتُ اِلَّا بِزَيدٍ.
واعراب غير فيه كاعراب المستثنیٰ

۱: جَاءَ نِي الْقَوْمُ غَيرَ زَيدٍ.


۲: جاء ني غير زيدٍ القوم وماجاء ني غير زيدٍ احدٌ

۳: جاء ني القوم غير حمارٍ

٤: مافعلوه غير قليل وغير قليلٍ

۵: ماجاء ني غير زيدٍ ومارأيت غير زيدٍ وما مررت بغير زيدٍ


عامل المرفوع
معنوی
لفظی
۱: فعل
۲: حرف
۳: شبہ فعل
قسم دوم از خبر: اقائم زیدٌ
فاعل
نائب فاعل
قائم بالاسم
واقع علی الاسم
قام زید
ضرب زید
معمول مسند الیہ
معمولہ مسند
کلام موجب
غیر موجب
اسم افعال ناقصہ
بدون لیس
کان زید قائما
اسم لیس
ماولا المشبہتین بلیس
لیس زید قائما
ما زید قائما ولا رجل قائما
۱: کلام موجب خبر ان واخواتھا ---- ان زیدا قائم
۲: غیر موجب خبر لا لنفي الجنس --- لا رجل ظریف
معنوی
معمولہ مسند الیہ
مبتدأ قسم اول
زید قائم
معمولہ مسند
رافع اسم ظاہر
مبتدأ قسم ثاني
اقائم زید — خبر —
رافع
ضمیر
زیدٌ قائم


منصوبات عامل
فعل یا شبه فعل
حرف
مفاعیل
ملحقات بالمفاعیل
معمول
مبین
غیر مبین
مسند
مسند الیه
۱ : مفعول مطلق
۲ : مفعول به
۳ : مفعول فیه
۴ : مفعول له.
۵ : مفعول معه.
مبین وصف
مبین ذات
۶ : حال.
۷ : تمیز.
۸ : مستثنیٰ
۹ : کلام موجب
خبر افعال ناقصه
۱۰: کلام غیر موجب
خبر ما ولا المشبهتان بلیس
۱۱ : کلام موجب.
اسم حروف مشبه بالفعل.
۱۲ : کلام غیر موجب
اسم لا لنفی الجنس

اسباب منع صرف

← ۱: عدل ------- تحقیقی ---- ثلث مثلث اخرُ جمع... ۱: وصف. ۲: عدل
تقدیری..... زفر عمر..................................۱ عدل -۲- علمیة

← ۲: وصف..... اصلی وضعی – اسود............ وصف-وزن- - عدل
عارضی.................. اربع................. منصرف

← ۳: تانیث...... ...لفظی.................طلحة............ تانیث... علم
معنوی.......... سقر................. تانیث- علم

← ٤ : معرفه--- المراد به العلم---ابراهیم--------- علم، عجمه

← ٥ : عجمه ....ابراهیم................ علم، عجمه


← ٦ : ترکیب....................بعلبک................تركیب، علمیة

← ۷ : صیغة منتهی الجموع.........مصابیح مساجد.........جمعیة- ولزوم

← ۸ : الف نون زائدتان .... اسم جامد.....عمران.......الف نون زائدتان- علمیة.
وصف........سکران......الف نون زائدتان.. انتفاء فعلانة

← (۹) وزن فعل ....: مختص بالفعل... شَمَّرَ........... علمیة- وزن فعل.
: غیر مختص ... اَحْمَدَ...............حرف همزه علمیة

الف لام



۱: جنسي..............الرجل خير من المرأة.

۲: استغراقي..........ان الانسان لفي خسرٍ.

۳: عهد خارجي....... فعصى فرعون الرسول.

۴: عهد ذهني.........اني اخاف اَنْ يَأكُلَهُ الذِئْب.

اسم فاعل



مقرون باللام

یعمل بلا شرط.

جاء المعطي المساکین الآن.

جاء المعطي المساکین غدًا.

جاء المعطي المساکین امس.

مجرد عن اللام

مفعول به ضمیرا یعمل بلا شرط وقید

۱: اسم ظاهر فاعل. ۲: مفعول به ظاهرًا

شرائط ثلاثة شرطین؟

۱: اعتماد. ۲: بمعنی حال واستقبال

۱: اعتماد به اشیاء سته. ۲: موصوف نباشد برای اسم فاعل. ۳: مضمر نباشد

۱: مبتدا. ۲: موصول. ۳: موصوف. ٤: ذوالحال. ٥: حرف نفی. ٦: حرف استفهام



(مأخوذ من كتب النحو شرح ملا وغيره)

بعض ضروري قواعد

مبتداء او خبر کې د مطابقت لپاره شرائط

۱: دواړه به اسمين ظاهرين وي فلا يرد علي .هي اسم و فعلٌ و حرفٌ

۲: خبر به اسم مشتقي وي فلا يرد علي .الكلمة لفظ.

۳: في الخبر ضمير المبتدأ فلا يرد علي .زينب و ماه و جور ممتنع.

٤: خبر به اسم تفضيل په من سره مستعمل نه وي فلا يرد علي هذا .الصلوةُ خير من النوم

۵: خبر به الفاظ مشترکه نه وي بين المذکر و المؤنث فلا يرد علي اَلمَرأة جَرِيحٌ

۶: خبر به الفاظ مختصه د مؤنث نه وي فلا يرد علي انت طالقٌ وَحَائضٌ

۷: خبر به اسماء متوغله في الابهام نه وي مثل .شبه .غير.

۸: خبر به صيغه د مبالغې نه وي.

حروف نواسخ دمبتدا وخبر

۱: افعال ناقصه

۲: افعال مقاربه

۳: افعال قلوب.

٤: حروف مشبه بالفعل

٥: ماولامشبهتين بليس.

٦: لالنفي الجنس

قاعده: ما استفهاميه چې کله د بعض حروف جاره ؤ نه وروسته راشي نو الف د ما حذف کيږي

۱: في: (فِيمَ اَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا)

الي: اِلَامَ تَذْهَبُ.

ما: (بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُوْنَ).

لام: (لِمَ تَقُوْلُوْنَ):

عن: (عَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ).

علي: (عَلَامَ تَذْهَبُ اِلَي السُّوْقِ)

قاعده: فاعل به هميشه اسم وي ۱: حقيقي ۲: تاويلي ۳: حكمي

اسم ظاهر. جَاءَ الْحَقُّ. ضمير متصل: (اِذَا قَامُوْا اِلَي الصَّلٰوة).

ضمير منفصل: ماضرب الا انه. فاعل مستتر. يضرب، تضرب، اضْرِب.

تاويلي فاعل. (اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَا اَنْزَلْنه عليك الْكِتَابَ).

قاعده: د فاعل د حذف وجوهات

۱: معلوم به وي فاعل. (خُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيفاً).

۲: مجهول به وي سُرق المتاعُ.

۳: اخفاء الفاعل للغرض هو الخوف. قُتِلَ زيدٌ.

٤: شرافة (وَاِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِية). وغيره وغيره المذكور في الحواشي.

قاعده: بعض کلمات بغیر د ذکر د فعل نه منصوب وي سُبْحَانَ .مَعَاذَ اللهِ .لَبَّيكَ.حَمْدًا. سُقْياً. رَعْياً. عَفْواً. رَجَاءً. سَمْعاً. وطَاعَة. سَلَاماً.

قاعده: ١ : مفعول به صريحي واقع كيږي. (وكُلًّا جَعَلْنَه نَبِيًّا)

٢: ضمير متصل هم واقع كيږي. (وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعٰلَمِيْنَ)

٣: ضمير منفصل. (إِيَّاكَ نَعْبُدُ)

٤: مصدر. (أَنْ يَضْرِبَ مَثَلًا)

٥: جملة. (قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللهِ)

قاعده: ظرف زمان ومكان كله مركب هم واقع كيږي. دواړه جزئين به مبني برفتح وي لكه: يَوْمَ يَوْمَ. بَيْنَ بَيْنَ. صَبَاحَ صَبَاحَ. مَسَاءَ مَسَاءَ.

قاعده: الفرق بين الحال والتمييز:

الاشتراك في خمسة اشياء

١: اسميت كې شريک دي

٢: نكارت كې شريک دي

٣: مَنْصُوْبَيْنِ (دواړه منصوب) وي

٤: دواړه فضله دي

٥: په رفع د ابهام كې شريک دي

الافتراق فى سبعة اشياء

حال	تمييز
١: جمله، ظرف، جار مجرور واقع كيږي.	صرف اسم مفرد واقع كيږي
٢: يتوقف معنى الكلام به	لايتوقف به
٣: متعدداً	لايتعدد
٤: يتقدم على العامل	لايتقدم على العامل على الاصح
٥: والاصل فيه الاشتقاق	الجامد
٦: عامل خود را مؤكد ميكند.	لايتاكد عامله

قاعده: اعراب درې قسمه دي.

۱: اعراب لفظي.

۲: اعراب تقديري: دا دوه په اسم معرب پورې خاص دي

۳: اعراب محلي: دا په مبني پورې خاص دي

اعراب حکائي: په يو لفظ باندې يو حکم لګول مقصود وي يعني د فاعل يا د مفعول نو اعراب هم د هغې پرې راوړي يا اعراب مسموعه ورسره ذکر کړي

اعراب توهمي: د يو اسم عامل معلوم نه وي لوجې د کثرت استعمال نه اعراب پرې ذکر کړي مثلاً مازيدٌ قائمٌ. بالجر. حرف جر د لته ذکر نه دې ليکن فرض کړي وجود د ده نو قائم مجرور ولولي

قاعده: الجملة التي لامحل لها من الاعراب.

۱: مستانفه .... (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ)

۲: جمله معترضه..... بدان اَسْعَدَکَ اللّٰهُ تَعَالٰي الخ

۳: مفسره..... (هَلْ اَدُلُّکُمْ عَلٰي تِجَارَةٍ تُنْجِيْکُمْ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ. تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ)

٤: جمله صله...... (اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ)

۵: جمله جواب قسم... (وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ)

قاعده: موصول دوه قسمه دي ۱: موصول اسمي ۲: موصول حرفي.

موصول اسمي: دا مخکې ذکر شوې دي په موصولاتو کې.

موصول حرفي پنځه دي ۱: اَنْ. ۲: اَنَّ وايضاً المخففة من المثقلة. ۳: ما. ٤: کي. ۵: لو

قاعده: لفظ (ابن) بين العلمين د اول لپاره صفت وي دويم عَلَم ته مضاف وي

مثال "عبد الله بن عمرو"

قاعده: همزه د ابن د کتابة حذف لپاره درې شرطونه دي.

۱: بين العلمين به وي

۲: د اول علم صفت به وي

۳: په اول د کلام کې به وي يا اول د کرخه کې.

قاعده: يجوز حذف التاء من المضاف. (وَاَوْحَيْنَا اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ)

قاعده: په اعلامو الف لام نه داخليږي ليکن کوم اعلام چې د وصفيت نه علميت ته نقل شوي وي نو الف لام پرې داخليږي لکه: الحسن، الحسين، الحارث، العباس

د جواب قسم مختلف صورتونه

جواب قسم مثال حکم

جمله اسمیه مثبته. وَاللهِ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ. وَاللهِ لَزَيْدٌ قَائِمٌ.. جواب قسم كي اِنَّ اولام تاكيد د دويم كي جواب ما، لا، اِنْ

جمله اسمیه منفیه. وَاللهِ مَا زَيْدٌ قَائِمًا. وَاللهِ لَا زَيْدٌ فِي الدَّارِ وَلَا عَمْرٌو

جمله فعلیه ماضیه مثبته. وَاللهِ لَقَائِمٌ زَيْدٌ. وَاللهِ لَقَدْ قَامَ زَيْدٌ.. جواب قسم كي لام تاكيد

جمله اسمیه ماضیه منفیه. وَاللهِ مَا قَامَ زَيْدٌ...... جواب ما

جمله اسمیه مضارع مثبته. وَاللهِ لَاَفْعَلَنَّ........ جواب لام تاكيد

جمله اسمیه مضارع منفیه. وَاللهِ مَا اَفْعَلَنَّ كَذَا. وَاللهِ لَا اَفْعَلُ كَذَا وَاللهِ لَنْ اَفْعَلَ كَذَا ما يا لا يا لن

قاعده: كلمة مَنْ

۱: شرطیه........... (مَنْ يَعْمَلْ سُوْءً يُجْزَ بِهِ)

۲: استفهامیه.......... (مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا)

۳: موصوله........... (مَنْ شَآءَ مِنْكُمْ اَنْ يَّسْتَقِيْمَ)

٤: نكره موصوفه..... كماقال شاعر رسول الله صلى الله عليه وسلم حسان بن ثابت رضي الله عنه شعر:

كَفٰى بِنَا فَضْلًا عَلٰى مَنْ غَيْرِنَا حُبُّ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ اِيَّانَا

تمت بتوفيق الله تعالي وعونه

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَ سَلٰمٌ عَلَي الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

العبد نصير الحق شالپيني سواتي

حالاً پير كلي برسوات تحصيل مته ضلع سوات

بتاريخ ۲۰۰۹/۹/۱۰ يوم الخميس سنه ۱٤۲٥ هجري ۲٤ رجب المرجب